د ثور کودتا
او د هغې ژورې
پایلې

لیکوال:

پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه

کتاب پېژ

دکتاب نوم : د ثور کودتا او د هغې ژورې پایلې

لیکوال : پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ

خپرندوی

ودې ټولنه_جرمني

شمېر

د خپرونو لړ

چاپ کال

کمپوزر

Download from: aghalibrary.com

ډالــــــۍ

د پـوهې او پـوهنې نـامتـو
خدمـتګـارانـو
پـاچـا امـان الله، فـیض مـحمـد ذکـریـا،
ډاکـټر عـلـي احـمـد پـوپـل او ډاکـټـر
عـبـدالـقـیـوم تـه
پـه ټـول اخلاص سره

Download from: aghalibrary.com

د خپرندویې ټولنې یادښت:

د معاصر افغانستان
د یو نوي ځپرکي څېړنه

زموږ د هېواد په معاصر کې تاریخ کې د 1357هـ ل کال د ثور پېښه یا کودتا، داسې یو ځپرکی دی چې په اړه یې ډېرې زیاتې لیکنې شوي دي. د غه ز یاتره لیکنې د تایید یا رد، د ستاینې غندنې سیاسي تبلیغاتي لیکنې دي، چې د ځانګړو موخو لپاره شوي دي. په دې اړه ځینې خاطرې هم کښل شوي دي. دغه خاطرې هم سره له دې چې ځینې یې ښایي د خاصو موخو لپاره شوي وي، خو بې له شکه چې ددې دورې د تاریخ کښلو لپاره ترې مواد او سندونه ترلاسه کېدای شي.

د ښاغلي پوهاند کاکړ د غه اثر له دې کبله مهم دی، چې د بېلابېلو اسنادو، مدارکو، خاطرو او ان مرکو او پوښتنو ګروېږنو له لارې، د حقایقو د موندلو هڅه شوې ده. زموږ په نظر دغه اثر ددې دورې یوه غوره تاریخي څېړنه ده.

استاد کاکړ د افغانستان د معاصر تاریخ د درېو عمده ځپرکو په اړه څېړنه کړې ده. لومړنی یې د سرطان د کودتا په اړه، دویمه یې د ثور کودتا په اړه او درېمه یې د روسانو د یرغل په اړه ده.

د سرطان کودتا په اړه څېړنه تېر کال د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې له لوري خپره شوه. دویمه برخه یې دا دی په دغه اثر کې اوس خپرېږي او درېیم ځپرکی به یې د " افغان_شوروي جګړه" په نوم په نږدې راتلونکي کې خپره شي.

Download from: aghalibrary.com

هيله لرو چې دد غو دورو څېړنه د افغانستان د نوي تاريخ د راسپړنې په كار كې ګټور واقع شي او د تاريخ مينه وال ترې ګټه واخلي.

د افغانستان د كلتوري ودې ټولنه
جرمني_ د كولن ښار
د 2010 كال د مې نهمه

لړلیک

سرلیک	مخ
سریزه	الف
پیلامه	1
لومړی څپرکی	
د ثور کودتا	10
د میر اکبر خیبر ترور	11
د خیبر وژونکي	13
د حکومت ځواب	22
د امین د کودتا نقشه	28
ګوندي لویان د کابل ولایت په توقیف خانه کې	36
له بندیانو نه تحقیق	40
د ثور په اومه د کودتا بهیر	44
د جنګي الوتکو غوڅ رول	58
د ګوندي لویانو ژغورنه	61
د شپې ټینګار او دحکومت نسکوریدنه	64
د ثور کودتا او شورویان	79
د محمد داود تېروتنې	83
د ثور کودتا یا د ثور انقلاب؟	86
دویم څپرکی	
د افغانستان لومړنی ایډیالوجیکي حکومت	104
د افغانستان خلق دموکراتیک ګوند	107
د افغانستان خلق دموکراتیک حکومت	113
د حکومت لومړي ګامونه	119
لومړي اعتراضونه او د حکومت ځواب	126
ترور او وژنې	131
سیاسي امران او لومړني ګوندي سازمانونه	135
د پرچمیانو ځپل کېدل	144
درېیم څپرکی	
سور بېرغ او درې وروستي فرمانونه	157
سور بېرغ	159
د لیک او لوست کورسونه	160
د ګروي په اړه فرمان	163
د ښځو او ودونو په اړه فرمان	168

د ځمکو د وېش فرمان.............. 169

څلورم څپرکی

بندي توب او جزا................ 188
حکومتي چارواکي او بنديان........... 192
اګسا او اسدالله سروري............. 195
بنديان د کورنيو چارو په وزارت کې....... 208
مذهبي ډلې او اګسا............... 211
پوځي واحدونه او بنديان............. 215
د ترين کوټ بنديان.............. 218
د څرخي پله محبس بنديان............ 226
د څرخي پله زندان او قومندان سيد عبدالله... 236
د څرخي پله زندان له قومندان سيد عبدالله نه وروسته
.... 249

پنځم څپرکی

د خلکو پاڅونونه............... 257
د هرات لوی پاڅون.............. 259
د دره صوف پاڅون.............. 287
د کونړ_نورستان پاڅون............ 290
د کېرالې ټول وژنه.............. 296
د اسمار حېرانوونکې پېښه........... 299
د پلخمري پاڅون................ 307
د جندول پاڅون................ 308
د بالاحصار پاڅون.............. 313

شپږم څپرکی

د تره کي_ امين دښمني او د اندروپوف شيطاني319
لومړنی خبرې.................. 319
د تره کي_امين دښمني نه دمخه.......... 321
خلقي او شوروي لويان په کريملن کې....... 324
د تره کي _امين د اختلاف پيل.......... 328
په افغانستان کې د شوروي اتحاد خاص هيئتونه335
تره کی په هاوانا او مسکو کې.......... 340
و طن ته د تره کي بېرته راتګ او د هغه پای346

اووم څپرکی

د حفيظ الله امين سل او درې ورځې واکمني.... 365
نوی حکومت، نوی چلند............. 365
له شوروي اتحا سره اړيکي............ 380
له امريکې سره اړيکي.............. 407
له پاکستان سره اړيکي............. 419

پـايـليک........................ 431
د ځينو اثـرونـو پېژنـدنـه............... 435
يـادښتونـه....................... 451

د پوهاند کاکړ نور اثرونه او ژباړې

په پښتو کې:

د افغانستان په باب د ژنیو جوړه
1988

افغانان د شپږ شپېتم کال په پسرلي کې
له روسانو سره د جنګ په حال کې 1990

وطن ته یو سفر، طالبان او اسلامي بنسټپالنه
2004

رښا او دفاع یا د افغانستان د نفوسو، تاریخ او روانو پېښو په باب لیکنې
1999

د پاچا امان الله واکمنۍ ته یوه نوې کتنه
2005

د سرطان کودتا، د افغانستان د اوړدې...
2009

په فارسي کې:

افغان_افغانستان و مختصری از کوشش های افغانها
برای تشکیل دولت در هندوستان، فارس و افغانستان 1978

جنگ دوم افغان _ انگلیس 1989

مسله افغان 1990

نظری به کتاب افغانستان در پنج قرن اخیر
1990

په انګریزي کې:

افغانستان، داخلي سیاسي انکشافونو ته یوه کتنه 1971

د افغانستان حکومت او ټولنه د امیر عبدالرحمن خان په واکمنۍ کې
1979

افغانستان، د شوروي یرغل او د افغانانو ځواب
1995

د افغانستان سیاسي او دیپلوماتیکي تاریخ
2006

ب: لیکنې چې په اختصاصي مجلو از دایرة المعارفونو کې خپرې شوي دي:

په معاصر افغان تاریخ کې تمایلات، په افغانستان کې په اویاومې لسیزې کې، د لویې دوپري تالیف
1974

په 1973 کې د افغان پاچاهي نسکورېدنه، منځنۍ ختیځ بین المللي جورنال، نهمه ګڼه
1978

د افغانستان د مشروطیت لنډ تاریخ، ایرانیکا دایرة المعارف، شپږم ټوک
1992

د معاصر افغانستان لنډ تاریخ
د افغان _ شوروي جنګ
کابل
طالبان

د معاصرې نړۍ دایرة المعارف، 2009
اکسفورډ پوهنتون

ژباړې:

ګورکي د ادبیاتو په باب 1961

دموکراسی در جهان امروز، لیکنه د میک فیرسن 1971

د کابل سلطنت بیان، لیکنه د الفنسټن
لومړی ټوک 1981
دویم ټوک 1984

تاریخ څه ته وایي؟ لیکنه د اچ.کار 1970

د پوهنې فلسفي بنسټونه، لیکنه د جارج نیلر 2007

د یوې دورې لنډ تاریخ، 1869_1881 2007

سریزه

خلقي ګوندیانو او چارواکو په افغانستان کې د 1357کال د ثور له کودتا نه وروسته شل میاشتې حکومت وکړ. په دغې لنډې موده کې هم لړزوونکې پېښې وشوې. اساسي پېښه د دغسې نوي دولتي نظام په پښو درول و، چې د سوشلستي کامپ هېوادونو په شان یو اځې د واکمن ګوند له خوا چلول کېده او سروال یې نور محمد تره کي خپله شوروي ملګرو ته په پټه وعده ورکړې وه، چې د دغه نظام "د شوروي د سرمشق پر بنسټ د پرولتاریا د دکتاتورۍ پیل دی."[1]

بله اساسي پېښه د فرمانونو له لارې د هغو اجتماعي اړیکو سملاسي اړول و، چې افغانانو د هغو له مخې خپله ټولنه او خپلمنځي اړیکې تنظیمې کړې او دغسې یې ګڼل، چې هغه لکه د دوی قانون وي. پر دې سربېره ګوندیانو د خپلو فرمانونو په پلي کولو کې له زور نه کار اخیسته. دوی له مخالفتونو سره مخ شول، خو هغسې چې له انقلاب نه وروسته په فرانسې کې د پېړیو په بهیر کې روسپیر او په شوروي اتحاد کې لینن او ستالین خپل مخالفان ټکول، داسې هم خلقي ګوندیانو په افغانستان کې خپل مخالفان د "انقلاب ضد" په نامه ځپل. دوی فکر کاوه، چې یواځې د دوی لار سمه او د نورو لارې ناسمې او مردودې دي. په نتیجه کې په ټول افغانستان کې ډېر واړه او لوی پاڅونونه وشول، ټولنه نارامه او واکمن ګوند هم ټوټې ټوټې شو. په معاصر افغانستان کې ټولنه بل هېڅ وخت، هغه هم په د غومره لنډې موده کې، په دغسې ژور ډول کړکېچنه شوې نه وه.

خو د دغو پېښو په اړه که څه هم د افغانانو ژوند یې په ژور ډول اغېزمن کړی، تراوسه هم

[1] تره کي د ک ج ب مرستیال کریچکوف ته، میتروفین، ک ج ب په افغانستان کې، 39.

کومه عمومي مستنده لیکنه نه ده شوې. په ځینو اړخونو باندې یې لیکنې شوي دي، خو هغه چې یا د نظام د پلویانو یا مخالفانو دي، یو اړخیز او د خاص غرض لپاره دي. سره له دې هم دغه لیکنې، چې ډېرې دي، په خپل نوع کې مهمې دي. اوس د هغو او داسې هم په انګرېزي کې د باندنیو د لیکنو له مخې کېدلی شي، چې دد غې دورې یو عمومي او مستند سیاسي تاریخ وکښل شي. دغه لیکنه په دغې لار کې لومړنی کوښښ دی.

خو د هم مهال پېښو تاریخ کښل ګران وي، اساسي ستونځه د پېښو په اړه معلومات دي، چې نیمګړي دي. نوي معلومات وروسته یو وخت بل وخت عام کېږي، نو تاریخ کښل په اصل کې یوه پروسه ده، چې هېڅ وخت پوره نه وي. د هممهال پېښو تاریخ کښلو بله ځانګړتیا دا ده، چې دوره یې تاریخي شوې نه وي او په اړه یې لیکنه احساسات پارولی شي. په دغه حال کې حتمي وي، چې تاریخپوه د تاریخ معیارونه لا په دقیق ډول مراعات کړي او لیکنه یې د پېښو، سیاستونو او نظرونو افاقي بیان وي، بې له دې چې اشخاص په سپکه یاد کړي او خپل نظرونه پکې ځای کړي، که څه هم په پېښو سره به یې متاثر شوی وي. په دغې لیکنې کې دغه معیارونه مراعات شوي دي.

ددغسې لیکنې په نشتوالي سره وي، چې ملتونه پخوانۍ تېروتنې تکراروي، لکه د سرطان او ثور کودتاچیانو چې د پاچا امان الله د وخت تېروتنې تکرار کړې او ټولنه یې تر هر بل وخت نه ډېره بې ثباته کړه. دغه لیکنه په دغه مقصد وشوه، چې لوستونکي په تېره سمونپالان د خلقي دورې په سیاسي تاریخ پوه وي، چې چارواکو څه کول، څنګه وکړل او افغانانو د هغو په برابر کې څنګه او ولې غبرګون وښود او په نتیجه کې واکمن ګوند، حکومت، خلکو او وطن ته څه پېښ شول؟.

په پای کې له ښاغلي زرین انځور او ملګرو نه یې مننه کوم، چې زما دغه لیکنه هم د خپلې کولتوري ټولنې له خوا خپروي، لکه چې زما نور اثار یې هم خپاره کړي دي.

پوهاند محمد حسن کاکړ

پیلامه

د افغانستان سیاسي تاریخ ډېر ډینامیک، ډېر ورانوونکی او لږ ودانوونکی دی. دا به ځکه دغسې وي، چې د افغانانو په تېره د پښتنو کولتور په تشدد او فزیکي زور ولاړ دی. دغه کولتور، چې د پېړیو په بهیر کې جوړ شوی دی، ریښې یې له جنګونو او وژنو نه خړوبې شوې دي.

له ویدي دورې راهیسې دغه هېواد د خونړیو جنګونو ډګر شوی دی، دلته یواځې زردشتي دین او بودیزم په تبلیغ سره خپاره شوي دي، په نورو ټولو دورو کې په دغه وطن کې جنګونه شوي، چې په بهیر کې یې ورانۍ ډېرې او ودانۍ لږې شوي او دغه لږه ودانۍ هم چې د سمندري لارو موندلو نه دمخه په ځینو سیمو کې شوې وه، د باندنیو یرغلګرو له خوا ونړول شوه. ددغه وطن خلکو په خپله هم له ویدي دورې نه تر دوو پېړیو نه دمخه پورې په خاص ډول په شمالي هند باندې یرغلونه کړي. له هغې خوا نه هم له پخوا نه یو وخت بل وخت پر دوی باندې یرغلونه شوي دي. په معاصر مهال کې افغانستان یواځینی هېواد دی، چې د نړۍ درې زبرځواکو قوتونو یو وخت بل وخت پرې دانګلي دي.

په دغه ډول ددغې خاورې خلک په خپل ډېر اوږده تاریخ کې له باندنیو یرغلګرو سره مخ شوي او مجبور شوي، چې د هغو په وړاندې له خپل وطن او ارزښتونو نه دفاع وکړي. په نتیجه کې د دغو جنګونو او داسې هم د خپلمنځي جګړو، تربوري او ګوندیماري په سبب دوی هغومره چې د ځان او خپلو کورنیو په فکر وو، د ټولنې په فکر نه وو، هغومره چې فزیکي زور ورته مهم وو،

عقلاني ژوند ورته مهم نه و، هغومره چې له لاندې کېدلو نه د ژغورلو په فکر وو، د همکارۍ په فکر نه وو.

افغانان اوس هم د واک درناوی کوي، د رسمي واک خاوند لا ورته ستر، هوښيار او د درناوي وړ ښکاري. دا نو بيا عجبه نه ده، چې په دوی کې دغه ميل ډېر پياوړی دی، چې په خپله هم واک ترلاسه کړي، حتی که په وچ فزيکي زور سره هم وي. دغه ميل په دوی کې دومره پياوړی دی، چې د واقعي کولو په لار کې يې هغه ارزښتونه هم تر پښو لاندې کوي، چې پرې عقيده لري او د دين، اخلاق، قانون او جرګو پروا نه کوي او حتی خپل خپلوان او نزدې ملګري هم له منځه وړي.

د واک ګټلو دغه ميل به په دوی کې له دې امله هم پياوړی وي، چې په دوی کې تراوسه هم د دولت د سروال ځای ناستی موضوع حل شوې نه ده. دغه کشاله البته په اسلامي نړۍ کې هم له ترکيې نه پرته هغه هم تر يوې اندازې پورې پرځای پاتې ده، چې د هغې له امله دغه هېوادونه په اساسي ډول کړکېچن دي، خو په معاصر افغانستان کې هر وخت چې د دولت مشر که څه هم هغه ستر ميرويس يا ستر احمد شاه و، له منځه تللي، د هغه د ځای ناستي په سر جنګونه شوي او ټولنه او خلک ور سره ناارام شوي دي. دلته يوازې يوه استثنی وه، چې هغه امير حبيب الله سراج و، چې د خپل پلار امير عبدالرحمن له مړينې نه وروسته په ارام ډول پاچا شو.

په افغانستان کې اساسي قانونونه که څه هم د لويو جرګو له لارې ايستل شوي او د هغو پر بنسټ نظامونه په پښو درول شوي او خلکو هم منلي، خو په واک لېوالو هغه نقض کړي او ټولنه يې په ژور ډول ناارامه کړې ده. د واکمنو کورنيو مدعيانو له پخوا نه د واک په سر جنګونه کول، خو د ملي دولت په وروستي وخت کې نظامي افسرانو په کودتاګانو لاس پورې کړ. دغه پوځي

افسران په اسلامي هېوادونو کې د پخواني روم د امپراتور محافظان (Praetorian Guard) او د عثماني امپراتورۍ جانثاري (Janissary) راپه زړه کوي، چې ډېر ځله يې د خپلې خوښې کسان په تخت کېنولي، له تخت نه غورزولي او حتی له منځه وړي دي.

د حيرانۍ ځای دی، چې سقراط دوه نيم زره کاله دمخه په خپله رضا له خپل ژوند نه تېر شو، خو د هېواد قانون يې مات نه کړ، خو په افغانستان کې زموږ په وخت کې محمد داود دغسې سياسي نظام په کودتا سره نسکور کړ، چې د لويې جرګې او اساسي قانون له مخې جوړ شوی، وطن ارام او د پرمختګ په حال او په نړۍ کې د اعتبار او حيثيت خاوند هم و. که دی د دولتي واک لېوال نه وای، کودتا ته به يې زړه نه وای کړی. دی پوهېده يا بايد پوه دې وای، چې کله چې حکومت هغه هم قانوني حکومت په فزيکي زور سره نسکور شي، په زور سره بايد وساتل شي او مخالفان په زور سره وځپل شي. دده له کودتا نه وروسته همدغسې وشول، ملګرو يې د بې قانوني او د خپل سري په وخت کې ډېر نوميالي کسان او نور مخالفان او رقيبان له منځه يووړل.

بيا هم که په زور سره د واک نيولو ميل په افغانانو کې پياوړی نه وای د محمد داود د جمهوريت به در ناوی شوی وای، چې وروسته يې د لويې جرګې او اساسي قانون له لارې قانوني بڼه غوره کړه، خو د واک نورو لېوالو دغه نظام هم د ثور په خونړۍ کودتا سره نسکور کړ او دغو کودتاچيانو بيا د خپلې لنډې واکمنۍ په بهير کې د سرطان تر کودتاچيانو نه بېخي ډېرې وژنې، بندي ګرۍ، کړونې او پارونې وکړې، چې په هغو سره يې نه يوازې ټولنه په ژور ډول کړکېچنه کړه، خپل حکومت او پوځ يې ضعيف او خپل ګوند يې ټوټې ټوټې کړ، چې بيا مخالف ګونديان يې د شوروي اتحاد له پوځ سره د واکمن کېدلو په

مقصد یوځای شول او حکوت یې نسکور کړ.

دغه اثر د همدغو پېښو بیان ته ځانګړی شوی، په دغه مقصد چې لوستونکي د کودتايي، ایډیالوجیکي یو ګوندي، انحصاري او زورواک نظام له پایلو نه خبر وي، چې هغه د ثور د کودتا نظام و.

دغه اثر اووه څپرکي لري، په لومړي څپرکي کې د ثور د کودتا بهیر بیان شوی. د کودتا تر بیان نه دمخه د هېواد عمومي وضع او په خاص ډول امنیتي وضع څېړل شوې ده، چې د ګوند د مهم غړي میر اکبر خیبر په ترور او بیا د یو څو ګوندیانو په بندي کېدلو سره تاوجنه شوه، چې د هغه د نظامي څانګې مشر حفیظ الله امین له خپل بندي کېدلو نه دمخه په پوځ کې خپلو ګوندي افسرانو ته د کودتا دستور ورکړ او هغوی د ولسمشر محمد داود حکومت په زیاته اندازه د هوایي قوې په زور نسکور کړ او محمد داود د خپلې کورنۍ له ټولو غړیو او ځینو وزیرانو سره ووژل شو او د افغانستان خلق دموکراتیک ګوند د حکومت واګې په لاس کې ونیوه او مشر یې نور محمد تره کي د کودتایي حکومت سروال شو.

په دغه څپرکي کې په دې اړه هم بحث شوی، چې دغه کودتا د خلق ګوند یا د شوروي اتحاد د ابتکار نتیجه وه. د څپرکي په پای کې په دې اړه هم بحث شوی، چې هغه انقلاب و، لکه چې ګوندیانو ویل یا نظامي کودتا وه؟.

دویم څپرکی د نوي حکومت د ترکیب په اړه دی، چې ایډیالوجیکي او یوګوندي و. په خپله ګوند هم معرفي شوی، چې د کمونستي اصلونو له مخې تنظیم شوی او نومیالي مؤسسان یې په مارکسزم_لیننزم معتقد وو. نوی حکومت د دولتي قدرت د تمرکز د اصل له مخې تنظیم شو، چې په هغه کې د اګسا په نامه جاسوسي ادارې د "انقلاب ضد" ځپلو په پلمه د ترور یوه دوره پیل کړه.

په دغه څپرکي کې دا هم ویل شوي، چې د پخواني

حکومت یو شمېر لوړ پوړي چارواکي څنګه له مېنځه یووړل شول او نور یې ګوښه کړل شول. په داسې حال کې چې نوي ګوندي چارواکي له حکومتي چارو سره بلد نه وو. په عین حال کې د خلکو د خوښ ساتلو لپاره "د کور، کالي، ډوډۍ" شعار عام شو او حکومت د اساسي کرښو په نامه، چې ورته یې د قانون حیثیت ورکاوه، په دغې چارو لاس پورې کړ لکه "تصفیه دستګاه دولت از وجود عناصر ضد انقلاب، ضد دموکراتیک و ضد منافع خلق و وطن و ایجاد یک اداره دولتی سالم دموکراتیک و خدمت ګذار مردم." په دغه څپرکي کې هغه واړه لومړني پاځونونه هم بیان شوي، چې یوځای بل ځای وشول او وځپل شول.

درېیم څپرکی سور بېرغ او درې وروستي فرمانونه یا له ولس سره د حکومت مقابله نومېږي. په دغه څپرکي کې هغه اته فرمانونه بیان شوي، چې حکومت د هغو په تطبیق سره ټولنه وپاروله، په تېره په څلورم او اتم لمبر فرمان سره. په څلورم فرمان سره د افغانستان لپاره سور بېرغ غوره شو، چې هغه د کمونزم نښه ګڼل کېدله. اتم لمبر فرمان په ټول ملک کې د ځمکو د وېش په اړه و، چې د هغه له مخې ځمکې درجه بندي شوې او د لومړي درجې اوبه یېزې ځمکې خاوندان مجبور شو، چې له د برش جریب نه زیاته ځمکه نورو ته پرېږدي. په هغه سربېره د ځمکو د وېش په بهیر کې مامورانو ځمکه وال د "فیوډال" په نامه سپکول. په دغه څپرکي کې ددغو فرمانونو په عملي اړخ باندې پوره رڼا اچول شوې ده. په دغه څپرکي کې د لویانو د ښځو په ګډون د لیک او لوست زده کړې په کورسونو کې د ګوندیانو ناوړې او زورواک چلندونه هم بیان شوي، چې د پاڅونونو غټ عامل و.

د بندي توب او جزا په نامه څلورم څپرکی دی، چې اګسا د ضد انقلاب په نامه خپل مخالفان په کابل او نورو ښارونو او حکومتي مرکزونو کې

بندي کول او د محبس مامورانو د قانون په نشته والي کې هغو ته په خپل سر د مرګ تر سرحد پورې ډول جزاګانې ورکولې. په ځينو پوځي قطعو کې له مخالفو بندي افسرانو او د څرخي پله محبس او د کورنيو چارو وزارت د تهکاويو له بنديانو سره د چارواکو ز يږ چلند په اوږد ډول بيان شوى. په دې اړه د اګسا د سروال اسدالله سروري او د څرخي پله محبس آمر سيد عبدالله چلند په خاص ډول کتل شوى دى.

پېنځم څپرکى د حکومت په مقابل کې پاڅونونو ته ځانګړى شوى، چې د سره بېرغ له هسکولو نه وروسته په ټول ملک کې د حفيظ الله امين تر سروال کېدلو پورې وشول. په دغه څپرکي کې د هرات لوى پاڅون، د دره صوف پاڅون، د کونړ، نورستان پاڅونونه، د کېرالې ټول وژنه، د اسمار غزني غونډ پېښه، د پلخمري پاڅون، د چنداول پاڅون او د بالاحصار غونډ پاڅون په خاص ډول بيان شوي دي. د امين د سروالۍ په وخت کې د ريشخورو په فرقه کې د تره کي پلوو خلقي افسرانو پاڅون هم چې زر وځپل شو، په لنډ ډول بيان شوى دى.

شپږم څپرکي د تره کي، امين دښمني او د اندروپوف شيطانۍ په نامه په اصل کې د هغه اختلاف اوږد بيان دى، چې د هرات له پاڅون نه وروسته چې امين د لومړي وزير مقام ته هم هسک شو، په خلقي لويانو کې څرګند شو. د اګسا د سروال سروري په مخکښ توب يوې ډلې خلقي وزيرانو له امين سره د مخالفت لار ونيوله او د تره کي تر شا ودرېدل، چې د هغه او امين ترمېنځ د قدرت په سر دمخه حساسيت پيدا شوى و. په دغه حال کې د اګسا سر مشاور بوګدانوف سروري د امين پر ضد لمسوه. ک.ج.ب چې له اول نه پرچميان تر خلقيانو غوره بلل، له دغه اختلاف نه استفاده وکړه او سروري يې توطيو ته هڅوه، چې د سپتمبر د مياشتې په څوارلسمه په ارګ کې په امين او ملګرو باندې يې ډزې وشوې،

امین له د غې توطیې نه روغ ووت او تره کی بیا نه یواځې د نظام سروالي، بلکې خپل ژوند هم له لاسه ورکړ، او سروري او دده ملګرو ته په شوروي اتحاد کې پناه ورکړل شوه، چې هلته یې د ک.ج.ب په دستور له کارمل سره د امین پر ضد ملګرتوب پیل کړ.

اووم څپرکی د حفیظ الله امین سل ورځنۍ واکمنۍ ته ځانګړی شوی. د امین نوی حکومت هم یو ګوندي و، خو امین د ځینو اصلاحاتو په کولو سره د حکومت زیږه څېره نرمه کړه، چې ډېر مهم یې د اساسي قانون د کمیسیون ټاکل، د بندیانو وار په وار ازادول او د "قانونیت، عدالت او مصؤنیت" شعار اعلامول و، خو امین د دویم ځل لپاره د پرچمیانو په ځپلو پیل وکړ. په دغه مقصد، چې تنظیم یې له منځه یوسي. هغه په دې هم پیل وکړ، چې له ټولو علاقمنو هېوادونو په خاص ډول له پاکستان او امریکې سره انډولیز سیاست پرمخ بوځي، په عین حال کې چې له شوروي اتحاد سره به دوستي ته دوام ورکوي، خو شوروي اتحاد چې له اول نه له امین سره جوړ نه و، اوس اندېښمن شو چې افغانستان به د هغې په سروالي لویدیځ خوا ته واوړي او نور به د شوروي اتحاد تر نفوذ لاندې هېواد نه وي او په هغه سربېره له دغه هېواد نه به د هغه د منځنۍ اسیا جمهوریتونو ته خطر هم پېښ شي. شوروي اتحاد بیا په افغانستان باندې نظامي یرغل وکړ. امین یې وواژه او حکومت یې ورنسکور کړ او د کارمل په سروالی یې په کابل کې یو ګوډاګی حکومت په پښو ودروه. په دې ډول په افغانستان کې د افغان_ شوروي جنګ پېښ شو، چې څه باندې نهه کاله اوږد شو، چې لیکونکي په یوه بل اثر کې د هغه بیان کړی دی.

لـومړی څپرکی

د ثـور کـودتــا

د ثـور کـود تـا د سرطان تـر کـود تـا نـه هم ډېره اثـرنـا کـه ثـابـتـه شـوه. پـه د ا سې حـال کې چې محـمد داود لــه خپلــې کـودتـــا نـــه دوه کـا لــه وروســتـه خپــل کـود تـايـي حکو مـت قـانـونـي کړ، د ثـور کـود تـا لـو يـانـو خـپـل حکو مـت تـر پـا يـه پـورې د يـوه ګو نـدي طرز لـه مـخې د اسـا سي قـانـون پـه نـشتـه والـي سره پـه خپـلـو حکمـو نـوچلاوه. پـه نـتيـجه کې افـغانـستـان نـه يـواځې د ژورو کړکېچونـــو هېـــواد شـــو، حکومـــت او واکمـــن ګو نـد هم د کړکېچو نو پـه پـنـجو کې ګـيـر شو. پـه د غه حـال کې حکو مـت نـه يـواځې د ټـولـنې پـه لـه سره تـنـظيم کې پـاتې را غی، چې د غه کـار يې خپـلـه اصلي موخــه ښــوولــه، حتـــی د دولـتـــي نـظـــام پـــه تـنـظـيـم او ټـيـنـګښت کې هم پـاتې را غی. واکـمن ګو نـد هم لـه ولـــس نـــه بېګـانـــه او ټـــوټې ټـــوټې شـــو. د حفـــيظ الله امـيـن پـه سروالـی خـلـقي حکو مـت، چې د خـپـل نـظـام پـه اړولــو پـيــل وکـــړ، شـــوروي اتـحـــاد هغـــه پـــه نـظــامي يـر غل سره لـه مېنـځه يـووړ او سيـمه او نـړی يې هم کړکېچنـه کړه.

پـه د غه ا ثـر کې د ثـور کـود تـا او د شوروي يـر غل تـــرمېنـځ پـېښـــې بـيـــا ن شـــوي دي. تـــر هغـــه وروســـتـه پـېښې، د شوروي_افـغان جګړې پـه نـا مـه پـه بـل ا ثـر کې شرح شوي دي.

د ميـر اکـبـر خيـبـر تـرور

د نـــوي کـــا ل 1357 پـيـــل او د پـســـرلـي مـوســـم و، د کـا بـل ښآر خـلـک نـور نـو د ژمـي د سړو لـه ويـرې نـه آزاد شـوي او د مـــازيـګر پـــه مـهـــال يـــوه خـــوا بـلـــه خـــوا پـــه چکـــر وتـــل. د ښـــار د مکروريـــان پـــه

او سېدونکیو کې د چکر وهلو احساس لا قوي و، میر اکبر خیبر)حسین خېل(چې د افغانستان د خلق دموکراتیک گوند یو نومیالی مشر او په مارکسزم کې د خپلې پوهې په سبب په استاد یادېده، د حمل د میاشتې په 28مه له یوه بل گوندي او شخصي ملگري، عبدالقدوس غوربندي سره د خپل مکروریان له اپارتمان نه د مازیگر په چکر ووت. هغسې چې خیبر نرم غږېده، هغسې هم ورو ورو په چکر روان شو. د زاړه مکروریان له پله نه دواړه واوښتل، تا به ویل چې له دغه پله نه تېرېدل د پخواني روم د روبیکان له ویالې نه اوښتل دي، چې په دغه کار سره به بیا په روم کې ستر تحولات راتلل. د وزیر اکبر خان مېنې د گویتې انستیتوت ترڅنگه غوربندي له خیبر نه بېل شو او په تیمني واټ کې د خپل کور پر لور روان شو. خیبر ورو ورو خپله لار وهله او د ماښام د اوو بجو په شاوخوا کې د دولتي مطبعې شمالي خوا سړک ته ور سېد، هلته ناڅاپه د یوه روان جیپ له موټر نه گولۍ پرې واورېدلې او ځای پرځای مړ شو. دغه مهال د 1357 کال د حمل د میاشتې اته ویشتمې ورځ ماښام و.

په افغانستان کې سیاسي ترور نوی رواج مو ندلی و، ترور په اصل کې د ښي او کیڼ لاسو افراطي سیاسي گوندونو کار و. د خیبر له ترور نه دمخه د محمد داود د حکومت د پلان وزیر علي احمد خرم د مرجان نومي له خوا د هغه له رسمي دفتر نه د توپنگچې په زور ووېستل شو او بیا په بازار کې په رڼا ورځ ترور یا ووژل شو. تر هغه لا دمخه په پاچایي رژیم کې د گهیځ جریدې چلوونکی منهاج الدین گهیځ په خپل کور کې په گذرکاه کې د یوه ثقه راوي په وینا د یوه غیر گوندي چپي انقلابي له خوا ترور شوی و. په کابل کې بل غټ ترور د هوایي پیلوټ انعام الحق گران و، چې په غالب احتمال د ببرک کارمل په گومان له مینځه وړل شوی و. دوی دواړه د مکروریان په

یوه بلاک کې اوسېدل. د خیبر تر ترور کېدلو پورې یو شمېر ګوندي غړي د هېواد په ډېرو برخو کې هم ترور شوي وو. په افغانستان کې که څه هم له زور نه کار اخیستل او وژل یو اشنا عمل و، سیاسي ترور رواج نه لاره. د امیر عبدالرحمن دورې له پیل نه تر دغه وخته پورې د پاچا امان الله او پاچا محمد ظاهر د قانوني پاچایي له دورو نه پرته، د مطلقو حکومتونو په وخت کې وژنه د رسمي سیاست یوه برخه وه، خو د ګهیځ، خرم او خیبر ترور د عصري ښاري ترورونو بېلګه لرله او هغه د نورو سیاستونو او پروګرامونو باندې علامه ګڼل کېدله، نو د خیبر له ترور نه وروسته انتظار داو، چې نور به څه کېږي؟ د خیبر د ترور خبر په ښار کې د برېښنا په څېر ګړندی خپور شو، څنګه چې دی لوی ګوندي شخص و، د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند یې د ښخولو دنده په غاړه واخیسته او له هغه نه یې یوه غټه ننداره جوړه کړه.

د ترور په سبا د ګوند په زرګونو غړي د هېواد له ښارونو نه کابل ته ورسېدل، عصري ترانسپورتي وسیلو چې غېر حکومتي بسونه یې غټه برخه وه، د خلکو انتقال په لنډ وخت کې ممکن کړی و. غزنی او پراخ افغانستان د لومړي ځل لپاره په خپل اوږده تاریخ کې د تګ راتګ په ګړندي عصر کې داخل شوی و، واټن نور نو چندان مانا نه لرله او د خیبر د جنازې لپاره ګوندیان شپه په مېنځ کې له اطراف نه کابل ته رسېدلي وو. د خیبر جنازه د اټکل شلو زرو کسو په ګډون د منظمو قطارونو په سر کې له زاړه مکروریان نه د پل خشتي له لارې د شهدای صالحین هدیرې ته یووړل شوه. په لار کې د امریکې سفارت په مخ کې لکه هسې چې د کمونستانو په منځ کې رواج و، د امپیریلزم پر ضد شعارونه واورول شول. د شهدای صالحین په هدیره کې د خیبر د قبر په سر څو ګوندي لویانو ویناوې وکړې او

حکومت او ارتجاعي قوتونه يې په د غه ډول ياد کړل، چې د غه ترور به ګواکې د دوی په لمسون شوی وي. په بله ورځ د شاه دو شمشېره په لوی جو مات کې فاتحه هم پوره سياسي وه، نه فاميلي. فاتحې ته نه يواځې ګوندیان، بلکې د خيبر غېر ګوندي دوستان هم ورغلي وو. وروسته اورېدل کېدل، چې ګوند له حکومت سره مقابله غواړي.

د مير اکبر خيبر وژونکي

د خيبر وژونکی يا وژونکي تراوسه هم په يقين سره معلوم شوي نه دي، وارثانو يې نه څوک تورن کړ او نه يې حکومت ته عرض وکړ، خو ګوندي لويانو،لکه څنګه چې وويل شول، د حکومت "ارتجاعي قوتونه" تورن کړل او حکومت ته يې په د غه ډول خبرداری ور کړ. دا سې ښکارېده، چې ګوند حکومت او اخوانيان ددغه ترور مسؤول بلل. وروسته چې دولتي واک دد غه ګوند په لاس ور غی، د کورنيو چارو وزير نور احمد نور د راپور له مخې داکتر کريم مشهور په کريم کُپ او د هغه اووه تنه ملګري په همدغه تور ونيول او بې له محاکمې نه اعدام شول. کريم کپ په کابل کې د اسلامي حزب د عملياتي ډلې مشر و.

د مير اکبر خيبر قاتل چا يو څوک او چا بل څوک ښودلی، خو دغه وژنه د پرچم ګوندګي يوه خپلمنځي موضوع وه. خيبر په اصل کې د خپل سياسي نظر او د پرچم په ګوندګي کې دننه د مشرتوب د سيالۍ قرباني شوی دی. خيبر په دې فکر نه و، چې د محمد داود حکومت دې په کودتا سره نسکور شي، دده په فکر کې که ګوند حکومت نسکور هم کړي، خلک يې حکومت نه مني او هېواد به له خطر سره مخامخ شي. هغه د خپل ترور کېدلو نه دمخه د يوې پوښتنې په ځواب کې ويلي و، چې" من هرگز طرفدار کودتا نميباشم، فعلاً مبارزه پارلمانی و بعداً انقلاب سياسی." سپارښتنه يې دا وه، چې "طرفداران سوشلزم بايد

از چوکات و اصول دست داشته خود خارج نشویم. در افغانستان فعلاً سیستم نیمه فیودالی برقرار میباشد و جامعه ما یک جامعه مذهبی بوده و نود و پنج فیصد بیسواد داریم. صنعت وجود ندارد، سیستم زراعتی ما بشکل بدوی بوده انقلاب را باید کارگران (و) دهقانان براه اندازد. من طرفدار کودتاهای نظامی نمیباشم."[1]

خیبر د محمد داود له حکومت سره په همکارۍ معتقد و، خو نور پرچمیان په تېره ببرک کارمل له دغه نظر سره مخالف وو. د دوی په فکر څنګه چې محمد داود د موسی شفیق په شان په دې لټه کې شوی و، چې افغانستان له لویدیځو هېوادونو په تېره له پاکستان او ایران او داسې هم له عربي هېوادونو سره نژدې او له شوروي اتحاد نه لیرې کړي، باید د هغه پر ضد یو څه وشي. په اصل کې د دوی د همدغې اندېښنې له امله و، چې د خلق او پرچم ګوندګي د 1357 کال د سرطان په میاشت کې له لس کاله بېلتون او مخالفت نه وروسته د شوروي اتحاد په دستور سره بېرته یو موټی شول، خو دغه یو موټی والی فرمایشي او میخانیکي و. نور محمد تره کي چې د خلقي ګوندګي مشر و، خپلو هغو ګوندیانو ته چې له دغه کار سره جوړ نه وو، ویل چې دا د شوروي اتحاد د کمونست ګوند دستور و. د ایران د تودې ګوند مشر احمد کیانوري هم په دغه کار کې رول درلود او په کابل کې یې دغه ماموریت سرته رسولی و. د ایران د تودې ګوند هم د مسکو پر لار روان یو کمونستي ګوند و، خو کارمل له دغه بیا یو موټي والي سره تعلل کاوه، په داسې حال کې چې خیبر د هغه ټینګ پلوی و او په کارمل باندې یې فشار راوړ، چې له تعلل نه لاس واخلي، که څه هم دی په خپله به د یو ځای شوي ګوند په پولټبورو یا سیاسي دفتر کې غړی نه وي، چې هغه تر ټولو لوړ ګوندي رکن دی. د دوی ترمېنځ د اختلاف غټه موضوع شاید له دې امله وه، چې خیبر

نېشنلست ګوندي او کارمل انټرنېشنلست ګوندي و، په دې مانا چې لومړي واک ته رسېدل د افغانانو له لارې غوښتل او وروستي د شوریانو په مرسته. دغه اختلاف تر دې حده رسېدلی و، چې خیبر د خپل ترور په ماښام غوربندي ته ویلي و، چې "من میګویم که تکتیک و ستراتیجی سیاسی حزب ما بر اساس تقدم خواست های ملی و اجتماعی وطن خود ما اتخاذ گردد و کارمل برعکس پافشاری دارد خود را انترنیشنلست و مرا ناسیونالست تنگ نظر معرفی میکند و بصورت شرم اور اینجا و انجا راپور میدهد."[2] له "اینجا و انجا" څخه به د هغه مطلب شورویان وو. کارمل فکر کاوه، چې ځنګه چې دی په اصل کې د پرچم د واړه ګوندکي سروال دی، د شوروي اتحاد له مرستې پرته اعلی واک ته نشي رسېدلی، له همدې امله به و، چې د پرچم ګوندکی شوروي اتحاد ته بېخي ډېر وفادار و او د کارمل ونډه په دې کې، چې هغه شوروي اتحاد ته د اعتبار وړ وګرځوي، ډېره وه. خیبر لا په دې نظر و چې "وی [کارمل] مطلق یک ایجنت است و میخواهد افغانستان را دو دسته تقدیم روس ها کند."[3]

کارمل او خیبر په اخلاقي لحاظ هم سره وران و، د یوه اعتبار وړ پرچمي یا پخواني پرچمي د خولې خبرې دي، چې کارمل د خپل یوه ګوندي په کور کې په داسې حال کې، چې کوربه د زیات الکول د راوړلو لپاره بېرون تللی و، د هغه په ماینې لاس اچولی و او خیبر د هغې د چیغو په اوریدلو سره ځان ورته رسولی او کارمل یې په څپېړه وهلی او ورته ویلي و، چې "ته هم د افغانانو د مشرتوب ادعا کوې او هم دغسې بې حیایي کوې." د همدغو اختلافونو له امله او دا چې خیبر د خپل متواضع شخصیت او مارکسستي پوهې په سبب په ګوندکي ډېر پلویان لرل، د دواړو ګوندکیو له یو موټي والي نه وروسته په پرچمیانو کې دغسې میل پیدا شوی و، چې له

کارمل نه ناراضي پرچميان د تره کي خوا ته اوښتل.

عطا محمد شېرزی ليکي: "در جريان اين وحدت عده ای از اعضای رهبری حزب پرچم که روابط شان با ببرک کارمل بوخامت گرائيده بود، خود را بيشتر با تره کي و رهبری خلقی ها نزديک ساختند و اين امر ببرک کارمل را در هراس انداخت."[4]

د شېرزي له ليکنې نه ښکاري، چې مير اکبر خيبر دداغه ميل مخکښ و او د کارمل پر ضد يې د پرچم په ګوندګي کې مبارزه پيل کړې وه. "مير اکبر که از فساد اخلاقی، شراب خوری و استفاده جويی و همچنين گرايش های نفی سياسی ببرک کارمل به ستوه امده بود، مبارزه درونی را بر ضد ببرک کارمل اغاز کرده بود. ببرک کارمل که از نفوذ و دانش مير اکبر در هراس بود، نميخواست که مير اکبر خيبر به نور محمد تره کی بسيار نزديک شود و قبل از امضاء سند وحدت نور احمد نور را بمنزل مير اکبر خيبر فرستاد تا امکان بازديد و مفاهمه با مير اکبر خيبر را ميسر سازد ولی مير اکبر خيبر به نور احمد نور گفت که ملاقات من با ببرک کارمل بجز از جلسات کميته مرکزی حزب در موارد ديگر تحت يک سقف واحد برای هميشه ناممکن ميباشد."[5] خيبر هم غوربندي ته د نور احمد نور په مخ کې ويلي و، چې "ما [کارمل و خيبر] روی کدام مسئله شخصی هيچگونه اختلافی نداريم که جهت رفع آن بکدام خانه مهمان شويم و رفع کدورت کنيم. اختلاف ما جنبه سياسی دارد و بايد در جلسات زير سقف کميته مرکزی حل گردد و من حاضرم در انجا طبق نورم های حزبی با کارمل تصفيه حساب کنم."[6] کارمل چې په دغه ډول له خيبر سره له پخلا کېدلو نه ناهيلی شو، په يوې خصوصي غونډې کې خپلو نږدې ملګرو ته د پرچمي توب د ساتلو توصيه وکړه. بيا هم شيرزی: "همان بود که بعد

از امضای [سند] وحدت ببرک کارمل تمام امضا کنندگان جناح خود را به استثنی میر اکبر خیبر دعوت نمود تا در منزل نور احمد نور با هم ملاقات نمایند و در این ملاقات ببرک کارمل به اعضای کمیته مرکزی جناح خود توصیه نمود که باوجود وحدت با خلقی ها باید نزدیکی و تماس خاص و نزدیک بین خود را فراموش نکنند و خصوصیت پرچمی بودن خود را باوجودیکه مغایر یکی از مواد سند وحدت بشمار میرود، حفظ نمایند."(7)

خو دغه پټه غونډه پټه پاتې نه شوه، عبدالقدوس غوربندي، نجیب الله او سرور یورش خیبر پرې خبر کړ. څنګه چې خیبر د مرکزي کمېټې د څارنې او کنټرول مسؤل و، له غوربندي او یورش نه یې په دې اړه لیکلي راپورونه ترلاسه کړل، چې د ګوند عمومي منشي نور محمد تره کي پرې خبر کړي. تره کي په ټیلفون سره په دې اړه په نهو بجو له خیبر سره په ګډه د تصمیم نیولو لپاره وخت وټاکه، خو خیبر د همدغې شپې په ماښام ترور شو.(8)

خیبر له وژل کېدلو نه دمخه په وژل کېدلو ترټل شوی و، هغه د غوربندي په مخ کې نور احمد نور ته ویلي و، چې "کارمل مرا بمرگ تهدید کرده، برایش از طرف من بگوئید که من از مرگ نمیترسم."(9) خیبر د نور احمد نور په مخ کې غوربندي ته هم په ټینګه ویلي و، چې "کارمل را مستقیماً و صراحتاً بوسیله کس دیگری هشدار داده و تهدید بمرگ کرده است."(10) دستګیر پنجشیری هم د محمد حسن بارق شفیعي او سلیمان لایق له خولې نه وايي، چې "در همان روز ها پیام تهدید آمیز ببرک کارمل بوسیله نور احمد نور به خیبر ابلاغ گردیده بود تا از مشی انحلال طلبانه خود صرف نظر کند."(11) د خیبر پر ضد د کارمل د مخالفت بله نښه دا وه، چې له هغه نه یې د پرچم د ګوندګي د نظامي رابطې امتیاز واخیست.

غوربندی لیکي: "سازمان نظامی حزب را که بحیث یک شخصیت محبوب و قابل اعتماد برای افسران سالها سرپرستی نموده بود، به بهانه های مختلف و منجمله اینکه گویا شما تحت تعقیب قرار دارید از ایشان گرفتند و به نور احمد نور تفویض نمودند."[12] پر هغه سربېره کارمل او ملګرو یې هڅه کوله، چې خیبر له خپلو ګوندي ملګرو نه ګوښه کړي. بیا هم د غوربندي په وینا: "کارمل و اعوانش سعی داشتند تا خیبر را بکلی تجرید نموده از هرگونه تماس اعضای حزب با استاد [خیبر] جلوگیری نمایند" ددغه منظور لپاره هغو "بدور خانه او یکنوع محاصره ایجاد کرده بودند... کادرهائیکه برای اجرای پاره امور بکابل می آمدند و اکثراً بطور سنتی قبل از بازگشت از ملاقات و صحبت های استاد کسب فیض میکردند دیگر اجازه نداشتند دیدنش بروند. نور احمد نور که در تشکیلات کار میکرد و وسیع ترین تماس و ارتباط را با کادرهای مرکز و ولایات داشت و اخلاصمندان خیبر را نیز می شناخت در تجرید استاد نقش عمده را ایفا میکرد."[13]

په دې ډول له خیبر سره د کارمل مخالفت د دښمنۍ تر سرحده پورې رسېدلی او د غومره پیاوړی شوی و، چې څه وخت کارمل د شوروي پوځ له خوا په کابل کې د واک په ګدۍ کېنول شو، هم د غه دښمني هېره کړې نه وه. کارمل په خپل پېنځه کلنۍ بېواکۍ واکمنۍ کې خیبر د ګوند د یوه نوميالي غړي په توګه یاد نه کړ، په داسې حال کې چې د پرچم غونډې رجیمونو کې د سرګوندیان په تېره هغوی، چې په دغې لار کې یې ژوند له لاسه ورکړی وي، لا تر لا په هرې سیاسي او اجتماعي موقع کې په غېر عادي ډول ستایل کېږي. حقیقت دا دی، چې خیبر دخپل ترور کېدلو په وخت کې له کارمل نه پرته دغسې دښمن نه درلوده، چې نشتوالی یې د هغه په ګټه وي. کارمل دمخه هم خپل دوه نوميالي حریفان میر غلام محمد غبار او

علي محمد زهما له ګوند نه په وتلو مجبور کړي و.(14) کارمل وروسته حفیظ الله امین د شوروي اتحاد په پوځ سره له مېنځه یووړ او له نجیب الله سره یې، چې کارمل پرځای واک ته راوستل شو، دښمني پیل کړه.

څنګه چې د خیبر وژونکي نیول شوي نه دي، د ترور په هکله لا سوندونه هم ترلاسه شوي نه دي، نو په دې اړه ډول ډول او حیرانوونکي حکمونه شوي دي، حتی حفیظ الله امین هم پکې دخیل شوول شوی دی، خو هېڅ یو حکم ددغې شرح پر بنا شو نه دی لکه دلته چې د نویو او ډول ډول سرچینو له مخې شرح شوی دی. په دغې شرح کې د خیبر په قتل کې د ترور ګوته کارمل ته نیول کېږي. غني ساپی سره له دې، چې د پرچم ګوندګي غړی و او بیا ترېنه ووت، د کارمل نوم په مشخص ډول یادوي او وایي چې: "برخی از حلقات میگفت که مرتکب آن [قتل خیبر] ببرک کارمل است زیرا خیبر در جناح پرچم یک عضو مهم و... رقیب جانشین کارمل محسوب میشد."(15) البته کارمل دغه ترور په خپله نه دی کړی. که د پنجشیري دغه لیکنه رښتیا وي، کارمل به د خیبر د ترور په وخت کې د ګوند د پولټبورو په هغې غونډې کې ګډون کړی وي، چې ددغه ترور په ماښام د نور محمد تره کي په کور کې شوې وه(16). نو کارمل به د خیبر د ترور لپاره جلادان مامور کړي وي لکه د یوې مافیا د مشر په شان، چې په خپله یې په یوه واده کې د نکاح پلار په شان وظیفه اجرا کوله او ګومارل شوي جلاد یې په هماغه مهال په یوې بلې سیمې کې د هغه یو حریف ترور کړ. په دغه حال کې به د دغه روایت رښتیا وي، چې وایي نور احمد نور او امتیاز حسن د حمل د میاشتې په 28مه، 1357/اپریل 17، 1978 د ماښام په مهال له یوه روان جیپ نه په میر اکبر خیبر باندې ګولۍ واورولې او وېې واژه. نور احمد نور له اول نه تر پایه پورې د کارمل ټینګ ملګری او امتیاز

حسن د کارمل شخصي ساتونکی و، چې بیا د معدنونو د وزارت مرستیال وټاکل شو.

زه لا په 1990 کې یانې هغه وخت، چې پورته یاد شوي اثرو نه راوتلي نه وو، په دې اړه په لږ توپیر سره هم دغې نتیجې ته رسېدلی وم. په هغه وخت کې د افغانستان، د شوروي یرغل او افغانانو ځواب نومي انګرېزي اثر کې راوړي وو، چې "زه د قرینو په استناد او نورو آثارو له مخې د غې نتیجې ته رسېدلی یم، چې د غه وژنه د ک.ج.ب په د ستور د کارمل او نور احمد نور د جلادانو په واسطه عملي شوې ده.)17(" خو اوس مولف شاه محمود حصین وایي، چې په د غه قتل کې کارملیانو د شوروي سفارت د یوه "هر کاره او باصلاحیت" مامور پښه له قصده دخیله کړې او دوی وروسته له هغه دغه ډول تبلیغ پیل کړ، چې اوبلوف د میخائیل ګورباچوف د حکومت د نوي سیاست له مخې د کارمل په مقابل کې د نجیب الله خوا ونیوله. د حصین په نظر کارمل د خیبر له ترور نه دوه موخې لرلې: "برداشتن حریفی که با شهرت روز افزون داشت جای کارمل را میگرفت و تحریک قبل از وقت نیروهای چپ علیه [محمد] داود و [گرفتن] انتقام آنچه با گروه او کرده بود.)18("

د حکومت ځواب

د خیبر د جنازې چارې او په ګور باندې یې د ګوندي لویانو اخطار د حکومت لپاره یو ډول برالا چیلنج و. حکومت یو کال دمخه تر هغه د جزا قانون په اصل کې د چپیانو او خراب کارو د ځپلو لپاره ایستلی و. حکومت ته اوس معلومه شوه، چې د خلق دموکراتیک ګوند، چې له یوې شپې او ورځ نه په لنډه موده کې خپل غړي له ټول ملک نه میدان ته ایستلي او د جزا قانون ماتولی شي، تر دې لا هم غټ کارونه کولی او

عامه امنیت له خطر سره مخامخ کولی شي او که د جزا قانون په رښتیا قانون وي، باید پر هغه باندې عمل وشي. نو ولسمشر محمد داود د عدلیې وزیر او لوی څارنوال وفي الله سمیعي ته هدایت ورکړ، چې معلومه کړي، چې د خلق دموکراتیک گوند وروستي کارونه د قانون له نظر نه د تعقیب وړ دي او که نه؟ څارنوال له یو څو ورځو وروسته ولمسشر ته د "هو" ځواب ورکړ.
د یادولو وړ ده، چې محمد داود تر دغه وخته په دې اړه د خپلو ځینو مشاورینو سپارښتنې نه منلې. د هغوی مشورې دا وې، چې د خلق دموکراتیک گوند لویان د قدرت نیولو لپاره تیاری نیسي او شاید کودتا وکړي. په دې اړه د خوست لوی ولسوال محمد ولي تر نورو ډېر ټینگار کاوه. هغه د همدغه مقصد لپاره په کابل کې حکومتي لویان د محمد داود په گډون څو ځلي لیدلي او د مؤلف ستانیزي په مخ کې یې د کورنیو چارو وزیر عبدالقدیر نورستاني ته ویلي و، چې "من بارها به سردار صاحب گفته ام که پرچمی ها و خلقی ها وطن را برباد میکنند و کنون علنی به فعالیت خود ادامه میدهند." دی خپلې خبرې په دې ډول اوږدوي: "من یک روز به سردار صاحب [محمد داود] موضوع را جدی مطرح کردم اما حیدر رسولی [وزیر دفاع] بالای من قهر شده و گفت شما ذهنیت رهبر را مغشوش میسازید. هیچ قدرت و نیرو نیست که رژیم موجود را سرنگول سازد." هغه دا هم ویلي و، چې "تعداد خلقی ها در اردو در ظرف دو سال گذشته رو با افزایش رفته است." (19) جورنلست ستانیزی د ځینو لوړ پوړو چارواکیو او گوندیانو نظرونه د کودتا په درشل کې په خپل اثر "سهل انگازي محمد داود خان و کودتای ثور" کې په اوږده او څرگند ډول راوړي دي. د هغو محوري ټکی دا دی، چې د خلق دموکراتیک گوند په پوځ کې نفوذ او د حکومت پرضد د عمل کولو نیت لري، خو د ملي

دفاع وزیر غلام حیدر رسولي ولسمشر محمد داود ته ډاډ ورکوي، چې پوځ په ټینګه د هغه او د حکومت پر خوا ولاړ دی. دد غه نظر له مخې به وي، چې حکومت په سر کې د ګوند خرګند ملکي لویان ونیول او بیا یې د نظامي ګوندیانو د نیولو امر ورکړ، چې عملي نه شو.

د ثور په پېنځمه شپه اتو عملیاتي ډلو، چې هره یوه یې له افسرانو او څارندویانو نه جوړه وه، د کورنیو چارو وزارت د امنیې د عمومي قومندان، د کابل والي، لوی څارنوال او نورو په هدایت د افغانستان خلق دموکراتیک ګوند دلویانو په نیولو پیل وکړ. لوی قومندان صدیق واحدي ټولو عملیاتي ډلو ته هدایت ورکړی و، چې د هغو نیول باید په اغېزمنه توګه وي او "بدون اعضای فامیل هر شخص بیگانه ای که بنام مهمان در خانه مطلوب باشد، دستگیر شود. اسلحه، کتب و اسناد حزبی و پول زیادتر از مصرف خانه نیز مواخذه گردد." څارندویانو نور محمد تره کی، ببرک کارمل، شاه ولي، عبدالحکیم شرعي جوزجانی، دستګیر پنجشیری، په خپلو کورنو کې بې له کوم مشکل نه ونیول او د کابل ولایت په توقیفخانه کې یې، چې له ختو نه جوړې وړې کوټې یې لرلې، واچول. د سهار په مهال یې سلیمان لایق او محمد حسن بارق شفیعي هم ونیول. په دوی کې محمد حسن ضمیر ساپی هم و، چې په غلطه نیول شوی و. هغه د ګوند عادي غړی و. اتم عملیاتي ګروپ، چې د شاه ولي له نیولو نه فارغ شو، د شپې ناوخته د حفیظ الله امین په نیولو هم وګومارل شو. د حفیظ الله امین کور د خوشحال مېنې په لومړۍ برخه کې و او د هغه د نیولو د ګروپ قومندان عبدالغني ساپی عمرزی و. عمرزي د ګوندي لویانو د نیولو او د ثور د کودتا پېښې لیکلي، چې بیا یې د "شب های کابل" په نامه وروسته چاپ کړي دي.

عمرزي د خپل اثر لومړۍ لیکنه، چې ما ته یې

په 1987کال له پلچرخي نه له وتلو وروسته
راکړې وه، د هغه تر چاپ شوي کتاب نه مهمه ده،
په دې چې هغه لږ څه اوږده ده او پکې یو څه
سپین ګړېدلی دی. غني ساپی چې په اصل کې د
لغمان او زما دوست او د پرچم ګوندګي پټ غړی و
او وروسته ترېنه ووت، د اتم لمبر عملیاتي
ګروپ په قومندانۍ د سه شنبې په نیمه شپه د
شاه ولي له نیولو نه ورووسته له څلورو
افسرانو او شلو تنو څارندویانو سره د حفیظ الله
امین د نیولو لپاره خوشحال مېنې ته ورسېد.
امین، چې د هغو په ورتګ خبر شو، سمله لاسه یې
د نظامي تشکیل لست خپلې مېرمنې پتمنی ته
ورکړ، چې د پولیسو لاس ته ورنشي او نظآمي
ګوندي ملګري یې له خطر نه بچ شي. همدغسې هم
وشول، امین بیا په سړه سینه د ګروپ له
قومندان سره، چې ورسره اشنا و، مخامخ شو.
قومندان او ملګرو یې وروسته له هغه چې امین
یې له موضوع نه خبر کړ، د کور په لټولو پیل
وکړ. یو شمېر کتابونه، ګوندي خپرونې، یو میل
توپنګچه، اووه دانې کارتوسونه او یو لک او
څلوېښت زره افغانۍ هغو ته په لاس ورغلې او په
درېبوجیو کې وا چول شوې، خو امین د پېسو په
سر له هغو سره دعوه شروع کړه او ادعا یې
وکړه، چې هغه نغدې پیسې، چې هغه د آبادی
لپاره پیدا کړې وې، یو لک او اتیا زره وې.
قومندان غني ورته وویل، چې دی کولی شي دوی
ټول ولټوي. امین همدغسې وکړل، خو ادعا یې سمه
ونه ختله. بیا یې څلور زره افغانۍ د کورنۍ د
لګښت لپاره بېرته وغوښتلې، چې ورته ورکړل
شوې. د کور د لټولو په وخت کې امین د پولیسو
په مخ کې له خپل لاسي ډیپلومات ډول بکس نه یوه
ټوټه کاغذ وایست او په خوله کې یې وا چوه او د
ډوډۍ په شان یې تېر کړ. هغو پرې اعتراض وکړ،
خو هغه په سړه سینه وویل چې "هغه بل څه نه،
بلکې یواځې یو شخصي لیک و." پولیس مشکوک او

جدي شول، چې هغه به په دې ډول کوم مهم سند له مېنځه وړی وي، خو قومندان غني په بل فکر و:
"من که ظاهراً از این وضع ناخشنود بودم، قلباً خوش شدم. بآین عقیده بودم که [آن] کدام ورق تشکیلاتی حزبی بود. شاید شهرت رفقای برجسته حزبی یا کدام سند مهم حزبی بوده باشد."
امین د کور لټولو په جریان کې نوک اخیستونکی په لاس لاره او په پرله پسې ډول یې خپل نوکان اخیستل. داسې بریښېده، چې دې په همدغه وخت کې د کوم تجویز په اړه سوچ کوي. له قومندان غني نه یې دوه غوښتنې وکړې: یوه دا چې پولیسان دې په هغې کوټې کې نه ننوځي، چې ښځې او ماشومان پکې ویده دي. بله دا چې دی دې همدغه اوس بندي خانې ته بو نه تلل شي، بلکې سبا په اتو بجو دې حاضر کړل شي، چې "دریشی و لباس هایم را گرفته بعد از تنظیم خرچ خانه تا به ساعت 8 صبح همراه مامور سمت بقوماندانی حاضر می شوم." قومندان غني ورته ووېل، چې "خواهش اول شما را اکنون به صلاحیت خود پذیرفتم به شرط آنکه صرف خودم باتفاق شما یا پسرتان با احتیاط تام که اطفال شما از خواب بیدار هم نه شوند، باصطلاح یک کله کشک نمایم."
امین د غه تجویز په خوښۍ سره ومانه او قومندان غني له وره نه د خوب کوټه ولیدله او ورته ځرګنده شوه، چې هلته د هغه له خپلې نه سربېره د هغه مشر ورور عبدالله امین هم په غالب احتمال له خپلې ماینې او وړو سره ویده پروت دی.
د امین د دویمې غوښتنې په اړه قومندان غني له کور نه دباندې د مخابرې د آلې په وسیله د امنیت له لوی قومندان نه هدایت وغوښته. دی لیکي، چې: "با او طوری حرف زدم که باید حتماً اجازه قومندان را حاصل نمایم. از اینکه قومندان امنیه هم در این ناوقت شب خسته و سرگیچ شده بود، هر چه گفتم قبول کرد، ولی گفت من باید با قبول مسؤلیت این کار را انجام

دهم. بخانه برگشتم و با امین بخنده گفتم که همه خواهشات شما را قبول خواهم کرد، بشرط آنکه مرا در مسؤلیت نگذارید. گفت خاطر جمع باشید من گریزی نیستم که شمارا در مسؤلیت بگذارم." دا وخت د کور لټول پای ته ورسېدلي و. څنګه چې د امین کور د شاه ولي د کور په څېر ډېر څه نه لرل، پل ټل یې ډېر وخت ونه نیوه. د شاه ولي کور چې د غني په قول "به بهترین دیکوریشن (زینت) فرش شده بود" دغسې یوه تهکاوي هم لرله، چې "انبار های برنج قسما قسم، یک بیلر 200 لیتره پر از روغن زرد، یک بیلر 200 لیتره پر از روغن نباتی، بهمین قسم انواع جبوبات از قبیل لوبیا، نخود، نسک، ماش وغیره مواد خوراکی از قبیل قروت، کچالو، ماش و پیاز وغیره به جوالها موجود بود." د غني د لیکنې له مخې "دوکتور موصوف پسر یک نفر حاجی متحول و برادرزاده یکنفر تاجر قاچاق بر است، تاجری بنام شاه محمد لنگ کاکای دکتور از قاچاقبران شریک خاندان شاهی بوده است."

ښار ندویان د نږدې دوه ګړۍ لټون نه وروسته د سهار په درې بجو د امین له کوره ووتل او تر هغه دمخه یې د سمت ښار ندویان وګومارل، چې د سهار تر اتو بجو پورې امین او د هغه کور وڅاري. یواځې امین پرې نه ږدي، چې له کور څخه ووځي، خو د کورنۍ له نورو غړیو سره غرض و نه لري.

د امین د کودتا نقشه

حفیظ الله امین په دې ډول د سهار له درې بجو نه د غني ساپي په وینا تر اتو بجو پورې پېنځه ساعته او د خلقي رجیم د کالنۍ له مخې تر لسو بجو پورې اووه ساعته وخت لاره، چې په خپل نوبت او فکر یو څه وکړي. دا سې ښکاري چې چارواکي د امین په هغه رول خبر نه وو، چې د ګوند په

نظامي برخه کې یې لاره، که څه هم د خوست ولسوال محمد ولي د کورنیو چارو وزیر عبدالقدیر نورستاني ته ویلي و، چې "در بین خلقي ها حفیظ الله امین زیرک و هوشیار بوده و صاحبمنصبان اردو توسط او جذب شده است."[20] په ګوند کې د امین اهمیت په اصل کې په دې کې و، چې لکه دمخه ویل شوي، دی د خلقي ګوندګي د نظامي څانګې آمر و. په اول سر کې صالح محمد زیری او عبدالکریم میثاق هم ورسره په نظامي کمېټې کې شریک وو، خو هغوی له ډاره د غه دنده پرېښوده. ټول خلقي افسران د خلقي حکومت د اطلاعاتو او کلتور وزیر خیال محمد کټوازي په وینا د دیارلسو او څوارلسو تنو ترمېنځ او د دفاع وزارت د سیاسي آمر اقبال وزیري په وینا د نولسو په شاوخوا کې وو. دوی، چې زیاتره یې په کابل او شاوخوا کې په پوځي واحدونو کې وو، د څو رابطو غړیو له لارې له امین سره تړلي وو. په خپله وزیري د 180 افسرانو او کټوازی د شاوخوا 250 افسرانو ارتباطي غړی و. په دې ډول د ټولو خلقي افسرانو د ګوندیتوب راز له امین سره و. د کټوازي په وینا د پرچمي نظامي افسرانو شمېر د درې سوو او څلور سوو ترمېنځ و، خو امین که څه هم په بیا یو موټي شوي ګوند کې مهم شخص و، د پولټبورو یا سیاسي دفتر غړیتوب یې نه لاره او د نورو ګوندي لویانو په شان یې د خیبر د ګور له پاسه وینا هم کړې نه وه، چې حکومت ور ته متوجه شوی وي. په هغه سربېره څنګه چې امین په ګوند کې ټیټ ګڼ مخالفان لرل او هغو ورپسې ډېر پروپاګنډ کاوه، چاروا کو به فکر کړی وي، چې هغه په ګوند کې مهم شخص نه دی. په دغو ټولو سربېره امین د محمد داود د حکومت په مخالفت هم اواز جګ کړی نه و. هغه لا د کټواز په وینا برالا ویل، چې "مونږ له رهبر نه دفاع کوو." له همدې امله به وي، چې امین تر ټولو وروسته

ونیول شو او د هغه د کور په لټولو کې هم خاص جدي توب ونه ښوول شو او حتی د امنیې لوی قومندان هم ورسره سخته ونه نیوله، خو امین په بیا یو ځای شوي ګوند کې د ګوندي مخالفانو له خوا تر فشار لاندې و. هغوی د هغه په قدرت پوه وو او ترینه ویریدل. دوی د ګوند په عمومي منشي نور محمد تره کي باندې فشار راوړ، چې د پرچم او خلق د ګوندګیو نظامي برخې دې هم سره یو شي، خو امین دغه کار ته حاضر نه و. مخالفانو بیا له تره کي نه وغوښتل، چې امین د نظامي څانګې له سروالی نه خلاص شي، تره کي په دې اړه یوه میاشت وخت وغوښته، چې بیا به په دې هکله کومه اساسي پریکړه وشي.

مهمه دا ده، چې امین خپل خلقي افسران، چې زیاتره یې پښتانه وو او د پښتنو شمېر په پوځ کې د نورو قومونو په پرتله ډېر وو، په مهارت سره تر خپل تاثیر لاندې راوستلي وو او دغو افسرانو له هغه وخت نه، چې محمد داود له هغو وعدو نه، چې خلکو ته یې په خطاب کې ورکړې وې، اوښتی و او په دې یې پیل وکړ چې افغانستان له شوروي بلاک نه لیرې او عربي او غربي نړۍ سره نزدې کړي، په تره کي او امین باندې فشار راوړ، چې دوی ته د حکومت د نسکورولو اجازه ورکړي. دوی د همدغه مقصد لپاره یو وخت بل وخت د نظامي تمرینونو په ترسره کولو کې ځانونه ښه رسولي او د تجربو او مهارت خاوندان کړي وو. د دوی د ډاډینې له مخې و، چې امین په **1976/1355** کې خپلو لویانو ته ویلي وو، چې خلقي افسران ددې توان لري، چې حکومت نسکور او دولتي واک ترلاسه کړي، خو د خیبر په څېر له دوی سره هم دغه اندېښنه وه، چې حکومت ړنګول اسان او حکومت کول ګران دي، ځکه چې افغانان د دوی حکومت نه مني. حقیقت دا دی، چې خلقیانو له هغه وخت نه، چې حکومت د جزا قانون ایښی و، په سیاست کې ساړه شوي وو. ځینې یې لا په دې

نیت شوي وو، چې سیاست ګرد سره ترک کړي. په خپله تره کی هم همدغسې شوی و، نو یې د ځان لپاره له ګوند نه پولي امتیازونه او ترانسپورتي وسله وغوښتله، چې ورته ومنل شوه. د زړه نازړه توب په دغه حال کې هم امین پر خپل فکر او سیاست د پخوا په شان ټینګ ولاړ و، خپلو نږدې ملګرو ته یې د صبر او حوصلې خبرې کولې، سره له دې هم په ملکي ګوندیانو باندې د زړه نازړه توب ځپه خپره وه. امین به ورته ویل، چې د 1957کال د زمري تر میاشتې دې انتظار و کړي او که تر هغو کوم مهم کار و نه شو، بیا اختیار د دوی دی. امین د ډېرو خلقیانو په وینا فیصله کړې وه، چې دی به په دغې میاشت کې په "انقلابي" عمل لاس پورې کوي او د بریالیتوب په حال کې به د "زمري انقلاب" نوم پرې ږدي، خو ولسمشر محمد داود پرې رادمخه شو. بیا نو د ګوندي لویانو له بندي کېدلو نه وروسته د خلق دموکراتیک ګوند لپاره سیاست د مرګ یا ژوند سوال شوی و، په دې ډول چې یا غوځ عمل کول یا کور ته د راغلي اجل منل. امین لومړی تجویز غوره کړ، خو د هغه اساسي مشکل دا و، چې په دې اړه یې له ګوند نه څرګنده اجازه نه لرله. د اقبال وزیري په وینا نظامي کمېټې ته صلاحیت ور کړل شوی و، چې که حکومت د ګوند مرکزي کمېټې غړي بندي کړي، هغه دې د اکثریت د فیصلې له مخې دفاع و کړي. د وزیري په قول دغه صلاحیت یواځې دفاعي و، نه د "انقلاب" کولو او د "انقلاب کولو" لپاره څرګنده اجازه نه وه، ځکه چې دده په عقیده وضع "انقلابي" نه وه. د نورو خلقیانو په وینا ګوند په کوم وخت کې پرېکړې کړې وه، چې که حکومت ګوندي لویان بندي کړي، نظامي غړي مجاز دي هغه څه وکړي، چې یې لازه ګڼي. دا چې په رسمي خلقي خپرونو کې ویل شوي، چې تره کي و امین ته د انقلابي عمل کولو لپاره په لاندې ډول هدایت ورکړی و، سمه نه ده:

"هر وخت که څوک وغواړي، چې د]محمد[داود رجیم ړنګ کړي، باید د افغانستان د خلکو دموکراتیک ګوند سیاسي قدرت] په لاس کې[واخلي او که د]محمد داود[رجیم په خلقیانو برید وکړي یا ملګري نور محمد تره کي زنداني کړي، خلقیان دې په انقلابي قیام د داود رژیم ړنګ او سیاسي قدرت ترلاسه کړي.[21]"

دا او دغسې نورې رسمي خپرونې وروسته د سیاسي ملاحظو له مخې شوي دي، نه واقعیت ته د درناوي له مخې.

امین وروسته له هغه چې پولیس د هغه له کور نه ووتل، د خپل زوی عبدالرحمن له لارې د تره کي د بندي کېدلو خبر ترلاسه کړ. بیا یې د کودتا نقشه په خپل کور کې وابستله او د ارتباطي غړو له لارې یې خلقي افسرانو ته د عملي کولو دستور ورکړ. د ثور انقلاب په نامه رسالې کې، چې د اقبال وزیري په وینا په خپله امین لیکلې، راغلي چې "ملګري امین د ثور په شپږمه نېټه د سهار په شپږ نیمو بجو د خپل زوی عبدالرحمن ورور]عبدالله امین[او د خپل کاکا د یوه زوی په واسطه د ګوندي ملګرو په حاضرولو، چې په سترو کدرونو او له ټکره افسرانو سره د ګوند په رابطو غړوکي وو، پیل وکړ." د همدغې لیکنې له مخې لومړی ارتباطي غړی، چې د امین کور ته ورسېد، فقیر محمد فقیر و. "په همدغه ورځ د سهار په اوه نیمو بجو لومړنی کدر، چې د ملګري امین کور ته ورسېد، ملګری فقیر محمد فقیر و. ملګری امین په خپله کوټه کې د ملګري فقیر سره کېناست او ورته یې وویل، چې د ملګري تره کي مستبد داود بندي کړ. سبا له غرمې دمخه په نهو بجو دې انقلاب پیل او د داود رژیم دې نسکور شي. ملګري فقیر څه وویل. ملګري امین بیا هماغه ټکی په هماغو جملو تکرار کړ. ملګري فقیر بیا وویل) اه (ملګري امین وویل) بلا وډار شوې(ملګري فقیر وویل: نه ډار شوی نه

يم، خو څنګه چې ملګرى تره کې بندي دى، په خبره نه پوهېږم. د کا غذ پرمخ يې را ته وليکه: ملګري امين سمله لاسه د انقلاب د پيل د څرنګوالي او دوام ټول پلان د کا غذ پرمخ ملګري فقير ته وليکه، چې په وسله والو قواوو کې يې ملګرو افسرانو ته، چې له ده سره يې اړيکه درلوده او ملګري سيد محمد ګلابزوى ته ورسوي."

له دې سره جوخت په همدغې ليکنې کې په ټول افغانستان کې د پوځ د بېلابېلو قطعو او فرقو دپاره 22تنه خلقي افسران د قومندانانو په توګه غوره شول. دوه دېرش کلن محمد اسلم وطنجار د څلورمې زغرورې قوې د لومړي کنډک قومندان د ټولو ځمکنيو قواوو د قومندان، د هوايي مدفاع درستيزوال ډګروال عبدالقادر د هوايي قوتونو لپاره او نظر محمد د خواجه رواش د هوايي ميدان لپاره وګومارل شو.

امين دغه هدايت هم ورکړ، چې د دافع هوا قطعې دې د ريشخورو د اومې فرق او د قرغې د اتمې فرقې د حرکت مخه ونيسي، چې د حکومت په ملاتړ به يې کوي او په قطعو کې دننه خلقي افسران دې د هغو قطعو يا کنډکونو مخه ونيسي، چې له حکومت نه دفاع وکړي. جنګي الوتکې دې هم د خلقي مشرانو په لارښوونه په ټولو هغو قطعو باندې وارونه وکړي، چې غواړي د حکومت ملا وتړي. امين فقير ته لا له دستور ورکولو نه خلاص شوى نه و، چې د انجنير ظريف په نامه بل نظامي رابط غړى د سهار په اتو بجو د کور دباندې ورسېد، خو دننه ننوتلو ته پرې نه ښودل شو. سره له دې هم امين هغه ته او د هغه له لارې نورو رابطو غړو خيال محمد کټوازي او انجنير صالح محمد پيروز او خلقي عبدالقادر اشنا ته د پلان دوه نقلونه واستول شول. د وروستي نوم اخيستل شوى نه دى، ممکن په دې سبب چې ده خپله د نده ترسره نکړه، خو چارواکي يې هم پرې خبر نه کړل.

په هر حال، دغه پېغام رابطو غړو فقير محمد فقير (تڼي)، انجنير محمد ظريف (توتاخېل)، انجنير صالح محمد پيروز (د لغمان مومند) او خيال محمد کټوازي (سليمان خېل) ته د غه پېغام هم ورسول شو، چې دوی دې د سهار په شپږ نيمو بجو په دهمزنګ کې سره غونډ شي، چې که په پلان کې کوم بدلون پېښ شوی وي، دوی ترېنه خبر او سي. امين د غني ساپي د ليکنې له مخې د سهار په اتو بجو او د انقلاب په هکله مقالې (يا د امين د ليکنې) له مخې په لسو او پېنځه څلوېښت دقيقو کې پوليسو له کور نه واېست او د کابل ولايت په توقيفخانه کې د نورو ګونديانو په شان په يوې کوټې کې بندي کړ.

هغسې، چې امين په لږ وخت کې د کودتا د عمل پلان وايست، داسې هم رابطو غړو هغه خلقي افسرانو ته د ښار په بېلو بېلو برخو کې په ګړنديتوب سره ورسوه. دوی دغه ماموريت په حېرانوونکي ګړنديتوب او د پېسو په بې پروا لګښت سره د تکسي ګانو له لارې سرته ورسوه. له ټکسي وانو سره يې چنه نه وهله او حتی د کرايې پاتې پيسې يې ترېنه نه اخيستلې. هر يوه خپله دنده په بري سره ترسره کړه او په پای کې ټول د غومره ستړي شوي وو، چې همدا چې خپلو کورونو ته ستانه شول، له دريشي او بوټانو سره ويده شول.

اوس د يو څو اساسي ټکو بيا يادونه ضرور ده. يو دا چې د کودتا قومنده يواځې د حفيظ الله امين په نوښت خلقي افسرانو ته ورکړل شوې وه. نور محمد تره کي، چې د ګوند عمومي منشي او د سر سړی و، پرې خبر نه و او پرچميانو يې په فکر کې هم نه وو. بل دا چې د کودتا پلان د لنډ وخت کار و او هغه هم په دغسې حال کې، چې امين او کور يې د پوليسو تر څارنې لاندې و. امين په دغسې حال کې هم د کودتا پلان جوړ کړ او دوه ويشتنه خلقي افسران يې په نامه په کودتايي

وظیفې وګو مارل. دی به د ښه ټینګ یاد خاوند و. بله دا چې خلقي ارتباطي غړو د "انقلاب" قومنده د ثور په شپږمه ورځ او شپه کې د کابل د سیمې خلقي افسرانو ته په وخت ور سوله، بې له دې چې امنیتي چارواکي پرې شکمن شوي وي. د امین په ګډون دوی ټول اطرافي پښتانه وو، دوی ټول به د ښه د سپلین خاوندان، خپل مامور یت ته رښتیني او د نظام ټینګ مخالفان وو. مهمه دا چې حکومتي پولیس غني ساپی، چې دی هم اطرافي پښتون و، بې له دې چې د امین په نیت خبر وي، په ضمني ډول د کودتا په بري کې اساسي رول ولوبوه. ده د خپلې وظیفې او د خپلو آمرانو د هدایتونو پرخلاف عمل وکړ او امین او رابطو غړو ته یې د پلان د عملي کولو لپاره ډګر هوار کړ. که ده خپله دنده په رښتیا سرته رسولې وای، د ثور کودتا به ناشونې وای. امین بیا دی د خپلې واکمنۍ په وخت کې په دې ډول وستایه: "اګر شما برایم شب مجال ماندن بخانه را نمیدادید، اګر شما در تلاشی اطاق زنها اسناد مربوط به قومنده انقلاب را از خانمم میګرفتید، اګر شما همان دو مهمان را طبق دستور مقام آمر ګرفتار میکردید، اګر شما دخول و خروج را در منزلم تا 8 فردای همان روز ممنوع میکردید، من هیچګاه قومنده انقلاب را نمیتوانستم تکمیل و صادر نمایم و این به مساعدت شما بود که من در همان شب [صبح وقت] قومنده انقلاب را تکمیل و صادر نمایم. باین حساب شما نزد من قهرمان انقلاب هستید."

ګوندي لویان د کابل ولایت په توقیف خانه کې

لکه چې دمخه ویل شوي، د امین له بندي کېدلو نه دمخه د خلق دموکراتیک ګوند نور مهم غړي د کابل ولایت د سهیل لویدیځې برخې په محبس کې، چې په توقیف خانه یادېده، هر یو په بېلې کوټې

کې اچول شوي وو. د توقیف خانې ټولې کوټې، چې له خټو نه جوړې او وړې وې، په شمېر اوولس وې. د هغې یو څو کوټې ما په 1950کال کې، چې د ویښ زلمیانو د ګوند یو تکړه شخص غلام حسن ساپی بندي و، لیدلې وې. ساپي د خپلې یوې لیکنې په سر، چې د ننګرهار په سره رود کې د یوې ښوونځي د ودانۍ مواد، چې د موی مبارک په ودانۍ لګېدل، د حضرتانو په تحریک بندي شوی و او په دې ډول د ویښ زلمیانو او عصري افغانانو او حضرتانو او مذهبي محافظه کارو ترمنځ یو ډول مبارزه او غوغا جوړه شوې وه. زه هغه وخت د ویښ زلمیانو د حرکت یو فعال غړی وم.

په هر حال، د توقیف خانې په دغو وړو ختیډنو کوټو کې د خلق دموکراتیک ګوند د لویانو تخنه کول شیي، چې د دوی موضوع د حکومت له نظره ډېره جدي نه وه. وروسته له دې، چې دغه نهه بندیان په نهو کوټو کې واچول شول، د هغو د دوسیو تر بشپړېدلو پورې د هغو مسؤلیت د قومندان غني ساپي په سرواله د پولیسو دوه ویشتو تنو افسرانو په غاړه ولوېد. غني ساپي ته د امینې لوی قومندان هدایت وکړ، چې بندیان به له یوه بل سره نه ګوري. یا یواځې به نه وي، بندیان به له ډوډۍ خوړلو او طبیعي حاجت له رفع نه پرته الچک وي، خو ساپی لیکي، چې "من طور خصوصی به صاحبمنصبان مربوط هدایت داده بودم که الچک هارا به محافظ شان تسلیم داده و دست های شا نرا الچک نکنند." خو د یوه بندي په وینا دوی له ځینو حالتونو نه پرته ټول وخت ولچک وو. د تره کي ولچک ډېر ټینګ و، خو له دوی ټولو سره ښه چلند کېده. ساپي په "شب های کابل" کې لیکي، چې پخوا له دې چې بارق شفیعي او سلیمان لایق بندي شي "برای هفت نفر شان فوق العاده ګوشت ګوسفند، برنج عالی، نان خاصه، دو نوع میوه تازه در طعام چاشت و شب شان حوا له ګرد یده بود. چای و سګرت مطابق

لیل برای شان داده میشد." یو طبي ډاکتر هم موظف شوی و، چې بندیان هره ورځ وګوري. غني ساپی لیکي، چې "تمام پرسونل را متوجه وظایف شان نموده و خاصتاً در باره مراعات سلوک انسانی پولیس در مقابل همچو رجال سیاسی هدایت داده انها را جداً متوجه روش نیکو، برخورد اخلاقی، و مودبانه نمودم. بامر نظارت خانه هدایت دادم تا به محبوسین بستره، کمپل، روی جایی جدید توزیع نمایند."

دی دا هم وایي، چې "از پول شخصی ام یکمقدار چای سیاه و شیرینی خریده به امر نظارت خانه تسلیم نمودم. آب گرمی، ظروف نان، منقل برقی، ظروف چای را از اتاق طعام خوری صاحبمنصبان از نزد معتمد اعاشه و طعام خانه گرفته بامر نظارت خانه دادم تا طعام محبوسین را بطور صحی و گرم بوقت معینه توزیع نمایند و خارج از استحقاق رسمی هر وقت میل داشته باشند، بدون کدام معطلی برای شان چای بدهند."

نور محمد تره کی له دغسې اولې درجې ډوډۍ او شه چلند سره همدا، چې له تحقیق ځای نه ستون شو، له ډوډۍ خوړلو نه ډډه وکړه او اعتصاب یې وکړ. غني لیکي: "بشقاب قورمه گوشت دار، نان و میوه استحقاقیه اش ناخورده بعد از ادای سلام پرسیدم چرا نان نوش جان نمیکنید؟ صحت تان چطور است" تره کي وویل، چې "صحتم خوب است، مریض نیستم ولی این طعام را نمیخورم." "علت آن چه خواهد بود؟" ځواب یې ورکړ، چې "من یک بندی سیاسی و رهبر حزب هستم، برای امرین خود و وزیر داخله بگوئید مرا که بندی کرده اید مانند یک محبوس سیاسی مطابق میلم باید طعام بدهید، دوا بدهید، چپرکت بدهید و اتاق روشن افتاب دار بدهید." تر هغو پورې بندیانو ته چپرکټونه ورکړل شوي نه و، خو ورکول یې په پروګرام کې و. نو ساپي تره کي ته

کړه، چې "هر چیز جور می شود، شما امشب نان خود را نوش جان کنید، فردا راجع به چپرکت اقدام میکنم. دوکتور موظف هر روز می آید، امروز هم امده بود، اگر کدام شکایت مریضی داشتید باید به داکتر میگفتید. اطاق شما روشنی کافی دارد، بستره شما بکلی جدید است...نان سه وقته شما درجه یک است." تره کي ورته وویل، چې "نه خیر، من نمیگویم که این غذا خراب است، بلکه بسیار چرب و گرم است، ولی من نسبت تکلیف سابقه به توصیه داکتر چربی و پیاز بریان خورده نمیتوانم." غني ساپي بیا ورته وویل، چې تاسې باید خپل تکلیف داکتر ته ویلی وای. تره کي ورته وویل، چې هغه مې نن خبر کړ، او هغه "در ورق صحی ام نوشت که باید گوشت بی روغن طور یخنی برایم داده شود." داکتر بیا هغه ته د هغه په خوښه د خوراک تهیه کولو توصیه وکړه. په پای کې تره کي ساپي ته په خندا وویل، چې "خوب است، امشب این چربی را نمیخورم، با چای نان میخورم." ساپي بیا ورته کړه چې اوس به ستا په اجازه له خپلې کوټې نه یو څه خواړه درته راوړم. تره کي منله وکړه او ساپی وایي، چې "یکنفر سرباز هدایت دادم (که) فوراً قطی شیر، کلچه ناشتا و چای گرم بیاورد." ساپي بیا په خندا ورته وویل، چې تاسې په کور کې هم د خپلې خوښې خواړه خورئ؟ د هغه ځواب هو و. په دې ډول، چې "من در خانه گوشت سینه مرغ یا گوشت کبک میخورم." ساپي په تعجب وپوښته، چې "شما که رهبر زحمتکشان و حزب طبقه کارگر هستید هر روز گوشت مرغ یا پرندگان صحرایی چطور میسر میگردد؟" تره کي موسکی شو او په ځواب کې یې وویل، چې "خیلی کنجکاو هستید، میدانید که من ریش سفید و رهبر حزب هستم، تمام مصارفم از طرف حزب تهیه مي شود. شاگردان برایم تهیه میکنند، مرا دوست دارند. هر

چیزیکه خواسته باشم، مرا میدهند."
له بندیانو او هغه هم له سیاسي بندیانو سره، چې له خپلواک ژوند نه بې برخې شوي او هر یو یې په وړې کوټې کې په یواځې ځان تخنه شوی وي، د بندي وانو چلند او د خوړو څنګه والی ډېر مهم وي. دغسې بندیان تل په دې سوچ کې وي، چې خپله روغتیا له لاسه ور نه کړي او یوه ورځ په پیاوړي روح سره بېرون شي، د ولایت په توقیف خانه کې نه یواځې له نور محمد تره کي، بلکې د هغه له ټولو ملګرو سره دومره ښه چلند وشو، چې کله دوی ازاد شول او بندي وانان بندي شول، سمله لاسه یې خپل ژ غورونکي قومندان غني ساپي ته وویل، چې "انها را رها کنید، انسان های شریف هستند. در این چند شب و روز با همه ما وضع انسانی کرده اند." خو دوی د خپلې واکمنۍ په وخت کې دغه "انساني چلند" زر هېر کړ، د دوی په وخت کې هر بندي وان بندیانو ته د فرعون په شان و. بندیانو ته لا په ماړه نس ډوډۍ نه ورکول کېدله او هغه څه چې ورکول کېدل، د غومره خراب وو، چې په عادي حال کې د خوراک نه وو. لکه چې وروسته به وویل شي، د دوی په وخت کې د غومره ډېر افغانان بندي شول، وکړول شول او ووژل شول، چې د بل هېڅ افغان د واکمنۍ په وخت کې د غومره ډېر افغانان بندي شوي او اعدام شوي نه وو.

له بندیانو نه تحقیق

په یقین سره معلومه نه ده، چې ددغو ګوندیانو له بندي کولو څخه اصلي مقصد څه و؟ د سرپټي نظام یوه خاصه داده، چې هغه فیصله هم چې په ټولنې اثر کوي، یو یا څو تنه کوي او اصلي مطلب هم نه وایي. په کوم هېواد کې چې فیصلې په دې ډول کېږي، هلته هره ګړۍ د حیرانوونکیو پېښو د پېښېدلو احتمال وي. دا هغه څه و، چې په افغانستان کې د 1357کال په ثور کې د یو څو نه چندان مهمو کسانو له بندي

کېدلو نه وروسته وشول. د یوه ناتایید شوي روایت له مخې ولسمشر محمد داود غوښتل، چې دغه بندیان چې خلکو "کمونستان" بلل سملاسه بې له محاکمې اعدام شي، چې له هغو نه کومه بلا جګه نه شي، خو د مشاور وزیر عبدالمجید نظر داو، چې اعدام دې بې د محاکمې څخه نه وي. د یوې بلې پر ځان ویسا منبع په قول فیصله سملاسي اعدام و، خو تر اجرا دمخه یې د کابل والي عبدالحکیم، چې بندیان د هغه په قلمرو کې وو، د اعدام له عاملانو نه مهلت وغوښته، ځان یې په بېړه محمد داود ته ورسوه او هغه یې په دې قانع کړ، چې اعدام دې له محامې نه وروسته وي. لکه چې زر په ولیدل شي، ګومان نه کېږي چې د اعدام روایت به پخوا یا وروسته له محاکمې نه حقیقت ولري. سربېره پر دې، چې دا د اشخاصو روایتونه دي، محمد داود په دغسې مهمو موضوعګانو کې خپله او د خپلو مشاورو فیصله نه ماتوله او د هغو په اړه یې د بل چا مشوره نه منله.

مهمه دا ده، چې د حکومت لپاره دغه ټوله موضوع ډېره جدي نه وه او که جدي وای، دغه بندیان به یې د ښارپه مېنځ کې په ختیځنې ودانۍ کې نه اچول، بلکې په کوم نامعلوم او ټینګ ځای لکه د څرخي پله په زندان کې تخنه کړي وای او د بند په وخت کې به پرې ډېره سخته نیولې وای.

د چارشنبې په ورځ د ثور په شپږمه د ماښام په شپږ نیمو بجو نور محمد تره کي، ببرک کارمل او شرعي جوزجاني د کابل ولایت دننه د څارنوالۍ اداري ته د تحقیق لپاره بوتلل شول. هلته د عدلیې وزارت او لویې څارنوالۍ هیئاتونه دمخه ورغلي وو. بندیان هلته تر دولس نیمو بجو پورې کېنول شول او تحقیق تریې نه وشو، خو د تره کي له تحقیق نه پرته له نورو نه د تحقیق په اړه معلومات ترلاسه شوي نه دي. د غومره څرګنده ده، چې په دوی باندې د امنیت د ګډوډولو تور لګول شوی و. له تره کي نه د تحقیق په اړه هم معلومات مفصل او دقیق نه دي، له هغه نه

ځارنوال محمد انور کاکړ، ځارنوال کرام الدین
او ځارنوال فیض محمد پوښتنې کړې وې. ځارنوال
انور کاکړ، چې زما د پوهنتون د وختونو دوست
و، ماته د 1990کال د نومبر په 25مه له ورجنیا
نه په یوې تلیفوني مرکې کې وویل، چې دوی ټولو
له تره کي نه د اپریل په 25مه کال 1978 د دوو
ګړیو په شاوخوا کې پوښتنې وکړې. د ځارنوال
انور کاکړ په وینا، تره کي د ځارنوالۍ دفتر
ته ولچک راوستل شوی و. هلته ولچک تړېنه لرې
شو، چای ورته وغوښتل شو او دا هم ورته وویل
شول، چې که نور څه غواړي لکه چرس یا بل څیز
به هم ورته تهیه شي. د کاکړ په وینا له تره
کي نه په ارامۍ او بې له وېرولو او ترټلو نه
پوښتنې وشوې، په داسې حال کې چې په نورو
باندې ګواښونه شوي او وېرول شوي وو. د کاکړ
په قول ټولې پوښتنې په دې اړه وې، چې د جزا
قانون پرخلاف یې ولې مظاهرې کړې دي؟ پوښتنې چې
ورته لیکل شوې سپارل شوې وې، داسې نه وې چې
تورن دې اعدام ته برابر شي. د کاکړ په نظر
تره کي د هغه له مخې شاید له درې نه تر شپږو
میاشتو پورې بندي یا له دوه نه تر شپږو زرو
افغانیو پورې جریمه شوی وای. د کاکړ په وینا
تره کي په بې پروایۍ او بې له وېرې نه
ځوابونه وویل او هغه دغومره اوږده وو، چې د
نورو پوښتنو لپاره اړه پیدا نه شوه، دوسیه یې
بشپړه شوه او چارواکیو ته وسپارل شوه. د تور
د سپک والي او ښه چلند له امله به وه، چې د
تره کي روحیه کله چې خپلې کوټې ته بېرته
راوستل شو، نه دا چې مړاوې نه وه، خندانه وه.
د غني ساپي د پوښتنې په ځواب کې، چې تحقیق
څنګه و، اول وخندل او بیا یې وویل، چې "مسخره
بود. خود شان را محکوم کردم، چیزیرا که از من
پرسیدند، یکی آنهم سبب مسوؤلیت من نمیشود.
مراسم جنازه و صحبت بالای قبر کدام جرم نیست."
په یاد دې وي، چې تورن هغه هم په دغسې موضوع

کې واقعیت، هغه هم حکومتي مامور ته، چې غني ساپی و، نه وایي او ځان پرحقه شیي. څارنوال محمد انور کاکړ ته داسې ښکاریده، چې نه یواځې د تره کي، بلکې د ټولو ګوندیانو له بندي کولو نه د حکومت مقصد اعدام نه، بلکې د یوې مودې لپاره په بند کې د هغو ساتل و، چې افغانستان ته د ایران د پاچا راتلونکی رسمي سفر بې له کومې ناوړې پېښې نه وي. نور محمد تره کی د تحقیق په بهیر کې د څارنوال محمد انور کاکړ له شه چلند نه دغومره خوښ و، چې هغه یې بیا په خپلې واکمنۍ کې که څه هم د ګوند غړی یې نه و، په بنګله دیش کې د افغانستان د سفیر په توګه واستاوه.

د ثور په اوومه د کودتا بهیر

داسې ښکاري، چې حکومت په دې فکر و، چې د خلق دموکراتیک ګوند د یو څو تنو ملکي لویانو په بندي کېدلو سره به ارامي خوندي وي، نو یې په کابل کې کوم خاص امنیتي ترتیبات و نه نیول. په هغه سربېره د کابل نظامي قطعو ته امر شوی و، چې غونډې او اتڼونه به کوي او په هغو کې به دغه ګوندیان ټکوي او ورته به سخته جزا غواړي. دا چې د انقلاب رساله کې ویل شوي، چې حکومت وسله والو ځواکونو ته په راډیو کې د تیارسۍ امر کړی و، سمه نه ده. د بې احتیاطیو په ډله کې یې یوه لا داوه، چې جمهوري ګارډ، چې اساسي دنده یې د ولسمشر ساتنه ده، په لازمي وسلو سمبال شوي نه و. په نظر کې وه، چې درې ورځې وروسته به عصري وسلې ورته رسولی کېږي. د ځلورمې زغورې قوی قوماندان سرور نورستانی، چې د ولسمشر ټینګ پلوی ګڼل کېده، مسکو ته په سفر تللی و. لکه چې جنرال محمد صدیق، چې د کابل د امنیت په خوندي کولو کې مهم ګڼل کېده، مزار ته د زیارت کولو لپاره تللی و. دی د قرغې د اتمې فرقې قوماندان و. د سرور نورستاني په

غیاب کې د ز غرورې قوې چارې محمد رفیع ته، چې د هغې د ارکان رییس او پرچمی و، د کفیل په توګه سپارل شوې وې، خو تر ټولو غټه تېروتنه په اتنو نو او غو نډو کو لو سره د کابل د نظامي قطعو بوختول وو. داسې ښکاري، چې په غونډو اتنونو سره د نظامي قطعو بختول په اصل کې دغسې یوه دسیسه وه، چې د دفاع وزیر غلام حیدر رسولي هم پکې لاس درلود. د مؤلف غوث الدین فایق په وینا رسولي د میر طهماس روف په مشوره پوځ په غونډو سره بوخت کړ. میر طهماس د یوه قصاب زوی او د چاریکارو و. لوړه نظامي زده کړه یې د ارکان تر درجې پورې په مسکو کې د لېنن په اکاډمی کې بشپړه کړې وه. طهماس روف د خلق د ګوندګي پټ غړی و او په خاص مهارت او غوړه مالی سره یې ځان رسولي ته د اعتماد وړ ګرځولی و، لکه چې عبدالقادر، اسلم وطنجار او محمد رفیع همدغسې کړي وو. فایق لیکي: "حفیظ الله امین وقتیکه بفکر بدست اوردن قدرت از طریق اردو شد و بجلب و جذب افسران اردو اغاز نمود، میر طهماس را در طراحی کودتا از همه افسران ماهر تر و ورزیده تریافت و وی را در بخش نظامی بمعاونی خود برگزید." فایق پسې زیاتوي: "میر طهماس بمجردیکه از زندانی شدن امین و دیگر سران خلقی و پرچمی مطلع شد، فور از قول اردوی پکتیا خود را بکابل ساند و برای مساعد ساختن زمینه کودتای خود غلام حیدر رسولی را به تجلیل گرفتاری سران گروه خاین باک شیدن تانک ها کندک چار زرهدار با همشریان سم گیرنده فریفته ساخت و غلام حیدر را به نحوی اغوا کرد که برای بقدرت رسیدن شما بهترین موقع همین وقت است.[22]" لکه چې دمخه مې راوړي مؤلف محمد عاصم اکرم هم دغې نتیجې ته رسېدلی و. د پاینده محمد کوشاني له لیکنې نه هم ښکاري، چې رسولي د کودتا په لټه کې و. دی لیکي، چې "از جمله کسانیکه نسبت انتصاب عبدالله شدیداً عقده

گرفته بود، مرحوم محمد مسجدی (معروف به حیدر) رسولی وزیر دفاع داود خان بود... مرحوم رسولی بعد از انتصاب عبدالاله بحیث معاون رییس جمهور مخفیانه با عناصر ناراضی از حکومت تماس ها قایم کرده بود... رسولی در روز قبل از کودتای 7 ثور توسط طیاره از فرقه های هرات، مزار، قندهار و غزنی دیدن [نموده] و با قوماندان های فرقه های مذکور صحبت کرده بود." کوشانی دا هم لیکي، چې "مرحوم رسولي یک مسلمان صاف دل و ساده بین بود و بالای این عناصر بیدین و جواسیس روس [قادر، وطنجار و محمد رفیع] اعتماد کرد. قادر (از ریاست مسلخ) دوباره بمدافعه قوای هوایی کابل تبدیل و اشخاص مثل وطنجار و رفیع به پست های حساس قومندانی در قوای چار زرهدار تقرر یافتند و در تحمیق رسولی برای براه انداختن یک کودتا بنفع او زیرکانه کار کرده اند. وطنجار و رفیع اجازه نصب بتری های تانک را روز قبل از کودتا حاصل کرده بودند." کوشاني د یوې حېرانوونکې قیصې نقل کوي او هغه دا چې رسولي ته د کودتا په شپه د کورنیو چارو وزیر قدیر نورستاني له لارې د 105 کودتا کوونکیو نومونه رسېدلي وو، خو هغه په دې اړه هېڅ ونه کړل. د راپور وروړونکي محمد عیسی نورزاد ته یې، چې پخوا د کورنیو چارو د وزارت د استخباراتو رییس و، وویل چې "این دو سه نفر دوستان من هستند" او "این دو نفر دیگر پسر خانده های من هستند."[23] ددغو کودتا کوونکیو په سر کې د نظر محمد، عبدالقادر، محمد رفیع او شیر جان مزدوریار نومونه وو. دوی لکه چې دمخه ویل شوي له رفیع نه پرته هغه ګوندي نظامي افسران وو، چې امین په کودتا سره د حکومت د نسکورولو لپاره ګمارلي وو.

د کودتا په اړه د میر طهماس رول په خاص ډول د یادونې وړ دی. د فایق په وینا طهماس "قرار

اظهار ضابط نوکری وال ساعت 6 بجه صبح به نظام قراول قوای 4 زرهدار آمده با اسلم [وطنجار] جگرن کندک زرهدار یکنیم ساعت به لب دریا صحبت خصوصی داشته. هفت و نیم بجه صبح در نظام قراول با اسلم وداع کرده با سواری موتر خویش بطرف میدان هوایی خواجه رواش و دیدن و دادن دایرکتیف [هدایت] نزد قادر رییس ارکان هوایی رفته.[24] "د میر طهماس دغه هدایتونه په دقیق ډول معلوم نه دي، خو هغه به ارومرو د کودتا په اړه وو. رسولي کومه هغه پېښه، چې د ثور د اوومې یا د کودتا په سهار د ریشخورو په فرقه کې وشوه، هم ټینګه و نه نیوله. د سهار په اوو بجو رسولي ته خبر ورکړل شو، چې د فرقې یوه ځوان افسر غوښتل د فرقې قومندان تورن جنرال محمد نظیم ووژني، خو هغه ځان وژغوره او پرځای یې د ارکان رییس او په خپله هغه افسر (عبدالغني) ووژل شول. رسولي په بیړه ریشخورو ته ورغی، خو بې له دې چې خبره یې سپینه کړې وي، چې دغه پېښه د څه لپاره وه، ولسمشر محمد داود ته یې په ټلیفون کې ډاډ ورکړ، چې هغه یوه وړه پېښه وه او غلې شوه او له هغه نه یې بشنه وغوښته، چې د نن ورځې د کابینې په غونډه کې ګډون کولی نه شي او په خپله په نهو بجو د ملي دفاع وزارت کې خپل دفتر ته ورسېد[25]. د ریشخورو د فرقې پېښه په قوي احتمال د کودتا پیلامه وه او هغه افسر عبدالعلي به پخوا له وخته عمل کړی وي، ځکه چې لکه دمخه ویل شوي یوه ارتباطي غړي قادر اشنا خپله کودتایي دنده نه وه ترسره کړې. د کودتا په اړه ډېره مهمه دا وه، چې د دفاع وزارت د استخباراتو رییس جنرال جان نثار د ثور په شپږمه د دفاع وزیر ته خبر ورکړ، چې په پوځ کې د حفیظ الله امین فعالیتونه جاري دي او څلورمه زغروره قوه باید پرې نهښووله، چې په بله ورځ (د ثور په اوومه) له خپل ځای نه و خوځېږي.

د جنرال جان نثار په ژبه "شخصاً به غلام حیدر خان رسول بروز 6 ثور 1357 اطلاع دادم که فعالیت تخریبی در اردو توسط حفیظ الله امین جریان دارد... بعد از [دادن] این اطلاع از وزیر دفاع ملی خواهش کردم تا به تانکست ها اجازه ندهند که بروز هفت ثور بخارج قشله حرکت نمایند. اما او نپذیرفت." په واقع کې هغه د ټول پوځ وضع غیر عادي انځور کړې وه، په دې ډول چې "وضع در اردو بکلی غیر طبیعی بوده باید به قطعات امر احضارات درجه اول داده شود [ولی] او با یک تمسخر مرا توصیه به ارامش اعصاب و خاطر جمعی نمود." د ثور په اوومه د سهار په لسو بجو یې د ټانکونو له حرکت نه بیا هم خبر کړ، خو رسولي بیا هم څه ونکړل. "بساعت ده صبح باز هم با و اطلاع دادم که تانک ها [از قوه چار زرهدار] برخلاف هدایت شما بطرف شهر کابل در حرکت میباشند [و وزیر دفاع] گفت اطلاع دارم، امادگي گرفته میشود.[26]" په یوه بل روایت ولسمشر محمد داود وروسته له دې، چې د ز غرورو قوتونو له نارامی نه خبر شو، رسولي ته یې په ټلیفون کې هدایت ورکړ، چې چاره یې وکړي. رسولي له محمد رفیع سره، چې د څلورمې ز غرورې قوې کفیل و، د هغو په اړه په ټلفون کې وغږېد، خو هغه ور ته وویل، چې یواځې دوه ټانکونه له محوطې نه وتلي وو او هغه هم ونیول شول او اوس خیریت دی. رسولي په همدغې ډاډینې بسیا وکړه او نور څه یې ونکړل او په خپل دفتر کې پاتې شو.

د ملي دفاع وزیر جنرال غلام حیدر رسولي کافي وخت او نظامي قوت لاره، چې د ثور په اوومه د نظام پر ضد کودتایی حرکت شنډ کړي. دا چې رسولي د خپل مقام وړ نه و، په دې کې شک نه شته، خو سره له دې هم څنګه چې دی د یوه لوی او وسله وال پوځ سروال و، د خپلو ملګرو په مرسته یې دغه توان لاره، چې حکومتي ضد حرکت

شنډ کړي او یا لږ تر لږه د هغه پر ضد له پوځ نه کار واخلي. څنګه چې ده په دغه اړه هېڅ ونه کړل، په واقع کې یې د ورانکارو لپاره د عمل کولو لار خلاصه پرېښوده. که څه هم دی د هغو په خپل سر له حرکت نه خبر کړی شوی و. ددې مانا بل څه نه کېږي، مګر دا چې ده هم غوښتل لکه څنګه چې ویل شوي، د ورانکارو په مرسته واک ترلاسه کړي، خو هغسې چې د پاچا امان الله په وخت کې محمد ولي په دغه لار کې خپل سر بابلود، ده هم خپل سر بابلود، خو ده په خپلې دغې لنډپارۍ سره تر محمد ولي نه ډېر د ډېرو غټو ملي مصیبتونو لپاره ور پرانېست، نو ویل کېدای شي چې په حساس وخت کې د لوړو دولتي مقام خاوند حتی که د رسولي په شان لیاقت هم ونه لري، د یوه ملت په تاریخ کې غټ اثر کولای شي.

د افغانستان د پوځ اصلي دنده د نورو پوځونو په شان له وطن، خلکو او نظام نه دفاع وه، خو د امیر شېر علي خان له وخت نه را په دېخوا چې افغانستان د منظم او دایمي پوځ خاوند شوی دی، له هغه نه د داخلي ارامۍ په ساتلو کې ډېر کار اخیستل شوی دی. څنګه چې افغانستان په نولسمې پېړۍ کې خپلې ډېرې سیمې د ګاونډیو په ګټه له لاسه ورکړې دي او له هغه وروسته ګاونډیو دغه واړه شوي افغانستان ته هم د حرص سترګې نیولې دي، افغانان واکمنو کوښښ کړی، چې د هېواد او د منابعو په تناسب غټ پوځ ولري. په نولسمې پېړۍ کې امیر عبدالرحمن او په شلمې پېړۍ کې محمد داود په دغې برخې کې وتلي واکمنان وو. وروستي د خپلې صدراعظمۍ په لس کلنۍ (1953_1963) دورې کې افغان پوځ په زیاته اندازه د شوروي مشاورانو په سلا تنظیم او په نویو عصري وسلو سمبال کړ. دغه پوځ په کال 1972 کې اته شپېته زره سرتېري، شپږ نیم زره افسران، دوه سوه عصري جنګي الوتکې، چې زیاتره یې مېګ یوویشت وې، لرل. هوایي ځواک یې پېنځه زره سرتېري او

افسران لرل[27]. دغه پوځ د محمد داود د ولسمشرۍ په وخت کې د کابل په شاوخوا، د ولایتونو په مرکزونو او په نورو حساسو ځایونو کې ځای پر ځای شوی و. په کابل کې د مرکزي قوتونو لوېي قوماندانۍ د ټولو نظامي قطعو تنظیم او اداره په غاړه لرله، چې مرکز یې د تاج بېګ په غونډۍ کې و. په ریشخور کې اوومه فرقه، په قرغه کې اتمه فرقه، په مهتاب قلعه کې د توپچي لوا او څرخي پله ته ورڅرمه څلورمه قوه او پېنځلسمه قوه پرته وه. ارګ ته نږدې په بالاحصار کې د کماندو یوه قطعه له اضطراري پېښو سره د مقابلې لپاره تنظیم شوې وه. د ارګ نېغ او سملاسي ساتونکي د جمهوري ګارډ په نامه لوا وه، چې دننه په ارګ کې له څه کم دوه زره سرتېرو نه جوړه وه. د ارګ شمال لور ته په لنډ واټن کې د خواجه رواش هوایي ډګر تر څنګه د هوایي مدافعې قوماندانۍ ځای پرځای وه. ارګ د امیر عبدالرحمن په وخت کې د ټینګې کلا په شان ودان شوی و، چې وروسته نور هم ښه شوی و. څلور ورنه یې لرل، چې ختیځ ور یې تر ټولو مهم و.

د 1957 کال د ثور اومه کودتا د څرخي پله د څلورم زغرور کنډک نه پیل شوه. ټانکونه د پنجشنبې ورځې د سهار د لسو بجو په شاوخوا کې د ښار په لور په دې پلمه وخوځېدل، چې غواړي د حکومت پر ضد نارامي غلې کړي. دد غو ټانکونو شمېر څوک د شپېتو او څوک د څلوېښتو او پنځوسو ترمېنځ ګڼي، خو څنګه چې په هغو کې جنګي ماشینونه او ذره پوش هم شامل وو، د ټولو شمېر شاید تر دېنه هم ډېر وي. د دفاع وزیر په دغه وخت کې جنرال مولاداد په یوه جیپ کې د څرخي پله په لور واستوه، چې "تا با قوماندان قوا در تماس آمده علت حرکت را جویا شود." هغه په همدغه وخت کې د پېنځلسم زغرور ځواک قوماندان ډګرمن محمد یوسف ته هدایت ورکړ، چې د موضوع په اړه تحقیق وکړي، خو هغه ورته په ځواب کې

وویل، چې "قوای 15 خود در محاصره میباشد و مولاداد هم نتوانست کاری از پیش ببرد.(27 الف)" د رسولي د غه تدبیرونه کافي نه وو او څنګه چې دی په همدغه سهار کې د ریشخور په فرقه کې د یوې بلې غیر عادي پېښې شاهد و، ده باید د غه پېښه تر هغه لا غټه غیر عادي پېښه ګڼلې او غوڅ نظامي چلند یې ورسره کړی او محمد داود یې پرې خبر کړی وای. د هغو پر ځای دی په خپل دفتر کې د ملي دفاع په وزارت کې پاتې شو، تر څو چې د پولسو بجو په شاوخوا کې په وزارت باندې له ټانک نه برید وشو او ده ته یې ټکان ورکړ. په دغه برید سره "رسولی از خواب پرید و همراه با عبدالعزیز لوی درستیز از در عقبی وزارت دفاع بیرون شد و توسط موتر جیپی که از فرط عمله و شتاب با یک تکسی تصادم کرد خود را به قرغه رسانید.(28)" د مولف کبیر سراج په وینا رسولي ته د وزارت له وهل کېدلو نه ورو سته برید جنرال ابوی مشوره ورکړه، چې د قوای مرکز قوماندانی ته د تاج بیګ غونډۍ کې ځان ورسوي(29)، خو هغه په قرغه کې اتمې فرقې ته لاړ، چې په حرکت یې راولي، خو هغه یې هم ونه شو کولی. د یوه خورد وضابط په وینا "چون روز 27 اپریل با پنجشبه مصادف بود ما خورد ضابطان در یک گوشه تپه قرغه در افتاب نشسته در انتظار رخصتی و اجازه حرکت بسوی شهر بودیم. ناگهان این خبر بخش شد که در کابل کودتا شده و وزیر دفاع به قرغه آمده میخواهد ان را علیه کودتا کنندگان سوق دهد. صاحبمنصبان دو دول بودند و پس از مقداری تعلل بالاخره امر حرکت بسوی شهر را صادر کردند. چون در نزیکی گردنه باغ بالا رسیدیم تانک های که از جانب کودتاچیان در انجا تعبیه شده بود برما اتش کردند. قوای قرغه که با بی میلی حرکت کرد بود تاب مقاومت نیاورده پراگنده شد. ما هم اسلحه را گذاشته هر یک بسوی خانه خود رفتیم.(30)" د فرقې د کفیل

ډګروال محمد علي په وينا "من در اداره خود در فرقه قرغه نشسته بودم، که ستر جنرال رسولی حوالی ظهر با سر و وضع بسیار پریشان و صورت خراشیده و خون آلود بقرغه آمد. چون قوماندان فرقه [جنرال محمد صدیق] برای زیارت روضه شاه ولایت مآب بمزار شریف رفته بود، لذا من از لحاظ رتبه کفالت فرقه را هم بدوش داشتم. رسولی برایم گفت: محمد علی بچیم در شهر کودتا شده قوا را بکش و اگر دوست یا دشمن روبرو یت آمد، بزن."[31] دا به عجبه وي، که رسولي په رښتيا دغسې حکم کړی وي، ځکه هغه نه ددغسې حکم کولو واک لاره او نه چا پرې عمل کاوه. مؤلف سراج واي، چې ډګروال "... به وزیر دفاع و لوی درستیز خبر داد که زود از این منطقه دور شوند والا هر دو را گرفتار و جابجا اعدام خواهد کرد." د سراج په نظر دغه ډګروال، چې نوم یې محمد علي او په اصل کې د توپچي لوا قوماندان و، محمد علي نومېده "... قبلاً با کمونستان همدست شده بود."[32] رسولي، سراج او محمد علي درې واړه محمدزي وو.

رسولي او لوی درستیز د ناهیلی په حال کې فرقه پرېښوده او په سختۍ سره یې ځانونه د تاج بیګ غونډۍ ته ورسول او هلته له درستیزوال تورن جنرال عبدالعلي وردګ سره جرګه شول، چې اومه فرقه او نور قوتونه څنګه د کودتاچیانو د ناکامولو لپاره په کار واچوي. دوی په دغه اړه په خبرو بوخت و، چې "دفعتاً قصر تاج بیگ هدف حملات توپچی قرار گرفت. اتشباری توپچی از مهتاب قلعه به امر و قوماندۀ دگرمن خلیل الله بابکرخیل... صورت گرفت که در اثر ان قسمت بالایی قصر طعمه اتش شده و از بین رفت."[33] دوی درې واړو د تاج بیګ ماڼۍ پرېښوده او په چاردهي کې د عبدالمجید د دلکشا د ماڼۍ باغبان باشي کور ته، چې د رسولي دوست و، پناه یووړه، خو د هغه زوی کودتا کوونکي پرې خبر کړل. هغوی

دري واړه ونيول او د څرخي پله په پوليګون کې يې بې له محاکمې نه اعدام کړل. د دوی په اعدام سره د پوځ د مرکز سوق او اداري مرکز فلج شو. په ارګ کې د ورځې له يوولسو بجو نه وروسته د پوځ لوړ قومندان ولسمشر محمد داود له ځينو وزيرانو ا د خپلې او ورور له کورنيو سره د ياغيانو تر فشار لاندې و او جمهوري ګارډ د جګړن صاحبجان (کندهاري) په سروالۍ د هغو دفاع کوله.

لکه چې دمخه ويل شوي، اسلم وطنجار د حفيظ الله امين له خوا د ځمکنيو قوتونو ګومارل شوی قومندان د سهار د لسو بجو په شاوخوا کې ډله ډله ټانکونه، زره پوشونه او محاربوي ماشينونه د حکومتي نظامي قطعو د حرکت د شنډولو لپاره ټاکلي وو. هغه قطار ټانکونه، چې د بالاحصار د کوماندويی قطعې د حرکت د شنډولو لپاره مامور شوي وو، هغه يې محاصره او بې وسلې کړه. نورو ټانکونو د خواجه رواش هوايي ډګر، د افغانستان راډيو، مخابراتو وزارت، د ښار لويو څلور لارو، د دهمزنګ محبس، د کورنيو چارو وزارت، د کابل ولايت محبس مخې ته ځايونه ونيول او جګړن فتح د پښتونستان له ميدان نه په جمهوري ګارډ، شير جان مزدور يار د ارګ له اړخ نه او په خپله وطنجار د ارګ له مخې نه په دفاع وزارت باندې وارونه حواله کړل[34]. په دغو وارونو سره په واقع کې د نظام پر ضد کودتا په عمل کې په څرګند ډول پيل شوه.

ولسمشر محمد داود د همدغې ورځې (د ثور 7مه) په ځاښت کې د ارګ په ګلخانه کې د وزيرانو خاصه غونډه لرله. په غونډې کې د نورو موضوعګانو ترڅنګ په ګوندي بنديانو بحث کېده. په يوولسو بجو د ګارډ قومندان صاحبجان د غونډې سالون ته ننوت او محمد داود ته يې خبر ورکړ، چې له څرخي پله نه ټانکونه او زره پوشونه راروان دي. په همدغه وخت کې د دفاع

وزارت د ټانک په ګولیو وویشتل شو. محمد داود پوه شو، چې دا د کودتا نښه ده. د محمد خان جلالي له خولې نه ویل شوي، چې "داود خان زمانی که صدای فیر تانک را شنید، باعضای کابینه گفت که میتوانید از ارگ خارج شوید. بعضی از وزرا خارج شدند اما بعضی دیگر که جلالی هم از ان جمله بود از ترسی مرمی ها در جا های امنی در داخل ارگ پنهان شدند.[35]" محمد داود په همدغه وخت کې هدایت ورکړ، چې د کورنۍ غړي یې د ښار په هره برخه کې چې وي، ارګ ته راوړل شي، چې همدغسې وشول. محمد داود صاحبجان ته هدایت ورکړ، چې "دروازه های ارگ را بروی کودتاچیان بسته کنند و تدابیر قوی دفاعی اتخاذ کنند." په خپله، ورور یې محمد نعیم، د کورنیو له ټولو غړیو او له سید عبدالاله او قدیر نورستاني سره د ګلخانې په یوې کوټې کې ننوتل. د مؤلف سراج په وینا "وزرای که در مجلس گلخانه بودند، به محمد داود خان مشوره دادند که از ارگ خارج شده و جانب یکی از قطعات قوای مرکز رفته و اداره آن را در دست گیرد." محمد داود غه مشوره ومنله. "رئیس جمهور از دروازه خارج شده میخواست که بموتر [سیاه ولگا] سوار شود، محمد عمر جان پسرش بدنبال او برامد، در این آن یک فیر تفنگ از طرف قطعه گارد هر دو را متوقف ساخت، عمر جان زخم برداشت و رئیس جمهور دوباره به گلخانه داخل شد و گفت: نی همه چیز تمام است، مسؤل همه این بدبختی شخص خودم هستم. هر که نمیخواهد کشته شود، به تالار عقبی برود." محمد داود به څکه دغه څه ویلي وي، چې "قراریکه بعدها گفتند فیر کلاشنکوف بر داود خان و عمر جان بوسیله یکی از صاحبمنصبان گارد که طرف اعتماد کلی محمد داود خان بود، صورت گرفته بود.[36]" دغه کس د اطفاییې بلوک ضابط بریدمن ببرک و.

محمد داود که څه هم د ارګ په يوې کوټې کې ايسار شوی و، ناهيلی نه و او له نظامي قطعو سره يې ټليفون کولی شو. تر دې وخته پورې ټليفونونه له کار نه غورځول شوي نه وو او ګارډ هم دفاع کوله. ګارډ شايد يواځينی نظامي واحد و، چې پرچمي افسران پکې تر خلقي افسرانو نه ډېر وو، خو پرچميان په کودتا خبر نه وو. د پرچمي عظيمي په قول "افسران پرچمی که هنوز نميدانستند طرف مقابل کی است... صاحبجان را در دفاع از گارد ياری ميرسانيدند."[37] دوی بيا وروسته د کودتاچيانو خوا ونيوله. په دغه حال کې له جمهوري ساتندويانو نه په متقابلو ګوزارونو پيل وشو. ياغيان په شا وتمبول شول او پېنځه ټانکونه يې له کار نه وغورزول شول او د محمد عمر شريف په نامه يو افسر يې هم ووژل شو. غير ګوندي ياغي افسرانو ميدان پرېښود او يوه خوا بله خوا لاړل. ياغي ګوندي نظاميان پرځای پاتې شول. داسې برېښېده، چې بغاوت وځپل شو، خو له هغه وروسته ورانی په جمهوري ګارډ کې پېښ شو. هلته بې سيمې مخابرې د خلقي افسرانو په لاس کې وې، د محمد داود د مخابرې آمر هم خلقی و. په خپله د محمد داود رول په دغه وخت کې څرګند نه دی، دغومره معلومه ده، چې هغه په دغه حساس وخت کې هم خپل د مخابرې د آمر په وسيله د جمهوري ګارډ آمرانو ته هدايتونه ورکول، خو د هغه خلقي آمر دغه هدايتونه بې له دې، چې محمد داود ورته ځير شوی وي، تحريفول. څه وخت چې د بې سيمه مخابرې آله به نږدې وه، هغه به يې د هدايت ورکولو په وخت کې له خپلې خولې نه ليرې نيوله، چې ها بله خوا پرې پوه نه شي او په بل حال کې به يې د محمد داود له خولې غوښ امر ور کاوه، چې جمهوري ګارډ دې تر بل امر پورې انتظار وباسي. خلقيان وايي، چې له جمهوري ګارډ سره د مقابلې په وخت کې د بالاحصار د

کماندو قطعې هم چې پرچمي افسران پکې وو، د کودتا پر ضد عمل وکړ، خو قومندان يې له مېنځه يووړل شو او خلقي شهنواز تڼي قدرت په لاس کې ونيوه. د مهتاب قلعه د توپچي لوا قومندان خليل بابکرخېل پرچمي هم يوه قوه له ارگ سره د مرستې لپاره روانه کړه، خو په ميرويس ميدان کې د ښاپسته جان اندړ خلقي له خوا په حېرانوونکي ډول بېرته په شا تللو ته اړ کړه. په همدغه حال کې له ارگ نه په شا تمبول شويو ياغيانو په يوه چال لاس پورې کړ. جمهوري گارډ ته يې دغه فکر ورسوه، چې پېنځلسم لمبر زغروره قوه د حکومت پر خوا او د ياغيانو پر ضد ده او هغه زر رسېږي او څلورم لمبر قوه تار او مار کوي. په دغه تاکتيک سره جمهوري گارډ په دوی سخته ونه نيوله او ياغيانو وکولی شول د ارگ چاپېر ځايونه ونيسي او مقاومت وکړي. سره له دې هم د ماسپښين تر څلورو بجو پورې د ياغيانو برې په شک کې و او له گارډ نه راکټونه پرې اوربېدل. له هغه نه وروسته و، چې ارگ له هوا نه تر بمبارېو لاندې ونيول شو او پانه د کودتاچيانو په گټه واوښته.

د جنگي الوتکو غوښ رول

لکه چې دمخه ويل شوي، وطنجار يوه ډله ټانکونه د بگرام هوايي ډگر ته استولي وو. حکومت لکه چې په هماغه غرمه کې د هوايي قوې اختيار له لاسه ورکړی وي. د خيال محمد کټوازي په وينا: "محمد داود او د هغه د هوايي قواوو لوی قومندان]جنرال موسی خان[ټولو جنگي الوتکو ته د پاڅون کوونکيو پر ضد د قوما ندې امر ورکړی وو خو قومانده يې هېڅ نه وه منلې، يواځې دوه... پيلوټانو خپلې الوتکې الوزولې وې، خو په هدف يې بمباري ونه کړې." دوی ټولو ځکه بمباري ونه کړې، چې د کټوازي په وينا

"ټول يې خلکيان وو." خو هغه اول ټانک چې د خواجه رواش ميدان ته استول شوی و، هلته بې ارتباطه پاتې شوی و "ځکه چې مسؤول کس له دندې څخه تښتېدلی و." دغه کس سيد محمد ګلابزوی و، له هغه وروسته به و چې د يوه بل راوي له مخې ډګروال عبدالقادر د هوايي مدافعې درستيزوال، چې د امين له خوا د هوايي قوتونو په قومندانۍ ګومارل شوی و، په کومې کوټې کې تر څارنې لاندې نيول شوی و، خو هغه خپل نيونکي قانع کړل، چې دی د حکومت ټينګ پلوی دی او د بګرام په هوايي ځواک سره کودتاچيان ځپلی شي. په هليکوپتر کې بګرام ته لاړ او څنګه چې له ده سره د کودتا شفر و، کودتايي ټانکونو دده مخه ونه نيوله. ده هلته خپل رول سرچپه کړه "تر هغه دمخه ميجر] سيد[داود ترون د عبرت لپاره په دېر شو تنو تسليم شويو افسرانو باندې مرمۍ چلولې" او وژلي و[38]. عبدالقادر د بګرام د هوايي ډګر اداره په لاس کې ونيوله او د هغه قومندان ډګرمن غلام سخي يې بندي کړی او دی بيا د خلقي حکومت د رسمي ليکنو له مخې خواجه رواش ته ستون شو. د غه وخت د غه ميدان د هغه له مرکز محل چنار سره د کودتاچيانو په لاس کې وو. ده به بيا له همدغه ځای نه د الوتکو اداره په لاس کې نيولې وي. دده له قول نه ويل شوي، چې ده په خپله هم په الوتنو کې برخه لرلې وه.

ارګ د ځينو په قول په درې نيمو بجو او د نورو په وينا د مازيګر په څلورو بجو د الوتکو تر بمبارۍ لاندې ونيول شو. ما چې له دهمزنګ نه د ارګ له پاسه د لومړي ځل لپاره جنګي الوتکه وليدله، د مازيګر څلور بجې وې. ارګ په دقيق ډول په جوړه جوړه الوتکو سره تر پېنځه نيمو بجو پورې له هوا نه وهل کېده. الوتکې له شير دروازه او تخت شاه تاوېدلې او اريانوونکي پيکونه يې وهل او د ارګ په غوره ځايونو باندې يې راکټونه حواله کول. له همدې امله به وي،

چې ارګ ته ډېر تاوان ونه رسېد. دغو ار یانونکیو الوتکو د هغه پیلوټ له الوتکو نه څرګند توپیر لاره، چې د کودتا په سبا یې په مهتاب قلعه کې کورونه په راکټونو وېشتل او یو څو ملکي کسان یې ټپي او تلف کړل. د یوه پیلوټ الوتکه چېرته په چاردهي کې نسکوره شوه، خو پیلوټ یې په پاراشوت سره ځان وژغوره. د الوتکو د همدغه څرګند توپیر له امله به وي، چې په کابل کې ویل کېده، چې ددغو الوتکو پیلوټان شورویان وو او کودتا د شورویانو په دستور او همکارۍ شوې ده. ځینو لیکوالو هم همدغسې ویلي دي، خو دا هسې اوازې دي. محمد نذیر کبیر سراج، چې نظامي متخصص او د اعتبآر وړ مولف دی، لیکي چې "همه طیاره ها و هلیکوپترها توسط پیلوت های افغانی سوق و اداره میشد." دی دا هم وایي، چې "پیلوت روسی در میدان هوایی بگرام قطعاً موجود نبود."

هو، په همدغه ورځ په بګرام کې د میګ 21، او سو_7 څلور شوروي معلمان وو، خو هغوی او داسې هم د شوروي مشاورانو ته اجازه نه وه، چې په نظامي فعالیتونو کې برخه واخلي. د میګ_21 پیلوټان هر یو میر غوث الدین توتاخېل، سنت الله، تیمور، عبدالروف، شرف الدین، رسول، کافي خان، مختار ګل، دوران خان او وهاب وو. د سو_7 پیلوټان حکیم، شیر محمد، ګلیار او رحیم وو. دوی ټول خلقیان وو[39]. د فراه د شینډنډ له نظامي ډګر نه د کابل له پاسه د حکومت په خوا دوه یا څو الوتکې ښکاره شوې، خو هغه زر بېرته ستنې شوې او کوم اثر یې ونه کړ.

الوتکو په ارګ باندې د مازیګر تر پېنځه نیمو بجو پورې الوتنې وکړې او راکټونه یې پرې حواله کړل. دغو الوتکو د ارګ جمهوري ګارډ ارام کړ او د محمد داود کلابندي یې نوره هم ټینګه کړه. د یوې اوازې له مخې په کابل کې د امریکې له سفارت نه، چې ارګ ته نږدې و، علامه ورسېدله چې ځان سفارت ته ورسوي، خو هغه دغه

بلنه ونه منله. دا هغه وخت و، چې ګوندي لویان له توقیف خانې نه ازاد شوي او افغانستان راډیو ته راوستل شوي وو. د هغو په ورتګ سره د حکومت د چلولو کار کود تا کوونکیو ته اختصاص وموند او حفیظ الله امین د خلق دموکراتیک ګوند د مخکښ غړي په توګه ډګر ته ووت.

د ګوندي لویانو ژغورنه

لکه چې دمخه ویل شوي، یوه وړه ډله ټانکونه او زغرور قوتونه د کورنیو چارو وزارت د نیولو لپاره مامور شوي وو. هلته د هغه وزارت او ځینو نورو وزارتونو د ځانګو آمرانو د کومې لایحې په اړه ګډه غونډه لرله. داسې ښکاري، چې دوی کومه امنیتي کشاله په مخ کې نه لري، ترڅو چې په ښار کې ډزې د هغو غوږونو ته ور سېدلې. بیا نو جنرال محمد طاهر د ژاندارم او ښار ندویانو عمومي قومندان د وزیر په نه شتون کې د وزارت د ځانګو آمران وسله وال کړل، خو وخت له وخت نه تېر و. کوړتایي ټانکونه په اسانۍ سره په دوی غالب شول، بې وسلې یې کړل او د وزارت په انګړ کې یې د ګدو په شان پنې کړل. جنرال طاهر وروسته ووژل شو. په همدغه وخت کې غني ساپي ځان کودتاچیانو ته د "ملګري" په توګه وروپېژنده او هغو هم پرې باور وکړ او د هغه په لارښودنه ګوندي بندیان ازاد شول. د وزارت د امنیتي ځانګو سروالان د نظام ټینګ پلویان وو، خو سرتېري یې نه وو. په یوه روایت د کورنیو چارو وزیر قدیر نورستاني، شاید له ارګ نه د ولایت د امنیت قومندان میر ګل ته په ټلفون کې امر کړی و، چې بندي ګوندي لویان له مېنځه یوسي، خو هغه نه دا چې امر یې پر ځای کړی نه و، د هغه ثبت کړی اوواز یې وروسته کودتاچیانو ته ورکړ. سره له دې هم هغوی وروسته دی اعدام کړ. د ثور په اومه که څه هم بندي ګوندیانو امنیت له خطر سره مخامخ کړی و،

هغوی په خپل حال پرېښودل شوي وو او د ولايت څارندويانو د ډزو په اورېدلو سره په بامونو کې مورچلونه نيولي وو.

څه وخت چې د يوه جيپ په مخ کې دوه ټانکونه د ولايت توقيف خانې ته ور سېدل، غني ساپي په هغو غږ کړې، چې "پوليس های جوان وطن پرست! پايان شويد، انقلاب است. اين انقلاب به نفع ما است، رژيم داود شاهی برای ابد از بين رفت." افسران له بامونو نه کوز شول، د يوه بل روايت له مخې دغه افسران وروسته له هغه کوز او تسليم شول، چې کودتاچيانو يو نه تسليم کېدونکی افسر وواژه. له همدې امله به و، چې د توقيف خانې سهيلي دېوال يې په زور چپه کړ. له هغه وروسته د کابل والي عبدالحکيم په شخصي موټر کې او د امنيې قومندان ګل مير او نور په ملکي کاليو کې پياده وتښتېدل. د ولايت هغه وسله وال له قطعه، چې دوره په خوله کې پرته وه، هم تيته شوه. په دې ډول د بندي لويانو د ازادولو لپاره لار خلاصه شوه. د توقيف خانې ور هم خلاص شو. ددغې ورځې له ګډوډۍ سره سره د بنديانو کوټې خلاصې وې، خو هغوی ولچک وو. د توقيف خانې له آمر محمد ابراهيم نه د ولچکو کلي ګانې واخيستل شوې او بنديان يو په بل پسې ټول له کوټو نه واېستل شول. په دغه وخت کې د دوی له وينا وو څخه مهمې نتيجې او بصيرتونه راوځي. غني ساپی ليکي: "با اطاق نمره اول داخل شديم. سلام دادم و گفتم تره کی صاحب! تبريک، انقلاب به پيروزی رسيد. برخيزيد، با تعجب گويا اينکه هيچ خبری ندارد، از جا برخاست. الچک هايش را باز کردم، دست مرا محکم گرفت و گفت: چه ميگوئيد، انقلاب چه؟ انقلاب از طرف کی؟ راست بگو. گفتم: ديگر من هم نميدانم ولی قوای چارو پانزده زرهدار انقلاب را شروع نموده، وزارت داخله را اشغال نموده اند." ساپی خپلو خبرو ته دوام ورکوي: "در اطاق نمره

دوم داخل شدم، سلام دادم، الـچک های رفـیق کار مل را بـاز نمـودم. پرسـیدنـد: چـه وضـع اسـت؟ گفـتم انقـلاب اغـاز شـده. پرسـیدنـد: از طـرف کـی انقـلاب اغـاز شـده اسـت؟ گفـتم از طـرف قـوای 4 و 5 زر هدار... رادیـو افغانسـتان بتصـرف قـوای انـقلاب اسـت. جهـت شـما امـده ام، تـا شـمارا برادیـو افانـستان بـبرم. بـطرفم دقـیق نـگاه کرد نـد و هیچ نـگفتـند."

نـور محمد تـره کي او بـبرک کار مل لـه خوښۍ نـه يـو بـل پـه غېږ کې ونـیول، خو پـه تـعجب سره يې وويـل، چـې "ايـن چـه حالـت اسـت، از کـدام طـرف است؟" سـاپي پـه نـتيجـه کـې وايـي، چـې "از صـحبت های شان معـلوم گـرد يـد کـه انـقلاب بـد ستور مـستقيم شان صـورت نگرفتـه اسـت" خـو د حفـيظ الله امـين پـه ازاد پـدلو سره حال بـل ډول ښـکاره شـو. هـغه چې څومره وخت پـه بـندي خانـه کې و، نـزدې ټول وخت يـې پـه خـوب کـې تېـر کـړی و. پـه مـړه ګېـډه او ارامي سره يې ډوډۍ خوړلې او هر ځل يې لـه چای سره يـو ټابـلېټ سپرين تـېر کړی او ويـده شوی و. داسې بـرېـښېده، چې دی د هېڅ څيز پـه فـکر کې نـه و، نـو ځکه يې لـه خلاصېدلو نـه وروستـه پـه داسې حال کې، چې پـه ښار کې ډزې کـېدلې، دی پـه راښـه وچلـي او خنداني ځېـره لـه کـوټې نـه ووت. غنـي ساپی لیکي: "وقتيکه امـين از اطـاقش بيـرون آمـد، خـنداني بـنظر ميخورد و بـرای رفـيق تـره کی و رفـيق کارمل انقلاب را تبريک گفـت." د يـوه بـل راوي پـه ويـنا پـه همدغه وخت کې تـره کي امين وپوښتـه، چې " دا څه حال دی؟" امين ورتـه کـړه، چـې "د انقـلاب امر ورکـړل شوی دی." تـره کي بيـا وويـل، چـې "لکـه چې ټول برباد شوو." امين بيـا دغومره وويـل، چـې اوس خو د انقـلاب امـر ورکـړل شـوی دی." دا وخـت د مـازيګر پېـنځه نـيـمې بـجې وې، امين د تـره کي او کار مل پـرخلاف لـه خپل سملا سي ژ غورونکي نـه د ډزو پـه اړه پـوښتنه ونـه کړه. دی پـوهېده، چې څه وضع

ده، آزاد شوي ملګري يې خپلو نظامي ژغورونکو ته وروپېژندل او افغانستان راډيو ته د تګ په فکر شول. ساپي ورته وويل، چې هغه د دوی د ملګرو په لاس کې ده او د کودتا موقتي هستوګنځی ټاکل شوی دی. په دغه وخت کې د خلقي حکومت د کالنۍ له مخې د يوه ناډاډه کس له خوا غږ شو، چې "چېرته ځئ؟ په برياليتوب ډاډ شته؟" دغه کس ببرک کارمل و. امين غږ کړ، چې "هر څوک چې نه غواړي لاړ شي، په زندان کې دې وي." خو کارمل زندان هم نه غوښته او زړه نازړه له نورو سره په زغرورې وسيلې کې ننوت او ټول د مازيګر په شپږو بجو افغانستان راډيو ته ورسېدل او هلته امين د ټولو په خوښه له 32 کلن اسلم وطنجار نه د کودتا سروالي په خپل لاس کې ونيوله.

د شپې ټينګار او د حکومت نسکورېدنه

افغانستان راډيو د ستار ختګر په سروالۍ د يوه ټانګ له وررسېدلو نه وروسته د کودتاچيانو لاس ته ورغله او خيال محمد کټوازي د هغې يو کارمن او د خلقيانو د نظامي ارتباط غړي د هغې اداره ترلاسه کړه. څنګه چې د کودتا نتيجه لا معلومه نه وه، په راډيو کې يې خبر خپور نه شو، خو عادي خپرونې ودرول شوې او خوږې نغمې خپرې شوې. خلک نه پوهېدل، چې څوک څه غواړي او څه کوي؟ د عادي خپرونې په درېدلو سره څرګنده شوه، چې ناآرامي د حکومت د مخالفانو ده. تر هغې دمخه ويل کېده، چې حکومت ولاړ شوی، کمونستان ځپي. په اصل کې د ګوندي لويانو له بندي کېدلو نه تر دغه وخته پورې ويل کېده، چې ښه شوه، چې محمد داود د دوی په ټکولو پيل وکړ، تر څو وطن د دوی له خوا له خطر نه ژغورل شوی وي. په کابل کې خلکو په عمومي ډول او نورو ګوندونو په خاص ډول خوښي کوله، خو په

ښار کې د ټانکونو په ګړزهار باندې څوک نه پوهېدل، ټانک ستان او په ټانکونو سپاره ماشین وال په سړکونو باندې ګرځېدل او ځارو ښکارېدل.
له اړ و دوړ نه خلک په وېره کې شول، هر چا زما په ګډون کوښښ کاوه، چې خپل واړه او د کورنیو غړي له ښوونځیو او نورو ځایونو خپلو کورونو ته بوځي، خو د ارګ په بمبارۍ سره څرګنده شوه، چې نظامیان د حکومت پر ضد پاڅېدلي دي. له راډیو نه د ګوندي لویانو له ور تګ نه وروسته په اغېزمنه توګه کار واخیستل شو.
کارمل د کود تا په بري باور نه لاره، دا وخت په ځینو نظامي قطعو په تېره په جمهوري ګارډ کې مقاومت روان و. د کټوازي په وینا کارمل د جنګي وضع د راپور له اورېدلو نه وروسته "په وارخطایۍ سره په امین باندې خوله راواړوله، چې ولې دې د ګوند د رهبرۍ له اجازې پرته په خپل سر د پاڅون امر ورکړی دی." امین په ځواب کې وویل، چې "ماته تره کي صاحب اجازه راکړې وه، چې که داود خان د ګوند په مشرتابه باندې حمله وکړي، باید له ځان نه دفاع وکړو." بیا "کارمل سملاسي تره کي ته مخ واړاوه، خو تره کي دا خبره ومنله، چې امین ته یې د ګوند د مشرتابه د زنداني کولو په صورت کې د انقلابي عمل دستور ورکړی و." کارمل بیا هم کرار نه شو او امین ته یې مخ واړوه، چې "ولې دې شوروي ملګري نه دي خبر کړي؟" هغه په ځواب کې وویل، چې "د شوریانو اجازې ته مې اړتیا نه درلوده او نه مې وخت درلود." د کټوازي په وینا په دغه وخت کې کارمل په امین تېره ورته او وروستي په دفاعي حال کې و. کټوازي د پنجشیري دغه ادعا ردوي، چې وايي امین غوښتل کارمل "صحرايي محاکمه" شي، ددې لپاره چې د هغه له شر نه د تل لپاره خلاص شي، خو تره کي امین دغه

کار ته پرې نه شوده. کټوازی دا هم وايي، چې "د ثور د انقلاب په شپه کارمل له امين سره د تعرض په حالت کې او امين دفاعي دريځ درلوده. سربېره پر دې، چې امين صحرايي محاکمې ته هېڅ اشاره هم نه وه کړې، بلکې هغه يې کوله چې د کارمل زړه خوشحاله کړي، ځکه چې په پاځون کې ځينو پرچميانو هم ګډون درلود." کټوازی زياتوي، چې "امين په داسې حساسو او نازکو شرايطو کې د کارمل محاکمې ته اړتيا نه درلوده او په دې پوهېده، چې د پاځون راتلونکي د امين په ګټه ده او په دې شرايطو کې د محمد داود د واکمنۍ په وړاندې د کارمل او پرچميانو مرستې ته اړتيا ليدل کېږي." خو کارمل لا هم په اندېښنه کې و او بل وړاندېز يې دا و، چې يا د غلام جيلاني باختري يا د کوم ځاځي په کور کې پټ شو او "د شوروي دوستانو په مرسته ځانونه له خطر څخه الونيا کړو" خو تره کي او امين دغه وړانديز و نه مانه او وروستي وروسته له هغه، چې د برياليتوب ډاډېنه يې ور کړه، وغوښتل چې "د برياليتوب يوه اعلاميه وليکل شي او... نور محد تره کی... هغه له راډيو څخه اعلان کړي." خو دا ځل کارمل له دغه وړانديز سره مخالفت وکړ. "وروسته دا پرېکړه وشوه، چې د پاځون عمومي قومندان هر يو قادر خان او وطنجار دې دا اعلاميه له راډيو څخه خلکو ته واوروي." اعلاميه شاه ولي وليکله او وطنجار او قادر د هغې د پښتو او فارسي متن په ترتيب سره واوروه. اعلاميه د افغانستان د وسله وال پوځ د نظامي شورا په نامه وه، چې په هغې کې د محمد داود د وژل کېدلو خبر ورکړ شوی و، په داسې حال کې چې هغه ژوندی و او جمهوري ګارډ له هغه نه دفاع کوله، خو اعلاميې په پوځ کې د محمد داود د پلويانو ناهيلي کړل او له بلې خوا د مهتاب قلعه د توپچي اته اتياومه لوا، چې تر

دې وخته یې د حکومت ننګه کوله، د کودتاچیانو په خوا واوښتله. سره له دې هم ګوندیانو په افغانستان راډیو کې توخته ونکړه او له امین، وطنجار او کټوازي پرته نور ټول د اعلامیې له خپرېدلو نه وروسته د خواجه رواش هوايي ډګر مرکز محل چنار ته ولېږدول شول، په دې هیله، چې که وضع خرابه شوه، دوی به په الوتکه کې کوم بل خوندي ځای ته لاړ شي، خو دغسې پېښه ونه شوه او دوی "سبا ګهیځ د لمر څرک سره... بېرته راډیو ته راغلل."

جمهوري ګارډ د صاحبجان په قوماندانۍ هغه ځواک و، چې د هغه مرستیال او د اوپراسیون امر فضل الرحمن تاجیار په وینا د ثور د اتمې د سهار تر شپږو بجو پورې یې په ټینګه دفاع او برید وکړ، د یاغیانو اته ټانکونه یې له کار نه وایستل، اتکل پنځوس تنه یاغیان یې له منځه یوړل او لکه چې دمخه هم ویل شوي، یاغیان یې په شا تللو ته اړ کړل.

جمهوري ګارډ له 1600 افسرانو، خوردضابطانو او سرتېرو نه په بېلو مسلکي واحدونو کې جوړ و، د تاجیار په وینا "...بجز از عده محدود [معدود] کمونست خاینین بوطن و ناموس، جوانانیکه در گارد جمهوری داود خان بامن همکار بودند... از جمله صادق ترین، پاکترین و با ناموس ترین اولادهای افغانستان بودند." تاجیار دا هم وایي، چې "لیکن موجودیت نه نفر صاحبمنصبان خلقی و پرچمی و تعدادی از هواخواهان فرصت طلب آنها در گارد و نه رسیدن کمک و تقویه از قدمه های بالا سوق و اداره و تشریک مساعی قطعه را شدیداً مختل ساخته بودند. انها منافقانه ظاهراً وفاداری خودها را با رژیم جمهوری و سردار محمد داود خان اظهار مینمودند، ولی در خفا اگاهانه مقاومت و مدافعه قطعه را تخریب و خاینانه تسلیم نمودن قطعه را به رفقای ملحد و کمونست خود تبلیغ و

تلقين ميکردند." د تاجيار په وينا پېژندل شوي "کمونستي افسران" د کشف آمر جګتورن عبدالحق علومي، د اوپراسيون مرستيال جګړن سيد جان او دويم پياده کنډک قومندان جګړن محمد عزيز حساس وو، خو دوه خلقي افسران اغا محمد د مخابرې آمر او لومړی بريدمن جمعه خان د ګارد د مخابرې ماشين په له کار نه غورزولو کې د کودتچيانو په بري کې موثر ثابت شول. ګارد د ثور اتم د سهار تر شپږو بجو پورې د قومندان صاحبجان او د هغه د مرستيال تاجيار په سروالۍ غښ برياليتوبونه ترلاسه کړل، خو ګارد د هواي قوې په دفع کې پاتې راغی. تاجيار په خپله محمد داود ته د راپور ورکولو په وخت کې همدغسې وويل، چې "ضربات قوای هوایی را دفع و طرز نموده نيمتوانيم، زيرا که سلاح و وسايط ضد هوايی نداريم."(40)

د کتوازي په وينا په راډيو کې د اعلاميې له خپرېدلو نه وروسته "ټول پوځ له مقاومت نه لاس واخيست او د جمهوري ګارد قومندان هم د ماښام د تيارو په رانږدې کېدلو سره تر ګهيځه پورې د اوربند غوښتنه وکړه او دا غوښتنه نور محمد تره کي ومنله." خو د سهار په درې بجو "يو ناڅاپه په راډيو باندې د ګارد له خوا د مرميو باران پيل شو، د راډيو ودانۍ کړکۍ يې ټولې ماتې کړې، امين مجبور شو قادر خان ته يې خبر ورکړ او هغوی په شپه کې د ګارد دپاسه الوتنې پيل کړې، خو د ګارد قومندان مجبور شو دوباره اوربند ته بيا غاړه کېږدي."

د ثور انقلاب په نامه کتابګوټي کې ويل شوي، چې د الوتکو په زور "قبل از روشنی روز افسران و سربازان رن [ګارد جمهوری] به تسليم [شدن] مجبور شدند." تاجيار هم د هغه په ضمني تاييد کې وايي، چې د سهار په درې نيمو بجو ده د دويم ځل لپاره ولسمشر محمد داود ته ځان د هدايت ترلاسه کولو لپاره ورسوه، خو د غه ځل هغه

ورته کړه، چې "بچیم، جوان هستید، بروید خود را تسلیم کنید، من تصمیم خود را گرفته ام." قوماندان صاحبجان هم ورته وویل، چې " رییس صاحب حجمهور تصمیم خود را گرفته است، شما بروید، قطعه را جمع و امر بدهید سلاح های خود را به دیپوها تحویل کنند." خو "قطعه گارد همه بیک اواز عدم موافقت خود را ابراز کرده و سلاح را بزمین نمیگذاشتند." تاجیار وایي، چې په پای کې د محمد داود امر "ساعت 6 بجه صبح یعنی بعد از [سپری شدن] دو نیم ساعت تعمیل نمودم." د تعجب ځای دی، چې کودتاچیانو د گارد تسلیم شوی منسوبان ونه وژل، سره له دې چې دوی هم ټینګ مقاومت کړی وو او هم یې کودتاچیانو ته تاوانونه اړولي وو. له دوه اونۍ بندي کولو نه وروسته نزدې ټول یې ازاد کړل، خو تاجیار په ټوله خلقي دوره کې بندي و ساتل شو او د یوه بل راوي په وینا"... توفیق احمد عزیزي، قوماندان سابق گارد جمهوری صاحبجان را از ستیشن رادیو برد و بدست خود بقتل رسانید.(41)"

د ثور انقلاب په نامه کتابګوټي کې دا هم ویل شوي، چې په راډیو کې د اعلامیې له خپرېدلو نه وروسته "از داخل ارگ داود علیه خلقی های انقلابی فیرها ادامه پیدا کرد و فرقه هفت ریشخور نیز په مقاومت خود ادامه داد." د شپې په تیاره کې د ریشخور له فرقې نه یوه غټه پلې قوه له ارګ سره د مرستې لپاره د ښار په لور وخوځېده. دغه قوه د ډګروال محمد هاشم (کندهاري) په قوماندانۍ ان تر دهمزنګ پورې ورسېدله. په دغه شپه د کابل اسمان په نریو وریځو پټ او د الوتکو د الوتنو لپاره برابر نه و، سره له دې هم الوتکو الوتنې وکړې او په دغې قوې باندې یې راکټونه حواله کړل او هغه یې پر شا تګ ته اړ کړه. ډګروال محمد هاشم ونیول شو او سم له لاسه اعدام شو. ددغې قوې په

خورېدلو او بيا د جمهوري ګارد په تسليمېدلو سره د ايسار شوي محمد داود د ملا تير مات شو او کودتاچيان د بري درشل ته ورسېدل.

د ثور د اتمې ورځې په سبا د کودتاچيانو لپاره غټه ستونځه له ولسمشر محمد داود سره د چلند موضوع وه، چې په ارګ کې ايسار و. په دې اړه هم روايتونه ډول ډول دي. دستګير پنجشيری وايي، چې د همدغې ورځې په سبا محمد داود تورن اقا محمد کندهاري، د ګارد د مخابرې آمر په لاس پيغام واستوه، چې "... مايل است با اسلم وطنجار، قادر هراتی و شير جان مزدور يار ملاقات کند." خو تره کي دغه غوښتنه ونه منله او وېرېده، چې محمد داود به په هغوی ډزې وکړي. پنجشيري په عين حال کې دا هم وايي، چې "ببرک کارمل طرفدار برخورد با انعطاف با سردار داود و خانداش بود. او اصرار ميکرد که بايد سردار داود و خاندانش کشته نه شود." "اما سليمان لايق دور باره شيوه برخورد با سردار داود در پاسخ تره کی گفت: دا فرعون دې ووژل شي."[42] خو لايق اوس دا يو تور ګڼي او ردوي يې.

په خپله پنجشيری د محمد داود وژل کېدل غوښتل، خو دغه مطلب يې په ضمني ډول ادا کړی دی. خيال محمد کټوازی د پنجشيري د روايت پرخلاف وايي، چې په دغه ورځ نه يوازې کارمل، بلکې تره کي او امين هم د محمد داود وژل نه غوښتل او درې واړو له هغه سره پوهاوی غوښته، خو کټوازی هم وايي، چې تره کي قادر او وطنجار ته اجازه ورنکړه، چې له محمد داود سره وګوري، که څه هم محمد داود د يوه قاصد په لاس له هغوی سره ليدل غوښتي و. تره کي غوښتل، چې له محمد داود سره په خپله په افغانستان راډيو کې ووينې او ددغه مقصد لپاره يې د کماندو يوه وسله واله ډله د تورن امام الدين په مشرۍ محمد داود ته واستوله او په عين حال کې يې ما (کټوازي) ته "هدايت راکړ، چې د محمد داود دپاره يوه

مناسبه کوټه له پاکو څوکیو او مېزونو سره چمتو کړم." دی پسې اضافه کوي، چې "زه لا په کوټه کې لګیا وم، چې قادر خان او وطنجار یې د کوټې د کنټرول د پاره راولېږل او کله چې موږ د کوټې له سمبالولو څخه خلاص شو، یو افسر چې خپل مټ یې په لاس کې ټینګ نیولی و... راډیو ته راننوت... نوموړي افسر وویل، چې داود خان ووژل شو." کارمل او پنجشیري ددغه خبر په اورېدلو سره هورا کړ، چې د کمونستانو د خوښۍ ناره دي.

د محمد داود د وژل کېدلو په هکله هم اتفاق نه شته، د پنجشیري په وینا امام الدین په محمد داود باندې غږ کړ، چې "به فرمان کمیته مرکزی حزب [دموکراتیک خلق] محکوم هستید و خود را تسلیم کنید." خو محمد داود "به قدیر نورستانی و فرزند خود دستور صادر کرد تا به سوی امام الدین و دیگر سپاهیان و همچنین به زنان و کودکان بیگناه خانداناش اتش بگشایند... و انان اخرین فرمان سردار محمد داود را بدون تزلزل اجرا کردند. بسوی امام الدین و سربازان قطعه کوماندو اتش گشودند.[43]"

د امام الدین له خوا له محمد داود نه ددغسې "تسلیمۍ" غوښتنه د "پوهاوي" له هغې روحیې سره نه جوړېږي، چې تره کي غوښته او په هغه سربېره که د محمد داود له زوی نه عمر داود مراد وي، هغه یوه ورځ دمخه ټپي شوی او په غالب احتمال مړ شوی و.

د کټوازي روایت د پنجشیري له روایت نه متفاوت او امام الدین ته منسوب له روایت سره سر خوري، چې زر به راوړل شي. کټوازی وایي، چې "کله چې سردار داود له امام الدین څخه پوښتنه کړې وه، چې چېر ته مې بیایي؟ هغه په ځواب کې ورته ویلي و، چې راډیو ته. په همدغه وخت کې داود خان خپله یو ناڅاپه په امام الدین باندې

کلاشنکوف چلولی و، چې ټولې مرمۍ د امام الدین ترمټ وتلې وې او [هغه] په ځمکه لوېدلی و." بیا نو "د امام الدین سره ملگرو عسکرو د خپل ځان له وېرې په مقابلو ډزو کې داود خان د مرمیو هدف گرځولی او وژلی وو." په خپله د امام الدین له خولې نه روایت د اصلي ټکي په اړه، چې د محمد داود وژل کېدل دي، متفاوت دی. دده په روایت د ثور په اومه د شپې په نهو بجو حفیظ الله امین ورته ویلي وو، چې "د ارگ و ریشخور مقاومت ادامه دارد. اگر بزودی این مقاومت ختم نه شود، امکان دارد بعضی از قطعات که تا حال شاهد و ناظر صحنه بوده و بیطرف مانده اند، بنفع داود خان فعال و متحرک خواهد گردید... لذا هر چه زودتر موضوع ارگ در قدم اول خاتمه یابد." امین بیا ده ته وویل، چې "افسران بلند رتبه شامل کودتا پیشنهاد کردند که برای حصول این مطلب ضروری است که برعلاوه فشار هوایی و توپچی با تعرض افراد پیاده بداخل ارگ رخنه ایجاد گردد و مقاومت ارگ از داخل از بئن برده شود." امین بیا ورته امر وکړ، چې "فردا قبل از طلوع افتاب اماده تعرض باشید."

امام الدین، چې ځان یې د یوه کماندویی ټولي قومندان باله، وایي چې د ثور په اتم سهار "من با دو نفر از افرادم با تاکتیک پیاده خود را نزدیک قصر گلخانه رسانیدیم... به کلکین نزدیک دروازه پهلوی سالون گلخانه یک نفر پهره دار استاده بود، ذریعه کلاشنکوف خود را بالای سرما نشانه گرفت و نام مرا [امام الدین] گرفته ضمن دشنام گفت که تو انگور خور زرغون شهری... امده یی مرا تهدید میکنی؟ چون دیدم پهره دار مرا شناخته است، من هم متوجه شدم که خواجه عبدالمجید کلنگاری است که او هم از افسران گارد بود، فوری بالایش صدا کردم که میخواهم با

داود خان صحبت نمایم تا از خطر از بین رفتن نجات پیدا کند. خواجه مجید کلنگاری گفت: این قسم گپ بزن، گپ تسلیمی را برایم مزن... او به همکاری یک نفر صاحب منصب دیگر بعد از اجازه از داود خان دروازه را برایم باز کرد. من پیش و دو نفر از سربازهایم به عقب من بودند، که با طاق داخل شدیم... به مجرد داخل شدن با طاق به داود خان رسم تعظیم و سلام عسکری را انجام دادم. داود خان که تفنگچه بدست داشت، گفت: چه گپ است؟ گفتم صاحب گپ از گپ تیر است، تسلیم شوید. داود خان به قهر گفت: من هرگز تسلیم شما نخواهم شد." امام الدین په خواب کې وویل، چې "به شورای انقلابی قوای مسلح تسلیم شوید. داود خان گفت: من هرگز تسلیم شما نخواهم شد." د امام الدین په قول "در این اثنا داود خان ذریعه تفنگچه که بدست داشت بالای من فیر کرد، که بدست من اصابت کرد و شدایداً جراحت برداشتم... دیگر بین افراد من و پهره داران فیرها مبادله شد که در نتیجه آن داود خان کشته شد." (44)

د ابو مسعود فاروقي په وینا بیا "امام الدین با یک دسته کلاشنکوف را طرف داود خان نشانه گرفته او را به قتل رسانیده است. بعد سربازان معیتي امام الدین داخل اطاق شده همه کسانی را که داخل اطاق بوده به قتل رسانیده است." (45) ددغه روایت له مخې ټول هغوی، چې له محمد داود سره په کوټه کې وو، ووژل شول، نه هغوی چې په بلې کوټې کې وو.

د یوه بل راوي په حواله، چې نه غواړي نوم یې واخیستل شي، ښځې او ماشومان په اصلي کوټه کې او نارینه د ناستې یا په کوټه یا هال کې وو. پرېکړه شوې وه، چې هېڅوک به ژوندي نه تسلیمېږي. ددغې فیصلې له مخې ویس د محمد داود زوی د سهار په مهال د ښځو کوټې ته ننوت، په کلاشنوف سره یې اول په خپلې ښځې، بیا په خپلو

ما شومانو او مور او نورو ډزې وکړې او په اخر کې يې خپل ځان وواژه. شينکۍ، د محمد داود لور هم ځان په خپله وواژه. د راوي په وينا ويس په هغه وخت په دغه بېساري کار لاس پورې کړی و، چې پلار يې او نور وژل شوي وو. غوث الدين فايق هم د غې تراجيدي ته په لنډ ډول اشاره کړې ده. که دغه روايت رښتيا وي، محمد داود به د خپلې کورنۍ په غړو په تېره په خپلو لمسيانو باندې بې جوړې غټ ظلم کړی وي. هغه نه ددې حق لاره او نه دا يقيني وه، چې کودتاچيان به هغوی ووژني يا يې سپکاوی وکړي. ده په واقع کې په دغې بې رحمۍ سره د کودتاچيانو کار لا اسان کړ.

د مؤلف نذير کبير سراج په قول د ارګ په ګلخانه کې له ولسمشر محمد داود نه سربېره د هغه زامن، محمد عمر، ويس او خالد، د هغه لوڼې زرلښت او شينکۍ، د هغه لمسيان ويس، حارس، وايګل او لمسيانې يې هيله او غزال، مېرمن يې زينب او خور يې عايشه، ننګور يې شيما، ورور يې محمد نعيم، ورېره يې زرمينه، د ورور لمسی يې صفورا، نظام الدين د شاه محمود غازي زوی، د هغه مرستيال عبدالاله، د کورنيو چارو وزير عبدالقدير نورستانی او نور ووژل شول. په دغه ورځ د ولسمشري ارګ په ګلخانه کې شل تنه ووژل شول او اووه تنه ټپي شول. ټپيان په روغتون کې بېرته روغ شول، د محمد داود بله لور درخانۍ به هلته نه وه، چې هغه ژوندۍ پاتې ده او اوس په سويس کې ژوند کوي. څه وخت وروسته د محمد داود د توسعوی کورنۍ دوه نور غړي عبدالله روکی او صلاح الدين غازي په نوي رجيم کې بې له محاکمې نه اعدام شول(46).

د افغانستان په تاريخ کې د واکمنې کورنۍ د ټولو نارينه وو، ښځو او ماشومانو دغسې ټولوژنه ساری نه لري. دا هغه درنده کورنۍ وه، چې سروال يې محمد داود له ځلوېښتو کلونو نه زيات وطن او افغانانو ته په ملکي او نظامي

ډګروڼو کې خدمت کړی و. په د غومره اوږدې مودې کې موږ څو محمد داود وینو.
هو، هر یوه یې زوروا کي کوله په اول کې ډېره او په اخر کې لږه، خو د هر یوه موخه د افغان ژوند ښه کول، د وطن ودانول او د افغانانو سرلوړي کول و. بې له دې، چې خپل ځان او خپله کورنۍ شتمنه کړي. محمد داود د وطن د ابادۍ په لار کې خپله شخصي شتمني هم لګولې وه، آن تر دې چې د هغه د یوه وزیر په وینا ځان یې خوار کړی هم و. مهمه دا هم ده، چې هغه سې چې محمد داود په ملي چارو کې د تقوا او نضباط خاوند و، په کورنیو چارو کې هم و. هېڅ نه دي اوریدل شوي، چې د محمد داود زامنو، لونو یا مېرمن به له خپل مختار مقام نه ناوړې استفاده او له خلکو سره بد سلوکي کړې وي. زامنو یې په شوروي اتحاد کې په خپل لګښت زده کړې، کړې وې، نه د دولتي سکالرشپ یا بورس له لارې. لور یې زرلښتې د ادبیاتو پوهنځی په هنري ځانګه کې د یوې عادي افغانې په شان زده کړه کوله او د ډوډۍ خوړ لو په سالون کې یې له نورو زده کوونکیو سره یوځای عادي ډوډۍ خوړله. د تدریسې مدیر وزیر تڼیوال په وینا هغې په خپلې سوانح کې ځان د یوه مامور لور ښودلی و، په داسې حال کې چې پلار یې د افغان دولت آعلی آمر و. هغه لا اول په عامه سرویسونو کې پوهنتون ته تلله، تر څو چې ښوونکي یې نامتو انځورګر امان حیدر زاد د کورنیو چارو وزیر په موضوع خبر کړ او هغه بیا ددې لپاره، چې کومه ناوړه پېښه ونه شي، د شخصي موټر ترتیب وکړ، خو بیا هم هغه به له پوهنتون نه لیرې له موټر نه ښکته شوه او پوهنتون ته به یې په خپله ځان رساوه. د ښوونکي سید حسین سعید په وینا، ویس داود په پولي تخنیک کې د یوه متواضع عالي ښوونکي په شان سلوک کاوه، چا چې د محمد داود مشر زوی عمر جان له نزدې نه لیدلی ډېر یې ستایلي دي.

د هغه ملي شعور د غومره پياوړی و، چې په اخر کې د خپل تره محمد نعيم په شان د ځينو ملي مسئلو په سر له خپل پلار سره مخالف شوی هم و، نو د دوی ټولوژونه غټه انساني او ملي تراجيدي وه.

که وژنه په نظر کې نه وای، ددغې تراجيدي مخه به نيول شوې وای. محمد داود او نور ټول ټينګ ايسار وو، له باندې سره يې اړيکې شلېدلې وو او محمد داود هم مړ اعلام شوی و. طبيعي ده، چې درې څلور ورځې وروسته دوی ټول له مقاومت نه لوېدل، خو هغوی د غه حال ته پرې نه ښودل شول. دغې ټولوژنې وښودله، چې په حکومت کولو کې افغان وژنه غوره لار ده. له بده مرغه چې دا نه يواځې د خلقيانو او پرچميانو غوره لار شوه، د تنظيمي مجاهدو او طالبانو لار هم شوه، سره له دې چې په هغې سره وطن ورانېده او افغانان وژل کېدل.

دا چې د کودتا په دوو ورځو کې څومره افغانان ووژل شول، معلومه نه ده. د خلقي حکومت رسمي ليکنه يې سل يا او يا ګڼي، خو د غه نخښې شمېر د حقيقت پرخلاف دی. د نبي عظيمي په قول په دغو ورځو کې به يو يا يو نيم زره او د عاصم اکرم په اټکل درې زره افغانان وژل شوي وي)[47](. د وژل شويو افغانانو شمېر شايد له وروستي اټکل نه هم ډېر وي، ځکه چې ټولو هغو افغانانو، چې له برحال نظام نه دفاع کوله او هغوی هم چې د کودتاچيانو مخالف ګڼل کېدل او يا د حساسو دولتي مقامونو خاوندان وو، ځای پر ځای وژل کېدل. تلفات د ريښخورو په فرقه کې بې خي ډېر وو، نو دغه کود تا د سرطان د کود تا پرخلاف د زرګونو افغانانو په وژل کېدلو سره سرته ورسېده. بده يې لا دا وه، چې د غه کود تا د بيخي ډېرو افغانانو د وژل کېدلو پيلامه شوه. په دې ډول دغې کودتا افغان ژوند ډېر بې اهميته کړ، دغه بې اهميته کېدل په خپله

کودتاچیانو د کودتا په دویمه ورځ و شود. په دې ډول، چې "اجساد همه مقتولین به شیوه منافی کرامت انسانی یکی بر دیگری اینا شته شدند و در تپه مرنجان در خندقی دسته جمعی زیر خاک شدند." (48)

د ثور کودتا او شورویان

په افغانانو کې په ټینګه ویل کېږي، چې شورویانو د ثور په کودتا کې لاس درلود، خو په دې اړه د اعتبار وړ سند ښوول شوی نه دی. دا چې د غه کودتا د حفیظ الله امین په دستور د خلق د ګوند د نظامي څانګې د ملکي او نظامي غړو له خوا او د یو څو پرچمیانو په مرسته شوې ده، په دې اړه هېڅ شک نه شته چې پوره بیان یې دمخه شوی دی. لکه چې دمخه وویل شول، د ګوند عمومي منشي نور محمد تره کي او د هغه مرستیال ببرک کارمل پرې خبر نه وو او کارمل بیا امین په دې ګرم کړ، چې د کودتا دستور یې په خپله ورکړی او شوروي ملګري یې پرې خبر کړي نه دي، خو کودتا چې یقیني شوه او سرته ورسېده، پرچمیانو بیا تبلیغ کاوه چې د ثور کودتا چې دوی "انقلاب" بلله، د افغانستان خلق دموکراتیک ګوند په مخکې سرته رسېدلې ده. له د غې تبلیغ نه اصلي مقصد دا و، چې د امین اعتبار ډېر نه شي. مهمه دا ده، چې نه د شوروي اتحاد حکومت، نه د شوروي اتحاد کمونستي ګوند او نه ک.ج.ب ځان په د غې کودتا کې دخیل ښوولی. د غه څه له هغو پرېکړو او لیکنو نه معلوم دي، چې د دوی له خوا په هما غه وخت کې د افغانستان د پېښو په اړه شوي دي او هغه د شوروي اتحاد له شړېدلو نه وروسته ترلاسه شوي او خپاره شوي دي.

په د غو سندونو او لیکنو کې د ثور کودتا د بهیر په اړه هېڅ نه دي ويل شوي، خو شوروي اتحاد له کودتا نه بې خبره هم نه و. واسیلي میتروخین چې په مسکو کې د ک.ج.ب د ارشیف

چلــوونکی و او د افغانســتان پــه اړه یــې د ک.ج.ب راپورو نـه ټـول کړي او بـيا يې انګلـستان تـه پـه پټه پنـاه وړې وه، پــه خپــل يــوه اثــر "ک.ج.ب پــه افغانـستان کې وا يي، چې د سيد محمد ګلا بـزوی او محمد رفـيع پـه بـيړه ک.ج.ب تـه خبر ور کړ، چې پـه افغـانـستـان کــې "غټــې پېښــې" کېـدونـکي دي. ګلابــزوی د مامد او رفـيع د نيــروز پــه مـستعارو نـومو نـو د ک.ج.ب ايجنټــان وو. ک.ج.ب بيــا د اپريــل پــه 26مــه پــه دې اړه سـملـه لاسـه مـسکو تــه تيـلګــرام واسـتوه او پـه هغـه کې د شوروي سفير اليکزا ندر پوزا نوف د شــوروي اتحــاد د کمونســتي ګونــد پولټبــورو يــا سياسي دفتر تـه ولـيکل، چې "پـه دې کـې خطـر دی چې د افغـانســتـان د خلــق دموکراتيــک ګونــد مرکــزي کمېټــې پــه هغــو غړيــو کــې، چــې لا آزاد دي ځينــې]غــړي[بــه وي، چــې پــه افراطــي کــارونـو لاس پورې کړي. دوی بـه د حکو مت د خا صو ار ګانـونـو لـه خوا و پـارول شي، چې همدغـسې و کړي. زمـوږ پـه نـظر پـه اوسني حـال کې دغـسې افراطي عمل بـه پـه هېواد کــې د پرمختلليــو ځواکونــو د مــاتې لامــل وګرځــي." مسـکو پــه هماغــه ورځ پــه خپــل ځــواب کــې د نــورو ځيزونـو پـه تـرخ کې وويـل، چې "دغــه امکــان لــه نظــر نــه غورځــول کېــدی نشــي، چــې ســاواک]د ايــران جاسو سي ايجـنسي[بـه دد غه ګو نـد نـظامي څانـګه پـه ارادي ډول د حکومــت پــر ضـد وپــاروي، چــې ورتــه ضربـه ورکړي." لـه دغه پــارونکي شخص نــه بــه مطلــب حفــيظ الله امــين و، چــې د خلــق ګونــدګي د نظــامي څــانګې آ مـر او د ګو نـد د مر کزي کمېټــې غــړی و او شورويـان پـرې شکمن وو. ميـتروخين دد غو پې غامـونـو پــر بنسټ حکـم کــوي، چــې "لکــه چــې ليــدل کېــږي هســتوګنځی]د کابــل ک.ج.ب مرکـــز[، د ســفـارت او مسـکو مشـرانـو د]افغانسـتـان[د هـېواد د وضع پـه اړه دغـومره لــږه پوهــه لرلــه، چــې پــه غلطــه يــې تـ شخيص کو لـه او دد غه امـکان پـر ضد زړه نـازړه وو، چې کـود تـا بـه چې پرې پـيل شوی و، بـر يـالی کـېدی ونـه شي.) 49("

ج.م.کورنیینکو (Kornienko) د شوروي اتحاد د ګوند د پولټبورو علی البدل غړي هم لړ و ډېر د میتروخین په شان فکر کاوه. هغه لا ویل، چې "دغه کودتا د مسکو لپاره نه فکر کېدونکې ده. د غه نه فکر کېدونکي خبر د لومړي ځل لپاره د انګلیس د خبري اژانس رویټر له خوا راور سېد او له هغه ورو سته په کابل کې د شوروي سفارت له خوا د ترسره شوي عمل پېغام راغی. زموږ خاصه خدماتي ایجنسي له هغه نه پخوا تر پخوا خبره نه وه، حتی د هغو لویانو نومو نه چې په واک شول لکه تره کی، کارمل، امین او نور ګرومیکو او نورو شوروي مشرانو ته نااشنا وو. هغوی یواځې د شوروي د کمونست ګوند د مرکزي کمېټې د بین المللي څانګې او ک.ج.ب ماهرانو ته معلوم وو." کورنیینکو دا هم وايي، چې "که مسکو د دوی]د کودتا[په نیت خبر وای، ډېره څرګندده سپارښتنه به یې دا وای، چې ورته لاس وانه چوي، ځکه چې د مارکسزم له نظره دغه هېواد انقلابي شرطونه، نه لري. پر هغه سربېره د پاچا محمد ظاهر او]محمد[داود په وخت کې)له لویدیځ سره د هغه له معاملو سره سره(د شوروي اتحاد او افغانستان اړیکې د دوستۍ وو." (50)

د خلقي حکومت د پوځ سیاسي آمر اقبال وزیري هم لږ و ډېر همدغسې وايي. د هغه په وینا د شوروي حکومت اول نه غوښتل د ثور پاڅون او د خلقي حکومت په رسمي ډول وپېژني. پوزانوف لا حاضر نه و له تره کي سره وویني، که څه هم هغه اول صالح محمد پیروز او بیا ګل محمد نور زوی د همدغه مقصد لپاره د شوروي سفارت ته استولی و. د شوروي حکومت د پوزانوف له لارې خلقي حکومت د کودتا په درېیمه ورځ ورو سته له هغه په رسمي ډول وپېژنده، چې تره کي او امین ور سره ومنله، چې پرچمیانو ته به په حکومت کې برابره برخه ورکوي. میتروخین د وزیري دغاه

لیکنه تاییدوي[51].
دا چې د شوروي اتحاد حکومت نه غوښتل د ثور کودتا او خلقي حکومت سمله لاسه په رسمي ډول وپېژني، لاملونه یې څرګند وو. لومړی دا چې د هغه د لویانو په فکر افغانستان د انقلابي اوښتون لپاره تیار نه و. لا مهمه دا چې دغه کودتا د امین په دستور سرته رسېدلې وه، نه د کارمل په دستور چې هغه د "مرید" په مستعار نامه له 1957 څخه راپه دېخوا د دوی اجنټ و. د توجه وړ ده، چې هم میتروخین او هم وارنینکو د ثور پاڅون د کودتا په نامه یاد کړی، لکه چې په اول کې د شوروي په رسمي خپرونو کې هم هغه د کودتا په نامه یاد شوی دی. بله دا چې که شورویانو د ثور په کودتا کې لاس لرلای، هغه به یې په بېړه په رسمي ډول پېژندلی وای، لکه چې د ختیځې اروپا په ځینو هېوادونو کې یې همدغسې کړي و. د اقبال وزیري له اثر نه دا هم څرګندنده ده، چې د شوریو حکومت سره له دې چې د خلقي حکومت یې په رسمي ډول وپېژندنده، ور سره رښتینی نه و او له هماغه اول نه په دې پسې و، چې دخلقیانو پرځای پرچمیان ونیسي. دغه ټکی د همدغه اثر د بحث غټه موضوع ده، چې وروسته به بیان شي.

د محمد داود تېروتنې

د محمد داود د ژوندانه ډېره غټه تېروتنه شاید دا وه، چې د پاچایي قانوني نظام یې په کودتا سره نسکور کړ، هغه هم په زیاته اندازه د ورو چپي افسرانو په مرسته. په دغې کودتا سره هغه نورو ته وښودله، چې که وغواړي دوی هم په کودتا سره دولتي قدرت نیولی شي. له دغې کودتا وروسته و چې حفیظ الله امین په پوځ کې د افسرانو په جلب او جذب پیل وکړ، ترڅو چې په هغه باندې یې هم کودتا وکړه. بله دا چې محمد داود په خپلې کودتا سره د پرچم ګوندګي ته

حیثیت قایل شو، په تېره وروسته له هغه چې پرچمي افسران او ملکي غړي یې په خپلې کابینې کې وزیران وټاکل، په داسې حال کې چې له هغو سره د هغه ایتلاف په اصل کې بې بنسټه و. دی نیشنلست او هغوی کمونستان او په فکري یا ایډیالوجیکي لحاظ سره مخالف وو. همدا چې محمد داود له خپلو اولو ورکړل شویو ژمنو وعدو نه مخ واړوه، نه یواځې هغوی، بلکې د خلق ګوند دواړه څانګې تربېنه واوښتلې. په واقع کې د غو چپیانو له پیل نه په حکومت کې ایډیالوجیکي سیاست پرمخ بیوه.

د محمد داود بله غټه تېروتنه دا وه، چې په ولسمشري دوره کې یې د صدراعظمی دورې پرخلاف د یو څو وزیرانو نه پرته ناوړ او بې تجربې وزیران په ځان ټول کړي وو. په دې اړه یې حتی د خپلو خوا خوږو شکایتونو ته هم غوږ و نه نیوه. د هغه د ورور محمد نعیم له خولې روایت دی، چې "اغا لاله ام کر و کور است." څنګه چې محمد داود په ولسمشري دوره کې په چپیانو ډډه کړې وه، دده او د پاچایي د وزیرانو ترمېنځ د ګډ کار کولو فضا له مېنځه تللې وه. د غه حال په پوځ لا ډېر صدق کاوه. په پوځ کې لویو افسرانو ارزښت او درنښت له لاسه ورکړ، په تېره هغه وخت چې تر شلو نه د ډېرو برحال جنرالانو ته سملاسه تقاعد ورکړل شو. محمد داود د محمد هاشم میوندوال د کودتا په تور پوځ له دغسې افسرانو څخه خالي کړ، چې په اصل کې ملتپال، وطنپال او دده طبیعي ملګري وو. کوم هغه واړه نظامي افسران، چې محمد داود د غټو ملکي او نظامي مقامونو ته هسک کړل، هغه کسان وو چې دده د صدراعظمی په وخت کې یا له هغه وروسته شوروي اتحاد ته د مسلکي لوړې زده کړې لپاره استول شوي وو. دوی د قدرت سخت لېوال وو، حکومت ته به معلومه وه چې دوی یا د دوی ځینې د خلق دموکراتیک ګوند غړي شوي او تر حکومت نه زیات

په خپل ګوند باندې ولاړ دي. دا چې د ځينو روايتونو له مخې حکومت د ګوندي لويانو له بندي کولو نه وروسته د ډېرو چپي افسرانو د بندي کولو امر هم ورکړی و، ښيي چې حکومت د هغو له ګوندي کېدلو نه خبر و. حکومت ته به دا هم معلومه وه، چې له هغو لسو زرو افسرانو نه، چې په شوروي اتحاد کې يې زده کړه کړې وه، يو شمېر يې د شوروي تر نفوذ لاندې تللي کمونست يا کمونست ډوله شوي وو.
د محمد داود د ناکامۍ بل لامل دی په خپله و، چې د ثور د کودتا په وخت کې 68 کلن او په ځان هم پنځ او له ډيناميزم نه لوېدلی و. لکه چې دمخه ويل شوي، زړه يې هم پوره سالم نه و، نو دی په اضطراري حال کې د حکومتي چارو په ځار نه کې ډيناميک کېدلی نه شو. په دغه حال کې هم ده دغسې يو څوک خپل مرستيال وټاکه، چې دده ځای يې نيولی نه شو. د غې موضوع وزيران سره وويشل او حيدر رسولي د ولسمشر کېدلو لپاره تخريب کاوه. په اصل کې د ولسمشر محمد داود د امنيتي وزارتونو سروالان د کار سړي نه وو، په تېره حيدر رسولي چې د ځان لپاره يې اجندا هم لرله. له بلې خوا په ملکي او نظامي څانګو کې ګونديانو په ظاهر کې خپلو آمرانو په تېره رسولي ته غوړه مالي کوله او په پټه يې خپل کار کاوه. نه يواځې رسولي، چې د محمد داود په شان صاف زړی مسلمان و، په خپله ولسمشر هم دغسې ګوندي غوړه مالانو باندې تېر وت، نو دوی دواړو په ځينو چپي افسرانو باندې د شک په حال کې هم د هغو په لوړو او غوړه ماليو باندې بسنه کوله، حال دا چې چپي ګونديان د خپلې ايډيالوجۍ له مخې په ځرګند ډول يو څه او په واقع کې بل ډول وي. په عين حال کې محمد داود، چې د افغانستان د عصري پوځ مؤسس و، فکر نه کاوه چې پوځيان به دده پرضد جګ شي. د محمد نعيم له خولې نه ويل شوي، چې "فکر نميکنم که

اردو به رهبر خود خیانت کند. همین داود خان بود که اردو را رشد داد و از اردوی عقبمانده اردوی منظم و عصری بوجود اورد. اگر اردو به داود خان خیانت کند، دیگر این اردو به درد هیچکس و هیچ نظامی نمیخورد.[52]" د همدغه ساده فکر له مخې به و، چې کوندي لویان د ولایت په توقیف خانه کې واچول شول، نه په کوم بل ټینګ ځای لکه په ارګ کې. مؤلف شاه زمان ستانیزی لیکي: "بعد از دستگیری تره کي و ببرک به سردار داود خان پیشنهاد شده بود که زندانیان باید در ارگ نگاهداری گردند. اما این پیشنهاد نیز پذیرفته نشد و باین اکتفا گردید که رهبران حزب زندانی شده اند دیگر خطر کودتا رفع گردیده است.[53]"

جمهوري ګارد هم چې باید د کوندیانو تر بندي کېدلو نه دمخه پیاوړی شوی وای، پیاوړی شوی نه و. ټاکل شوې وه، چې درې ورځې وروسته به هغه ته نورې وسلې ورسېږي. عجبه دا ده، چې د کودتاګانو اوازې چې ډېرې وې هم ټینګې نیول شوې نه وې. حتی تر کودتا دوه یا درې شپې دمخه بي. بي. سي چې په خپل فارسي سرویس کې د افغان پوځ له خوا د کودتا خبر خپور کړی و، هم په چارواکیو اثر کړی نه و. د ملي دفاع وزیر حیدر رسولي دغومره وکړه، چې د ثور په پېنځمه زغرورو قوتونو ته یو هیات واستوي. دغه هیات بېرته د خیریت راپور راوړ او بیا نور څه و نه شول، نو د ثور کودتا هغومره چې د کودتاچیانو د ټینګې ارادې او غوښ عمل نتیجه وه، په هماغه اندازه د ولسمشري د امنیتي لویانو د ناوړتیا نتیجه وه.

د ثور کودتا یا د ثور انقلاب؟

خلقي لویانو د ثور په پېښې باندې د "انقلاب" نوم کېښود او هغه یې د "پرتمین او دوران جوړونکي انقلاب" په نامه بیخي ډېر یادوه، په

دې هیله، چې افغانان به یې هم په دغه نوم ومني او د دوی له حکومت نه به خوښ وي، چې دغسې غټ او بې ساری کار یې کړی دی او که کوم څوک دغه "پرتمین انقلاب" او د دوی واکمنۍ ته، چې هغه یې عملي کړی دی په کږه سترګه وګوري، حکومت بیا حق لري، چې هغه "انقلاب ضد" وګڼي او و یې ټکوي. په دې ډول خلقي لویانو دغسې ګڼله، چې دوی ددغه "پرتمین انقلاب" په سرته رسولو سره په واقع کې د افغانانو د ژوند او مرګ حق ترلاسه کړی دی. بیا نو دوی خپل او د انقلاب مخالفان د "انقلاب ضد" په نامه ټکول لکه چې جذمي مذهبیانو خپل مخالفان د "کافر" په نامه ټکول او اوس یې هم ټکوي. په دې ډول خلقي لویانو ته د "ثور پرتمین انقلاب" د دین په شان سپېڅلی او له انتقادي نظر نه اخوا وګڼل شو، په داسې حال کې چې هغه د لاندې بحث له مخې د دولتي قدرت د ګټلو په لار کې یوه سوچه نظامي کودتا وه.

د محمد داود په سروالۍ دولمشري نظام نسکورول او پرځای یې د افغانستان خلق دموکراتیک جمهوریت په پښو درول د ولس یا کارګرو او خواري کښو کار نه و، هغه یوازې د پوځ کار و. د ټول پوځ کار هم نه و. په پوځ کې د هغې وړې برخې کار و، چې ستراتیجیکي مقام یې لاره او له هغه ځای څخه یې د لوړ دولتي قدرت مرکز په بیړه له کاره وایست، په یوه حساب د لسو ګړیو او په بل حساب د څلورویشت ګړیو په بهیر کې یې حکومت یا په دقیق ډول د حکومت د سروالۍ مقام د بیخي ډېرو افغانانو په وژلو سره ترلاسه کړ. د پوځ دغه وړه برخه د څرخي پله څلورمه زغروره قوه، د پېنځلسمې زغرورې قوې لوا، د قرغې فرقې د ټانک کنډک او د هوایي قوتونو غټه برخه وه. په دې ډول دغه کودتایي عمل د هغو نظامیانو کار و، چې تر نورو ډېر په پېچلو او پرمختللو تخنیکي وسلو سمبال وو. د

افغانستان د ټول پوځ نظامي سرتېرو او افسرانو څخه شاید څه باندې دوه زرو یې په کودتا کې برخه اخیستې وي. په دوی کې هم ځینو له وېرې نه برخه اخیستې وه. په کابل او ټول ملک کې د پوځ ستره برخه د برحال حکومت پر خوا او د کودتا کوونکیو پر ضد وه، خو پېښې په دغسې چټکۍ سره رواني شوې او نتیجه دغومره زر د کودتاچیانو لاس ته ورغله، چې هغوی ټول د ولسمشر محمد داود له مرګ نه وروسته له بشپړ شوي عمل سره مخامخ شول.

په عنعنوي ډول انقلاب هغه تغییر ته ویل کېده، چې د حکومت په ترکیب کې پېښېده او حتمي نه وه چې هغه به له تشدد سره ملګری وي. څه وخت چې په حکومت کې به یو وزیر د بل وزیر پرځا ټاکل کېده، خلکو به هغه ته انقلاب وایه، خو له 1978 نه وروسته د انقلاب مفهوم تغییر وکړ، "خلکو ته دغه کال د یوه نوي انقلاب پیل، له تېرې سره ځرګنده پرېکړه وه، چې د زور په استعمال سره به ترسره شوی وي او د اجتماعي، سیاسي او اقتصادي اساسي او ښتون لپاره نامحدود امکانات برابر کړي او خلک هم داسې وګڼي، چې دغه نوې حادثه له ملي پولو نه اوړي او عمومي او عالمي خاصه لري.(54)" وروسته انقلاب په دغه مفهوم سره وپېژندل شو، چې د یوې ټولنې زیاتره غړي په خپل شعوري عمل سره مسلط نظام په خپله ګټه رنګ کړي او پرځای یې تر هغه لا ښه نظام په پښو ودروي. په دې اړه د شلمې پېړۍ نومیالی انقلابي لېنن وایي، چې "ددې لپاره چې انقلاب پېښ شي، د استثمار شویو او ستم ځپلو پرګنو لپاره کافي نه ده، چې په زړې لارې باندې د ژوند کولو ناممکني درک کړي او او ښتون و غواړي، ددې لپاره چې انقلاب پېښ شي اساسي ده، چې استثمار کوونکي په زړه ژوند او حاکمیت و نه شي کولی. یواځې هغه وخت، چې)لاندې طبقې(ونه غواړي په زړه لار ژوند وکړي،)پورتنۍ

طبقې(و نه شي کولی په زړه لار حاکمیت ته دوام ورکړي، انقلاب بریالی کېدلی شي." لېنن دا هم وايي، چې "انقلاب په ټول ملک کې له عمومي بحران نه پرته) چې استثمار کوونکي او استثمار شوي دواړه متاثر کړي(امکان نه لري. له دېنه داسې نتیجه اخیستل کېږي، چې ددې لپاره چې انقلاب پېښ شي، اساسي ده چې لومړی د کارګرو اکثریت) یا لږ تر لږه د طبقه ییز شعور خاوند، په سیاسي لحاظ فعال او سوچمن کارګران(پوره درک کړي، چې انقلاب ضروري دی او دوی دېته تیار دي، چې د هغه لپاره ځانو نه قربان کړي. دویمه دا چې حاکمې طبقې په دغسې حکومتي بحران کې لتاړې وي، چې حتی تر ټولو بېرته پاتې کارګران هم په سیاست کې کشوي... حکومت ناتوانه کوي او د انقلاب کوونکیو لپاره ممکنه کوي، چې هغه په چټکۍ سره نسکور کړي."(55)

ددغه تعریف له مخې په کابل کې نه د ثور پېښه او نه د روسیې په پتروګراد کې د 1917کال د اکتوبر پېښه انقلاب کېدی شي، دواړه په واقع کې کودتاګانې دي.

د روسیې انقلاب د همدغه کال په فبروری کې پېښ شوی و، چې په هغه سره په داسې حال کې چې روسیه په لومړي نړیوال لوی جنګ کې له ماتې سره مخامخ شوې وه، امپراتور نیکولای د عمومو په تېره د عسکرو په تقاضا سره ګوښه کېدلو ته اړ شو او د کرنسکي په صدراعظمۍ یو غیر خانداني موقتي حکومت مېنځ ته راغی او د نوي سیاسي نظم د جوړښت په اړه د سیاسي ګوندونو ترمېنځ کوښښونه جاري شول، خو د کرنسکي غټه تېروتنه د پوځ او بولشویکي ګوند په مخالفت دا وه، چې جنګ ته یې لا هم دوام ورکړ. په نتیجه کې سیاسي فضا کړکېچنه او په ګوندونو کې قدرت ته د رسېدلو هڅه پیاوړې شوه. "د موقتي حکومت پلویان دموکراتیکي عملیې ته ژمن وو او په دې ډول د دوی په مخ کې پارلماني کړنلارې او

قانوني مقرري د لارې خنډونه وو. د مساوات غوښتونکيو مشران _په تېره په هغو کې بولشويکان په اوله درجه_ متعهد وو، چې د)خلقو(په نامه په هرې لارې سره چې کېدی شي، قدرت ترلاسه کړي." په دغه حال کې د نومبر په اوومه)د پخوانۍ جنتري له مخې د اکتوبر په 25مه("سر تېرو د مرکز ستراتيجيکي ځايونه ونيول. د اتم نومبر د سبا په اولو ساعتونو کې د پترو ګراد د چونۍ شوروي پلوو سرتېرو، د کرون ستاډ سمندري عسکرو او د کارګرو سرو ساتونکيو په قصر باندې حمله وکړه، چې د نظامي ښوونځيو ځوانانو او حتی د ښځو يو ټولی يې په ضعيف ډول دفاع کوله او د موقتي حکومت وزيران بندي کړل. په خپله کرنسکي يو څو ساعت دمخه تر هغه تښتېدلی و. د شوروي حکومت په پتروګراد او روسيې کې جوړ شو." "په دې ډول دوی د 1917کال په اکتوبر کې نږدې په يوې سپينې کودتا کې په دغه کار بريالي شول."(55ب)

آيا په افغانستان کې هغسې، چې لېنن د انقلاب لپاره شرايط ښودلي، د 1357 کال په ثور کې وضع هغسې وه؟ نه ګرد سره نه وه. په دغو پېښو کې لکه څنګه چې وليدل شول، يواځې په کابل کې د پوځ وړې برخې برخه اخيستې وه او غټې برخې يې له کودتا سره مخالفت وکړ. نور خلک خو څه کوي، چې پرې خبر نه وو، ګوندي لويان هم پرې خبر نه وو. د ګوند د پرچمي اړخ غړيو لا له يو څو تنو نه پرته په سر کې ور سره مخالفت وکړ. له غېر نظامي ګوندیانو نه يواځې امين او يو څو تنه ارتباطي غړي خبر وو او بس.

ګوندیان ادعا کوي، چې کومو هغو افسرانو، چې په دغو پېښو کې ګډون کړی وو، د بزګرو، کارګرو او په عمومي ډول د خواريکښو زامن وو او دوی د هغو هيلې واقعي کولې. دا د شعور يا ويښتيا موضوع ده. ددغې ادعا مانا دا کېږي، چې د افغانستان خواريکښان له خپل بدحال نه خبر،

ترېنه بېزار او د هغه د اوښتون په لټه کې وو، خو په خپله یې د اوښتون راوستلو توان نه لاره او د دوی رښتیني زامن یاني دغه افسران چې د خلق ګوند په خلقي مفهومونو او ارزښتونو مجهز کړي وو، د دوی په استازیتوب پاڅېدل، هغه نظام یې ړنګ کړ، چې د دوی په تاوان او د فیوډالو او پانګه ورو په ګټه وو.

د افغانستان د خواریکښو په برخه کې دغومره ویل کافي دي، چې کارګر پکې بېخي لږ وو او د هغو ډېر شمېر دولتي کارګران او لږ یې د خصوصي صنعتونو کارګران وو. دوی ټول هغسې کارګران نه وو، چې د نولسمې پېړۍ په سر کې په لویدیځې صنعتي اروپا کې وو. په فرانسې کې په دغه وخت کې دغسې کارګرو د لږې اجورې په برابر کې په شپه او ورځ کې تر دولسو ساعتونو نه ډېر کار کاوه. د مارکس په تعبیر هغوی د خپلو غړیو قوه یواځې د ژوند کولو لپاره لرله او هغه یې د صنعتونو په خاوندانو خرڅوله، نو د افغانستان د کارګرو وضع د هغه وخت د اروپا د کارګرو له وضع نه غټ توپیر لاره. افغانستان په اصل کې یو زراعتي هېواد او د ځمکه والو غټه برخه واړه ځمکه وال وو. لوی ځمکه وال هم په هرات، فراه، میمنې او مزار کې وو، خو نه په ډېر شمېر. په ټول ملک کې یواځې یو څو تنو ځمکه والو که د زرګونو جریبو هغسې ځمکې لرلې، چې په روانو اوبو سره خړوبېدلې. د وړو ځمکه والو ترڅنګ زراعتي اجاره ګر، بې ځمکې بزګر، زراعتي کارګر د ټولنې ستره برخه وه. د دوی په اړه دغه څیز په نظر کې نیول مهم دي، چې له ځمکه والو سره د دوی اړیکې د پېړیو پېړیو د عرف او رواج له مخې داسې منظم شوې وې، چې د دوی برخه د ځمکې د ماهیت په تناسب یا نیمایي، یا دویمه یا دریمه یا څلورمه یا پېنځمه وه او د حکومتي مالیاتو تادیه د ځمکه والو په غاړه وه. په کندوز کې لا د ځمکې د اجاره ګرو عایدونه د

حکومتي اوسط مامور له قانوني عايد نه ډېر وو. د ځمکې د اجاره ګرو عايدونه په عمومي ډول تر نورو ډېر وو. هغومره چې دوی خواري کوله، په هماغه تناسب يې حاصل ترلاسه کاوه. يواځې د هغو بزګرو وضع خرابه وه، چې بزګري ورته نه پيدا کېدله. دغسې کسان به لويو ښارونو په تېره د کابل شاوخوا کې په صناعتي اجوره کارو تبديلېدل. په دې حساب ځمکو ته منسوب بزګران په يوه استثنی سره د زراعتي لبر و ډېر شتمنيو په لرلو سره د مارکسستي اصطلاح له مخې د وړو بورژواګانو په ډله کې شمېرېدلی شول. داسې شواهد هېڅ نه شته، چې وښيي چې دوی به په کليو او بانډو کې صنعتي يا طبقه ييز شعور پيدا کړی وي، چې له ځمکه والو نه يې بېل يا له هغو سره متضاد کړي. همدا لامل دی، چې دوی هېڅ وخت د صنعتي روحيې له مخې د ځمکه والو په برابر کې په ګډه عمل نه دی کړی. په معاصر افغانستان کې په تېره د امير عبدالرحمن په دوره کې د مرکزي حکومت له پياوړي کېدلو نه وروسته هغومره، چې دوی حکومتي مامورانو ټکولي ځمکه والو په هغه اندول ټکولي نه دي. ځمکه والو د هغو د ټکولو لپاره نه حقوقي دليلونه او نه عملي امکان لاره، نو عجبه نه ده چې دوی له ځمکه والو او روحانيانو سره په ګډه يو وخت بل وخت د حکومتي نادودو په مقابل کې پاڅېدلي وي. دوی هېڅ وخت د مجردو مفهومونو لکه نظام، صنف، طبقې او طبقه ييز جنګ او داسې نورو په فکر نه وو. د معاصر افغانستان د سياسي تاريخ تر ټولو مهم اړخ له حکومت سره د نورو ډلو په تېره د ځمکه والو ټکر او دننه په واکمنې کورنۍ او په حکومت کې د اعلی واک په سر د فردونو، کورنيو او ډلو ترمېنځ جګړې وې. له دغې شرح نه جوته ده، چې د غه کود تايي نظاميان د خواريکښو د فکري او عملي ليکې استازي نه شي کېدای.

د کودتاچیانو بله ادعا هم سمه نه ده، چې
ویل یې نظامي پاڅون کوونکي د افغانستان د
خواریکښو او بېوزلو زامن دی. په دغه حکم کې
دغه مفهوم پروت دی، چې کوم هغه څه چې نظامي
کودتاچیانو وکړه، د خواریکښو پلرونو د فکر او
هیلو له مخې یې وکړل، خو دا د واقعیت پرخلاف
دي. نظامي ګوندیان ټول تعلیم کړی وو او د دوی
د زده کړې موده لږ تر لږه شپاړس کاله وه. په
افغانستان کې زده کړه که څه هم وړیا او عمومي
وه، د خواریکښو او بې وزلو زامنو لپاره په
عمل کې ممکنه نه وه، چې د غومره اوږده موده په
زده کړه کې تېره کړي. په دې برخه کې د
لیکوونکي د زده کړې تجربه ده، چې تر دولسم
ټولګي پورې یې په سلګونو هم ټولګیان له لاسه
ورکړي دي، ځکه چې هغوی په اقتصادي لحاظ تر
دولسم ټولګي پورې درس ویلی نه شو. یوازې هغو
هلکانو زده کړه کولای شوه، چې پلرونو یې د هغو
کار ته اړتیا نه لرله. نظامي او نور ګوندیان
په تېره پرچمیان نږدې ټول د لویو یا وړو
بورژواګانو، ځمکه والو، بیوروکراتانو، پانګه
ورو، خانداني غړیو او داسې نورو ډلو کې راځي.
په دغه ډول دغه نظامي تعلیم کړي د عایدو،
سلقې، نړی لید او په یوه کلمه د شخصیت له مخې
له عادي وګړیو نه متفاوت او حتی ور سره مخالف
وو. د عصري تعلیم کړو افغانانو په توګه دوی
په دغسې کسب اخته وو، چې سروکار یې له تخنیک،
قدرت او دولت سره وو. هغوی چې په ګوند کې
منظم شوي او له کمونستي مفهومونو سره اشنا
شوي وو، متعهد شوي وو چې د خپل ګوند په دستور
دولتي واک په یوه ګړندي غیر قانوني عمل سره
ترلاسه کړي. دوی په دغسې ایډیالوجۍ کې نغښتي
وو، چې د افغانستان د وضع او د افغانانو د
ذهن محصول نه، بلکې له باندې په تېره له
شوروي اتحاد نه راوړل شوې وه. په دغه حساب
دغه تعلیم کړي ځوانان له خپل ولس نه بېګانه

شوي وو، خو څنګه چې ددغې بېګانه ایډیالوجۍ اساسي ټکی د قدرت ترلاسه کول او دوی په خپله هم د هغه شوقیان وو، دوی په هغې ټینګ ودرېدل، بې له دې چې د خپل هېواد مشخص واقعیتونه په نظر کې ولري.

له بده مرغه په افغانستان کې نظامي او سیاسي قدرت هر وخت سره تړلي او نظامیان د سیاست شوقیان وو. له 1956 نه وروسته، چې پوځ په نویو وسلو سمبال او عصري شو او زیاتره افسرانو د شوروي اتحاد په ګډون په بهرنیو ملکونو کې هم زده کړې وکړې، د نظامیانو حیثیت دننه په وطن کې تر پخوا لا لوړ شو. نظامي ډګر د حکومتي کېدلو او د واکمن کېدلو لپاره تر پخوا لا مهم شو. افغانستان، چې د خپل خلکو په تناسب لوی پوځ او افسران لرلي، هر وخت یې مستعد ځوانان جلب کړي دي. هغومره، چې دغه هېواد د سړي په سر ډېرې وسلې لرلي، په هماغه اندول یې تر هر ملک نه ډېر افسران لرلي دي. په دې ډول په معاصر افغانستان کې نظامي افسرانو په عمومي ډول او د خلقي کودتایي نظامیانو په خاص ډول د هېواد په سیاست باندې ډېر اثر کړی دی، خو په سیاست باندې د دوی اثر د خواریکښو افغانانو په تاوان تمام شوی دی. په دې اړه د یو څو بېلګو یادونه کوم، که څه هم هغه به مو له اصلي مطلب نه یو څه لیرې کړي.

د محمد داود د صدراعظمۍ په وخت کې پخوا له دې چې په کال 1955 کې لویه جرګه وبلل شي او حکومت له شوروي اتحاد نه د وسلو پېرودلو ملاتړ ترلاسه کړي، د پنځوسو یا شپېتو لوړ رتبه نظامي افسرانو په ګډون یوه نظامي شورا جوړه شوې وه. محمد داود هغې ته څرګنده کړه، چې لویدیځ هېوادونه نه غواړي په افغانستان باندې وسله خرڅه کړي او امریکا لا غواړي، چې ددغې معاملې په بدل کې په افغانستان کې هوایي هډې ولري،

په داسې حال کې چې د شوروي حکومت هم افغانستان ته وسله ورکوي او هم زموږ د ناپېیلتوب د دریځ درناوی کوي، نو موږ باید له شوروي اتحاد نه وسله ترلاسه کړو. هلته دا هم وویل شول، چې لویدیځ د پاکستان ننګه کوي او ورته وسله ورکوي او پاکستان خو د پښتونستان د کشالې په سر د افغانستان لپاره خطر دی. شورا په اتفاق سره د محمد داود نظر ومانه، یواځې جنرال اسدالله ساپي د ملي دفاع وزارت د محاکمو رییس ورسره مخالفت وکړ، په دغه دلیل، چې افغانستان تراوسه پورې د ناپېیلتوب په حال کې ځان په مېړانه ساتلی او اوس نه شایي خپل هېواد د روسانو غېږې ته وغورزوو. تاریخ پوه او نامتو دیپلومات نجیب الله توروایانا او د پوهنې پخوانی وزیر او نامتو عالم فیض محمد ذکریا او داسې هم عبدالروف د ملي بانک سروال له همدغې موضوع سره د مخالفت له امله افغانستان پرېښود. په دې ډول د افغانستان د کشالو سرچینه د همدغو نظامیانو دغه فیصله شمېرل کېږي. دوی په دې نه پوهېدل یا نه غوښتل په دې پوه شي، چې همدغه شوروي اتحاد د ختیځې اروپا له هېوادونو سره څومره زورواکي کوله. دوی په دې هم نه پوهېدل، چې د نړېوال ساړه جنګ په حال کې، چې شوروي اتحاد له افغانستان سره مرسته کوله، په واقع کې یې له خپل ځان سره کوله. شوروي لویان په سر کې یې خروشچف او بولګانین په دې پوهېدل، چې که افغانستان د امریکې په کامپ کې ودرېد، دوی به بیا مجبور وي په خپلو اسیایي جمهوریتونو کې دغومره ډېر نظامي تاسیسات ولري، چې لګښت به یې له هغه لګښت نه بېخي زیات وي، چې په افغانستان کې یې کوي. دغه نظامیان دېته هم ملتفت نه وو، چې د پاکستان له خوا افغانستان ته کوم اساسي خطر متوجه و؟ دوی دېته هم پام ونه کړ، چې افغانستان او پاکستان سره دغومره ډېر اړیکې

لري، چې په نړۍ کې به یې بل دوه ګاونډي هېوادونه سره ونه لري. که افغانستان هر وخت د ډیورنډ د کرښې له خوا پښتو او بلوڅو سره د عنعنوي خپلوۍ ریښې ټینګې او په رښتینې ډول وساتي، په پاکستان باندې به یې لاس بر وي.

د افغان نظامي افسرانو بل مثال هغه خلقي افسران دي، چې په خپلو ګوندي لویانو باندې یې فشار راووړ، چې باید د محمد داود د ولمسشري نظام ړنګ شي. د غه افسران له د غه درک نه عاجز وو، چې کومه هغه سیاسي تشیا چې د حکومت په نسکورېدلو سره مېنځ ته راشي، د دوی ګوند به یې ډکه نه کړای شي. د غو نظامیانو چې د خپلې ایډیالوجۍ له مخې هغه نظام نسکور کړ، پرېمانه وینې یې تویې کړې، چې خپل نظام د هغه پر ځای پر پښو ودروي. ددغو نظامي افسرانو وروستي مثال لا هم ورانونکی ثابت شو. د شورویانو په یرغل سره، چې ددغو "انقلابي" افسرانو حکومت یې له مېنځه یووړ، دوی وظیفه لرله، چې د خپلو خواریکښو "پلرونو"، وطن، ازادۍ، ناموس او خپلواکۍ په خاطر د یرغل دفع وکړي. دوی په اصل کې د همدغه مقصد لپاره د همدغه غریب ولس په پېسو روزل شوي وو، خو له جمهوري ګارد او یو څو نورو پرته دغه "انقلابیان" د خپلو "پلرونو" په وژلو کې د یرغلګرو مرستندویان شول. له دوی نه ډېرو او ورسره ډېرو غېر نظامي خلقیانو وویل، چې حفیظ الله امین به داسې څه کړي وي، چې شوروي اتحاد یې حکومت ورنسکور کړ. حقیقت دا دی، چې څومره د غه انقلابي افسران له خپل ولس نه بېګانه شوي او د یوې بېګانه ایډیالوجۍ تر اثر لاندې د پردیو د مقصد لپاره استخدام شوي وو، د افغانستان په اوږده تاریخ کې نور افسران هېڅ وخت دغسې نه وو شوي. د همدغه حقیقت له مخې و، چې د کابل وطنپالو ښځو د غو افسرانو ته د"مېرمن منصبدار" خطاب کاوه.

په پای کې دلته به دد غو انقلابیانو نظر هم

راوړل شي. دوی خپل "انقلاب" په دغه دلیل سم ښود، چې "فیوډالزم، پانګه وري، کمپرادوري او روحانیت" افغان خواریکښان زبېښلي او د ژوندانه له نعمتونو نه بې برخې کړي دي. د دوی په فکر دد غې بې عدالتۍ چاره له انقلابي عمل نه پرته په بل ډول نه کېږي او دوی د همدغه مقصد لپاره "انقلاب" وکړ.

اول خو د افغانستان اجتماعي وضع دغسې نه ده، چې دغو "انقلابیانو" تشخیص کړې ده او په هغې لارې، چې دوی لاړل د هغې چاره هم و نه شوه.
پر هغه سربېره خلقي او وروسته په پرچمي دوره کې د غومره خلقي پاڅونونه، چې په افغانستان کې وشول، په بل هېڅ وخت په د غومره وخت کې نه و شوي. ددغو "انقلابیانو" اساسي تېروتنه دا ده، چې دوی د مارکس او لېنن انقلابي نسخه، چې د یوې ارو پایي صناعتي ټولنې لپاره ایستلې شوې وه، دوی په افغانستان غوندې زراعتي هېواد کې خپل سرمشق وګرځوله. د مارکس نظر دا و، چې په یوه صناعتي هېواد کې د پانګه والۍ په انکشاف سره به کارګران، چې شمېر به یې وار په وار ډېرېږي او غریب کېږي، د پانګه والۍ د زبې ښاک له امله به تر دې حده پورې انقلابي کېږي، چې یوه ورځ به په خپل انقلابي عمل سره د پانګه والۍ نظام ړنګوي او پر ځای به یې تر هغه لا ښه سوشلستي نظام په پښو دروي، خو د صناعتي هېوادونو په کارګرو کې تر ننه ورځې پورې د غه میل د غومره ضعیف دی، چې په اصل کې د توجه وړ نه دی. پرځای یې دغه میل عالمي شوی، چې د پانګه والۍ نظام د ننه سمونونه وشي، د کارګرو د کار موده لنډه شي، اجوره یې ډېره شي او داسې نور... د همدغه عالمي میل له امله د مارکس د نظر له مخې تراوسه د نړۍ په هېڅ صناعتي هېواد کې انقلاب پېښ شوی نه دی. انقلاب په روسیې کې وشوو خو هغه په کال 1917 کې د فبروري په میاشت کې و، چې غټ عامل یې لومړی

نړیوال جنګ و، چې روسیې پکې ماتې خوړلې وه او سرتېرو یې د ځمکو په تمه له جنګ کولو نه ډډه کوله. اته میاشتې وروسته له هغه لکه چې دمخه ویل شوي، په داسې حال کې چې نوی حکومت هم د پخوا په شان جنګ ته دوام ورکاوه او سرتېرو یې جنګ نه غوښته، یو شمېر کارګرو او سرتېرو د پتروګراد په مرکزي ښار کې د دغه موقتي حکومت په کودتا سره نسکور کړ او بولشویکان واک ته ورسېدل، خو روسیه په دغه وخت کې ډېره لږه صناعتي وه. د اروپا د صناعتي هېوادونو په شان صناعتي نه وه، یو ډېر پراخ زراعتي او د بزګرو هېواد و.

په هر حال، بولشویکانو د روسیې په فبروري انقلاب کې رول نه دی ادا کړی، د اکتوبر په کودتا کې یې د لېنن او تراتسکي په مشرۍ غوښ رول لرلی، خو په دغه وخت کې دوی مخکښان وو، نه بزګران. بولشویکانو د ځمکې په تمه بزګران خپل ملګري کړل، په داسې حال کې چې بزګران د مارکس په نظر غیر انقلابي او د برحال نظام علاقمن ګڼل کېدل. دا ځکه چې بزګران د کارګرو پرخلاف لږ و ډېر د شتو خاوندان وو، نو د مارکس دغه نظر چې د کارګري طبقې ازادول په خپله د کارګرو کار دی، د روسیې په انقلاب کې صدق نه کوي. له همدې امله و، چې په روسیه کې له انقلاب نه وروسته کمونستي یا بلشویکي ګوند حاکم شو، نه کارګران. له هغه وروسته، چې په زراعتي هېوادونو کې د چین په ګډون انقلابونه وشول په هغو کې هم د مارکس نظر شاته و غورزول شو.

د افغانستان د 1357 کال د ثور میاشتې په پېښو کې نه کارګرو او نه بزګرو رول لاره. په دغو پېښو کې لکه چې ولیدل شول، نظامیان مخکښان او ګوندیان شاکښان او لویان یې بندیان وو. هغه نظامیان هم ګوندیان وو، خو هغوی د ګوندیانو په نامه نه، بلکې د نظامیانو په

توګه مخکښان شول. په داسې حال کې، چې له يو څو ګونديانو نه پرته نور ټول ګونديان له پاڅون نه خبر نه وو. کارګران، چې ډېر لږ او بزګران چې ښه ډېر وو، د پاڅون په قصه کې هم نه وو. لکه چې دمخه وويل شول، په دغو پېښو کې د نظاميانو رول غوڅوونکی ثابت شو او حکومت په اولو ورځو کې څرګنده کړه، چې "موږ انقلاب کړی دی او موږ يې ساتو." له "موږ" نه مطلب همدغه نظاميان وو. حکومت د غه وينا په واقع د همدغو افسرانو په ډاډينې ورکړه، نه د خلکو په ډاډينې، که څه هم په خپلو تبليغونو کې يې د هغو نوم ډېر ياداوه. حکومت دغو "انقلابي" افسرانو ته بېيا امتيازونه ومنل، يو شمېر يې په ملکي ساحو کې لوړو مقامونو ته هسک کړل، لکه وزيران او د ګوند د مرکزي کمېټې غړي او نور يې په پوځ او څارندوی کې د لوړو افسرانو پرځای کېنول او د ټولو افسرانو معاش يې په سلو کې سل زيات کړ. په داسې حال کې، چې دوی په عمومي ډول د تخنيکي او ماشيني چارو واړه افسران او په دولتي چارو کې بې تجربې او ناوړ کسان وو. په حکومت کې د نظاميانو اهميت تر دې حده ډېر شو، چې حفيظ الله امين د هغو لا خوښ ساتلو لپاره يوه نوې تيوري وايستله او هغه يې نور محمد تره کي ته منسوبه کړه. "در افغانستان امکان است که از کوتاه ترين راه قدرت سياسی بدست خلق برسد و آن راه کلاسيک که بايد نيروهای مولده مراحل مختلف خود را پيموده و باز جامعه مبتنی بر سوشلزم علمی را بنيان نهد مدت طولانی يی را ايجاب مينايد. پس کوتاه نمودن اين مدت طولانی چنان صورت گرفته ميتوانند که در قوای مسلح افغانستان کار وسيع و عميقی انجام پذيرد." امين دغه مطلب د ځان له خوا په دغه ډول بيان کړ: "لينن مرکز قوت اجتماعی را در پرولتاريای روسيه يافت. رهبر کبير ما نور محمد تره کی مرکز قوت جامعه مارا

در قوای مسلح افغانستان درک کرد و با در دست داشتن مشعل دوران ساز پرولتاریا این قوت را تنویر کرد." (56)

په اصل کې د همدغه نظر پر بنسټ، و چې همغه ویلي و، چې: لومړی باید اردو تر خلقي رهبرۍ لاندې راولو او بیا سیاسي قدرت ونیسو." (57) څنګه چې په افغانستان کې د کارګرو او بزګرو انقلابي شعور صفر و، نظامیان یواځیني کسان وو، چې "انقلاب" یې کولی، یانې برحال نظام یې نسکورولی شو، نو خلقي ګوندیانو همغوی په انقلابي مفهومونو مجهز او په ګوند کې تنظیم کړل او همغو هم د خلکو په نامه ورته دولتي واک ونیوه.

په دې ډول کوم همغه رول، چې مارکس کارګرو ته، لېنن کمونستانو ته، چې ګوارا شریکیانو ته او ماوتسې دونګ بزګرو ته اختصاص کړی و، امین پوځیانو ته اختصاص کړ، ځکه چې د همغه په اند په پرمختایي هېوادونو کې یواځې پوځیان انقلاب کولی شي، خو ددغې تیوري ژور او خطرناک نا سموالی اول د سرطان په کودتا او بیا د ثور په کودتا سره ښکاره شو. په دې ډول، چې په وروستی کودتا سره بېخي ډېر افغانان ووژل شول او ټولنه سخته کړکېچنه او د پرمختګ له کاروان نه ډېره وروسته پاتې شوه. د همدغې تجربو پر بنسټ ده، چې په پرمختللیو هېوادونو کې پوځیان د قانون له مخې له سیاستکولو نه منع شوي او مؤظف دي، یواځې خپله درنه او سپېڅلې دنده ترسره کړي، چې همغه د هېواد او د همغه نظام او اساسي قانون ساتنه ده، چې د خلکو او د دوی په ګډ انتخاب سره به رامېنځ ته شوي وي.

دویم څپرکی

د افغانستان لومړنی ایډیالوجیکي حکومت

د ثور کودتا د افغانستان په تاریخ کې یو نوی فصل پرانیست. په هغې سره دغې افغانان په واک شول، چې ز یاتره یې ځوانان او د عصري زده کړې خاوندان وو. په عمومي ډول دوی بېلو قومونو ته منسوب د کلیو خلک وو، نه د یوې کورنۍ غړي لکه پخوا چې وو. ځانونه یې د کمونزم په پړي سره تړل شوي او پیاوړي ګڼل او ادعا یې کوله، چې خواریکښو خلکو ته یې د خدمت لپاره ملا تړلې ده. دوی د افغانستان ټول پخواني حکومتونه د واکمنې طبقې یانې د واکمنې کورنۍ، پانګه ورو، فیوډالو او روحانیانو په خدمت کې ګڼل او خپل نظام یې "خلقي" باله، چې هغه به یواځې د دوی له خوا د افغانستان خلق دموکراتیک ګوند په دستور چلول کېږي. دوی په دې ډول د خپلې ایډیالوجۍ له مخې دغسې حکومتي نظام تنظیم کړ، چې قدرت یې د خپل ګوند له لارې ځانونو ته ځانګړی کړ، نورو افغانانو ته یې پکې برخه ورنکړه، خو هغوی یې د هغه مطلق اطاعت ته مکلف وبلل، نو د غه حکومت افغانانو ته مشروعیت پیدا نه کړ. په داسې حال کې چې قدرت دوی په کودتا سره نیولی و او په خپله د اسلام مخالف ګڼل کېدل او په حکومتي چارو کې یې تجربه هم نه لرله، په وطن کې یوه زوروره کړکېچنه دوره پیل شوه، چې د هغې له امله په ټولنې کې پاڅونونه او په حکومتي پاسنیو کړیو کې مرګکي ټکرونه وشول. په دغه او څو نورو

فصلونو کې به ګوندي او حکومتي جوړښتونه او په وروستیو کې به پېښې شرح شي.

خلقیانو وروسته له هغه په حکومت کولو پیل وکړ، چې ګوندي لویان د ثور په اوومه د مازیګر په شپږو بجو افغانستان راډیو ته ورسول شول او حفیظ الله امین د خپلو ملګریو په سلا د حکومت کولو چارې په لاس کې ونیولې، که څه هم د جمهوري نظام ولسمشر محمد داود په ارګ کې ژوندی و، خو د کودتاچیانو له خوا محاصره و او له حکومتي ارګانونو سره یې رابطه شلیدلې وه. تر دغه وخته پورې دوه دېرش کلن محمد اسلم وطنجار د ځمکنیو ځواکونو لوی قومندان د کود تا چارې پرمخ بیولې، چې شرح یې په تېرو پاڼو کې شوې ده. سره له دې هم لکه چې دمخه ویل شوي دي، ګوندي لویانو حکومت له راډیو نه د افغانستان د نظامي شورا په نامه اعلام کړ، نه د خپل ګوند په نامه.

په دغه وخت کې دوی په خپل بریا باور نه درلود، نو دوی له امین، وطنجار او خیال محمد کټوازي نه پرته د هوايي قوتونو مرکز)محل چنار(ته لاړل، چې که وضع سرچپه شوه، په الوتکې کې کوم خوندي ځای ته لاړ شي. له دغه وخت نه تر هغو چې حکومت د ګوند په نامه اعلام شو، امین په حېرانوونکې ستړتیا سره د پوځ په تنظیمولو، د قومندانانو په ټاکلو او د امنیت په خوندي کولو کې تېر کړل. پخواني نظام یې له کار نه وایست او د خپل حکومت د واکمن کولو لپاره یې ډګر هوار کړ. امین د زیات و کم یوې اونۍ په بهیر کې په شپه او ورځ کې یو ساعت خوب او درویشت ساعته کار کاوه. دی په دغه وخت کې 49 کلن او په ځان روغ تکړه و. د هېڅ څیز له خوړلو نه یې ډډه نه کوله، ګند نه او شنیلي یې ډېر خوښېده. له دغسې تکړه او روغ ځان سره زړورتیا او د نوښت ګړی فکر و، چې هغه یې په ګوندي لویانو کې بېجوړې کړی و. که د

خلق گوند په دغه حساس وخت کې امین نه لرلای، واکمن کېدل یې په شک کې و. هغسې، چې غلام حیدر رسولي د پخواني نظام په نسکورېدلو کې غټ رول لولباوه، داسې هم امین د نوي خلقي نظام په واکمن کېدلو کې غټ رول لولباوه.

په هر حال، په دغسې حال کې چې نه بېروني او نه دننۍ وضع ددغسې گوند د واکمن کېدلو لپاره برابره وه، گوندیانو او په سر کې یې امین په افغانستان کې د یوه پوره نوي طرز د رجیم په واکمن کولو پیل وکړ.

د ثور د میاشتې په لسمه د یکشنبې په ورځ د خلق دموکراتیک گوند لویان رادمخه شول او د نظامي شورا پرځای یې په گوندي حکومت کولو په ځرگند ډول پیل وکړ. دلته به اول ددغه گوند او ورپسې د نوي حکومت په اړه خبرې وشي.

د افغانستان خلق دموکراتیک گوند

پرچمیان او خلقیان د افغانستان خلق دموکراتیک گوند ته منسوب وو، چې د 1343 د مرغومي په یوولسمه)جنوري 1_1965(د کابل ښار په شېرشاه مېنه کې د نور محمد تره کي په کور کې د یو شمېر افغانانو له خوا تاسیس شوی[1].

دغه گوند د مارکس او لینن د فکرونو پر بنسټ تنظیم شوی او کمونستي و. دغه څه د دوی د لویانو له ویناوو نه پوره ځرگند دی. د گوند عمومي منشي نور محمد تره کي، د شوروي اتحاد د کمونست عمومي منشي لیوینند بریژنیف ته په کال 1970 یې د اکتوبر په لومړۍ ورځ په یوه لیک کې ځرگنده کړې وه، چې "د افغانستان خلق دموکراتیک گوند له پیل نه په افغانستان کې د مارکسزم_لیننزم فکرونه خپرول." په لیک کې یې دا هم تېرنه غوښتې وو، چې "هیله کوم چې تاسې به د افغانستان خلق دموکراتیک گوند ته پاملرنه وکړئ، چې په مارکسزم_لیننزم باندې

ولاړ دی او د امپیریلزم او ارتجاع پرضد جګړه کوي.[2]" تره کی چې د هرات د پاڅون په وخت کې یوه شپه مسکو ته په پټه تللی و، هلته یې د شوروي اتحاد له ګوندي او حکومتي لویانو سره ژمنه کړې وه، چې "موږ به هېڅکله هغومره چې تاسو ته نزدې یو بل چاته نزدې نه شو. موږ له لینن نه زده کړه کړې ده او لا هم ترېنه زده کوو.[3]" ببرک کارمل د ثور له کودتا نه دوه میاشتې وروسته په کابل کې د شوروي سفیر الیکزاندر پوزانوف او څو نورو شورویانو ته په داسې حال کې، چې تره کی او امین هم هلته حاضر وو، شکایت وکړ، چې "زه په ګوند او حکومت کې له تره کي نه وروسته دویم مقام لرم، خو زه له داخلي چارو او باندني سیاست نه خبر نه یم. زه لکه چې په یوه طلایي قفس کې اوسم. دغه حال زما لپاره د یوه کمونست په توګه غټه تراجیدي ده.[4]" ورور یې محمود بریالی وروسته په مسکو کې د ک.ج.ب یوه مامور نیکراسوف ته ویلي و، چې "رښتیني کمونستان ټول د پرچم په ګوند کې دي او د شوروي اتحاد کمونستي ګوند سهو کوي، چې په خلق باندې حساب کوي.[5] " د بریالي په نظر ټول ګوندیان کمونست وو، خو پرچمیان رښتیني او خلقیان نارښتیني یا بدل کمونست وو.

د خلقیانو او پرچمیانو بیا غټه دنده دا شوه، چې په افغانستان کې کمونستي فکرونه خپاره کړي، بې له دې چې ځانونه او ګوند کمونست وښیي. کمونزم په مادیت ولاړه مفکوره ده، چې روح، دین، فلسفه، هنر او ادب د هغه خاصه او ظاهر ګڼل کېږي. داسې هم کمونستان دولت د حاکمې طبقې په خدمت کې ګڼي، چې هغه د دولت له لارې د نعمتونو اصلي تولید کوونکي یانې بزګران، کارګران او په عمومي ډول خواریکښان زبېښي او حکومت پرې کوي. په دغه ډول د دوی په فکر له سوشلستي نظام نه دمخه ټول نظامونه زبېښوونکي وو، چې باید د

خواریکښو په ګټه، چې د ټولنې ستر ډېره کې جوړوي، نسکور شي او د هغو د مځکښانو یاني د دوی کمونستانو له خوا وچلول شي. څنګه چې واکمنه طبقه، د دوی په اند، له قدرت نه په خپله لاس نه اخلي، خواریکښان دنده لري، چې دولت د خپلو مځکښانو په لارښود په انقلابي عمل سره نسکور او سوشلستي کړي. د غه کسان به بیا د نوي سوشلستي دولت له لارې ددغې ټولنې لپاره کار وکړي، چې د خواریکښو په ګټه وي، ترڅو په پای کې دغسې ټولنه رامېنځ ته شي، چې په هغې کې به د فرد له خوا د فرد زبېښاک نه وي او خلک به په بې طبقې ټولنې کې د ټولو لپاره د ورورۍ ژوند وکړي[6]. په دغه ډول د شوروي اتحاد د کمونستي ګوند غړي او پرچمیان او خلقیان سره مسلکي ورونه شوي وو او شوروي اتحاد ورسره مرسته کوله، چې پیاوړي یې کړي. په د غه مقصد چې یوه ورځ به په افغانستان باندې حکومت وکړي.

دا چې شوروي اتحاد له دوی سره څه وخت مرسته پیل کړه، معلومه نه ده، خو دا یقیني ده چې "د افغانستان خلق دموکراتیک ګوند ته د شوروي اتحاد د کمونستي ګوند د مرکزي کمېټې له خوا پیسې ورکول کېدلې. د ګوند له اخبار سره هم په دغه ډول مرسته کېدله." "تره کي ته په منظم ډول د شوروي اتحاد د کمونست ګوند د مرکزي کمېټې د بین الملي څانګې له خوا پیسې ورکول کېدلې." په 1974 کې ورته پنځوس زره افغانۍ د 1977 په مارچ کې ورته دېرش زره او په مۍ کې ورته څه باندې دېرش زره افغانۍ ورکړل شوې وې. په 1965 کې ورته پنځوس زره افغانۍ ددې لپاره ورکړل شوې وې، چې ولسي جرګې ته یې د ځان د انتخابېدو په لار کې ولګوي. دغه پیسې په اصل کې د ګوند لپاره وې، د هغه شخصي لګښت لپاره 180روبله، چې څلور زره افغانۍ کېدلې، ورکول کېدلې[7]. دغه پیسې شاید هره میاشت ورکول

کېدلې، په دغه ډول تره کي که څه هم افغان و، د سیاسي مقصد لپاره یې له شوروي اتحاد نه په دې نامه پیسې ترلاسه کولې، چې د هغه په وینا "د شوروي اتحاد د کمونستي ګوند له اخلاقي او مادي مرستې نه پرته به د افغانستان کمونستانو لپاره ګرانه وي، چې خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړي، په داسې حال کې چې واکمنه کورنۍ زموږ په ګوند باندې بې رحمه ګوزارونه کوي."[8] کارمل ته د نیکولای دوریانکوف په روایت، چې د افغانستان په اړه شوروي متخصص و، هره میاشت پېنځه دېرش زره افغانۍ ورکول کېدلې[9]. شاید له دې امله چې د ک.ج.ب د دوو پخوانیو ماموړانو الیکزاندر موروزوف او ولادمیر کوزیچکین په وینا ډېرو کارملیانو د هغو په ګډون، چې د محمد داود د مرکزي کمېټې غړي وو، مسکو ته اطلاعات ورکول[10]. تر هرڅه زیات کارمل او تره کي دواړه د ک.ج.ب له لومړیو ایجنټانو څخه وو. تره کي په 1951 کې د "نور" په بدل نامه او کارمل په 1957 کې د "مارید" په نامه د ک.ج.ب ایجنټي منلې وه. دواړو په کابل کې د ک.ج.ب له ماموړانو سره کتل او د افغانستان په اړه یې اطلاعات ورکول، خو دوی لومړني افغانان نه وو، چې د ک.ج.ب ایجنټان شوي وو. له ک.ج.ب نه دمخه چیکا وه، چې د لېنن په وخت کې جوړه شوې وه او په افغانستان کې یې ځاله خپره کړې وه، خو دا د ک.ج.ب ځینې ایجنټان وو، چې په مارکسزم_لیننزم معتقد شوي وو، چې کارمل او تره کي د هغو له ډلې څخه وو. تره کي به ځان له افغانستان نه زیات شوروي اتحاد ته نزدې ګاڼه. په هغه لیک کې، چې په 1970 کې یې برېژنیف ته استولی و، له هغه نه غوښتي و چې "د افغانستان په حکومت باندې دې د اقتصادي مرستو کریدت په تېره د لګښتي څیزونو په اړه لکه پترول او بوره، بنده شي."[11]

پرچمیان او خلقیان که څه هم په فکري لحاظ

کمونست وو، یا ډېرو یې همدغسې فکر کاوه د خپل نوي هویت له څرګندولو نه ډډه کوله، ځکه چې د افغانانو غوڅ اکثریت هېوادپال، اسلام پال، عنعنه پال او د کمونزم مخالف وو، نو دوی خپل ګوند د خلق دموکراتیک ګوند په نامه یاد کړ.
په دې ډول دوی یا د دوی لویانو له اول نه دوه مخي توب غوره کړ، خو د قدرت ګټلو په لار کې یې فعالیت د خلکو په نامه پیل کړ. د غه دوه مخی توب او دا سې هم د دوی لویانو ترمېنځ اختلافات په ټولو باندې ژوره اغېزه وکړه. ډېره موده نه وه تېره شوې، چې دوی په ډلو ووېشل شول: د ظاهر افق جازا)د افغانستان د ځوانو زیار ایستونکو جمعیت(ډله، د د ستګیر پنجشیري د کار ډله، د عبدالکریم زرغون خلقي دموکرا سي ډله، د طاهر بدخشي ستمي ډله، د پرچم ګوندګي او د خلق ګوندګي. بله دا چې د ثور له کودتا نه وروسته د دوی په ګوندي ایډیالوجۍ باندې د دوی شخصي، قومي او ژبني میلونه غالب شول او ګوندي پېوستون هوا وکړه. په دغه ډول دوی په خپله مرتجعان شول، که څه هم په ظاهر کې یې مرتجعان هغسې ټکول لکه فیوډالان، پانګه وال او روحانیان چې یې ټکول. د صالح محمد زیري په وینا د هغه د ګوندي ملګرو غټه خاصه "شخصي عقده" وه، چې دی یې ډېر زوروه. "یوه شي د ګوندي مبارزې په اوږده دوران کې ډېر زورولی وم، هغه په ګوندګي د ګوندي ملګرو ترمېنځ د شخصي عقدو، ځان غوښتنې او نورو له کبله یو له بله برخلافي، غیبتونه او کینه وه." (12)
د ګوند وړې ډلې مهمې نه شوې، په تېره وروسته له هغه چې له ګوند نه وایستلې شوې. یوازې د طاهر بدخشي په سروالۍ ستمي ډلې په ټولنې کې مخ په ځوړ قومي تعصب بېرته پیاوړی کړ، خو د خلق او پرچم ګوندګي په ټولو کې مهم او لوی وو او دواړو د ځوارلسو کلونو په بهیر کې)له 1878نه تر 1992اپریل پورې(افغان سیاست

په ژور ډول اغېزمن کړ، خو دغه ګونډګي اوږده موده سره بېل او لنډه موده سره یو ځای وو. د اتحاد په حال کې هم دوی سره رقیبان او لکه بېل ګوندونه داسې وو. دا به څکه دغسې وه، چې خلقیان زیاتره د کلیو او باندو پښتانه او لږ شتمنو کورنیو ته منسوب وو او پرچمیان زیاتره ښاري غېر پښتانه او شتمنو کورنیو ته منسوب وو، که څه هم په لوړه کړۍ کې یې یو شمېر پښتنو شتون درلود. په دوی کې ښځې هم شاپېسته ډېرې وې، چې زیاتره یې تعلیم کړې ښاری وې. زیاتره خلقي لویان نېشنلست کمونستان او زیاتره پرچمي لویان انټرنېشنلست کمونستان وو. پرچمیان په عمومي ډول تر دې حده انټرنېشنلست او شوروي پال وو، چې افغان هویت، ملي واکمني او حتی وطن ته یې د خپلې ایډیالوجۍ په برابر کې اهمیت نه ورکاوه. پرچمیان تر خلقیانو نه ډېر بولشویکانو ته ورته وو، چې په هکله یې یو تاریخپوه وایي: "له یوې خوا دوی زیاتره په خپله د خواصو زامن وو، چې لوړه یې کړې وه، نسکور یې کړي. ښه تعلیم کړي، د فصاحت خاوندان او لوړو نظري مفهومونو ته ژمن دغسې کسان لکه لېنن، چې څناورو ته هېڅ ورته نه وو، خو له بلې خوا دوی زر وښودله چې د خپلې ایډیالوجۍ په نامه سخت څناورتوب وکړي.[13]"

د افغانستان د خلق دموکراتیک حکومت

نو محمد تره کی د ثور په لسمه د انقلابي شورا له خوا دد غې شورا د سروال او د هېواد د صدراعظم په توګه غوره شو. سره له دې چې د اقبال وزیري په فکر خلقیان "... په دغه وخت کې نه د انقلاب په فکر... وو او نه د انقلاب لپاره په ملي او نړیواله کچه شرایط برابر وو.[14]" حتی د شوروي اتحاد حکومت هم حاضر نه

و، چې د تره کي حکومت بې له قيد او شرط نه په رسمي ډول وپېژني. سفير يې پوزانوف اول نه غوښتل، چې حتی له نور محمد تره کي سره وګوري، که څه هم هغه د کود تا په سبا اول صالح محمد پيروز او بيا ګل محمد نور زوی د همدغه مقصد لپاره ورا ستولي وو. پوزانوف غوښتل، چې تره کی او ملګري يې په نوي حکومت کې پرچميانو ته برابره برخه ورکړي. شوروي اتحاد بيا زر د ک.ج.ب د باندنيو چارو مدير ولادمير کريچکوف په مشری کابل ته يو هيات واستوه. ګريچکوف د حکومت په ترکيب کې "د خلق او پرچم ګوندګيو د غړيو په سره برابر غړيتوب باندې"[15] ټينګار وکړ. تره کي او امين دغه غوښتنه ومنله، يا يې منلو ته اړ شول. په هر حال، له هغه وروسته و چې پوزانوف د کود تا په درېيمه ورځ خلقي حکومت په رسمي ډول وپېژنده[16]. په دې ډول په نوي "دموکراتيک جمهوريت" کې د ګوند عمومي منشي نور محمد تره کي د انقلابي شورا سروال او صدراعظم ببرک کارمل په دواړو مقامونو کې د هغه مرستيال شو. امين هم د صدراعظم مرستيال او هم د باندنيو چارو وزير وټاکل شو. کارمل که څه هم په نوي حکومت کې دويم شخص و، د ځانله وزارت يا اداري خاوند نه شو. نور وزارتونه د خلقيانو او پرچميانو ترمېنځ په ظاهر کې برابر ووېشل شول او د ځېنو لپاره بې لزومه اداري او حتی وزارتونه جوړ شول. د حکومتي څانګو امرآن هم په همدغه تناسب د دواړو ډلګيو غړي شول. په پوځي واحدونو او څانګو کې هم همدغسې و شول، خو په حکومت کې په تېره په پوځ کې تر پرچميانو نه د خلقيانو پله درنه وه او پرچميان په شورويانو باندې ډاډه او مغرور وو.

دا چې حکومتي مقامونه د پرچميانو او خلقيانو ترمېنځ برابر ووېشل شول، ما نا يې دا وه چې د دوی ترمېنځ حساسيتونه او بې اعتباري

ګانې لا هم وې او د دوی یو کلن اتحاد سرسري و.
غېر له هغه هم مقامونه د لیاقت او شخصیت له
مخې نه، بلکې د ګوندي کتنو له مخې ووېشل شول.
د شخصي لیاقت اصل، چې د ثور ترکودتا پورې یې
تر ډېره حده پورې رعایت کېده او د محمد داود
حکومت لا په اخر کې په یوې لایحې سره تنظیم کړی
و، په یو وار له یاده واېستل شو، چې د غه کار
د دوی په ناکامۍ هم غټ اثر و کړ، ځکه چې دوی
غوښتل د ټولنې اړیکې چې د دوی په فکر "د فیو
ډالو"، "پانګه ورو" او "روحانیانو" له ګټه وي
باید د کارګرو، بزګرو، وړو کسبګرو، روښان
اندو، او حتی وړو بورژواګانو په نفع واړول
شي، نو ددغې غټ تحول د راستولو لپاره لایقو،
مجربو، فني کدرونو او تکنوکراتانو ته اړتیا
وه، چې په دغه وخت کې د عصري پوهنې د پراختیا
له برکته په ملک کې لږ نه وو، خو دوی هغو ته
شا کړه. د دوی له کړو او د حکومت له ترکیب نه
معلومه شوه، چې د نظر اصلي ټکی د پرون ورځې
له محرومانو نه نوي ممتازان جوړول وو. بیا نو
له حکومت نه د پخوانیو مجربو او لایقو
مامورانو تصفیه پیل شوه. د باندنیو چارو
وزارت د دوی په اصطلاح له "نور چشمانو" نه
پوره پاک شو. په عین حال کې بیوروکراتانو په
تېره هغوی، چې شتمنو او واکمنې محمدزي کورنۍ
ته منسوب وو، له وېرې نه میدان پرېښود او
دباندې لاړل او افغانستان په یوه ځل له فني
کدرونو او فني او مسلکي مامورانو نه محروم شو
او پرځای یې بې تجربې او ناوړ ګوندي غړي
کېناستل. په عین حال کې "انقلابي برخورد" یانې
په زور سره د کار اجرا او په زور سره د
مخالفانو او حتی بانفوذه مخالفانو له مېنځه
وړل د دوی اصطلاح شوه.
تر هغې لا جدي دا وه، چې د ثور کودتا ته د
"ثور انقلاب" وویل شول او ټولنه "فیوډالي"،
"ماقبل فیوډالي" او په عین حال کې "پانګه

وري" وبلل شوه. په دې حساب په دغې ټولنې کې د سلیم عقل او منطق تقاضا داوه، چې د حکومت په ترکیب کې نور ګوندونه هم باید ځای ولري او که سمدلاسه د ایتلافي حکومت امکان نه وای، لږ ترلږه فني ماهران او وړ متخصصان باید په حکومت کې د مقامونو خاوندان شوي وای، خو د دوی "د شرق نابغه" او "ستر لارښود" نور محمد تره کي څرګنده کړه، چې "موږ انقلاب کړی او موږ حکومت کوو." افغانستان لکه چې یواځې د دوی هېواد و. محمد داود، چې د جزا قانون په ایستلو سره نور ګوندونه وېرولي وو، د "شرق نابغه" نور ګوندونه په خپل هېواد کې په حکومت کې له برخې اخیستلو نه محروم کړل او په حکومت او ګوند کې یې د زورواکۍ لار ونیوله.

نوی دولت د درې ګونو قوتونو) اجرائیه، قضائیه او مقننه (په یو ځای کولو او د اعلی واک په غونډولو سره تنظیم شو. د دولت یا حکومت لارښوونه د رسمي ګوند په غاړه شوه او ولس او استازیو ته پکې د رول لوبولو ځای پاتې نه شو، خو هر څه د دوی یانې د خلقو په نامه کېدل. د دولت لوړ رکن پېنځه دېرش کسیزه انقلابي شورا شوه، چې سروال یې د دولت د رییس حیثیت پیدا کړ. دغې شورا ته قضایي قوه، چې د قضایي شورا په نامه له یوه هیئات نه مېنځ ته راغله، مسؤوله وبلل شوه لکه هسې چې اجرائیوي قوه د صدراعظم په مشری هغې ته مسؤله وګرځول شوه. انقلابي شورا پورې د ترل شویو قواوو سروالان او غړي او وزیران ټول د حاکم ګوند غړي وو. یواځې په کوم وزارت کې چې د وزیر کوم مرستیال یخوانی غیر ګوندي مامور په خپل مقام پاتې شوی وي. د انقلابي شورا غړي هم نږدې ټول ګوندیان شول. په هغې کې وزیرانو هم غړیتوب لاره. په دې ډول ګوندیان او په مشخص ډول د مرکزي کمېټې غړي او د پولټبورو یا د سیاسي دفتر غړي د حکومت په ټولو لوړو مقامونو باندې

وګړو مارل شول. سره له دې هم د واک سرچینه خلق ګڼل کېدل، خو د سیاست ایښودلو، تصمیم نیولو او ټولنې او دولت ته د لوري ورکولو اختیار د رسمي ګوند سیاسي بیورو ته انحصار شو. څنګه چې په واقعي ژوند کې د سیاستونو او طرحو ایښودل او په خلکو باندې د هغو تطبیقول خورا مهم او د سیاسي مشرۍ نښې دي، له دې امله حاکم ګوند مهم وګرځېد. په خپله ګوند په اصل کې د قدرت د تمرکز له مخې تنظیم شوی و، چې دوی ورته "دموکراتیک مرکزیت" وایه، خو دېته توجه ونه شوه، چې واک په دموکراسۍ کې متمرکز نه وي او که وي، بیا دموکراسي نه وي.

په ګوند کې د پرېکړې کولو واک په مرکزي کمېټې کې او په مرکزي کمېټې کې په سیاسي بیورو کې او هلته په شخص عمومي یا لوی منشي، چې په واقع کې د ټول نظام اعلی واکمن و، متمرکز شوی و. د هغه د واکمنۍ موده هم ناټاکلې یا عمري یا تر هغو وه، چې د کارتوان یې درلود. په دې ډول ټول نظام په زورواکۍ بنا و. دغه زورواکي په خپله ګوند هم د جوړا د میاشتې په دستور العمل کې ښکاره کوي، چې غړیو ته یې د "اطاعت مطلق و بدون چون و چرای دساتیر حزبی" امر کړی و. څنګه چې د ټولنیزو چارو په اړه د پرېکړې کولو اختیار به د غه ډول ګوند ته ځانګړی شو او څنګه چې ګوند د حکومت په شان د قدرت د تمرکز د اصل له مخې تنظیم شوی و، د "خلق دموکراتیک" نوم په واقع کې بې مفهومه شو، خو په پای کې هم په حکومت او هم په ګوند کې د واک تمرکز په فردي زورواکۍ تمام شو. د کرنې وزیر صالح محمد زیری، چې د پولټبورو غړی هم و، وایي چې "تر انقلاب وروسته ګوند منحل غوندې و" په دې مانا چې "د ګوند او دولت رهبري د یو څو ملګرو لاس ته ولوېده، چې عمده یې امین و." دی دا هم وایي، چې "... موږ هم له دې وضع څخه شکایت نه درلود، ځکه د غو

کارونو ته مو هیڅ وخت نه لاره. د خپلو وزارتونو په کارونو کې غرق وو." په دغه متمرکز نظام کې ولایتونو ته والیان او منشیان هم له کابل نه استول کېدل او "هغوی هم هرڅه چې یې زړه غوښتل، هغه یې کول. ویل به یې انقلاب دی او هر یو باید لکه ملګري امین قاطعیت ولري." دوی ځانونه "سره خلقیان بلل.(17)" په دوی او داسې هم حتی په وزیرانو کې کم سواده او بېسواده غړي لږ نه وو. څرګنده بېلګه یې د فواید عامې وزیر محمد رفیع او د مخابراتو وزیر سید محمد ګلابزوی وو. لومړنی حتی د خپلې ګوندي ملګرې اناهیتا راتب زاد نوم هم سم لیکلی نه شو. د وروستي لیک لوستل کېدی نه شي، یا په ډېرې سختۍ سره لوستل کېدلی شي. په هغه نظام کې، چې اعلی واک په هغه ډول انحصار شي، لکه د خلقیانو په دولت کې چې انحصار شو، هلته دموکراتان هم دکتاتوران کېږي او د هر ډول نه تصور کېدونکې پېښې امکان پیدا کېږي. افغانستان د خلق دموکراتیک په ګوند په واکمن کېدلو سره ددغسې پېښو لپاره یوه صحنه شوه، څنګه چې دغه ګوند د قانون له لارې نه، بلکې په وچ زور سره واک ته رسېدلی و او څنګه چې دغه ګوند نور ګوندونه ځپل او په خلکو یې زورواکي کوله، د هغو له خوا په پټو او څرګندو مخالفتونو سره مخ شو. په دغه حال کې حاکم ګوند او حکومت مجبور شول، ترهرڅه دمخه د هغو د ځپلو او د خپل حاکمیت د خوندي کولو په فکر وي. اصلي نیمګړتیا دا وه، چې کودتایي حکومت د لایقو افغانانو ترکیب نه، بلکې د کمونستي ایډیالوجۍ له مخې ددغسې کسانو ترکیب شو، چې خواریکښو ته د خدمت او له فرد نه د فرد د استثمار د امحا په پلمه یې زورواکي کوله.

د حکومت لومړي ګامونه

د ثور په لسمه د خلق دموکراتیک ګوند په سروالۍ د حکومت کولو اعلام زیاتره افغانان اندېښمن کړل. یو خو دا چې ویل کېده، چې په وطن کې کمونستان په واک شول، بله دا چې خلکو دغه بې تجربې ګوندیان د حکومت کولو وړ نه بلل. اندېښنه هغومره د محمد داود له نسکورېدلو څخه نه وه، چې د نویو او ناپېژندل شویو څېرو د هسکېدلو له امله وه. خلک که څه هم د محمد داود له زورواکۍ نه ناراضي وو، خو په کودتا سره یې حکومت نسکورول او د هغه د کورنیو غړیو او وزیرانو وژنه یې د راتلونکي لپاره بده علامه ګڼله. خلک له دېنه هم په وېره کې شول، چې نوی حکومت به د شوروي اتحاد په ملاتړ په افغانستان کې د کمونزم د خپرولو لپاره کوښښ وکړي او زیار به وباسي، چې د دوی ژوند طرز او ملي او دیني ارزښتونه واړوي. وېره هغه وخت لا زیاته شوه، چې خلقي لویانو خپل نظام لږ وډېر په هغه شکل په پښو ودروه، چې بولشویکانو د اکتوبر له کودتا نه وروسته په پښو درولی وو. داسې هم هغسې، چې په شوروي اتحاد کې د تشدد ایډیالوجي غوره شوې وه، خلقي لویانو هم له دغسې ایډیالوجۍ نه کار واخیست. په واقع کې دوی ته شوروي اتحاد او په خاص ډول لېنن سرمشق شو. په داسې حال کې، چې د لېنن واقعي څېره دوی ته معلومه نه وه او په تبلیغي څېرې باندې غولېدلي وو، لکه چې تر دې نږدې وختو پورې ډېر نور هم پرې غولېدلي وو.

تر دې نږدې وختو پورې ویل کېده، چې لېنن په اصل کې د تشدد پرخلاف یو زړه سواندی انسان و او دا ستالین و، چې د لېنن له مړینې وروسته یې د ترور او دکتاتورۍ لار ونیوله. الیکزاندر یه کوولیف چې د میخائیل ګورباچوف په وخت کې د شوروي اتحاد د کمونستي ګوند دپولټ بورو غړی او د ګورباچوف د اصلاحي سیاست یا پرسترویکا اصلي نوښتګر او مشاور و په خپل یوه نوي اثر کې

وايي، چې په شوروي اتحاد کې د ترور د سياست اصلي مؤسس لېنن و او لېنن د چېکا د سروال له وژل کېدلو وروسته خپل ترور ستې چلند غوره کړی و. لېنن د 1918کال د جون په 21مه ګريګوري زينوويف ته په خپل قلم وليکلو چې "... موږ تر مرګ پورې په جنګ اخته يو. حتمي ده، چې موږ بايد د انقلاب ضد په برابر کې خپله انرجي او د ترور ټول امکانات په تېره په پتروګراد کې تجهيز کړو، چې د هغو مثال به غوڅ وي." د اګست په نهمه يې فيودوروف ته په نووګراد کې په يوه تېلګرام کې وويل، چې "موږ بايد هرڅه وکړو، له درې دکتاتورانو نه يوه کميټه... جوړه کړو، سمدلاسه عمومي ترور پيل کړو. په سلګونو فاحشې زموږ سرتېري او پخواني افسران او نور نشه کوي، ووژنو او پرار کړو. يوه دقيقه هم ځنډ په کار نه دی. موږ ته حتمي ده، چې عمل وکړو. عمومي لټونې، د وسلو پټولو لپاره اعدامونه د منشويکانو او نورو غېر اعتمادي کسانو تبعيد." لېنن په هماغه ورځ ملګري بوش ته په سنزا کې هدايت ورکړ، چې "اساسي ده، چې له اعتمادي غوره کسانو نه د محافظانو يوه پياوړې ډله تنظيم کړې، د کولاکانو، مذهبيانو او سپين محافظانو پرضد يو بې رحمه عمومي ترور پيل کړې. مشکوک کسان بايد له ښار نه دباندې په يوه کامپ کې بندي شي." لېنن په بله ورځ په پنزا کې څو کمونست ملګري په دې ډول مخاطب کړل: "ملګرو! د کولاکستان پېنځه ناحيې بايد په بې رحمۍ سره وځپلی شي. د ټول انقلاب د ګټو غوښتنه همدغه ده، ځکه چې له کولاکانو سره اخري جنګ دی، په ټولو ځايونو کې له پېژندل شويو کولاکانو، پشوګانو او وينې زبېښوونکيو نه چې له سلو نه کم نه وي، په دار وځړوئ.... لکه چې په پرونې تېلګرام کې ويل شوي يرغمل ونيسئ. دغه کار په دغه ډول وکړئ، چې خلک يې په سلګونو ميلو ليرې ووينې او وبېرېږي.")[18]"

د خلق او پرچم ګوندګیو ډېرو غړیو د لېنن په فکرونو باندې هغسې ټینګه عقیده لرله، لکه چې د یوې طریقې مریدان یې په خپل پیر لري. تره کي ویل، چې "خو لېنن مونږ ته ښودلي، چې د انقلاب د دښمنانو په برابر کې باید بې رحمه اوسو او په ملیونونو خلک باید له منځه یووړل شي، ترڅو د اکتوبر انقلاب بریالی شي." تره کي دغه څه هغه وخت پوزانوف ته ویلي و، چې ورته یې غوښتي و، چې سلطان علي کشتمند او عبدالقادر چې د کودتا په کولو تورن شوي او بندي شوي وو، ونه وژني(19).

ستالین بیا د ترور په چلند کې له لېنن نه هم دمخه ولاړ. په شوروي اتحاد کې غټ تبلیغ دا و، چې "ستالین د نن ورځې لېنن دی." دغه فارمول په خپله ستالین ایستلی و. یه کوولیف وایي، چې دغه تبلیغ د نورو رسمي تبلیغونو پرخلاف سم او مناسب و. د هغه په وینا "ستالین په نفرت او وینې ته په لېوالتیا کې په رښتیا هم د لېنن شاګرد شو. هغه نه یواځې د لېنن جنایي کوښښونه په ټینګه پرمخ بیول، د کولیکتیف کولو او د کولاکانو له منځه وړلو په وېروونکیو کلونو کې یې د ځمکه والو طبقې له منځه وړل تکمیل کړل، چې دا د روسیې په تاریخ کې یوه غټه غمیزه وه.(20)"

د ستالین په وخت کې د ټولو سیاسي ګوندونو په تېره د منشویکانو، روسي انقلابیانو او تراتسکیانو او داسې هم د روښانفکرو او مذهبي ډلو ځپل تکمیل شول. په ټولیز ډول د شوروي اتحاد په څه باندې اویا کلو عمر کې په ملیونونو شورویان له منځه یووړل شول، چې په هغو کې د کولاکانو یا ځمکه والو شمېر بېخي ډېر وو. شوروي اتحاد په ټوله نړۍ کې یواځینی هېواد وو، چې خپل تبعه یې په د غومره ډېر شمېر په ارادي ډول له منځه وړي دي. بل هېڅ حکومت خپل خلک په هغه تناسب له منځه وړي نه دي. په دې

ډول شوري اتحاد وښودله، چې متحد المرکز ایډیالوجیکي نظام او انسان وژنه لکه نوک او وری داسې دي.

خلقي چارواکیو د فرمانونو له لارې په حکومت کولو پیل وکړ. ددې لپاره، چې دوی د عمل آزادي ولري، اساسي قانون یې له مېنځه یووړ، بې له دې چې نوی اساسي قانون وباسي. نورمحمد تره کي د زورواکو واکمنو په شان احکام د فرمانونو په شکل ایستل. فرمانونه د غومره مهم ګڼل کېدل، چې لکه قانونونه او تلپاتي وي. فرمانونه که څه هم د انقلابي شورا په نامه ایستل کېدل، اصلي سرچینه یې د ګوند د مرکزي کمېټې سیاسي دفتر وو چې له یوولسو ګوندیانو نه جوړ او سروال یې د عمومي یا لوی منشي په نامه همدغه تره کی و، چې هېڅ چا ته یې مسؤلیت نه لاره. د خدمت دوره یې د قانون له مخې محدوده هم نه وه، دی په واقع کې د روسي امپراتور په شان اتوکرات او په خپل سرواکمن و. د سیاسي دفتر د غړیو دوره هم ناټاکلې وه او هغه د نورو په تېره د عمومي منشي په خوښه وه. حکومت د مرکزي کمېټې په هدایت چلېده او وزارتونه د پخوا پرخلاف یوازې د تخنیکي او فني چارو لپاره مامور شول. دغه حکم په خاص ډول د هغو وزارتونو په اړه رښتیا و، چې وزیران یې د سیاسي بورو غړي نه وو. د ټولو اساسي سیاستونو ایستل او د هر راز طرحي تجویز نیول د سیاسي دفتر مسؤلیت شو. د ګوند په مرکزي کمېټې کې د هر وزارت لپاره یوه څانګه د کمېټې په نامه وایستله شوه. پر دغو ټولو سربېره د ملي مصؤنیت یا استخباراتو اداره د افغانستان د ګټو ساتلو اداري (اګسا) په نامه په ډېرو پراخو تشکیلاتو او لوړ صلاحیت د خلکو، سیاسي ډلو او په خپله د حکومتي مامورانو او ګوندي غړیو د څارنې لپاره جوړه شوه. په دې ډول په افغانستان کې د ثور تر کودتا وروسته ددغسې

سیستم بنیاد کې ښودل شو، چې دوه ډوله حکومتونه پکې په کار ولوېدل. په دغه سیستم کې پاسني کسان په خاص ډول عمومي منشي د لوړ واک خاوندان شول، خو څنګه چې واک په قانون سره ټاکل شوی او محدود نه و، د ګوندي لویانو په منځ کې چې له تره کي پرته په عمر کې لږ و ډېر سره برابر وو، سیالي او توطیې روانې شوې.

نور محمد تره کي د ثور په اتلسمه له افغانستان راډیو نه د "اساسي کرښو" په نامه یوه وینا واوروله، چې حکومت ورته د اساسي قانون په شان اهمیت ورکاوه. په دغې وینا کې د باندنیو او دننیو چارو په اړه اساسي ټکي بیان شول، چې په هغو کې د ځمکو د اصلاحاتو، د فیوډالي او فیوډالۍ نه دمخه اړیکو د الغا، د دولتي سکتور د پیاوړتیا وعدې ور کړل شوې. بله مهمه وعده دا وه: "تصفیه دستګاه دولت از وجود عناصر ضد انقلاب، ضد دموکراتیک و ضد منافع خلق و وطن و ایجاد یک اداره دولتی سالم دموکراتیک و خدمت ګذار مردم." په یوې بلې فقرې کې ویل شوي و، چې "وضع و تطبیق قوانین دموکراتیک در تمام عرصه ها و الغای کلیه قوانین، مقررات و مؤسسه های که با ارمان ها و اصول انقلاب هفت ثور در تناقض است."[21] نوي حکومت په دغه ډول د خپل فعالیت ډګر ډېر پراخ ونیوه، له دولتي دستګاه نه یې د "ضد انقلاب عناصرو" د تصفیې په اعلام سره د مخالفانو ځپل خپل څرګند سیاست وګرځاوه. سرو خلقیانو چې ځانونه یې "انقلابي او قاطع شخصیتونه او د انقلاب ساتونکي"[22] بلل، له هغه نه د مخالفانو په ځپلو کې پوره کار واخیست. په دې ډول، چې هر هغه افغان چې یې نه خوښېد ورسره به یې د "ضد انقلاب" په نامه " انقلابي برخورد" کاوه، چې مانا یې د هغه ځپل یا بندي کول او یا وژل و.

حکومتي ادارو د پخوا په شان کارونو ته

ادامه ورکړه، د قدرت په انتقال کې خنډ پېښ نه شو، خو نوي حکومت چې ځان ته یې "انقلابي" وایه، ډېرو غټو موضوعګانو ته لاس واچوه. دا له دې امله، چې یو خو ګونډي لویانو د اساسي او ښتون راوستلو په نامه غږي پر ځان راټول کړي وو، بله دا چې دغو لویانو د خواریکښو د ژوند د ښه کولو په مقصد ناشونکې وعدې ورکړې وې. څنګه چې دغه حکومت اجتماعي بیخ نه لاره، د هغه د پیداکولو او د مخالفانو د شنډولو لپاره یې ځان مجبور ولید، چې د خواریکښو د ژوند د ښه کولو په مقصد غټو کارونو ته لاس واچوي، نو یې د خپلې مادي فلسفې له مخې خواریکښو ته د "کور، کالي، ډوډۍ" شعار عام کړ او ددې پروا یې نه کوله، چې په دغسې شعار سره انسانان د څارویو سطح ته کوزېږي او انسان له هغو نه اخوا نورو څیزونو او ارزښتونو ته په هماغه اندازه ضرورت لري.

حکومت د انقلابي شورا په نامه د جوزا د میاشتې تر دوه ویشتمې پورې پېنځه فرمانونه یو په بل پسې وایستل، چې هغه د نوي سیاسي نظام د جوړښت، له نوي سره بېرغ او د پخوانۍ واکمنې محمدزي کورنۍ د غړیو په اړه وو. څلورم لمبر فرمان، چې خاص د نوي بېرغ په اړه و، د اندېښنې وړ شو، خو د بېرغ تر هسکولو پورې هغه کومه موضوع نه وه. د دولتي تشکیلاتو په ترڅ کې انقلابي نظامي محکمه د انقلاب ضد عناصرو د محاکمې لپاره جوړه شوه او د عسکري اصولنامې له مخې اکسا ته د تورنو په محاکمه کولو کې ډېر واک ورکړل شو. په داسې حال کې، چې ان د ثور په لسمه په ټول ملک کې نظامي حکومت اعلام شوی و، په پېنځم فرمان سره هر افغان مکلف وګڼل شو چې د انقلابي ګټو نه "دفاع" او د انقلابي شورا د قانونو "اطاعت" وکړي. په همدغه فرمان سره د سلطنت ټول غړي د پخواني پاچا په ګډون، چې 23تنه کېدل "ملي خاینان" وبلل شول

او د افغانستان له تابعیت نه محروم وګڼل شول. په دې ډول دغو فرمانونو د انقلاب، ملي ګټو او ملي امنیت په نومونو د ثور انقلاب په نامه اګسا ته د ترور کولو لار خلاصه کړه.

لومړي اعتراضونه او د حکومت ځواب

لکه چې دمخه وویل شول، د خلقي حکومت په هسکېدلو سره افغانان اندېښمن شول. غټه اندېښنه دا وه، چې افغانستان به د کمونزم په لور روان کړل شي. زیاتره افغانان د خلقي حکومت مخالف او د کمونزم دښمنان وو، خو په خلکو کې نظم نه و. دغه درې اسلامي تنظیمونه، چې د نوي حکومت ټینګ مخالف وو، د محمد داود د حکومت په مقابل کې له ناکامو پاڅونونو نه وروسته له اعتبار نه لوېدلي او سران یې په پېښور کې اوسېدل. چین پلوي شعله یان یا ماوستان او نورې چپې ډلې هم د نوي حکومت سختې مخالفې وې، خو له دغه سره یې د ښکاره مقابلې توان نه درلود. غړو یې چې زیاتره ښاري او تعلیم کړي وو، د پټو مخالفتونو او تخریبونو لار ونیوله، خو د حکومت لاس په ټولو بر و. دغه لاس بری د پوځ او ګوند په سبب و، پوځ چې سرتېري او افسران یې اویا زره او په عصري او پېچلو وسلو سمبال و، د خلقي افسرانو تر کنټرول لاندې و. سره له دې، چې په پوځ کې اخواني او ملتپال افسران هم ډېر وو، د حکومت د قوت اصلي ستنه رسمي ګوند و، چې زیاتره خلقیان یې سر پرېکړي ملاتړان وو او د ټولو شاته ګاونډي شوروي اتحاد و، چې له امریکې نه وروسته زبرځواک هېواد و. نوي حکومت ته د افغانستان بانک کې د څلور سوو میلیونو ډالرو زېرمه هم په لاس ورغله.

حکومت په دغه حال کې هم په پوځ او هم په

ټولنې کې د ماوستانو، اخوانیانو او "تنګ نظره نېشنلستانو" په ځپلو پیل وکړ او دا یې یو انقلابي عمل وګاڼه. افغانانو ته ژوند په عادي حال کې هم ډېر ارزښت نه لاره. اوس خلقي ګوندیانو افغان وژنې ته انقلابي بڼه ورکړه او په دې اړه یې قوي تبلیغ هم پیل کړ. لویانو خپل ګوندیان هڅول، چې مخالفان له منځه یوسي، د ګوند د سیاسي دفتر له یوه غړي نه اوریدل شوي، چې له یوه دوه مرګ نه وروسته مرګ یو عادي څیز کېږي. د هرات له پاڅون وروسته حکومت حتی په خپلې رسمي اعلامیې کې له خلکو نه وغوښتل، چې "دښمنان له منځه یوسي."[23] حفیظ الله امین د 1357 کال په دلو کې د حربي پوهنتون فارغانو ته په خطاب کې وویل، چې "... انانیکه... در تاریکی علیه ما توطیه می چینند... در تاریکی از بین برده میشوند. ما هر آن عنصریکه... علیه تکامل پیروزمندانه انقلاب ما سر بالا میکند، به هنګام قلعه وقمع مینمائیم." ده دا هم وویل، چې "هر آن کسیکه... بنام دین اسلام بر ضد نظام خلقی شان تبلیغ میکند... و یا طرح دسیسه میریزد انرا بحیث خاین وطن دستګیر مینمایند."[24] حکومت ته دغه "دښمنان" "مسلمان ډوله پرنګیان وو" چې مقصد یې اخوانیان وو. اخوانیان، چې اول په اسلامي جمعیت کې تنظیم شوي وو، په دغه وخت کې په درې تنظیمونو کې وېشل شوي او درې واړه یې بنسټپال اسلامستان وو. په دغه مانا چې دوی به د سیاسي قدرت له لارې ټولنه او دولت اسلامي او په شرع برابر وګرځوي. دغه درې تنظیمونه، چې مشران یې په پېښور کې اوسېدل، د افغانستان اسلامي جمعیت د برهان الدین رباني، د افغانستان اسلامي حزب د مولوی محمد یونس خالص او د افغانستان اسلامي حزب د ګلبدین حکمتیار په مشرۍ وو.

افغان ټولنه، چې د محمد داود له کودتا نه وروسته د حکومتي پرچمیانو په کړو سره تاوجنه

شوې وه، د ثور له کودتا نه وروسته د خلقي لويانو په کړو سره نوره هم کړکېچنه شوه او خلک حکومت ته بدوراګي شول. خلک يو ځای بل ځای اول بې له پخواني اماده توب نه د حکومت پر ضد پاڅېدل، دغه پاڅونونه چې په اول سر کې واړه او محلي وو، وروسته د غټې ناکرارۍ پيلامه شول.

د ثور له کودتا نه پېنځه ورځې وروسته د ثور د مياشتې په ديارلسمه د پکتيا د زېړوک علاقه داري ځدران د حکومت په مقابل کې جګ شول او پرچمي علاقه دار او يو څو خلقي ښوونکي يې ووژل او د حکومت پر ضد يې جهاد اعلام کړ. څنګه چې دا يو محلي قيام او له کابل نه ليرې و، خلک پرې خبر نه شول) په تېره چې حکومت هغه د ګل عثمان ګربز په تدبير سره زر غلی کړ او قيام له ياده وايستل شو. (څلور ورځې وروسته د پکتيا د وزې ولسوالۍ هم د لږ وخت لپاره د حکومت له کنټرول نه ازاده شوه[25]. تر هغه لوی قيام د پېچ ولسوالۍ د ننګلام د خلکو وو، چې دثور په 23مه وشو. خلک په ظاهر کې د پېچ د نوي ځايي خلقي ولسوال د هنډې او سر زوري له امله جګ شوي وو، چې د يوه نفوذ ناک روحاني سپکاوی يې کړی و. په نتيجه کې د پېچ اوږده دره وپارېده او ډېر مرګ او ژوبله وشوه. حکوت د ربړونو په ګاللو سره د غه پاڅون غلی او خپل حاکميت بېرته پرې جاري کړ، خو د تاثير او اهميت په لحاظ هغه حکومتي ضد حرکت و، چې له کودتا نه وروسته)څومره وروسته معلومه نه ده(په لوګر کې پيل شو. هلته يو ځای بل ځای په دغه مقصد جرګې وشوې، چې د "کمونستي حکومت" په مقابل کې څه وکړي؟ ځواب جهاد و، که څه هم ګونديان د لوګر او د دوی خپلوان او حتی ورونه او زامن وي. دوی په دغه وخت کې په عام ډول جګ نه شول، خو حکومتي ضد شعور يې خپور کړ او د وروستيو فعاليتونو لپاره يې لار هواره کړه. دا هم د حکومت لپاره ګرانه شوه. لوګر

کابل ښار ته نزدې او شمالي غونډې د هر حکومت لپاره مهم دی. دا چې پکتیا ته د حکومت لار له لوګر نه تېرېږي، له دې امله هم حکومت ته مهمه وه، چې په لوګر باندې کنټرول ولري. څنګه چې په لوګر کې اجتماعي پېوستون ټینګ او اجتماعي توپیرونه او امتیازونه پکې لږ دي، د حکومت لپاره ګرانه وه چې په پارېدلو لوګریانو کې نفوذ وکړي. څنګه چې نزدې هر لوګری په پښتو او فارسي روان ګړېږي، د غه حقیقت هم په اجتماعي پېوستون کې غټ رول ادا کوي. په هر حال، دد غه پېوستون له برکته په لوګر کې دغسې کوم قومي، ژبنی، یا مذهبي درد ېدلی اقلیت نه و، چې حکومت پرې نفوذ وکړي او د نورو پر ضد ترېنه کار واخلي.

حکومت د پورته او نورو پېښو په کتنې سره او دا چې د مخالفانو فعالیتونه او تبلیغونه بې اثره کړي، په دوو کارونو لاس پورې کړ. یو دا چې د ګوندي او حکومتي فعالانو له لارې یې په ټول ملک کې قومونه مذهبي او اجتماعي ډلې او حکومتي ماموران وهڅول، چې د "انقلاب" په ملاتړ لاریونونه وکړي، غونډې جوړې کړي، اټنونه وکړي او حکومت ته د مبارکۍ پېغامونه واستوي. بله دا چې له ټول ملک نه یې قومي او مذهبي مشران او مخور وار په وار کابل ته غوښتل او هلته یې له نور محمد تره کي او امین سره لیدل. کارمل ته موقع نه ورکول کېدله، چې له هغو سره ووینې. تره کي د هغو هرې ډلې ته په عامه او ساده ژبه وینااوې کولې او په هغو کې به یې د خپل حکومت پروګرامونه څرګندول. د "انقلاب" ښېګڼې یې بیانولې او په تېرو حکومتونو یې نیوکې کولې. دا به یې هم ورته ویل، چې د خلقي حکومت کسان چې له ولس نه ولاړ شوي، د دوی ورونه او زامن دي او د دو د خدمت لپاره یې

لاسونه بد وهلي او د همدغه مقصد لپاره يې پخواني حکومت ړنګ کړی او د خلقي نظام بنسټ يې ايښی دی. نور محمد تره کي په خپلو دغو لېکچرونو سره هغه ذهنيت، چې د کودتا په لومړيو ورځو کې دده او دده د ملګرو په اړه پيدا شوی و او د هغه له مخې يې دوی "کمونست" او "کافر" بلل، تر ډېر حده پورې خفيف وګرځاوه. خلقيان، چې نزدې ټول يې ځوانان وو، په دې فکر شول چې دوی تره کي ته د يوه مشر په توګه سخت ضرورت لري. بيا نو د تره کي ستاينه له حد نه واوښته، په هرې رسمي وينا او ليکنې کې به تره کي د "شرق نابغه"، "د ګوند روح" او "ستر لارښود" په لوړو لقبونو يادېده. ما يو ځل د انيس ورځپاڼې په يوې ګڼې کې د هغې په درې مخونو کې دده نوم په همدغسې لقبونو سره پېژنځه ديرش کرته ولېد. د ښار په هرې دولتي ماڼۍ باندې د تره کي لوی عکسونه ځړول شوي وو، تره کي ولسي مخورو ته په لېکچر ورکولو سره خپل حکومت او ګوند ته بې ساری خدمت وکړ. هغومره، چې دی په دغه وخت کې وځلېد، بيا هېڅکله و نه ځلېد.

ترور او وژنې

پور ته وينا وې او تبليغو نه ددې لپاره وو، چې خلکو ته د غټو وعدو په ورکولو سره د حکومت په اړه روغ نيتي پيدا شي، خو هغه څه چې انسانان په ژوره توګه اغېزمن کوي، په دوی باندې د سياست او پروګرام عملي کول دي. هغه څه چې نو يو چاروا کيو د امنيت او انقلاب په نامه حتی د کودتا په اولو شپو ورځو کې د پالېسی له مخې وکړل، هغومره بې ساري وو لکه په لږ وخت کې چې د دوی له خوا د حکومت نيول و. دغه نوي څه د چارواکيو په تېره امنيت چارواکيو له خوا د

افغانانو ډلې ډلې ترور او وژنه وه.
ترور او وژنه له کابل نه پیل شوه، که څه هم د نوي حکومت پر ضد نه فردي او نه ډله ییز عمل شوی و. د ثور په دیارلسم ماښام د نهو بجو په شاوخوا کې د پخواني حکومت د سرکسان په هغه ځای کې ووژل شول، چې د خلقیانو "انقلاب" ترېنه پیل شوی و: څرخي پله ته نږدې د څلورمې زغرورې قوې هستوګنځی. په دغه ځای کې د پاچایي د وختونو صدراعظم او د پاندنیو چارو وزیر موسی شفیق، د تېر حکومت د بهرنیو چارو د وزارت مرستیال سید وحید عبدالله، د عدلیې وزیر او لوی څارنوال و فی الله سمیعي او یو څو نور د زغرورې قوې پخلنځي ته ورڅرمه د پولیګون په نامه ډګر کې له مېنځه یووړل شول. ویل شوي، چې د نوي حکومت د دفاع وزیر عبدالقادر او پرچمي افسر خلیل بابکرخېل هم هلته چېرې نږدې ولاړ وو. په یوه روایت خلیل په خپلې توپنګچې سره هغه وواژه او وروسته، چې په څرخي پله کې بندي شو، دغه وژنه یې په ویاړ سره یادوله.
موسی شفیق د مصر د ازهر په پوهنتون کې د لېسانس او ماسټرۍ شهادتنامې او بیا د ممتاز محصل په توګه د امریکې د کولمبیا پوهنتون کې په مقایسوي حقوقو کې د ماسټرۍ بله شهادتنامه حاصله کړې وه. په دې ډول دی د اسلامي او غربي حقوقو متخصص و. دی په پښتو، فارسي، انګرېزي، عربي او فرانسوي پوهېده. شاعر، لیکوال، نطاق او داستان لیکونکی او نوښتګر انسان و. د نومیالیو شخصیتونو لکه عبدالصمد حامد، سید شمس الدین مجروح او نورو په ملګرتیا یې د قانوني پاچایۍ د اساسي قانون له ابستلو نه وروسته، چې انګلستان ته په یوه رسمي سفر تللی و، د لندن پوهنتون داسیا او افریقې پوهنځي استادانو او محصلانو ته یې د همدغه قانون په اړه په لوړه سویه وینا وکړه او پوښتنو ته ځوابونه ورکړل. لیکونکی هم هلته و، د

صدراعظمۍ په دوره کې موسی شفیق په دې لټه کې و، چې افغانستان په شوروي اتحاد باندې له مخ په زیاتېدونکي خطرناکې اتکا نه وژغورل شي او ایران او پاکستان ته په نږدې کولو سره د لویدیځ پر خوا واړول شي. د هغه په فکر چپیان هېواد ته خطر وو، ځکه یې د صدراعظمۍ په وخت کې تر فشار لاندې نیولي وو، خو محمد داود پرې زر کودتا وکړه. موسی شفیق د یوه ډینامیک مستعد او جذاب انسان په حیث خپلو دوستانو ته د اعتماد وړ او حتی د الهام منبع وه، خو چپي ګوندو نه ور سره مخالف او پرچمي لویان یې دښمن وو. هغه شاید تر کودتا نه وروسته د کارمل په هدایت وژل شوی وي. په یوه روایت سره شفیق تر کودتا وروسته ددې پرځای، چې له هېواد نه ووځي، د تره کي دفتر ته د مبارکۍ ویلو لپاره لاړ. تره کي ورته د ویښ زلمیانو د وخت د غومره نږدې دوست و، چې فکر یې نه کاوه چې د هغه په واکمنۍ کې به ده ته ضرر ورسول شي، خو تره کي په دغه وخت کې په دفتر کې نه و او ده خپل د هویت کارډ ورته پرېښود او هغه د کارمل لاس ته ور غی. کارمل د تره کي په غیاب کې د شفیق د نیولو امر صادر کړ، چې وروسته ووژل شو. دده په ځوانیمرګ توب سره افغانستان له خپل دغسې وړ بچي نه محروم کړی شو، چې د هغه اعتبار له مخې چې په وطن، په عربي او لویدیځو ملکونو یې لاره، وطن ته د شوروي یرغل نه وروسته بحران کې اساسي خدمت کولی شو.

وفي الله سمیعي هم یو وتلی عالم او د اصولي عمل سړی و. د ازهر پوهنتون نه له فراغت نه وروسته اول د کابل پوهنتون ریيس او بیا د عدلیې وزیر او لوی څارنوال شو. د یوه ټینګ اعتدال مسلمان په حث له کمونزم سره مخالف او له عربي هېوادونو سره د افغانستان د نږدې کېدو په سیاست کې د محمد داود ټینګ مرستیال و، لکه هسې چې وحید عبدالله له لویدیځو ملکونو

سره د افغانستان د نږدې کولو په سیاست کې تېنګ و. داسې هم وحید عبدالله د بهرنیو چارو په وزارت کې د سمون راوستلو په لړ کې کوښښ کاوه، چې نه یواځې ددغه وزارت لیسانس دیپلوماتان، بلکې د نورو وزارتونو لیسانس ماموران د دیپلوماسۍ کورس په لوستلو سره د ماسټرۍ شهادتنامه ترلاسه کړي. د همدغه مقصد لپاره په دغه وزارت کې په لوړه سویه یو کورس پرانېستل شوی و، چې ما هم د پوهنتون د یو شمېر نورو استادانو په ملګرتیا ورته درس ورکاوه. وحید عبدالله له دغه کور سره د غومره علاقمن و، چې په ازموینه کې به یې د مشاهد په توګه ګډون کاوه.

په دغو کسانو باندې هېڅ تور نه و لګول شوی، یو هم محاکمه نه شو. یوه هم د نوي حکومت پر ضد عمل نه و کړی، دوی د نورو په شان له کورونو نه وایستل شول او له یو ځو ورځو بند وروسته په داسې حال کې، چې امنیت پر ځای و، له منځه یووړل شول.

سیاسي آمران او لومړني ګوندي سازمانونه

د افغانستان د حکومتونو یوه ځانګړتیا د امن په حال کې هم نه یواځې د فعالو، بلکې د بالقوه مخالفانو ځپل دي. هغو حکومتونو دغسې کارونه ډېر کړي دي، چې دولتي واک یې په زور سره نیولی او بیا یې هغه د امنیت، خدمت او پرمختګ په نامه ځانله منحصر کړي او نور یې ترېنه بې برخې کړي دي. په دغسې حال کې د چارواکیو لپاره له واکه د خپلې خوښې استفادې امکان ډېر شوی، په تېره د هغو لپاره چې د خپلې ایډیالوجۍ له مخې چې دوی ته سپېڅلې ښکاري، خپل ځانونه په سمه لار روان او مخالفان بې لارې ګڼلي. دوی بیا په دې پسې شوي، چې په خپل فکر دغه بې لارې وځپي، بې له دې چې د قانون او اخلاق پروا وکړي. په دغسې حال کې

نورو ته ممکنه نه وي، چې حتی د هغو پېښو په هکله هم چې د دوی په ژوند نېغ اثر کوي، د خپل ازاد فکر او وجدان له مخې اواز او چت کړي، دا خو لا پر ځای پرېږده چې د هغو له مخې په عمل لاس پورې کړي.

په افغانستان کې د پاچا امان الله او پاچا محمد ظاهر له قانوني واکمنۍ پرته د څه کم سلو کلونو په بهیر کې لږ و ډېر همدغسې شوي. په دغې مودې کې د فرد حیثیت او ژوند د حکومتي قدرت په برابر کې، چې د پولیسو، سرتېرو، حاکمانو او عدلي محکمو په بنه څرګند شوی، بې اهمیته شوي. په داسې حال کې، چې د حکومت د پیاوړتیا نه دمخه افغانان د ازادۍ له لوړې درجې نه برخمن وو. په نتیجه کې په افغانستان کې فردي استعداد چې د نامحدود انکشاف ظرفیت لري، انکشاف نه دی کړی یا په کافي اندازه انکشاف نه دی کړی. ځینو چې څه ځلا لرلې ده، په حکومتي چوکاټ کې یې دننه لرلې ده، خو څنګه چې حکومتي چوکاټ په اصل کې محدود وی، ددغسې افرادو انکشاف هم محدود و. ددغه محدودیت پایله هغه شوې، چې انګلیس فیلسوف جان ستوارت مل څه باندې یوه پېړۍ دمخه د هغه وړاندوینه کړې وه. هغه ویلي و، چې په اوږدې مودې کې د دولت ارزښت دهغو افرادو ارزښت دی، چې دولت تربنه جوړ دی او هغه دولت چې خپل افراد کوچني کوي، ددي لپاره چې د هغه د لاس ارامې وسیلې وګرځي، که څه هم هغه به د ګټورو موخو لپاره وي، وبه مومي چې په وړو انسانانو سره لوی کارونه، نه ترسره کېږي.

تر ستوارت مل دمخه جرمني فیلسوف ایمانو یل کانت ویلي و، چې هېڅ انسان باید د بل انسان د لاس اله ونه ګرځول شي. فرد او ژوند ته ددغه اهمیت او ارزښت د قایل توب له امله ده، چې د یهودو په لرغوني مذهبي او مدني قانون، تالمود کې راغلي، چې هغه څوک چې یو ځانګړی ژوند

ژغوري لکه چې ټوله نړۍ یې ژغورلې وي او هغه څوک، چې یو ځانګړی ژوند له مینځه وړي، لکه چې ټوله نړۍ یې له مینځه وړې وي.
د همدغه فکر له مخې ده، چې نن هم یو یهود بل یهود نه وژني او په زیاترو لویدیځو هېوادونو کې د انسان اعدام غیر قانوني ګرځول شوی دی. دغه فکر د یوې ټولنې د سالم توب لپاره اساسي اهمیت لري، ځکه چې غیر یو ته یې ممکنه کوي، چې د ژوند د ښه کولو لپاره رغنده او ابتکاري کارونه وکړي. د لویدیځ دغه حېرانوونکې پرمختیا شاید په اصل کې د همدغه فکر له مخې د ژوند کولو نتیجه وي.
خو په مسلمانې نړۍ کې یو مسلمان بل مسلمان وژلي، وژنه په پښتنو کې شاید تر هر بل ولس نه ډېره وي. یو پښتون نه یواځې بل پښتون وژني، د خپلې کورنۍ غړي هم وژني. وژنه د دوی د کولتور په تېره د تربوري او ګوندیمارۍ غټه خاصه ده. دا شاید د پښتنو د بېرته پاتې توب او کمزورۍ اصلي عامل وي. په دغسې وژنې سره ولس د خپل د سر او کاري کسانو له فکر، عمل او خدمت نه بې برخې کېږي او ټولنه په خاص ډول په انتقام سره په دایمي کړکېچ اخته کېږي. دا په دغسې حال کې، چې د قرآن مجید)د النساء سورت، 92_93 ایتونه(حکم دی، چې "مومن دې هېڅکله بل مومن ونه وژني" او "که څوک یو مؤمن په قصدي ډول وژني تل پاتې ځای یې دوزخ دی او د خدای تعالی غضب به پرې باندې او لوی عذاب به ورته تیار وي."
سره له دې هم هغومره د سر پښتانه چې په تربورۍ او ګوندیمارۍ کې او داسې هم د حکومتونو له خوا او په دې ورو ستیو وختونو کې د ایډیالوجیکي او مذهبي تندلارو له خوا وژل شوي، په طبیعي مرګ سره نه دي له مینځه تللي. دغسې وژنه د ثور له کودتا نه وروسته بیخي ډېره شوې ده.

خلقي حکومت تر کود تا وروسته د ملي مصؤنیت اداره لغو کړه، په دغه مقصد چې له دغې بدنومې ادارې نه ځان خلاص کړي او خلکو ته و ښيي، چې نور نو دغې ځپونکې ادارې ته ضرورت نشته. په معاصر افغانستان کې د امیر عبدالرحمن، صدراعظم محمد هاشم او ترڅه حده د محمد داود په وختونو کې، چې درې واړه وطنپال زورواکان وو، د جاسوسي ځالو پراخېدل، د افغانانو بندي کېدل، ځورول او وژل د حکومتونو حتمي برخه شوې وه. تاریخ ښيي، چې اتوکرات یا په خپل سر زورواک حکومتونه او دغسې افراطي کړه سره تړلي دي. څومره چې دکتاتوري پیاوړې وي، هغومره بندیخانې، وژنې، کړونې او وېرې ډېرې او شدیدې وي. خلقي او وروسته پرچمي رجیمونه په دغې برخې کې تر ټولو دمخه ولاړل.

د ملي مصؤنیت د ادارې د له مېنځه وړلو مانا په عمل کې دا شوه، چې یواځې د هغې نوم له مېنځه لاړ شي او پرځای یې د شوروي د ک.ج.ب دوله) اګسا(په نامه دغسې زوروره اداره تنظیم شوه، چې په بندي کولو، کړولو او وژلو کې یې هغه هم بې له محاکمې او شواهدو نه بې مسؤلیته اختیار لاره. کوم هغه قانون، چې د هغه له مخې تر محاکمې وروسته د اعدام حکم د دولت د سروال له منلو نه وروسته اجرا کېده، په انقلابي ډول له مېنځه یووړل شو. د اګسا چارواکیو ته د "انقلاب ضد" افغانانو له مېنځه وړل هغسې مطلوب شول لکه د جګړې په ډګر کې چې د دښمن وژل مطلوب وي. دد غه مطلب لپاره د پوځ او څار ندوی او په عمومي ډول په هر اداري واحد کې سیاسي آمران په پوره اختیار سره وټاکل شول. تره کي ویل، چې د هغو امر دده د امر په شان د اطاعت وړ دی. سیاسي آمران په خپل فکر "انقلابیان" شول او له خپل واک نه یې د "ضد انقلاب" په ټکولو کې اعظمي استفاده وکړه او دوی د اګسا چاروا کیو د "ضد انقلاب" په نامه بېحسابه

افغانان د مرګ پنجو ته وسپارل.
د عامه ذهنیت پرخلاف د کودتا په لومړیو اوونیو کې د "ضد انقلاب" د ځپلو چارې تر ډارندوی نه زیات د پوځي واحدونو کار شو، د پوځ جزاوتام)ټولي، کنډک، غونډ، لوا، فرقه(ته هم د شاوخوا ملکي سیمو ډار نه وسپارل شوه. څنګه چې په پوځ کې غیر ګوندي افسران تر ګوندي افسرانو نه ډېر وو، حکومت له پوځ نه وېره لرله، نو د هغو افسرانو په ډارنې باندې لنګر واچول شو، چې اخواني، ماوست او "تنګ نظره نېشنلستان" ګڼل کېدل. د غه افسران د "ضد انقلاب" په تور نیول کېدل او بې له محاکمې نه مجازات کېدل. په خلقي دوره کې ددغسې تورنو لپاره عدلي محکمه نه وه. په اکسا کې بندیان وهل کېدل، کړول کېدل او وژل کېدل. دا ټول ددې لپاره، چې پوځ خلقي شي او حکومت حاکم وي. سره له دې هم پوځ خلقي نه شو یا هغسې خلقي نه شو، چې حکومت غوښتل. مخالفو افسرانو په څرګند ډول له "انقلاب" نه پلوي کوله، خو په واقع کې مناسب وخت ته په انتظار وو، چې قیام و کړي. دغسې قیامونه د هرات په فرقه کې، د جلال آباد په فرقه کې، د اسمار غرني غونډ کې او د بالاحصار په لوا کې وشول، چې وروسته به یې بیان وشي. هغومره نظامي قیامونه، چې د خلقي حکومت په لنډې دورې کې وشول، د بل هېڅ افغان حکومت په مقابل کې نه دي شوي. د "انقلاب ضد" افسران د کودتا په لومړیو اوونیو کې نه یواځې په کابل کې، بلکې په ټول افغانستان کې د ملي دفاع وزیر عبدالقادر په ټلیفوني امر له مېنځه وړل شوي دي.
له کودتا نه یوه اونۍ وروسته بندیان د غومره ډېر شول، چې چارواکیو ته یې ساتنه مشکله شوه. "د مۍ د میاشتې په شپږمه د افغانستان د وسله وال پوځ وزیر عبدالقادر] له شورویانو نه[مشوره وغوښتله، چې له ټولو بندیانو سره

څه ډول چلند و شي؟ په دغه وخت کې د پ ندیانو شمېر له لسو زرو څخه اوښتی و او شمېر یې لا هم زیاتېده او بندي خانې ډکې وې... اندروپوف او ګرومیکو د غه مسئله پولټبورو ته وړاندې کړه. پولټبورو د اندروپوف وړاندیز ومانه، چې د ک.ج.ب یو غړی چې له قادر... سره یې په اوږدې مودې کې اړیکې درلودلې، کابل ته له دغسې هدایتونو سره واستول شي، چې له بندیانو سره څنګه چلند شي؟ میجر جنرال ل.ن.ګوریلوف]په کابل کې[د شوروي د نظامي متخصصانو د مشر په توګه غوره شو.)26(''

په ملکي ادارو کې هم لومړني ګوندي سازمانونه جوړ شول، په کابل پوهنتون کې سربېره پر هغه سازمان چې د پوهنتون په مرکز کې جوړ شو، په هر پوهنځي کې هم یو ګوندي سازمان جوړ شو. د ګوندي دستور له مخې دغو سازمانونو د نده لرله، چې ګوندي پرېکړې غړیو ته ورسوي او پر هغو بحث وکړي او و ګوري، چې اړوندې اداره چاري د حزب د هدایت له مخې پرمخ بوځي، خو په واقع کې ددغو سازمانونو د نده دا شوه، چې دوی د خپلو اړوندو ادارو ماموران وڅاري او مخبري یې وکړي. مخبري د شخصي کتنو له مخې هم کېدله. څنګه چې ګوندیان په ټولیز ډول پر ځان ناډاډه او د ټینګې کمونستي جذبې خاوندان وو، شخصي اړیکیو او امنیتي وضعې ته یې ډېره پاملرنه کوله. کله به چې د یوه ګوندي په راپور سره تورن بندي نه شو، بیا به هغه په نورو سازمانونو کې خپل ګوندي ملګري هڅول، چې د تورن په اړه دې هم راپور ورکړي، چې بندي شي. په دغه حال کې د دوی لپاره د خپلو مربوطو ادارو د غړیو او په واقع کې د هر چا په اړه د اطلاعاتو ټولول مهم شول. دوی په مرکز کې له امنیتي مقامونو او بیا له اګسا سره لار پیدا کړه، د ځینو مؤسسو آمران د همدغه ارتباط له امله د اګسا معاش لرونکي ماموران هم شول.

زیاترو خلقي ګونديانو په خپلو سیمو او ادارو کې خپل پخواني مخالفان ترټل او حتی د مرګ پنجو ته سپارل. دغه کار دوی د اګسا له لارې کاوه. د اګسا چارواکیو استادان د پوهنتون له انګړ نه په ګړندیو موټرونو کې وړل، چې یو یې ما په خپله هم لیدلی و. په دغه اړه زه د کابل پوهنتون د ادب پوهنځي په باب یو څه په زغرده ګړېدلی شم، چې هلته مې د تاریخ درس ورکاوه.

محمد طاهر علمي د ادبیاتو د پوهنځي مرستیال او وروسته سروال د اګسا معاش خور و. دی چې د ننګرهار د شینوارو د ګلاپي له جولایانو نه و، د افغانستان د وړیا او عمومي پوهنې له برکته په وطن کې لیسانس او په شوروي اتحاد کې ماستر شوی و. دده په ټلیفون سره به د اګسا غړیو استادان او محصلان اګسا ته بېول. علمي د پوهنتون د لیلیې په تشنابونو کې تورن محصلان د شپې له خوا هم بندي کول او په سبا به یې د اګسا مامورانو ته سپارل. د ثور له کودتا نه یوه اونۍ وروسته محمد طاهر علمي د خپل پوهنځي د درویشت تنو استادانو یو لست په خپل قلم د پوهنځي سروال محمد حسن ضمیر ساپي ته وړاندې کړ، چې د هغه له مخې څوک بندي، څوک له وظیفې نه ګوښه او څوک په کور کې کېنول شي. ضمیر ساپی هک پک شو، د هغه په سپارښتنه یې عمل ونه کړ، خو دی چې د پرچم ډلګي ته منسوب و، په ځان وډار شو. ددې لپاره چې ژوندی پاتې شي، وروسته له دې چې د لوړو زده کړو وزیر محمود سوما یې له موضوع نه خبر کړ، د پوهنځي سروالي پرېښوده او د افغانستان د علومو د اکاډمۍ غړی شو. علمي که څه هم پوهنیار و، د هغه پر ځای د پوهنځي سروال وټاکل شو. علمي د خلقي حکومت تر پایه پورې ډېر استادان او محصلان اګسا ته و سپارل، چې هلته بندي شول، وکړول شول او له منځه یووړل شول او لږ یې ترېنه ژوندي راووتل. په وژل شویو استادانو کې یو هم غلام

غوث شجاعي و، چې په جرمني کې یې یوولس کاله زده کړه کړې وه او په فلسفه کې یې د ډاکټرۍ شهادتنامه ترلاسه کړې وه. دی د لوړ استعداد خاوند، هېوادپال افغان او یو خوښ طبعه ډینامیک ځوان و. لیکوال و، شاعر و، مترجم و او څېړونکی هم و. په شوق سره یې استادي کوله او په محصلانو باندې هم ګران و. ما په ټول عمر کې بل څوک دده په شان له نزاکت نه ډک ټوکمار او غوریالی نه دی لیدلی.

د ادبیاتو پوهنځي په نورو وژل شویو استادانو کې خان اباد وزیري، امیر محمد یاد)ارملی(، محمد علم مله بار، خانباز تڼیوال او داسې هم د طب پوهنځي استاد محمد هاشم مهربان د شخصي دوستانو په حیث ماته نه هېرېدونکې څېرې دي. د ادب په پوهنځي کې محصلان تر استادانو ډېر نیول شوي او تري تم شوي دي. د نورو پوهنځیو استادان او محصلان هم د ادب د پوهنځي د استادانو او محصلانو په تناسب بندي شوي او له منځه وړل شوي دي. د څرخي پله په زندان کې مې د خلقي حکومت د لوړو زده کړو وزیر محمود سوما وپوښته، چې ولې یې د استادانو او محصلانو د نیولو مخه ونه نیوله؟ هغه وویل، چې د غه موضوع دده له واک نه لوړه او د ګوندي منشیانو کار و، خو د لوړو زده کړو د وزیر په توګه دا دده وظیفه وه، چې د پوهنتون د استادانو او محصلانو د غیر قانوني بندي کېدلو مخه ونیسي او لږ تر لږه محمد طاهر علمي او د هغه په شان د پوهنتون نور کسان کنټرول یا له وظیفې نه ګوښه کړي، خو ده په دې اړه هېڅ و نه کړل او طاهر علمي ته بیا نورو دغسې جزا ور کړه، چې ګومان نه کوم په نړۍ کې به بل چا ته دغسې جزا ور کړل شوې وي. طاهر علمي د پرچمي رجیم په پیل سره له شینوارو نه د پېښور په لور وخوځېد، چې د خپلو جنایتونو له جزا نه ځان وژغوري، خو دی په لار کې د کوم

اسلامي تنظيم مجاهدو ته په لاس ورغی. په یوه روایت مجاهدو علمي د یوه هسک غره سرته بوته، هلته یې د هغه لاس او پښې ټینګې وتړلې او مخ ښکته یې ټېل وهه. محمد طاهر علمي بیا چا ژوندی ونه لید.

د پرچمیانو ځپل کېدل

لکه چې دمخه مې ویلي، پرچمیان او خلقیان سره له دې چې د یوه ګوند غړي وو، له اول نه سره وران وو. د اختلاف غټ لاملونه یې درې وو: د دوی د ګوندګیو ترکیب، له شوروي اتحاد سره اړیکي او د لویانو په تېره د کارمل او امین ترمېنځ اختلاف. د دوی د ډلو په ترکیب دمخه ګړ بدی یم. په دې هم غږېدلی یم، چې پرچمیان شوروي اتحاد ته زیات وفادار او شوروي اتحاد هم غوښتل، چې پرچمیان حکومت په لاس کې ولري، خو څنګه چې کودتا په اصل کې خلقیانو کړې وه، هغو نه غوښتل پرچمیانو ته په حکومت کې برابره برخه ورکړي، خو د شوروي اتحاد په هڅونې یا فشار سره د غه کار ته اړ شول. شوروي اتحاد او پرچمي لویان په د غه امتیاز هم قانع نه وو. د اقبال وزیري په وینا، ک.ج.ب والو "... د ثور د انقلاب د بریالیتوب له لوړی شېبې څخه د خلقیانو پر ضد دسیسې جوړې کړې."[27] پرچمیانو د حکومت له جوړ ېدلو نه درې ورځې وروسته اول د کورنیو چارو وزیر نور محمد نور په دفتر کې او بیا په بادام باغ کې د کوپراتیفو په ریاست کې غونډې وکړې. په وروستی غونډې کې د شوروي سفارت کوم مامور هم ګډون کړی و. پرچمیانو وروسته په پغمان کې د همد غه مطلب لپاره خپله ګوندي کانګره جوړه کړه[28]. تر هغه دمخه دوی د ک.ج.ب له مامورانو سره په ګډه د خلقي حکومت په بدنومي کولو پیل کړی وو او د نجم الدین کاویاني په روایت کارمل دستور ورکړی و، چې

"تخریب، تخریب، باز هم تخریب."[29] دغه څه به څکه رښتیا وي، چې کارمل د امین له لاسه بې واکه کېده او بې اهمیته کېده. د دوی ترمېنځ اړیکې له پخوا نه ترخې وې.
د دوی اختلاف په اصل کې د مفکورې و، چې ورو ورو یې شخصي او نورې بڼې هم پیدا کړې. امین په اصل کې نېشنلست او کارمل په اصل کې سوویټست وو. د سیاست په ډګر کې کارمل په شوروي اتحاد او امین په خپل ګوند ولاړ وو. کارمل له پاچا محمد ظاهر او محمد داود سره هم لیدل. په داسې حال کې، چې امین په خپل ولس په تېره په پښتنو او له امو نه تر اباسین پورې په لوی افغانستان باندې ټینګ وو[29 الف].
په دغه حال کې کارمل او پلویانو یې امین "فاشست" او په عین حال کې د سي.آی.ای "ایجنټ" باله، په داسې حال کې چې امین کارمل د پنجابي طاهر پهلوان کړوسی شوده او او ویل یې، چې هغه په اصل کې افغان نه، بلکې "مطلق یو ایجنټ" دی[30]. د افغانستان د ټولو اساسي قانونو له مخې هر څوک چې د افغانستان تابعیت ولري، افغان دی، خو لکه څنګه چې لیدل شوي دي د مهاجرو په زوزاد کې افغانستان ته د رښتین توب او وفادارۍ احساس ډېر ضعیف وي. کارمل د یو شمېر نورو افغانانو په شان له مهاجر نسل نه و، نیکه یې محمد هاشم پر 1879 کې له انګرېزي پوځ سره د هندوستان له کشمیر نه افغانستان ته راغلی و[31]. کارمل، چې په 1957 کې د ک.ج.ب ایجنټي منلې وه، په دې فکر و چې افغانستان د شوروي اتحاد شپاړسم جمهوریت وګرځوي[32]. د عبدالقدوس غوربندي دغه وینا سمه ده، چې "کارمل منبع و منشا قدرت حزبی را در خارج از حزب [در اتحاد شوری] جستجو میکرد و برای بدست اوردن اعتماد آن از هیچگونه جدوجهد دریغ نمیکرد."[33]

کارمل د ثور تر کودتا نه دمخه کوښښ کاوه، چې امین له ګوند نه واېستل شي، دا هغه وخت و چې د امین او کارمل نزدې ملګرو د یو بل پر ضد تبلیغ کاوه او موضوع د تحقیق لپاره د تفتیش کمیسیون ته وسپارل شوه، چې مشر یې د ستیګیر پنجشیری و. دغه کمیسیون په پای کې دې نتیجې ته ورسېد، چې "... امین د]علي احمد[خرم په ترور کې لاس درلود او باید له ګوند نه واېستل شي." سیاسي دفتر د څلورو رایو په برابر کې په شپږو رایو د کمیسیون فیصله تایید کړه، خو عمومي منشي نور محمد تره کي، چې په امین ولاړ و، وخت وغوښته او فیصله په دې عملي نه شوه، چې امین کودتا وکړه. وزیري له ګوند نه د امین د ایستلو حرکت په اصل کې د ک.ج.ب دسیسه ب، لي، ددې لپاره چې د خلق ګوندګی ناتوان او په نهایت کې قدرت ته د کارمل د رسېدلو لپاره لار هواره شي. دی لیکي، چې "ددې په څنګ کې غلام دستګیر پنجشیري هڅه وکړه، چې په ګوند کې د بې باوري او بې اتفاقی اور ته لمن وو هي، چې پخوا په ګوند کې موجود وو.... څنګه چې د خلق یانو په منځ کې د ګوند دننه د زرغون فرکسیون و، چې د امین پر ضد یې فعالیت کاوه، ولې په واقعیت کې ددغه فرکسیون شاته درې تنه، چې اصلي محرک یې پنجشیری و او صالح محمد زیری او عبدالکریم میثاق هم ورسره ملګري وو، ولاړ وو... په پای کې د حفیظ الله امین او د هغه پلویانو ته د ګوند د ضدیت تر نوم لاندې دوسیې جوړې شوې او د امین د ایستلو د سند مسوده د میثاق له خوا ولیکل شوه."[34] دغه روایت د زیري له روایت نه یو څه توپیر لري، خو د دواړو اصلي ټکي له ګوند نه د امین ایستل و، چې امین د هغه په برابر کې د "افغانستان د ملي دموکراتیک ګوند" په نامه په خپلې مشرۍ سره د بېل ګوند بنسټ کېښود، چې د مرکزي کمېټې غړي یې محمود سوما، منصور هاشمي، عبدالرشید

جليلي، صديق عالميار، راز محمد پکتين او صاحبجان صحرايي وو.[35]"

د خيال محمد کتوازي په وينا، پنجشيري د کودتا "په هماغه اوله ورځ... د تره کي او امين په څنګ د کارمل پر ضد دريځ بدل کړ." له دواړو سره يې پښتو ويل پيل کړل او امين ته يې غوړه مالي کوله. په خپله کارمل هم، چې هر وار امين ليده، مخ مچی يې ورسره کاوه او دواړو ورنه منډنه کوله، چې له مرګ نه يې ژغورلي دي. امين تره کي ته، چې ورنه يې غوښتي و، له کارمل سره ښه وضع وکړي، وويل "... نور لا څه وکړم، چې هره پلا مې ويني، د مخ مچي روغ بړ راسره کوي." زيری لا وايي، چې په دغه وخت کې "ملګري ډلې ډلې شول او هر يوه امين ته ځان نزدې کاوه." دی دا هم وايي، چې "زه په وجداني توګه د امين په اړه له بد نظر څخه پښېمانه وم او له ځان سره مې ويل، چې په دې سړي کې دومره استعداد و، چې د ګوند په غياب کې يې انقلاب ترسره کړ او موږ ټول يې له مرګ څخه خلاص کړو.[36]"

خو د امين او کارمل ترمنځ بې اعتمادي رښتينې او ژوره وه، هغه وروسته له هغه برالا شوه، چې امين او وطنجار په يوې لويې غونډې کې په پولي تخنيک کې څرګنده کړه، چې د "ثور انقلاب" يواځې خلقيانو کړی او پرچميانو پکې برخه نه ده اخيستې. تر دغه وخته پورې رسمي نظر دا و، چې کودتا د ګوند له خوا د تره کي په لارښودنه بريالی شوې ده، خو امين لا تر کودتا وروسته د اتحاد په نامه د کورنۍ چارو وزارت د امنيتي لوی قومندان محمد داود تړون له لارې له پرچمي قومندان صمد ازهر نه د پرچم د پوځي او پوليسي افسرانو لستونه ترلاسه کړي و، نو امين ته د پرچمي ګوندکي قوت چې ډېر نه و، معلوم و. له همدې امله به هم و، چې امين

له کود تا نه وروسته سره له دې چې د ک.ج.ب په سپارښتنه یې منلې وه، چې پرچمیانو ته به په حکومت کې برابره برخه ورکوي، خو په ګوند، حکومت او په خاص ډول په پوځ کې یې د خپل ګوند درېځ ټینګ کړی او کارمل بېواکه ګرځولی و. کارمل تر دې حده پورې بېواکه شوی و، چې د جون په اتلسمه یانې درې اونۍ وروسته له هغه چې د پولټبورو د یوې پریکړې له مخې دوارړه ګوندګي یو موټی شوی ګونډ ګڼل شوی او حتی د "خلق" او "پرچم" د نومونو اخیستل منع اعلام شوي و، د تره کي په شتون کې پوزانوف او ورسره یو څو نورو شوریانو ته شکایت وکړ، چې "زه په حکومت او ګوند کې له نور محمد تره کي نه وروسته دویم مقام لرم، خو سره له دې هم زه نه پوهېږم چې په هېواد کې څه واقع کېږي؟ دوی زه ګوښه کړی یم، زه له باندني او دننني سیاست سره سر او کار نه لرم. زه لکه چې په طلایي قفس کې اوسم. دا د یوه کمونست په توګه زما لپاره لویه تراجیدي ده." هغه دا هم وویل، چې "وضع د ګوند د ټوټه کېدلو په لور روانه ده، هر څه د حکومت او پوځ لاسونو ته درومي."[(37)]

له بلې خوا خلقیانو پرچمیان په حکومتي ضد عملونو تورنول، تره کي لا ویل، چې "حتی تر انقلاب نه دمخه مو په پرچمیانو اعتماد نه کاوه او له پرچمیانو سره اتحاد یوازې فرمایشي و. دوی په پاڅون کې نږدې هېڅ رول نه لاره، خو د انقلاب له بریالي کېدلو نه وروسته د پرچمیانو مشر ببرک کارمل په ټینګه وغوښتل، چې د وزارتونو او ځانګو لوړ مقامونه دې سره برابر وویشل شي." تره کي دا هم وویل، چې کارمل "... ادعا کوله چې د ګوند په جوړولو کې یې د مشري رول لوبولی، څرګندوله یې چې که تاسې پوځ لرئ، ګوند موږ ته راکړئ." په هغه سربېره وروسته له هغه، چې د دوی غوښتنې و نه منل شوې، دوی ترټل چې پاڅون به وکړي. په دغه

حال کې تره کې او امین ښکاره کړه، چې اوس يوائې يوه لار پاتې ده، یا دوی یا موږ[38].
په دغه حال کې کارمل د خپل او خپل ګوند سیاسي ژوند د شوروي اتحاد په قوت کې لیده، شوروي اتحاد هم د کارملیانو شاته ولاړ و. د وزیري په وینا "د شوروي اتحاد مشرتابه د ببرک ډله دې ته هڅوله، چې څومره زر کېږي، له خلقیانو څخه سیاسي واک ترلاسه کړي.[39]"
پروګرام دا شو، چې پرچمیان به په خلقیانو کودتا کوي.
نبي عظیمي، چې تراوسه هم پرچمی پاتې شوی، د کودتا شکل په دې ډول بیانوي: "په داسې حال کې چې د پرچمي لویانو د سفیر کېدلو اوازې روا نې وې، د کودتا موضوع ټینګه ونیول شوه. عظیمي، چې په دغه وخت کې په غزني کې د څوارلسمې فرقې قوماندان و، د پرچمي عبدالوکیل له خوا کابل ته وغوښتل شو او هلته یې ورته هدایت ور کړ، چې "نظر تمام اعضای حزب این است که در صورتیکه امین در تصمیم خود پافشاری نماید، اردو قیام مسلحانه را علیه امین اغاز نماید." وکیل دغه "پاڅون" په دې ضرور ګاڼه، چې امین "در نظر دارد تمام پرچمی هارا از رهبری ای صفوف از صحنه خارج و بصورت فزیکی به نام خاینین بانقلاب ثور از بین ببرد." عظیمي دا هم لیکلي، چې "من به وکیل گفتم اگر راه ها و وسیله های دیگری سراغ ندارید، من حاضرم. اما تاکید میکنم که انتخاب این راه خون ها بسیاری را خواهد ریخت [ریختاند] و فرجام ان بسیار تاریک است. وکیل خوشنود گردید و رمزی بین ما تعیین شد.[40]"
نبي عظیمي وروسته د غزني په فرقه کې ټول پرچمي افسران، چې شمېر یې د هغه په وینا لږ نه و، د حکومت پر ضد پاڅون ته وبلل. "آنها بدون تردید حاضر گردیدند که در صورت رسیدن

دستور بخاطر انتقام گرفتن از امین و حمایت از ببرک کارمل داخل اقدام شوند." دی دا هم وایي، چې "ما پلان دقیق اما ساده یی طرح کردیم که نکات اساسی آن را گرفتاری افسران مخالف، مسلح ساختن فرقه و ترک نمودن وضع الجیش فرقه بخاطر جلوگیری از بمبارمان هوایی تشکیل میداد.(42)"

خو کارمل طالع من و، چې ترڅو دی په کابل کې و، ملګرو یې په کودتا لاس پورې نکړ.

د محمود سوما په روایت امین "غوښتل چې ببرک کارمل او په کودتا کې نور کسان بندیان کړي، خو د نور محمد تره کي له مخالفت سره مخامخ شو." په دې اړه تره کي له پوزانوف سره مشوره وکړه، چې لکه هغه دده آمر وي. پوزانوف دوه مشورې ورکړې: یوه دا چې کارمل په چکوسلواکیه کې او ملګري یې په نورو هېوادونو کې د سفیرانو په توګه واستوي. بله دا چې د غه ټاکنې باید په دموکراتیکه توګه ترسره شي، خو څنګه چې په دغه مهال کې د سیاسي دفتر زیاتره غړي د کارمل په خوا وو، تره کي خپلو پلویانو ته دنده ورکړه، چې هغوی راواړوي. هغوی په دغه کار کې بریالي شول. "بیا همدغو ټولو ملګرو ته د تره کي له خوا هغسې فیدتې و غږول شوې، چې د ببرک ډلې د کودتا د جریان خبرې پکې ثبت شوې." او چې هغو ته دا هم وویل شول، چې هغوی د پوزانوف په مشوره سفیران کېږي، هغه د سیاسي دفتر په غونډه کې دغه وړاندیز په زیاترو رایو ومانه(42). بیا نو کارمل پراګ ته، محمود بریالی اسلام آباد ته، عبدالوکیل لندن ته، نور احمد نور واشنګټن ته، نجیب الله تهران ته او اناهیتا بلګراد ته د سفیرانو په توګه واستول شول. دلته د دوو ټکو یادول ضروري ښکاري: یو دا چې په یوې داخلي موضوع یې د یوه خارجي هېواد سفیر دخیل کړی شو او بله دا چې که هغوی په رښتیا کودتا کوله، له ملک نه دباندې په ښه نامه ووتل او مصؤون شول.

خو دننه په وطن کې نور پرچميان کرار نه شول او د پخوا په شان يې په پټه غونډې کولې. څنګه چې دوی نږدې ټول ښاريان وو، غونډې يې د خلقيانو لپاره د انديښنې وړ شوې. سره له دې چې ګوندي حوضې د ښار ندوی په شان په ښار کې ځای پرځای جوړې شوې او فعالې وې. لومړنی ګوندي سازمانونه غير له هغو څخه وو، چې په حکومتي څانګو او هم د هستوګنځيو په سيمو کې په زيات شمېر فعال وو. ددغو ټولو له لارو ښارآريان څارل کېدل. سره له دې هم څنګه چې خلقيان ساراني او اطرافي وو، هغو ته ګرانه وه چې ښاري پرچميان تر ډاډمنې څارنې لاندې ونيسي.

وضع داسې وه، چې لکه د اطرافي حاکمانو او ښاري مخالفانو ترمېنځ جنګ وي. په همدغه ګير او دار کې د اسد د مياشتې په 28مه) اګست1978(حکومت په کابل کې د خلقي نظام پر ضد د ځينو پرچمي لويانو د کودتا خبر خپور کړ. په اول سر کې د دفاع وزير جنرال عبدالقادر لوی درستيز شاهپور احمدزی او د جمهوريت د روغتون سر طبيب مير علي اکبر ونيول شول او وروسته د پلان وزير سلطان علي کشتمند او د فوايد عامې وزير محمد رفيع ونيول شول. ددغو بنديانو "اعترافونو" فوتوکاپي ګانې په ورځپاڼو او وروسته په کالنۍ کې خپرې شوې، چې د خلق حکومت په هکله يوه ډېره غټه سرچينه ده. ددغو "اعترافونو" له مخې کارمل پخوا له دې چې له وطن څخه بهر شي، عبدالقادر او نورو ته د کودتا کولو دستور ورکړی و. د کشتمند د "اعتراف" له مخې دغه وخت د کودتا لپاره شرايط برابر شوي وو. "از انجائيکه دولت کنونی از راه سو شلزم دور ميرود، مردم ناراضی هستند، يک قيام عمومی سرتاسری در تحت رهبری قادر خان بايد صورت بگيرد. در دولت جديد بايد تمام نيروها و عناصر ناراضی بشمول خلقی هائيکه موافق باشند، تحت يک اتحاد عمومی يک دولت

بنام جمهوری دموکراتیک خلق افغانستان را بوجود بیاورند.[43]" په کودتا کې به بنسټیز رول د پېنځلسمې زغرورې قوې وي، چې د ډګرمن هدایت الله، محمد رفیع، فاروق او خلیل په سروالۍ نظامي کودتا د اختر په ورځ پیل کړي. په داسې حال کې چې کشتمند به په ښار کې د مظاهرې لار ښودنه کوي. اطرافي پرچمیان به په خپلو سیمو کې په کار لاس پورې کوي او داسې نور... د بریالیتوب په حال کې به د نوي دولت سروال او د ملي دفاع وزیر عبدالقادر وي. د کشتمند د لیکنې له مخې کارمل هغه په ځان مَېن ګڼلی او په دغې وعدې سره یې د هغه همکاري جلبه کړې ده. د کټوازي په وینا عبداقادر تر پایه پورې خلقي و.

دا چې کودتا په دغه ډول ترتیب شوې وه، یقیني نه ده. دا هم یقیني نه ده، چې دغو پرچمیانو به چې لویان یې له وطن نه بهر وو، په رښتیا کودتا کوله. د تورنو خپاره شوي اعترافونه د واقعیت څرګندوی کېدلی نه شي. د خلقیانو په وخت کې لکه وروسته د پرچمیانو په وخت کې اعترافونه په زور او کړاونو سره ترلاسه کېدل. په هغه وخت کې کلکه اوازه وه، چې له کشتمند نه د اعتراف ترلاسه کولو لپاره د هغه مېرمن یې ور ته حاضره کړې وه، چې که اعتراف ونه کړي، سپکاوی به یې وشي. ددې خبرې مانا دا نه کېږي، چې تورنان به په کړول کېدو سره هم رښتیا ووایي. دوی هغه څه وایي، چې ور نه غوښتل کېږي او له دوی نه هغه څه غوښتل کېږي، چې په هغو سره په سختو جزاګانو محکوم شي. خلقي مستنطقینو ته هر تورن "خاین" و او دوی خپله دنده ګڼله، چې له هغو نه همدغسې اعتراف ترلاسه کړي. مستنطق غلام صدیق تورن عبدالغني ساپي ته ویلي و، چې "خاینینیکه اینجا نزد ما حاضر ساخته میشوند، همه انکار مینمایند، (ما) مجبوراً انها را شکنجه میدهیم."

کودتا یا نه کودتا د کودتا په نامه د پرچمیانو بندي کېدل د نورو پېښو لپاره لار هواره کړه، چې تر ټولو مهمه یې د نورو پرچمیانو بندي کېدل او پټېدل وو. د بندي کېدلو لړۍ تر میاشتو میاشتو اوږده شوه، پرچمي فعالان هم له خپلو کورونو او هم له ادارو نه وړل کېدل او اګسا ته سپارل کېدل. په دغې فضا کې څرګند پرچمیان اړ شول، په ورځپاڼو او غونډو کې خپل پراري لویان وغندي. یوه یې لا په یوه لوړ پوړي غونډې کې د امین په مخ کې پرچمي لویان د درباریانو، اشرافو او داسې نورو نومونو وغندل او په خپله کارمل یې د امپیریلزم توري چترۍ ته پناه وړونکی وښود.

څرګندو پرچمیانو او هغو چې د پرچمي توب ګومان پرې کېده، په ورځپاڼو او غونډو کې پراري پرچمي لویان په سپکو نومونو یادول. په غندنې کې د پرچم مخالفان تر ټولو دمخه وو. دوی په خاص ډول کارمل سخت غنده او د "دربارمل"، "دربارغل"، "ارستوکرات"، "پردي" د "پردیو ایجنټ" او په داسې نورو نومونو یادوه. په دغه تبلیغ کې عبدالمنان ملګري، چې یو زړور ممثل او زما په وخت کې د پښتو ټولنې د کابل مجلې په اداره کې کاتب و، پوره نوم ایستلی و. په دغه وخت کې په کابل کې د پرچمیانو د ټکولو لویه مسابقه روانه وه، خو محمود بریالی په مسکو کې د ک.ج.ب یوه مامور نیکراسوف ته ویل، چې په دغې مسابقې کې "دغسې کسان ګړول کېږي، چې شوروي اتحاد ته په مطلق ډول وفادار دي."[44] په هر حال په دغې مسابقې کې هغومره، چې په پرچمیانو پسې ډول ډول پرپاګندونه وشول، په افغانستان کې بل هېڅ وخت دغسې پروپاګندونه نه دي شوي.

پټو پرچمیانو هم د حکومت په تېره د امین پر ضد پروپاګندونو باندې زور واچوه. دوی امینیان "فاشستان" بلل او په خپله امین یې د سي.آی.ای

"ایجنټ" ګانه. په عین حال کې حکومت پرچمي سفیران "خاینان" اعلام کړل، موقوف یې کړل او له افغان تابعیت نه محروم کړل. دا یې هم څرګنده کړه، چې دوی د سفارتونو نغدې پیسې غلا کړي. دوی په رښتیا هم دغه اختلاس کړی و. نور احمد نور وروسته ددغو پېښو مجرایي له خپل پرچمي رجیم نه واخیستله. په دغه دلیل، چې هغه غلا کړې پیسې یې په ګوندي چارو لګولي دي. د پرچمیانو د ادعا له مخې نږدې یو نیم زر پرچمیان بندي شوي، چې څه یې له مېنځه وړل شوي وو، خو دا غټه مبالغه ده. شوروي مشاورانو نه غوښتل، چې د غومره ډېر پرچمیان بندي او اعدام شي، خو په دې کې شک نشته، چې امین غوښتل پرچم د یوه تنظیم په توګه له مېنځه یوسي او د دوی له لارې افغانستان د شوروي اتحاد له احتمالي خطر نه وژغوري. له نومیالیو بندیانو نه میر علي اکبر او شاهپور احمدزی اعدام شول. احمدزي به ځکه اعدام شوی وي، چې دی د لوګر د نامتو فرقه مشر عبدالغني احمدزي کورنۍ نفوذ ناک قومي مشر و، په اصل کې د کمونزم مخالف و. دی پخوا د محمد داود له معتمدانو څخه و او هغه "...محمد داد خان را بار بار از تحریک و دسیسه سازی اطرافیان کمونستی اش و کشتار و زندانی کردن مردم بیگناه بر حذر میداشت.[45]"

دریم څپرکی

سور بېرغ او درې وروستي فرمانونه
یا
له ولس سره د حکومت مقابله

حکومت د شپږم فرمان تر ایستلو پورې د حکومتي جوړښتي مسئلو، د محمدزي واکمنۍ او ماوستي ډلو په ځپلو بوخت او په پېښو یې لاس بر و. په همدغه وخت کې یې د خلکو د ښېګڼې لپاره هم یو څه و کړل، لکه د عمومو د اندېښنې وړ د اتم ټولګي د کانکور لغو کول، د کانکور وهلو لپاره بسپنه ټولول او د بسپنې په پېسو سره د هغو لپاره یوه لېسه پرانیستل او په کابل او شاوخوا کې د محمد داود د وخت د جنایي بندیانو ازادول، خو په وروستي کار سره د حکومت په اړه د خلکو شک پیدا شو. هغه درې زره بندیان، چې په کابل او ولایتونو کې د جوزا د میاشتې په 28مه د فرمان له مخې ازاد شول او د نورو د بند موده لږه شوه، جنایي یانې هغه بندیان وو، چې د قتل، غلا او دغسې نورو جنایتونو په تور په محکمو کې محکوم شوي وو. حکومت په دې اړه تر دې حده نندارې جوړې کړې، چې حتی د هغو دوسیې او دفتري پاڼې یې د خلکو په غونډو کې وسوځولې. آوازه شوه، چې حکومت غواړي د ولس په تاوان جانیان له ځان نه خوښ کړي. په داسې حال کې، چې جانیان په هر رجیم کې جانیان دي. دا هم ویل کېدل، چې که حکومت په رښتیا د اصلاح په

فکر وای، له جانیانو نه به یې ضامنان ترلاسه کړي وای، چې بیا به جنایت او د قانون پرخلاف عمل نه کوي. دا چې دغومره ډېر جانیان په زندانونو کې پراته وو، د پخواني حکومت په لمن کې یو تور داغ و. د همدغه داغ له امله به هم و، چې د ثور له کودتا نه وروسته په ټول ملک کې دغسې یو غورځنګ و نه لیدل شو، چې د محمد داود په پلوۍ عمل وکړي.

په هر حال، اوس اندېښنه دا شوه چې حکومت ولې د غه جانیان د نورو جرمونو د کولو لپاره ازاد او په ولس حواله کړل؟ د حکومت په اړه په دې هم شک پیدا شو، چې سیاسي بندیان یې ازاد نه کړل، په داسې حال کې چې په افغانستان کې د رواج له مخې د رجیم په بدلېدلو سره سیاسي بندیان خوشې کېدل او له دغه حکومت نه هم دغه هیله کېده، خو دغه انتقادونه او نارضایتونه د ذهن په ساحه کې محدود وو او که حکومت نور پارونکي کارونه، نه وای کړي، پرضد به یې عمل نه وای شوی، خو له هغه وروسته حکومت په دغسې پارونکو کارونو لاس پورې کړ، چې د هغو له امله نژدې ټول ولس د حکومت پرضد فعالیتونو لپاره په پښو ودرېد.

سور بېرغ

د تلې د میاشتې په 27مه) اکتوبر 1978(د څلورم فرمان له مخې، چې دمخه ایستل شوی و، د کابل په ښار کې نوی بېرغ په ډېر لوړ شان سره جګ شو. د هغه لپاره نه یوازې لوړ پوړي ګوندي او حکومتي کسان، بلکې حکومتي مامووران، د لوړو زده کړو مؤسسو محصلان، د ښوونځیو شاګردان، ښاریان او د ششکراهۍ بزګران په ښه تنظیم سره په پښتونستان واټ او شاوخوا کې سره غونډ شول. د ټولو خلکو شمېر له حساب نه وتلی او ډېر و. خلک ډله ډله د مني په یوې ښکلې لمریزې ورځې کې د ارګ د ختیځ وره ترمخه، چې هلته لیرې حکومتي او ګوندي لویان د نور محمد تره کي په

سروالی په لېسو درېشیو کې د شوروي لویانو په شان قطار ولاړ وو، رژیم تېرېدل. حکومت بیا هېڅکله په هېڅ نامه د غومره ډېر افغانان پر ځان ټولولی و نه شو. دا یې په واقع کې د بریالیتوب او ویاړ هسکه وه، خو هغه د لږ وخت لپاره وه. د بیرغ رنګ تک سور غوره شوی و او په یوه ځنډه کې یې بس د "خلق" کلمه لیدل کېده. هغه زر په "خلقي بیرغ" یاد شو او د پاچا امان الله د وخت بیرغ، چې تور، سور، زرغون رنګ یې لاره او محراب او منبر هم پکې په نښه شوی و او افغانانو ته د ویاړ او سرلوړی بیرغ و، ترک شو. افغانان پوهېدل، چې سور رنګ د کمونزم نښه ده، د غه پوهه نوره هم شعوري او ټینګه شوه، چې تره کي په هغې وینا کې، چې د نوي بیرغ په اړه وکړه، څرګنده کړه چې د هغه تر نامه لاندې به زوړ "فیوډالي سیستم" ټوټه ټوټه کړو او پر ځای به یې د دوران جوړونکې کارګري نقشې له مخې نوې ټولنه جوړه کړو او د ځمکو اصلاحات به عملي کړو. په عین حال کې یې اخوانیان د خلکو "دښمنان" وبلل او پرضد یې جهاد اعلام کړ. ډېرو خلکو سور بیرغ د ملک د کمونستي کولو په لور د خلقي لویانو لومړی ګام وباله. اندېښنه د پخواني بیرغ له ترک نه هم راولاړه شوه، چې افغانانو ته د خپلواکۍ او هویت ویاړلې نښه وه. په دغه حال کې د خلقي بیرغ په نامه د سره بیرغ غوره کول او په ننداره ییز ډول د هغه هسکول د خلکو له پارولو نه پرته بل څه نه و. خلک په رښتیا هم وپارېدل، په دې کې حکومت ته څه عملي ګټه هم نه وه. د ګوندیانو لپاره دا بس یوه رومانتیکي جذبه وه.

هو، دوی به په دغه بیرغ سره شورویانو ته ښودلي وي، چې دوی د هغو په لار روان ملګري دي. خلکو البته په هغه وخت کې د سره بیرغ په وړاندې څه غبرګون و نه ښود او نه یې ښودلی شو، خو مخالفانو په تېره اخوانیانو د خلکو له دغه

ناراضي توب نه ګڼه اوچته کړه. په نتيجه کې دغه شک په يقين بدل شو، چې خلقي لويان د ملي ارزښتونو او اسلام مخالف او د شوريانو پيروان دي. په دغه حال کې په پېښور کې د افغانستان اسلامي تنظيمونو لويانو هم د حکومت پر ضد جهاد اعلام کړ او افغان ټولنه په دغه ډول په دوو کامپونو وويشل شوه.

د ليک او لوست کورسونه

د لويانو د ليک او لوست کورسونو پروګرام عملي کول هم پارونې وکړې. د پرنسيپ له مخې خلک مخالف نه وو، چې لويان ليک او لوست زده کړي. د دوی لپاره دغه موضوع حياتي وه، ځکه چې هېواد يې په دغه اړه د نړۍ د بېرته پاتې هېوادونو په ليکه کې راته او د دوی ناريښه او تر هغو لا زيات ښځې په لوړ تناسب په ليک لوست نه پوهېدلې، نو په دوی کې تر کودتا دمخه د ښوونځي او زده کړې شوق تر دې حده عمومي و، چې د اطراف خلکو هم نه يواځې د هلکانوو بلکې د نجونو لپاره هم ښوونځي غوښتل او حکومت د ځمکې او کار په بڼه د خلکو په مرستو سره حتی په ډېرو لېرو سيمو کې د نجونو لپاره هم ښوونځي پرانيستلي وو. په خلکو کې د ليک او لوست احساس به له دې امله هم قوي و، چې د نويو ښوونځيو په پرانېستلو او په عمومي ډول د عصري پوهنې په رواجولو کې د خلکو ارزښتونه په نظر کې نيول کېدل او د پاچا امان الله د وخت د تر خو تجربو په نظر کې نيولو سره دعمومو د ارزښتونو په مخالفت څه نه کېدل، خو خلقيانو دغو واقعيتونو ته ونه کتل او دغه متل يې له ياده وايست، چې وايي "افغانان په هڅونې سره دوزخ ته ننوځي، خو په زور سره به جنت ته هم لاړ نه شي."

د لويانو د ليک لوست زده کړې په کورسونو کې د تعريف له مخې لويان بايد داخل شي، همدغسې

هم کېدل. په کورسونو کې نارینه او ښځې دواړه غوښتل کېدلې، خو د کورسونو لپاره نه ښوونکي او نه درس کوټې په کافي شمېر موجودې وې. کورسونه زیاتره په ماجتونو او ښوونځیو کې پرانېستل شول، د ښځو لپاره باید ښځینه ښوونکي وای، خو ښوونکي زیاتره خلقي نارینه وو او هغو د امنیت په نامه ښځې درسي خونو ته د ننوتلو په وخت کې لټولې. یو شمېر خلقیانو په خپلو سیمو کې د اعتبار وړ کسانو لوڼې د نکاح لپاره وغوښتلې او یو شمېر نورو دغسې نجونې په زور خپلې ښځې کړې. اوازه شوه، چې په ښارونو، ولسوالیو، علاقه داریو او ښوونځیو کې یانې په حکومتي مرکزونو کې له نجونو او نورو ښځو نه د ګوندیانو او حکومتیانو لپاره د استفادې لار خلاصه شوې ده. مجرد تاوجن ګوندیان او حکومتیان لږ او بې میله نه و، چې له نجونو او ښځو سره د جنسي غریزې له مخې چلند و کړي. بیا نو د غه وېره عامه شوه، چې له دې وروسته به نارینه د خپل ناموس اختیار و نه لري او د کورس په نامه به یې اختیار د حکومتیانو په لاس وي. حکومت اوس په یوه بل ډول په کورنۍ کې لاسوهنې پیل کړې او ددې پروا یې نه کوله، چې په افغانستان کې نارینه د خپلو کورنیو واکمنان دي، چې ښځې خپل ناموس ګڼي او سپکاوی یې نه زغمي. له بلې خوا ګوندیان او حکومتیان په دغه وخت کې په رسمي ډول ددغومره زیات رسمي واکخاوندان شوي وو، چې بل هېڅ وخت کې تر دغه حده پورې نه وو شوي. دغو وړو فرعونانو په کورسونو کې هم حاکمیت چلاوه، ددې لپاره چې باید د ثور "د پرتمین انقلاب" د لومړۍ کلیزې په ویاړ یو ملیون لویان او لویانې باسواده کړي.

دا چې په ټول هېواد کې کورسونو ته د ښځو له ورتګ سره مخالفت عام و، په دې کې شک نه شته. په کومو ځایونو په تېره په ښارونو کې چې ښځې په لومړیو ورځو کې په کورسونو داخلي شوي دي،

له ډار نه و. خلکو نه غوښتل په دغه نامه ور سره انقلابي چلند و شي، ځکه چې ګو ندیانو ته انقلابي چلند د مرګ تر پولې پورې جزا ور کول و. په اطراف کې لو یان او لو یانې تر کورس لو ستلو نه ډېرې د ژوند د چارو په فکر وې. کورسونو دوی ته سمدلاسه عملي ګټه هم نه کوله، نو کورسونو ته د دوی کشول یو ډول حکومتي بیګار شو. په دې سربېره په کور سونو کې ا یډیالوجیکي تبلیغ هم کېده. په ټولو هغو وړو لویو پاڅونونو کې، چې یو ځای بل ځای په تېره په هرات کې وشول، په کورسونو کې د ښځو موضوع دخیله وه، چې وروسته به یې بیان وشي.

د ګروي په اړه فرمان

د سود او سلم او ګروي په هکله شپږم فر مان د خلقي حکومت په نظر د ستمګرو له جغ نه د خواریکښو بزګرو په ګټه وایستل شو، خو په واقع کې د دغه فر مان دد غه مقصد پرخلاف تر ډېره حده پورې د ځمکه والو په ګټه تمام شو. فر مان په هغو باندې عملي شو، چې له کال 1974/1353 نه دمخه یا تر هغه ورو سته یې د پېسو په بدل کې ځمکې په مشروط ډول یانې په ګروي سره ترلاسه کړې وې، په دې مانا چې ګروي وال به د پېسو په بدل کې تر هغو پورې د ځمکې له حاصل نه استفاده کوي، چې د ځمکې څښتن د هغه پېسې بېرته ورکړي. د فرمان مهم ټکی دا و، چې که ځمکه له 1353 کال نه دمخه په ګرو اخیستل شوې وي، ګروي وال مکلف دی له ولاړ فصل نه وروسته ځمکه مسترده کړي او که یې ځمکه په 1353 کې په ګرو اخیستې وي، د اصلي پېسو په سلو کې شل مستحق ګڼل کېږي. هغه هم یو کال وروسته او که یې د کودتا په کال (1978/1357) ځمکه په ګرو اخیستې وي، په سلو کې نوي د خپلو پېسو مستحق دی، هغه هم په پېنځو کلونو کې. البته ځمکه به

په هماغه اول سر کې د ځمکې اصلي څښتن ته پرېښودل کېږي.
د فرمان بل مهم ټکی دا و، چې یواځې بې ځمکې زراعتي کارګر پور وړی، نه هر پوروړی، مالکانو ته د سود او پور له ورکولو نه معاف دی. په همدې ډول بې ځمکې بزګر او هغه چې د لس جریبه اولې درجې ځمکې خاوند وي او له 1353 نه وروسته د سود او سلم پر اساس د یوه یا څو کسو پوروړی شوی وي، د پور او سود له ورکولو نه معاف دی، خو اصلي پیسې به په هغه تناسب بېرته ورکوي، چې تناسب یې د ځمکې د ګروي د بېرته ورکولو په باب دمخه ټاکل شوی وي. په دغسې مقررو سره ددغه فرمان عملي کول ناآشنا ستونځې پیدا کړې، چې د هغو هواړول د حکومتي مامورانو له صلاحیت او توان نه اوچت و. له دې امله د ولایتونو او ولسوالیو په سطح ددغسې کشالو د هوارلو په مقصد د کمېټو جوړول په نظر کې ونیول شول، خو د دغه کمېټې د والي یا ولسوال په سروالي، د حکومتي څانګو آمرانو او د بزګرو له استازو نه جوړې شوې. په هغو کې نه ځمکه والو ته او نه هم د محل مخورو ته د غړیتوب حق ورکړل شو. د حکومت په نظر دوی "فیوډال" وو او حکومت د "فیوډالزم" د له مېنځه وړلو او د خواریکښو بزګرو د جلبلو لپاره پښې لوڅې کړې وې.
ددغه فرمان له مخې له سود او سلم او پور ورکولو نه د بزګرو معافېدل سمدلاسه د هغوی په ګټه تمام شو، خو د دغه فرمان په عین حال کې د ژوندانه او ضرورت په سختو شېبو کې لکه د واده، ناروغۍ او داسې نورو د دوی په مخ د پې سو سمدلاسي او اسانه منبع وچه کړه او ټول نه یې د معاملو له رکود سره مخ کړه. تر دغه وخته پورې خلکو په اطراف کې د همدغه دود له مخې په سختو ورځو کې خپلې ستونځې رفع کولې. د همدغه دود له مخې بې سوده یا حسنه پور هم مروج و،

چې دواړو د ټولنې په پېوستون کې رول درلوده. د غه دود تر اقتصادي نه زيات اجتماعي او د پېړيو پېړيو د تجربو محصول و، چې ممکنه نه وه هغه په يوه فرمان سره له منځه لاړ شي، خو دا چې د کار او عايدو په ډېر بدلو سره ژوند شه او خلک پر ځان ډاډه شي، د ځمکو د ګروي برخه د فرمان لا غټه خوا ده. په د غه فرمان سره ګټه د هغه چا شوه، چې د ځمکې خاوند و او تاوان هغه چا وکړ، چې بې ځمکې و او د خپل کار له برکته د پېسو او ګروي ځمکې خاوند شوی و. په ګروي والو کې ځمکه وال هم شامل و، خو دوی تر هغو نه ډېر کم وو، چې ځمکې يې په خپلو ګټل شويو پېسو سره په ګروي اخيستې وې. په افغانستان کې له هغه وخت نه، چې په کيډماوي سرې او اصلاح شوي تخم سره حاصل ډېر شوی و، د ځمکو اجاره داران د نقده محصولاتو يانې د سبو، ګلپې، پياز او کچالو د زيات والي او د ترانسپورتي لارو د ښه والي له امله د پېسو خاوندان شوي وو. دوی چې به ځومره ډېره خواري کوله، په هماغه اندازه يې ګټه کوله. په ټوليز ډول د غه ډله خلک په تېره په ننګرهار کې د پېسو خاوندان شوي وو او له دوی نه ډېرو په خپلو دغو پېسو سره ځمکې په ګروي ترلاسه کړې وې.

په همدغه ډول افغان کارګرو، چې په ايران او عربي هېوادونو کې پيسې ګټلې وې، په وطن کې يې په ګروي سره ځمکې خپلې کړې وې. په د غه فرمان سره د غو ټولو خواريکښو د ګروي ځمکې او خپلې پانګې له لاسه ورکړې. دا چې حکومت دد غه فرمان له ايستلو نه وروسته ناړې سورې سر کړې، چې يوولس مليونه بزګر يې له درانده بار نه ژغورلي او دهقانان يې د برش مليادرو افغانيو په حدودو کې د پور له ورکولو نه معاف کړي[1]، هسې پروپاګند و. که د حکومت د تعريف له مخې د لسو جريبو ځمکو او يا تر هغه لږ د ځمکو خاوندان هم په بزګرو کې حساب شي او په د غې

کتنه ګورئ کې هغوئ، چې بې ځمکې یا لږ ځمکې او د سود او سلم پوروړي وي او شمېر یې یوولس میلیونو ته ورسېږي، په دې حساب باید د ملک ټول نفوس د پنځوس ملیون په شاوخوا کې وي، حال دا چې د همدغه حکومت د سروې له مخې د افغانستان ټول نفوس په **1979/1358** کې پېنځلس نیم ملیونه وو.

ددغه فرمان یوې بلې برخې پارول وکړل، دغه برخه د بزګرو د ستونزو د لیرې کولو لپاره کمېټې وې، چې په هرې یوې کې د بزګرو دوه استازیو غړیتوب لاره، خو د محل مخورو او ځمکه والو پکې غړیتوب نه لاره. دغسې کمېټې په علاقه داریو، ولسوالیو او د ولایتونو په مرکزونو کې جوړې شوې. د کمېټې ښکاره دنده دا شوه، چې د ګروي او سود او سلم راپیدا کشالې به هواروي، خو اصلي مقصد دا و چې د بزګرو دغه استازي به د ملکانو، خانانو، بېګانو او نورو محلي مخورو ځای نیسي، چې حکومت "فیوډال" ګڼل او غوښتل یې د خپلې ایډیالوجۍ له مخې یې وځپي او "فیوډالزم" په افغانستان کې بې ریښې کړي، خو دا چېرته کېدی شي چې په افغان عنعنوي ټولنه کې به بې سواده، نادار، بې تجربې او د ټولنې د ښکته دریځ غړي سمدلاسه اجتماعي شخصیتونه شي. نتیجه دا شوه، چې له حکومت سره د مخالفت په ډېرېدلو سره د بزګرو دغه استازي له مېنځه یووړل شي یا په خپله ډګر پرېږدي.

عنعنوي ملکان او نور تر ډېره بې اثره او د حکومت مخالفان شول، په تېره وروسته له هغه چې ډېر اطرافي مخور د ځمکو د وېش په درشل او د وېش په بهیر کې بندي شول، له مېنځه یووړل شول یا بې ځمکې یا لږ ځمکې شول. په دغه ډول کومه هغه د مشري تشیا، چې په ولس کې پیدا شوې وه، نوره هم ژوره شوه. د پرچمي رژیم په دوره کې له **1985/1364** نه وروسته کوښښ وشو، چې عنعنوي مشري د حکومت په پلوئ پیاوړې کړي، خو دغو

کوښښونو نتیجه ورنه کړه او ځای یې د اسلامي تنظیمونو قومندانانو او مذهبي کسانو ونیوه. دوی هم په خپل وار له محلي او عنعنوي مشرانو سره مخالفت پیل کړ. دد غو ټولو پایله په اطراف یانې په ولس کې د مشري تشیا ژور کېدل او دد غو رجیمونو بېګانه کېدل شول او د ټولنې د پېوستون زخمي کېدل او ناکراري شوه.

د ښځو او ودونو په اړه فرمان

د حکومت اووم لمبر فرمان د ښځو او نارینه وو د برابري او د پلار واکي او "فیوډالي" د غېر عادلو اړیکو د له منځه وړلو په مقصد د میزان د میاشتې په 25مه وایستل شو. د فرمان مهم ټکي دا و، چې هېڅ څوک نشي کولای نجلۍ د پیسو یا جنس په بدل کې چا ته په نامه او نکاح کړي، یا د واده په وخت کې زوم د ولور په ورکولو او د نورو لګښتونو په کولو مجبور کړي، یا له لس شرعي درهم نه چې معادل یې درې سوه افغانۍ وټاکل شوې، ډېرې پیسې ترلاسه کړي. په همدغه فرمان سره اجباري واده هم منع وشودل شو او د نکاح ښکته منګ د هلک لپاره 18 کاله او د نجلۍ لپاره 16 کاله وټاکل شو او کونډه په بیا مېړه کولو کې واکمنه وګڼل شوه.

د نورو فرمانونو په پرتله دا یو بې ازار فرمان و، نه خلکو پرې عمل وکړ او نه حکومت د هغه عملي کول ټینګ ونیول او نه یې ټینګ نیولی شو. په افغانستان کې په لونو باندې د ولور په نامه پیسې اخیستل او په ودونو او نورو خوښیو کې ټنګ ټکور کول او د غم په وخت کې خوا خوږي ښودل، ټینګ اجتماعي دود دی. په دغسې وخت کې لکه د مړو او خیرات په وخت کې خپل خپلوان او کلیوال واده وال، مړي وال او خیرات وال یواځې نه پرېږدي، ور سره د مېړو، خوړو او حتی پېسو مرسته کوي، دا ځکه چې دغه پېښې په افغان ټولنې کې په ماهیت کې اجتماعي دي، نه د سوداګرۍ معاملې. که څه هم په نجونو باندې د

ولور په نامه پیسې اخیستل کېږي، ځینې په دې فکر دي چې په افغانستان کې پلرونه خپلې لوڼې د پیسو په بدل کې د نکاح په نامه خرڅوي، خو دوی دا په نظر کې نه نیسي، چې واده په ماهیت کې یوه اجتماعي پېښه ده او د ولور یوه برخه په کوزده او واده کې په ولس لګول کېږي او ودونه د دواړو خواوو کورنیو او د هغوی د خپلوانو ترمېنځ اړیکې پیدا کوي او سره نږدې کوي یې. په افغانستان کې د هندوانو پرخلاف، چې نجلۍ وال د هلک کورنۍ ته شته ورکوي، د هلک کورنۍ د نجلۍ کورنۍ ته پیسې ورکوي. د دواړو ولسونو د غه سرچپه رواجونه د هغو په خوښه وي. دواړه رواجونه ناوړې خواوې لري، چې باید ورو ورو له مېنځه یووړل شي، نه دا چې هغه په کوم فرمان سره متروک اعلام شي. خلک د پوهې او روښانتیا او په ټولیز ډول د روضع په اوښتلو سره له هغو نه په خپله اوړي، لکه ډېر وخت کېږي چې په تعلیم کړو افغانانو کې ولور نه اخیستل کېږي او د ځو ښځو کولو رواج هم سست شوی دی، خو دوی په ودونو کې لا هم ډېر لګښت کوي. همدغه لګښتونه که څه هم د ځینو لپاره به له حد نه ډېر وي او رواجونه دي، چې ژوند ته کیف، ټولنې ته ټینګښت او افرادو ته ارزښت او روحي قوت ورکوي. له همدې امله به و، چې ددغه فرمان له ایستلو نه وروسته ویل کېدل، چې د ښځو ارزښت لږ شو.

د ځمکو د وېش فرمان

ددغه فرمان مقصد د حکومت په ژبه د "فیوډالي" او "فیوډالي دورې نه دمخه" اړیکو له مېنځه وړل، د کارګرو او بزګرو ترمېنځ د یوموټي والي ټینګښت او ژورتیا او د زراعتي محصول د حجم زیاتوالی وښودل شو، خو د هغه سملاسي مقصد سیاسي و او هغه دا چې حکومت غوښتل د خپلو مخالفینو پرضد د بزګرو، کارګرو او

نورو خواریکښو ملاتړ ترلاسه کړي. په دغه وخت کې که څه هم نور محمد تره کي ویل، چې اوس په وطن کې د خلق دموکراتیک گوند پرته بل گوند نشته، نور گوندونه هم موجود وو، خو هغه له حکومت سره پوره مخالف او غړي یې پټ وو او پر ضد یې فعالیتونه کول. سره له دې چې حکومت د هغو په ځپلو کې د هر ډول فشار او زور له استعمال نه ډډه نه کوله. په ټولنه کې بزگران او د لږې ځمکې مالکان په اکثریت کې وو او حکومت دغه فرمان د هغو په گټه وایست. حکومت د غه فرمان په بېړه وایست، بې له دې چې ددغسې ډېرې مهمې او پېچلې خواوې یې په ښه ډول مطالعه کړې او د تطبیق امکان او وسیلې په فني ډول ورته برابرې کړې وي.

د فرمان مرکزي ټکی د ځمکه وال لومړنی یا هستوي کورنی) مور، پلار او تر اتلسو کالو پورې اولاد(لپاره د ځمکې د اندازې ټاکل و، چې هغه د برش جریبه اعلی ځمکه یا د هغې معادل وه. تر هغه زیاته ځمکه د دولت مال وگڼل شوه. که څه هم مالکیت یې ثابت و او یا یې د ملکیت سند نه لاره او یا یې نوې اباده کړې وه او په تصرف کې یې وه. قانوني سن ته رسېدلی د بې ځمکو، لږ ځمکو، زراعتي کارگرو او بې شتو کوچیان د یوې نومرې ځمکې مشخص وگڼل شول. د هر یوه مستحق لپاره لومړی درجه ځمکه)باغي او تاکي(پېنځه جریبه، دویمه درجه ځمکه)دوه فصله او به یېزه ځمکه(شپږ جریبه، دربیمه درجه ځمکه)یو فصله اوبه یېزه(اته جریبه او څلورمه درجه ځمکه) یو فصله او به یېزه(دولس جریبه وټاکل شوه. د وبش وړ بل ډول ځمکه للمي وه، پېنځمه درجه ځمکه چې للمي وه، 25 جریبه، شپږمه درجه 33 جریبه او اوومه درجه 50 جریبه وټاکل شوه.

د لومړی او دویمې درجې ځمکې ډېرې، مهمې او عامې وې. مستحقان یې د پېنځه جریبه او شپږ

جریبه په نومونو یاد شول. لومړۍ درجه مستحقان هغه بزګران وګڼل شول، چې پخوا یې د وېش وړ ځمکې د بزګرو په توګه کرلې. وروستي یې هغه بزګران وو، چې په بل ولایت کې ورته ځمکې ورکول کېدلې. د وېش ځمکه د دولت مال وګڼل شوه او هغه مستحقانو ته د ملکیت د سند په نامه، نه د شرعي قبالې له مخې چې په وطن کې معمول، وړیا ور کول کېدله. د غه ځمکې د نویو مالکانو قانوني وارثانو ته د انتقال وړ وګڼل شوې او نوي مالکان مجبور وګڼل شول، چې درې میاشتې وروسته له هغه چې ځمکې ترلاسه کړي، په کرلو یې پیل وکړي. په نظر کې ونیول شول، چې د ځمکو دغه نوي څښتنان به وروسته په کوپراتیفونو کې تنظیم کېږي او ورته به بیا د دولتي شرکتونو له لارې کیمیایي کود، اصلاح شوی تخم او زراعتي آلې په مناسبو شرایطو ورکول کېږي. په عین حال کې د ځمکو له وېش نه د راپیدا کشالو د هوارولو لپاره د ولایتونو او ولسوالیو په سویه اختصاصي خلقي کمېټې په نظر کې ونیول شې. په دې اړه د هغو فیصلې نهایي او غوښې وګڼل شوې)2(.

په پورته ډول په افغانستان کې په یوه ځل او په غوڅه توګه په ځمکې باندې د شخصي ملکیت اصل ددغسې حکومت له خوا په حاکمانه ډول محدود شو، چې قانوني مشروعیت یې نه لاره او په دې اړه یې له ولسي استازیو سره مشوره هم ونه کړه. حکومتونو پخوا هم د خلکو ځمکې ظبطولې، خو هغه لېږې او د انفرادي مالکانو وې، چې په کوم ډول به حکومت ته نامطلوب کېدل. دغسې ځمکې به دولتي کېدلې او یو څه به یې له څه وخت وروسته اصلي مالکانو ته بېرته ورکولې. په ځمکې باندې به د ملکیت اصل پرځای د ماضي د ولسمشر محمد داود د ځمکو د اصلاحاتو په وخت کې هم.

د ولسمشر محمد داود د ځمکو د اصلاحاتو پروګرام د مترقي مالیې پر بنسټ و. په دې ډول،

چې د لېږو ځمکو خاوندان د مالیې له ورکولو نه معاف وو او له سلو جریبو نه ډېر مالکانو به ډېره مالیه ورکوله، نو دغه پروګرام له مخې له سلو جریبو نه د زیاتو ځمکو ساتل به د مالک لپاره ګرانه تمامېده او دا به د هغه په ګټه وه، چې له سلو جریبو نه زیاتې ځمکې په دولت خرڅې کړي. دولت به بیا دغه اضافي ځمکې په مستحقو بزګرانو باندې په لږه بیه خرڅولې او پیسې به یې هم په اوږدې مودې کې په قسطونو سره ترلاسه کولې. له دې امله په 1974/1353 کې، چې د محمد داود په وخت کې د ځمکو د اصلاحاتو اعلام و شو، ځمکه والو د خپلو اضافي ځمکو په خرڅولو پیل وکړ. ځینو یې په نورو لارو هم خپلې ځمکې له سل جریب نه شکته کړې او په دې ډول یې د درندو مالیاتو له ورکولو نه ځانونه خلاص کړل او خپلې ځمکې یې هم له لاسه ورنه کړې[3].

امیر عبدالرحمن د افغانستان لومړنی واکمن و، چې د لومړي ځل لپاره یې د ځمکو مالیاتو په وضع کولو سره د ځمکه والو عنعنوي قدرت مات کړ. په دې ډول، چې له هغو ځمکو نه چې په جاري اوبو سره خړوبېدلې، د حاصل دریمه برخه، له هغو ځمکو نه چې په چینو او کاریزونو سره کرل کېدلې، د حاصل پینځمه برخه او له للمي ځمکو نه د حاصل لسمه برخه د دولت برخه وګرځوله. د دولت دغه برخه هم په جنس سره ترلاسه کېدله او دا د پاچا امان الله خان په وخت کې و، چې دغه مالیه له جنس نه په نغده بدله شوه[4]. په دواړو حالتونو کې د ملکیت اصل پرځای پاتې و او د محمد داود په وخت کې له مالک نه اضافي ځمکه په پیسو اخیستل کېدله او هغه بیا مستحق بزګر ته په پیسو ورکول کېده، خو د اتم لمبر فرمان حکم دا و چې له ځمکه وال نه له دېرش جریبو نه زیاته ځمکه په حاکمانه ډول وړیا واخیستل شي او مستحق بزګرانو ته په وړیا ورکړل شي. دا د کرنې د وزارت د مشاور فضل

رحیم مومند د نظر خلاف و، چې ویل یې "په ټولو هغو هېوادونو کې، چې ارضي اصلاحات یې کړي دي، ځمکه نه ده مصادره شوې او بزګرو ته هم د لږ مقدار پېسو په مقابل کې ورکول شوې ده، چې پېسې یې په وړو قسطونو د اوږدې مودې په جریان کې اخستل کېږي."[5] خو د کرنې او اوبو وزیر زیري په وینا "له دې خبرې سره ټول ملګري او تر ټولو زیات په خپله زه او نور محمد تره کی مخالف وو."[6] دوی ځکه مخالف وو، چې د ځمکو له دغه وېش نه د دوی اصلي مقصد د "فیوډالو" ځپل او د بزګرو د ملاتړ ترلاسه کول و. په دغه حال کې غټه ستونځه د مستحقو بزګرانو ډېروالی او د هغه پرخلاف د وېش وړ ځمکو لږوالی و[7]. له همدې امله به هم و، چې دوی د محمد داود د وخت د ځمکو اصلاحات ګرد سره له پام نه وغورځوي، ځمکه والو ته لږې ځمکې پرېږدي)دېرش جریبه(او بزګرو ته د ځمکو وړې ټوټې)پېنځه یا شپږ جریبه(ور کړي. په دغه حال کې د افغانستان د کرنې میکانیزه او ماشیني کول که ناممکن نه شول، ګران شول. د دېرشو جریبو ځمکو خاوند له توان نه پورته و، چې زراعتي ماشینونه په بیه واخلي او واړه بزګران په کوپراتیفونو کې سره تنظیم شي. په هغه سربېره ددغه پروګرام په تطبیق سره د کرنې د میکانیزې کولو هغه طرز هم له منځه لاړ، چې په ځینو سیمو کې یې رواج موندلی و لکه په هلمند کې چې لویو مالکانو له درې سوه زراعتي ماشینونو څخه کار اخیسته.

غېر له هغه هم د شوروي اتحاد سوخوز)دولتي فارم(او کولخوز)کوپراتیفي فارم(ښوولې وه، چې په دغه ډول له ځمکو نه په هغه اندازه حاصل ترلاسه کېدلی نه شي، چې د پراخو شخصي ځمکو نه ترلاسه کېدلی شي. زیري ته دغه واقعیت معلوم و، چې ویلې زه "پوهېدم هر څونه چې په یوه زراعتي قطعه کې د ځمکې اندازه زیاته وي، په هغه اندازه یې کښت، قلبه کول، تخم پاشل،

کوډور کول او نور خدمامت اسانه او تولید یې زیات وی، خو اراضي اصلاحات له یوې خوا ځمکه په وړو ټوټو وېشي او د بله پلوه د داسې کسانو په لاس ورکول کېږي، چې د ځمکې د تنظیمولو تجربه نه لري.[8]" سره له دې هم حکومت ددغه واقعیت پرخلاف عمل وکړ. زیری اعتراف کوي، چې "موږ پوهېدلو چې تر ارضي اصلاحاتو وروسته به د هېواد د مجموعي ځمکې حاصل لږ شي.[9]" له دېنه هم څرګنده ده، چې د ځمکې د وېش له دغه طرز نه د حکومت اصلي مقصد سیاسي و او په فرمان کې د محصولاتو د حجم زیاتوالی ښوول هغسې غولوونکی پروپاګند و.

د زراعتي حاصلاتو او د حکومتي مالیاتو د زیاتوالي او د هېواد د ابادۍ لپاره یوه ښه لار دا ده، چې د بندونو په جوړولو او د کارېزونو په کندلو سره هغه پراخې او مکېنې ځمکې، چې له مقرنه د لویدیځ په لور ان تر هرات پورې او له هندوکش نه پورته او نورو ډېرو سیمو کې پرتې وي، د کرکیلې او داسې هم د برېښنا د تولید لپاره برابرې شي او په بې ځمکو بزګرو او نورو محتاجانو باندې د یوې کورنۍ د کفاف په اندازه په لږه بیه په قسطونو سره ووېشل شي. د افغانستان لوی او واړه سینونه د هېواد د سمسورتیا او د خلکو د ژوند د سطحې د لوړولو لپاره غټې سرچینې دي. د نفوسو په زیاتوالي سره به له هغو نه استفاده یوه ورځ حتمي شي، خو ضروري ده چې اوس هم له هغو نه د استفادې فکر وشي او لږ تر لږه د بندونو وړې پروجې دلته او هلته عملي شي، ځکه چې لویې پروجې غټه پانګه، منظم او لوړه تخنیکي پوهه غواړي. حکومتونه کولی شي د هغوی لپاره سر له اوسه د امکاناتو په لټه کې وي، یواځې په دغسې پروجو سره وطن اباديدلی، افغانان شتمن کېدلی او ټولنه له کړکېچ نه ژغورل کېدای شي، خو خلقي حکومت ددغسې پروجو پرځای د شوروي اتحاد چلند

ته ورته چلند غوره کړ، چې په هغه سره يې کوښښ وکړ، ځمکه وال د "فيوډال" په نامه وټکوي لکه چې شوروي اتحاد د ستالين په وخت کې کولاکان د يوې ډلې يا يوې طبقې په توګه محو کړي و.

خلقي حکومت د "فيوډالو" ځپل د فرمان په پلي کېدلو سره پيل کړ، خو څنګه چې ځمکه ډول ډول وه او ملکيت هم د شرعي او هم عرفي سندونو له مخې او نوې ابادې شوې ځمکې بې سنده ملکيت وې، ټول پروګرام پېچلی و. غېر له هغه هم د ځمکو سروې او اندازه کول او بيا له ټاکل شوي نصاب نه اضافي ځمکه بېلول او هغه په نورو وېشل يو ګران کار و، چې د هغه لپاره له مسلکي او حرفوي کدرونو نه کار اخيستل د پروګرام په بريالي کېدلو کې رول لوبولی شو، خو هغه د زيري په ژبه هم "... د ډېرو کمزورو کدرونو په لاس په زور پلی شو او مخالفينو ته يې زياتې پلمې په لاس ورکړې.[10]" دا سره له دې، چې د هغو لپاره د کرنې د وزارت يو شمېر رييسان او نور ګوندي کدرونه په يوې اونۍ کې په يوه کورس کې وروزل شول، خو حقيقت دا دی چې د ځمکې د مصادرې او وېش کار د ګوندي ځوانانو په لاس په زور او ننداره ييز ډول په بېړه ترسره شو او زياتره د "فيوډالو" په سپکاوي سره پرې پيل وشو. په دغه کار کې د عملياتي پلان آمرانو ته له حد نه زيات واک ورکړل شوی و. هغوی د صدراعظم د مرستيال له خوا په دغو الفاظو مامور شوي و: "تاسې نه يوازې بزګران د استثمار له منګولو نه ژغورئ، بلکې په افغانستان کې د څو پېړيو يوه ستمګره طبقه په اقتصادي لحاظ نسکوره کوئ، چې د انقلاب په بريالیتوب سره په سياسي لحاظ نسکوره شوې ده.[11]" نور محمد تره کي لا دمخه زيري ته فرمايلي و، چې "...د ځمکې اصلاحات دې زر پيل او پای ته ورسېږي.[12]" په دغه حال کې د فضل رحيم مومند نظر ته چا غوږ نه نيوه، چې ويل يې

"دغه ډېر پېچلی کار دی، په نمونه وي ډول به د بېلو ولایتونو په یو شمېر ولسوالیو کې اصلاحات وکړو، د هغو نتیجې به و ګورو، خپلې غلطي به مطالعه کړو او بیا به هم دا ډول په نورو ولسوالیو کې عملیات پیل کړو."[13] کدرونو ته په یوه کورس کې د ځمکې د اندازه کولو لارې چارې ښوول شوې وې. دوی ته دا هم ویل شوي وو، چې د مساحت په چارو کې به له محلي مساحانو او داسې هم له رسیو نه کار اخلي. د ځمکې د مصادره کولو عملیات سمدلاسه د کابل ولایت په ولسوالیو کې پیل شول. بیا د جدي په میاشت کې په کندهار، فراه او هرات کې پرې پیل وشو. عملیات د بل کال د ثور تر میاشتې پورې روان وو.

په دویمې دورې کې د ځمکې وېش، په شمالي ولایتونو او ننګرهار کې د 1358 کال د ثور په میاشتې کې پیل شو او تر جدي پورې یې دوام وکړ. پروګرام په ټول هېواد کې عملي نه شو. په افغانستان کې په عمومي ډول لوی ځمکه وال په مېمنې، مزار، نیمروز، کندوز، هرات او فراه کې وو. په هرات او فراه کې لوی ځمکه وال د زرګونو جریبو ځمکو خاوندان وو، خو د هېواد په ډېرو سیمو کې په تېره په سین لرونکیو اوږدو پراخو درو کې واړه او متوسط ځمکه وال عام او لوی ځمکه وال د ګوتو په شمار وو. په عمومي ډول افغانستان د وړو او متوسطو ځمکه والو هېواد او تر دې حده پورې زراعتي دی، چې په سلو کې له پېنځه اویا نه ډېر افغانان په ځمکه باندې کار کوي، نو د ځمکې په ملکیت کې تغییر راوستل، د ډېرو افغانانو په ژوند کې تغییر راوستل کېږي او له دې امله د ځمکې وېش په هر نامه چې یاد شي، په دغه ملک کې ډېره غټه موضوع کېږي.

عجبه ده، چې په فرمان کې د اوبو تنظیم او حق آبه هېڅ په نظر کې نیول شوې نه وه، په داسې حال کې چې په افغانستان کې د کرنې لپاره

د اوبو تنظیم اساسي موضوع ده. په افغانستان کې ځمکې ډېرې او اوبه لږې دي او د ځمکې ارزښت هم په اوبو پورې تړلی دی. باران په دغه ملک کې لږ اوري او هغه هم غېر یقیني وي. له دې امله د للمې حاصل لږ وي، که څه هم افغانستان دغسې پراخې د ښتې ډېرې لري، چې خاورینې او د کرنې وړ دي. له هغو ځمکو نه، چې په مصنوعي ډول یانې په ویالو او نهرونو سره خړوبېږي، په معمولي ډول د کال دوه فصله اخیستل کېږي. که څه هم له هغو نه په کال کې څو فصله اخیستل کېدلی شي. په دغسې ځمکو کې د انګورو او نورو میو باغونه هم کېږي. دغسې ځمکې د سیندونو په دواړو خواوو سیمو کې او په سین لرونکیو درو کې پرتې دي. افغانستان په اصل کې په دغو ځمکو ودان دي، چې او به ور ته له هسکو واوریځو غرو نه وررسېږي.

اتم لمبر فرمان هم په اصل کې دغو ځمکو ته متوجه و. ورپسې هغه ځمکې دي، چې په کاریزونو او په چینو سره خړوبېږي. لکه چې دمخه وویل شول، د اوبو په بندونو جوړولو او له سیندونو نه د نهرونو په ایستلو سره افغانستان سمسوریدلی او د افغانانو ژوند په اساسي ډول ښه کېدلی شي، خو دغه کار یواځې حکومت نه کولی شي.

نور محمد تره کي د اوبو موضوع هم ساده ګڼله. زیري ته یې د هغه ددغې وینا په اړه، چې "ځمکه زیاته ده، خو اوبه نه لري" ویلي و، چې "... ته ځمکه ورکړه او به دوی]بزګران[ور ته په خپله پیدا کوي.)13("

د ځمکې د وېش په وخت کې به د حکومت په هڅونې سره د خدای عالم په موټرونو او لاریو کې ساحې ته رسېده. ډولونه او سرنې به وهل کېدل او نڅاوې به کېدلې او یوه لویه ننداره به جوړیدله. د عملیاتي ډلو وړو فرعونانو به د سروې او کدر مسترد حکومتي مامورانو په سر کې

به په مستحقو کسانو باندې د ځمکه وال ځمکې وېشلې او د ملکیت سندونه به یې ورکول، په داسې حال کې چې ځمکه وال به هم حاضر وو. ځمکه والو د فرمان له مخې حق لاره، چې له خپلو ځمکو نه د برش جریبه د ځان لپاره غوره کړي او نوره یې پرېږدي، خو د غو فرعونانو به زیاتره وخت د فرمان رعایت نه کاوه. داسې ډېر شوي، چې د ځمکه والو د کلي شاوخوا ځمکې ټوټه ټوټه شوي او "محلي رهبري به د خان د کور له اړخ ځمکه وېشله، خپلو خپلوانو ته به یې ورکړې وه.[14]"

یواځې دا هم نه و، له وېش نه وروسته به په ننداره ییز ډول مارشونه کېدل او د وړو فرعونانو په اشاره به ځمکه والو ته "فیوډالو"، "ستمګرو" او "تاریخ ځپلو" په نومونو سپکې سپورې هم ویل کېدلې. دغسې شعار او لسمېدلي خواریکښان لږ نه وو، چې د پت او عزت ځمکه وال د خلکو په مخ کې په ترخو نومونو یاد نه کړي. د زیري په وینا "...د حصارک غلجایی په ولسوالی کې د یوه چا ځمکه وېشل کېده، د ځمکې خاوند په خپله پړی ورسره نیولی و او ویل یې، چې دی خوښ دی، مګر کله چې دده ځمکه ووېشل شوه، ملیشه پر ډېره لاړې ور توکړې وه او ویل یې "مرګ پر فیوډال" د ځمکې خاوند ډوب شو او په پای کې ډېر زر مړ شو.[15]" په بلخ کې یو ځمکه وال له کابل نه امر ترلاسه کړی و، چې دی حق لري له خپلو ځمکو نه د برش جریبه د فرمان مطابق د ځان لپاره غوره کړي، خو فرعونانو د وېش په وخت کې هغه ځمکه بل چا ته ورکړې وه. ځمکوال د ولسوال په امر هغې ځمکې ته بوتلل شو او هلته له مېنځه یوړل شو. دغسې حېواني پېښې ډېرې نه وې، خو وې.

هغو ځمکه والو ته، چې عرفي قبالې یې په لاس وې، که څه هم د ډېرو ټوټو ځمکو خاوندان به وو، یواځې لس جریبه ورپرېښودل کېدل او نوره به یې وېشل کېدله. ددغسې ځمکه والو شمېر په

ټول ملک کې ډېر و. په افغانستان کې په عرفي
قبالو سره د ځمکو رانیول یو پخوانی دود و،
هغو ځمکه والو ته چې شاړې ځمکې یې خړوبې کړې
وې، ځمکه هېڅ نه پرېښودل کېدله، که څه هم د
ډېرو ځمکو څښتنان به وو. دغسې ځمکه وال په
تېره د هرات د هریرود د سین په دواړو غاړو کې
ډېر وو، چې د سل جریبو ځمکو خاوندان هم شوي
وو او اوس په یو ځل ترېنه محروم شول. داسې هم
هغو کورنیو ته، چې ځمکې به یې د غور نیکونو
په نامه په شرعي قبالو پاتې وې، چې په هغې کې
به د بېلګې په ډول پنځوس جریبه او له درجه
ځمکه د یوه کس په نامه وه، خو هغه به تر دغه
وخته پورې د هغه د لمسیانو او کړوسیانو
ترمېنځ وېشل شوې وه، اوس د هغو یوې کورنۍ ته
حتمي پېنځه جریبه هم نه رسېدله[16]. شاید فکر
وشي، چې دغو وړو فرعونانو، چې هرڅه کول،
زیارکښو او خپل حکومت ته د خدمت لپاره کول او
خپل غرضونه یې پکې دخیل نه وو، خو خبره دغسې
نه ده. دغو تر شل کلونو نه یو څه زیاتو بې
تجربې او نادارو وړو فرعونانو له هغه زیات
واک نه، چې ورته ورکړل شوی و، ناوړې استفادې
کولې. زیری، چې د خپل وزارت په وخت کې د تره
کي او امین امرونه بې له ګړاوزړ نه منل اوس
وایي، چې "د محل د رهبري سرو خلقیانو د خپلو
قومي سوابقو پر اساس شخصي چلند کاوه."[17]
د عملیاتي ډلو فرعونانو د ولسوالانو په
مرسته یا د هغو په ګډون د ځمکه والو او نورو
شتمنو کورونه هم لټول او د هغو کم حجمه قیمتي
اموال به یې خپل کول. د هرات په ولایت کې په
دغسې لټونو سره له بېلابېلو کورونو نه د خښتو
په بڼه اوه منه طلا اخیستل شوې او شخصي شوې
ده. ځینې ځمکه وال به په دې هم ترټل کېدل، چې
خپلې لوڼې خلقي ځوانانو ته نکاح کړي او که نه
د انقلاب ضد چلند به ورسره وشي. دغسې چلند په
هرات او فراه کې ډېر شوی دی. د نغدي بډې

ترلاسه کول هم په دغو ووړو فرعونانو کې رواج مو ندلی و. د ډیرو ځمکه الو ر شوتونه ورکول، چې تر نصاب نه اضافي ځمکې یې ونه وېشلی شي. مستحقو بزګرانو هم رشوتونه ورکول، چې په لومړۍ درجه ځمکو کې باغي او تاکي ځمکې ترلاسه کړي. رشوتونه د کابل ولایت په قرغه باغ کې ډیر ورکړل شوي او اخیستل شوي وو. یو څو تنه بیا اخیستونکي ګوندیان نیول شوي هم وو، چې په دغو کې د عدلیې وزیر او لوی څارنوال عبدالحکیم جوزجاني ورارہ هم و.
د زیري په وینا "... موږ د ارضي اصلاحاتو د فرمان له مخې تقریباً دوه سوو او یا زرو کورنیو ته په وړیا توګه ځمکه ورکړه." دی دا هم وايي، چې "... یواځې اوه سوه زره کورنۍ مې په یاد کې پاتې دي، چې په دغو کې څلور، څلور نیمو سوو زرو کورنیو هیڅ ځمکه نه لرله او تقریباً دري سوه زره کورنۍ هغه کسان وو، چې یواځې یې یو، دوه، دري یا څلور جریبه لومړۍ یا د هغه معال ځمکه درلودل)لرله(.[18]" که دا ارقام رښتیا وي، د خلقي حکومت په دوره کې تر نیمایي نه زیاتو بې ځمکو او لږ ځمکو بزګرانو ته ځمکه ورکړل شوې نه ده. په دې حساب د ځمکې د وېش پروګرام به په سلو کې د پنځوس په شاوخوا کې ر سېدلی او "فیوډالزم" هم په اساس کې پرځای پاتې شوی، که څه هم د دغه فرمان له عملي کولو نه اصلي مقصد یا لوی مقصد د "فیوډالزم" له مېنځه وړل و، خو د هغه د عملي کېدلو په بهیر کې ډیر ځمکه وال، محلي مخور، خانان وځپل شول او ځینې یې بندي او حتی ووژل شول. حکومت او ګوند له بزګرو نه هم لږ خپل کړل، که څه هم د خپلې ایډیالوجۍ له مخې یې په دغې ګټنې عمل کاوه، چې لکه په اروپا کې په منځنیو پېړیو کې د افغان "فیوډال" او بزګرو ترمېنځ دزر دغومره ژور دی، چې وروستي به د ځمکې په وېش سره د لومړیو پر

ضد جګ او د حکومت ملاتړ شي. دغسې و نه شول. په واقع کې د دغه هیله بې ځایه وه. په افغانستان کې د اروپا د منځنیو پېړیو فیوډالزم او د هغه له مخې اجتماعي او سیاسي اړیکې، نه پخوا او نه په دغه وخت کې شتون لاره او نه د بزګرو او ځمکه والو ترمېنځ اړیکې د دښمنۍ تر حده پورې ترخه وو. له دې امله یو خو په ځینو ځایونو، د بېلګې په ډول د فراه ولایت په انار دره کې بې ځمکو بزګرو له ځمکې اخیستو نه ډډه وکړه، په دې دلیل، چې نه غواړي د خپلو تربورانو ځمکې په دغه ډول واخلي. په دغسې خلکو کې به د اخوانیانو د تبلیغ هم اثر وو چې ویل یې د شریعت له مخې چې شخصي ملکیت روا ګڼي، د ځمکو مصادره او وېش حرام دی. بله دا چې لکه چې په خپله زیری هم وایي، چې د ځمکې په دغه ډول وېش او ددغو وړو فرعونانو په زورواک او زیږ چلند سره "خلک د اصلاحاتو څخه د شکایت تر مرحلې تېر او د ضد انقلاب سره د ملګري کېدو مرحلې ته ورسېدل."[19] خلک به څکه د شکایت له مرحلې نه اوښتي او د ضدیت مرحلې ته رسېدلي وو، چې له دغو وړو فرعونانو نه شکایت ته چا غوږ نه نیوه. د زیري په ژبه "ما دغه شکایتونه په وار وار لوړو مقاماتو ته ورسول، خو د هغه په اړه کوم اقدام نه کېده."[20] د محل ګوندیانو په دې اړه د زیري امر نه مانه[21]. بل تریخ واقعیت دا و، چې هغو بزګرو له خپلو نویو ځمکو نه استفاده نه شوه کولی، چې کلیو ته نزدې د ځمکو خاوندان شوي وو. په تېره هغه بزګر، چې له یوه بل ولایت نه به وو. دا یوه غټه تراجیدي وه، چې د څلور سوو په شاوخوا کې هغه بې ځمکې بزګران چې له لغمان، ننګرهار او نورو ولایتونو نه په بغلان، هلمند، کندهار او نورو سیمو کې د محلي مستحقو بزګرو پرځای او د فرمان پرخلاف پېنځه جریبه یا شپږ جریبه شوي وو، ددغه سیاست قرباني شول. له دوی څخه یواځې لږو و کولی شول

خپلو اصلي ولایتونو ته ستانه شي او ډېر یې د خلقي حکومت ترنسکورېدلو او له هغه وروسته له منځه یووړل شي. دا هغه بزګران وو، چې حکومت د هغو د سفر په لار کې په کابل کې حتی د پوهنتون استادان هم د هغو د هرکلي لپاره ایستلي وو او په دغه بې مثاله کار سره یې هم استادان او هم بزګران حېران کړي وو.

په هغه وخت کې په کابل کې په ټینګه ویل کېدل، چې د شوروي حکومت د خپلو مشاورو له لارې په حکومت باندې فشار اچولی و، چې اوس ددې وخت دی چې په افغانستان کې "فیوډالزم" له منځه یووړل شي او "فیوډالان" وځپل شي، چې د حکومت پر ضد جنګ نه شي او حکومت په ټول ملک باندې مسلط شي، چې خپل اصلاحي پروګرامونه عملي کړي. ښکاري، چې دا هسې اوازه وه. زیری وایي، چې "یو شی چې ما تل په فکر کې اچوي، هغه په ارضي اصلاحاتو کې د شوروي د مشورو نه شته والی و." دده په فکر د شوروي حکومت، چې په دې اړه "بېطرفي" غوره کړې وه، ددې لپاره به و، چې "موږ دغسې غلطي وکړو" او "تر نورو کارونو سربېره دغه مشکل هم ځان ته پیدا کړو."[22] دی دا هم وایي، چې وروسته د پرچمي رجیم په دوره کې، چې دی د زراعت منشي و، د شوروي حکومت همکاري کوله او سفیر یې احمد جانوویچ هغه ته هم په دې اړه مشورې ورکولې او "موږ خپلې ټولې تیرې غلطۍ اصلاح کړې." خو زیری به ټوکې کوي، چې دغسې وینا کوي، ځکه چې په دغه وخت کې نږدې ټول بزګران د نورو ترڅنګه د رجیم په مقابل کې جګ شوي وو.

په هر حال، د شوروي حکومت به د سیاست له مخې له خلقي حکومت سره د ځمکې د وېش په اړه همکاري نه وي کړې، ددې لپاره چې په هغه کې پاتې راشي او د حکومت کولو چانس کارملیانو ته ورسېږي. د زیري د کتاب له مخې نور محمد تره کي او حفیظ الله امین د ځمکې د فرمان په پلي

کېدلو کې اصلي کسان وو او ده له هغو نه په هرې موضوع کې هدايت غوښته. دا سمه وه، چې د خلقي په زورواکي نظام کې واک د سرکسانو په انحصار کې و، خو د کرنې او اوبو د وزير په توګه صالح محمد زيري د فرمان د پلي کېدلو له زور زياتي او بېعدالتي له مسؤليت نه ځان ژغورلی نشي. دا د لمر په شان واقعيت دی، چې ګونديانو او حکومتيانو د ځمکو وېش په ټينګه غوښته او نارې سورې يې سر کړې وې، چې په دغه اصلاحي پروګرام سره به "فيوډالزم" او تر "فيوډالزم" نه دمخه اربکي له مېنځه يووړل شي او "ځمکه د هغه چا ده چې پرې باندې کار کوي او موږ به دغسې ټولنه جوړه کړو، چې په هغې کې به "د فرد له خوا د فرد استثمار نه وي" او داسې نور... خو کومې هغه تېروتنې، چې زيري د ځمکو د وېش په اړه په لاندې ډول کړي دي، سمې دي، خو ده د غه انتقاد د پرچم رجيم په وخت کې کړی، چې په هغه وخت کې په خلقي حکومت باندې انتقاد کول دود ګرځېدلی و، نو دی هم په کال 1983/1362 کې ليکي، چې "عمده ترين اشتبآهات مرحله اول اصلاحات ارضی عبارت اند از اشتباهات در تطبيق تحولات زراعتی ناديده گرفتن اشكال زمينداری و استفاده از زمين در مناطق مختلف كشور محاسبه و سنجش نادرست مسايل استفاده از آب، عهدم تامين امادگی قبلی دهقانان بانجام اصلاحات ارضی، در نظر نگرفتن سنن، عنعنات، رسوم و اعتقادات مردم، برخورد تحريک آميز در برابر دهقانان مرفه الحال و متوسط و نرساندن كمک های لازم به دهقانان كم زمين، و بی زمين كه در نتيجه اصلاحات ارضی صاحب زمين گرديدند." بيا د يادولو وړ ده، چې صالح محمد زيری په خلقي حکومت کې د کرنې او اوبو وزير د پولټبوورو غړی او د ځمکو د وېش پروګرام آمر و، نو دد غو تېروتنو مسؤليت په اوله درجه هغه ته راجع کېږي، خو څنګه چې په زورواکو نظامونو

کې د ملامتۍ ګوته له مېنځه تللیو او په خاص ډول له مېنځه وړل شویو ته نیول کېږي، زیري هم ملامتي په حفیظ الله امین اچوي، چې "اشتباهات مذکور و شرایط بغرنج استیلای امین و باند تبهکار آن [او] بر مواضع قدرت تا اندازه زیاد عمداً بالای حزب تحمیل گردید.[23]"

زیری هغه څوک دی، چې په افغانستان باندې د شوروي له یرغل نه دوه ورځې دمخه، چې د خپل وزارت ځینې ماموران حفیظ الله امین ته معرفي کول، هغه یې په مبالغه ییزو تودو کلمو ستایه، خو له یرغل نه زر وروسته یې چې خلقي حکومت نسکور شوی او امین وژل شوی و، هغه یې سخت وغنده او ببرک کارمل یې چې د شوروي یرغلګر پوځ په واک رسولی و، په غوړو کلمو ستایه. بیا یې د نجیب الله په سروالۍ کې د ګوند په دویم سراسري کنفرانس کې په کارمل باندې نیوکې وکړې، بې له دې چې نوم یې واخلي او د نجیب الله یې ستاینه وکړه.

څلورم څپرکی

بندي توب او جزا

په افغانستان کې د امير عبدالرحمن له واکمنۍ نه دمخه رسمي بندي خانې نه وې، لکه چې د رسمي دفترونو لپاره هم ودانۍ نه وې، واکمنو له پخوا نه د اطراف زورورو کورنيو زامن په کابل کې د يرغمل په توګه ساتل. د امير عبدالرحمن په وخت کې بنديان په بالاحصار، ارګ او کوټوالۍ کې ساتل کېدل. له ځينو سرايونو او حکومتي ودانيو نه هم د بندي خانو په توګه کار اخيستل کېده. په بالاحصار او ارګ کې په سياه چاګانو کې هم بنديان اچول کېدل. بيا په دهمزنګ کې لويه بندي خانه جوړه شوه، چې د هغې له وړو او نمجنو کوټو څخه ان د څرخي پله د لوی کانکريټي زندان تر جوړېدلو پورې کار اخيستل کېده. د امير عبدالرحمن په وخت کې د غومره ډېر افغانان بندي شوي، چې واقعي شمېر يې شايد حکومتي چارواکيو ته هم معلوم نه وو[1].

د امير عبدالرحمن له دورې نه وروسته د ثور تر کودتا پورې هم له بندي خانو نه پوره کار اخيستل کېده، په تېره د صدراعظم محمد هاشم په اولسو کلونو کې. يوازې د پاچا امان الله په واکمنۍ او د پاچا محمدت ظاهر په قانوني لسيزې کې افغانان له حکومتي سياست سره د مخالفت له امله د محکمې له حکم نه پرته نه بندي کېدل. په نورو وختونو کې سياسي بنديان تر جنايي بنديانو په شمېر کې ډېر وو، دا ځکه چې زورواکي او بندي خانې سره تړلې وي. په دي

برخه کې خلقي او پرچمي حکومتونه د افغانستان تر هر بل حکومت نه دمخه ولاړل. هغومره، چې په هر يوه دغه رجيم کې ښځې او نارينه بندي شوي، کنټرول شوي او اعدام شوي دي، په معاصر افغانستان کې د بل هېڅ حکومت په وخت کې په هغه تناسب نه دي شوي او دا په دغسې حال کې، چې د دوی چارواکيو د بل هر حکومت له چارواکيو نه ډېرې خلقو ته د خدمت کولو نارې سورې وهلې، خو دوی د نورو حکومتونو له چارواکيو نه څرګند توپير لاره. دوی په خپلې ټاکلې ايډيالوجۍ ټينګ ولاړ وو او هغه ور ته د غومره سپېڅلې وه، چې نور خلق يې ترېنه قربانول. دوی ځکه دغسې کول، چې دغه ايډيالوجي په اصل کې په توپير او د ښمنۍ ولاړه وه او دوی د هغې له مخې شتمن په تېره "فيوډالان" او پانګه ور او مذهبي کسان دښمنان او د هغه پرعکس خواريکښان خپل دوستان ګڼل. د همدغه نظر له مخې و، چې د خلق او پرچم چارواکيو نه يوازې خپل عقيدوي مخالفان ځپل حتی خپل ګوندي مخالفان هم په بندي خانو کې تخته کول. په افغانستان کې هغومره، چې د دوی د رجيمونو په وخت کې له بندي خانو کار اخيستل شوی دی، د بل هېڅ افغان حکومت په وخت کې په هغه اندازه ترېنه کار نه دی اخيستل شوی.

د کودتا په لومړيو اونيو کې بېحسابه افغانان بندي شول، د پخواني حکومت د سر کسان هم د لومړيو بنديانو په ډله کې وو. لکه چې دمخه د ک.ج.ب په حواله ويل شوي، د مۍ د مياشتې تر شپږمې پورې د يوې اونۍ په بهير کې له لسو زرو نه زيات افغانان بندي شوي وو. د بلخ ولايت د ولايتي کمېټې منشي عبدالله احد]عبدالاحد[يونسي په امر د مۍ د مياشتې په بهير کې نهه سوه کسان د ضد انقلاب په تور بندي شوي وو. د جون د مياشتې په نيمايي کې، چې له کابل نه امر وشو، چې دغه بنديان کابل ته واستوي، د هغو پخوانی شمېر نه و پاتې. تر دغه

وخته پورې د اتلسمې پلې فرقې له لارې په مزار کې هره شپه له پنځوسو نه تر شپېتو پورې بندیان له مېنځه وړل کېدل. چاروا کیو ویل، چې دغه کم شوي کسان"... د شوروي اتحاد یورال او سایبریا ته د سخت کار کولو لپاره استول شوي وو." سره له دې هم په دغه وخت کې هره ورځ له دېرشو نه تر اویا پورې افغانان بندي کېدل[2].
په واقع کې د زندان آمران د بندیانو باقي وو او حساب یې ور کولی نه شو. لکه چې دمخه ویل شوي، د کودتا په لومړي وخت کې اول د دفاع وزیر عبدالقادر، چې د عثمان په مستعار نامه د ک.ج.ب ایجنټ و او بیا د ګوندي منشیانو په امر پوځي افسران بندي کېدل، حکومت له پوځ نه ویره لرله او مخالف افسران یې همدا چې پېژندل نیول، که څه هم هغو به د حکومت پر ضد عمل نه و کړی. حکومت په اصل کې کوښښ کاوه، چې پوځ خلقي یانې د مخالفو افسرانو له شتون نه خالي کړي، نو یې نورو ګوندونو ته منسوب افسران په تېره اخوانیان او ماوستان نه زغمل. په دې ډول حکومت د بالقوه او بالفعل مخالفانو ترمېنځ توپیر نه کاوه او دواړه یې نیول. دغه چلند په پوځ کې سخت کړکېچ پیدا کړ، چې په نتیجه کې په پوځي واحدونو کې پاڅونونه وشول.
د اکسا له جوړېدلو نه وروسته نیول نور هم ډېر شول. اکسا که څه هم د افغانستان د کټو ساتلو اداري په نامه له کودتا نه یو څو اونۍ وروسته جوړه شوه، په واقع کې د افغانستان پر ځای یې د رسمي ګوند ګټې په نظر کې لرلې، چې هغه په دغه وخت کې د ګوند په انحصاري سروالۍ د حکومت ټینګول وو، نو ځکه هر افغان نر یا ښځه یا ستمي یا غیر ستمي، پښتون یا غیر پښتون، ګوندي یا غیر ګوندي بندي کېده، چې په یوه یا بل ډول به یې له دغه انحصاري حکومت او د هغه له زور زیاتیو سره مخالفت کاوه. په دغه وخت کې ژوند د غومره نامصؤون او ویره تر دې حده پورې خوره

وه، چې پلرونه به په کورونو کې د خپلو اولادونو په مخ کې د حکومت پرخلاف نه غږېدل. په ښوونځیو کې خلقي ښونکي ګومارل شوي وو، چې زده کوونکي وپوښتي، چې تېره شپه چې لویانو په تلویزیون کې وینداوې کولې، د هغو)زده کوونکیو(مېندو او پلرونو د هغه په اړه څه ډول غبرګون ښوده؟. وېره دغومره ډېره وه، چې چا د روانو پېښو په اړه لیکنې نه کولې. ما په خپله که څه هم له خلکو سره د حکومت په چلند پوهېدل مې خپله مسلکي د نده ګڼله، د اګست په میاشت کې د بالاحصار له پېښې نه وروسته په جورنال لیکلو پیل وکړ او په 1982 کې مې په پرچمي رجیم کې تر بندي کېدلو پورې ور ته دوام ورکړ. د څرخي پله په زندان کې مې بیا له بندیانو نه په دې اړه ډېر معلومات ترلاسه کړل، خو له بده مرغه هغه مې لیکلی نه شول. اوس دلته هغه او د خپل ژوندانه معلومات له هغو د معلوماتو سره یو ځای وړاندې کوم، چې مې د اسدالله نوابي، روشن احمد شاه، س.ن. حسیني او محمد عثمان هاشمي له اثرونو نه ترلاسه کړي دي. دوی ټول په خلقي دوره کې بندیان وو. سره له دې هم ممکنه نه ده، په ټول ملک کې په خلقي دوره کې د بندي توب او جزاګانو په اړه انځور وړاندې شي.

حکومتي چارواکي او بندیان

د خلقي حکومت په لومړیو اوولس میاشتو کې یانې په هغه وخت کې، چې تره کی د نظام او اسدالله سروري د اګسا سروالان وو، بیخي ډېر افغانان بندي شوي، کړول شي او له مېنځه وړل شوي دي، خو څنګه چې خلقي نظام انحصاري او سرپټي او زورواک و او یواځې له ځینو بندیانو نه تحقیق په لیکلي ډول کېده او د تحقیق پاڼې هم له یو څو نه پرته عامې شوې نه وې، د بندیانو او هغو ته د جزاګانو په اړه لیکنې هم

دقیقې کېدلی نه شي. په دې اړه لکه چې وویل
شول، یو شمېر پخوانیو بندیانو لیکنې کړې دي،
خو هغه نه یواځې د شخصي معلوماتو او تجربو پر
بنا او محدودې دي، تر زیاتې اندازې احساساتي
او ناافاقي دي. سره له دې هم هغه د څېړونکیو
لپاره ارزښتناک منابع دي. د امیر عبدالرحمن د
وخت د زندانونو په اړه زما لیکنه شاید تر دغې
لیکنې، چې اوس یې کوم، ډېره دقیقه وي، ځکه چې
په هغه وخت کې د امیر په دربار کې د برتانوي
هند حکومت مسلمان ایجنټ په منظم ډول خپل
حکومت ته راپورونه ورکول، چې هغه ټول د هند
په ملي ارشیف او د لندن برتانوي کتابتون کې د
څېړونکیو د استفادې لپاره ایښودل شوي دي، خو
له بده مرغه په افغانستان کې دغسې سرچینې هېڅ
نه شته، چې د هغو له مخې افغان تاریخ په دقیق
ډول او په خاص ډول له خلکو او بندیانو سره د
حکومتونو چلند په مستند ډول وکښل شي.
حکومتونه او په دقیق ډول حکومتي چارواکي هغه
وخت ښه پېژندل کېدلی شي، چې له خلکو سره په
عمومي ډول او له خپلو مخالفانو سره په خاص
ډول د عمل په ډګر کې څه ډول چلند کوي، نه دا
چې څه وایي. له دې امله په یوې سیاسي ټولنې
کې د خلکو غټه دنده دا ده، چې د خپلو
چارواکیو وینا وو او کړو ته پوره ځیر وي.
د ثور له کودتا نه وروسته د حکومت فرمان په
ټول ملک کې چلېده او حکومت په ولایتونو،
ولسوالیو او علاقه دریو کې لکه د کابل په ښار
کې نوي چارواکي وټاکل. دوی زیاتره خلقیان او
څه یې پرچمیان وو. له پخوانیو چارواکیو نه
ډېر یې لا هم په خپلو مقامونو پاتې وو، خو
هغوی بیا لېرې ځایونو ته استول کېدل یا یې
ځانونه په خپله ګوښه کړل. وروسته معلوم پرچمي
چارواکي هم ګوښه کړل شول. په دې ډول په
ښارونو او ولایتونو کې د ګوند او حکومت د
سروالی مقامونه د خلقیانو شول، مسلکي او

حسابي میرزایان پرځای پاتې شول، ځکه چې خلقیانو یې کارونه نه شو کولی. په خلقیانو کې هم "...د دولت اساسي اداري، امنیتي او سیاسي کارونه د ګوند د حاکم ګروپ ته سپارل شوي وو، چې د سرو خلقیانو په نامه یادېدل."(3) خو د دوی په نظر حکومت کول د نامطلوبانو بندي کول، کړول او مرګکي وهل ټکول شول. په اطراف په تېره د ولایتونو په مرکزونو کې هم له زندانونو نه پوره کار واخیستل شو. د مرګکي وهلو ټکولو لوی مرکز د کابل ښار و، چې د کودتا په وخت کې یې نیم میلیون وګړي او د بندي توب څو مرکزونه لرل، لکه د دهمزنګ زندان، د ولایت توقیفخانه او د څرخي پله لوی کانکریټي زندان، چې په دغه وخت کې له او وبلاکونو څخه یې یوائې اول لمبر بلاک د استفادې وړ و. د حکومت لپاره دغه بندي خانې بس نه وې، نو یې د بنديکولو په همغه اول وخت کې د کورنیو چارو وزارت او ملي دفاع وزارت له کوټو او تهکاویو او وروسته د صدارت له کوټو او نورو دولتي ودانیو نه هم کار اخیسته او د څرخي پله د ټولو بلاکونو په بشپړ کولو باندې لنګر واچوه.

ن.حسیني شاید لومړی کس وي، چې د کودتا په دویمه ورځ یانې د ثور په نهمه ونیول شو او لس ورځې وروسته له درې نورو بندیانو سره د څرخي پله زندان لومړي بلاک ته ولېږل شو(4). د حسیني له لیکنې نه معلومېږي، چې د اسلامي جمعیت غړي وي. له هغه نه وروسته به وي، چې د پخواني حکومت د سرکسان د موسی شفیق په ګډون د ملي دفاع په کوټو کې اچول شوي او بیا په پولیګون کې له منځه وړل شوي دي، چې یادونه یې دمخه شوې ده. له کودتا نه ورسته نور معلوم بندیان د بدخشان پخواني والي تاج محمد وردګ او د هغه مشر ورور روښن احمد شاه، چې په روشندل وردګ یادېده، وو چې د ولایت په توقیفخانه کې واچول شول. توقیفخانې په وړو کوټو کې یو شمېر

جنايي بنديان او داسې هم ځينې سياسي بنديان لکه عبدالمجيد د دولت وزير، عبدالقيوم وردګ د سرحدونو وزير، عبدالله عمر د روغتيا وزير او يو څو ديني پوهان او قاضيان دمخه بندي شوي وو. د جوزا په لومړۍ ورځ دغه دوه ورونه او درې وزيران د څرخي پله لومړي بلاک ته ولېږل شول[5].

اګسا او اسدالله سروري

اګسا د نوي نظام د ټينګښت او باندنيو په تېره امريکې ته د جاسوسۍ په نامه د خپل فعاليت ډګر د غومره پراخ نيولی و، لکه په شوروي اتحاد کې چې ک.ج.ب پراخ نيولی و. د اګسا لومړنی او وروستنی سروال اسدالله سروري و. سروري د اګسا له لارې د افغانانو په بندي کولو، کړولو او له مېنځه وړلو کې د امير عبدالرحمن د وخت له نايب کوتوال مير سلطان (افشار) سره پرتله کېدی شي. مير سلطان په امنيتي او جزايي چارو کې د مطلق اختيار خاوند و. د هغه له دغه مطلق اختيار نه په پراخې استفادې سره ناراضي توب تر دې حده پورې عام شو، چې په پای کې حکومتي لوړو چارواکيو امير ته څرګنده کړه، چې د هېواد ناارامي د هغه د بې رحمۍ له امله وه. دا هغه وخت و، چې د مير سلطان مطلقيت له حد نه اوښتی او امير هم همدغسې فکر کاوه. مير سلطان بيا په لغمان کې په دار وځړول شو[6].

اګسا د عصري تخنيکي وسيلو، د ګوندي سرتېرو، بېحده اختيار او د شوروي اتحاد د ماهرانو او په سر کې يې د بوګدانوف په لرلو سره د غومره پياوړې او په خپل سر شوي وه، چې له يو څو کسانو نه پرته بل هر څوک يې بندي کولی شو، بې له دې چې له کوم مقام نه يې اجازه ترلاسه کړې وي. د هغې له لارې سروري حتی د صدراعظم حفيظ الله امين د له مېنځه وړلو لپاره څو ځله تجويزونه نيولي وو، چې نابريالي شول. په دې ډول اګسا ددغسې اختيار له لرلو نه بهره منه

وه، چې چارواکيو يې په تېره سروري د نظام د مخالفانو په ځپلو کې هر هغه څه کول، چې يې لازم ګڼل، بې له دې چې ځوک ترېنه پوښتنه وکړي. د دوی مطلقيت به هغه وخت پوره څرګند شي، چې د بنديانو افغانانو شمېر او د هغوی د کړولو او وژلو طرز هغسې، چې په رښتيا وتثبيت شي او دوی بې شمېره افغانان په ښارونو او اطرافو کې بندي کړي او بې شمېره بنديان يې د مرګ پنجو ته سپارلي دي. د کابل او څرخي پله په زندانونو کې په تېره له پاڅونونو وروسته به يو شمېر بنديان له دې امله هم له مېنځه وړل شوي، چې په زندانونو کې ورته ځای نه و.

اسدالله سروري د غزني سهېل ته د سپندې د کلي فارسي ژبی په منګ ځوان خلقي و، خو په خټه يې ځان مومند ښوده. دی د هوايي قوې ميخانيک و، دی د کودتا په اوله ورځ په غزني کې و، خو دی په اصطلاح سخت انقلابي و. تر کودتا دمخه يې په ګونديو لويانو باندې فشار راووړ، چې بايد انقلاب وشي، يانې حکومت په کودتا سره ونړيول شي. له همدې امله به و، چې دی تر کودتا وروسته د اګسا سروال وټاکل شو، چې انقلاب واقعي کړي، که څه هم هغه ددغسې اداري د چلولو لپاره تجربه او وړتيا نه لرله او کسب يې هم د پوځي ميخانيک و. هر څه، چې و د يوه ټينګ انقلابي په صفت اګسا د شوروي اتحاد سرمشاور، کرنيل ليونيد بوګدانوف په مرسته د نظام يو بې جوړې پياوړی مرکز وګرځاوه. اګسا په نېغ ډول تره کي ته مسؤله وه او سروري په خپله هم د ځينو بنديانو په وهلو او کړولو کې برخه اخيستله او د کورنيو چارو وزارت کې يانې چېرې، چې اګسا هم وه، هره شپه يې نوي بنديان په خپله ليدل. کله به چې دی هلته ته، زياتره وخت به نشه و، بنديان به يې په خپله وهل. ده په همدغسې حال کې د يوه ملا ږيره هم شکولې ده. د يوه مشاهد په روايت يوه ښځه او مېړه يې په

دې تور هلته وړل شوي وو، چې ګواکې امریکې ته یې جاسوسي کوله. دغه سړی د امریکې په سفارت کې یو عادي مستخدم و او که څه هم سخت وو هل شو، مطلوب اعتراف ترېنه ترلاسه نه شو. په پای کې په یوه حاضر ازبک سرتېري امر وشو، چې ښځه بربنډه کړي، هغه د نورو په مخ کې همدغسې وکړل. سره له دې هم له مېړه نه یې اعتراف ترلاسه نه شو. بیا دواړه له کوټې نه بیرون وایستل شول. خانباز تڼیوال د کابل پوهنتون د ادبیاتو په پوهنځي کې د پښتو ژبې استاد و، لکه چې په پخواني څپرکي کې یې یادونه شوې وه. دی په ځان دنګر خو په فکر کې شخ او ماوست ډوله ځوان و، خو په اګسا کې یې پرې تور لګولی و، چې دی د امریکې جاسوس دی، لکه په پرچمي دوره کې په خاد کې په ما باندې، چې دولس کاله مې په انګلستان او امریکې کې زده کړه او څېړنه کړې وه، دغه تور لګول شوی و چې زه د کمونستي چین پلوی ډلې رهاییي کدر وم. په داسې حال کې، چې تر هغه وخت پورې مې دد غې ډلې مشر ډاکټر فیض نوم نه و اورېدلی. محمد علم مله بار هم، چې د ادبیاتو په پوهنځي کې یو لایق استاد و، په اګسا کې تر دې حده پورې وهل شوی و، چې په امریکایي انتروپولوجست لویي دوپرې باندې یې د هغه په مخ کې شهادت ورکړو چې هغه یو جاسوس دی. مله بار په قانوني پاچایي کې له دوپري سره د کابل پوهنتون له خوا له هغه سره د څېړنې لپاره بدخشان ته د سفر ملګرتوب کړی و. په هغه وخت کې له باندنیو پوهانو سره د کابل پوهنتون له خوا د استادانو ملګرتوب د تحقیق او څېړنې لپاره عام و، لکه چې محصلان به د علمي سیر په نامه د هېواد ځینو سیمو ته په رسمي ډول تلل او یو ځل زه له خپلو محصلانو سره کندهار او هرات ته تللی وم.

د بندیانو په کړولو کې د سروري ونږه د پلان وزیر سلطان علي کشتمند او د پوهنتون استاد

عثمان هاشمي له ليکنو نه هم څرګنده ده، چې د خلقي حکومت پر ضد د کودتا په تور نيول شوي وو. کشتمند د سنبلې په لومړۍ ورځ د ارګ په کوټې باغچه کې په دې تور بندي شوی و، چې د جنرال عبدالقادر او نورو په ملګرتيا يې کودتا کوله، لکه چې دد غې پېښې يادونه دمخه شوې وه. دی شايد د هغو خاصو بنديانو نه وي، چې هم شفاهي او هم په ليکلي ډول ترېنه پوښتنې شوې وي[7]. د بندي توب په دويمه شپه ترېنه پوښتنې پيل شوې، د پوښتنو کوونکيو ډله د اسدالله امين په سروالۍ له اسدالله سروري، سيد داود تړون، د کورنيو چارو وزارت د ژاندرم او پوليس سروال عزيزي اکبري، د همدغه وزارت د چارواکي او د تره کي د دفتر خاص سکرتر تورن جان محمد نه جوړه وه. اول اسدالله امين کشتمند وپوښته، چې "... چه وقت و چطور کودتا ميکرديد؟" د کشتمند ځواب دا و، چې "چنين اتهامي درباره من کاملاً بی پايه و دروغ است." کشتمند وايي، چې څو نورې شپې هم په دغسې پوښتنو او ځوابونو سره تېرې شوې. په پېنځمه شپه د همدغې ودانۍ دويم پوړ د بندي عبدالقادر کوټې ته بوتلل شو. هلته اسدالله امين له قادر نه وغوښتل، چې خپلې خبرې واوروي. هغه کړه، چې "من و کشتمند پلان داشتيم که يکجا کودتا کنيم." کشتمند وايي، چې ما قادر ته سملاسه وويل، چې "قادر تو چرا برخود و من اتهام وارد مينمايی؟" قادر هم سملاسه ځواب ورکړ، چې "کشتمند بايد بدانی که اين ظالم ها مرا بسيار زده و شکنجه کرده اند، راه ديگر نداشتم." د کشتمند په وينا يو ډوله پوښتنو په شپو شپو دوام وکړ، ترڅو ده ته هم اسدالله سروري په امر او شته والی سره برق ورکول کېده، په دې ډول چې "سيم های تيلفون [برق] را در شصت هايم بستند و ترون دسته تيلفون را چرخاند." او ده سخت ټکان وخوړ. دده په وينا

بل ځل " جان محمد... بر روی سینه ام نشست، در عین حال دهنم را بسته کردند." او برق یې بیا چالان کړ، خو سره له دې هم مطلوب اعتراف د پوښتنو کوونکیو ترلاسه نه شو. بل ځل، چې په همدغه ډول تر برق لاندې ونیول شو، له ډېر درد نه یې لاس پورته کړ، چې غواړي اعتراف وکړي، خو بیا یې وویل چې "میخواهم که بمیرم و روی شما را دیگر نه بینم. نفرین زمین و اسمان و همه بر شما." بیا نو د سروري په حضور کې "انان چندین سگی ولگلد محکم بر سر، روی و کمرم کوفتند." په بل ځل یې په عین وخت کې په دوو برقي ماشینونو سره د پښو او لاسونو په ګوتو کې برق ورتېر کړ، چې اثر یې "دردهای وحشتنک تکان ها و خورد شدن ها بود" بیا نو کشتمند وایي، چې "سرانجام من مغلوب شدم و اظهار داشتم که خود هر چه میخواهند [بنویسند] و من پای آن امضا میکنم." خو پوښتنو کوونکیو غوښتل، چې ځوابونه هغه په خپل قلم ولیکي. له هغه وروسته و، چې ده په خپل قلم ولیکل، چې "در کودتا من تظاهرات اعتراضیه شاگردان و محصلان، پسران و دختران و مجموع روشنفکران و زحمتکشان را سازماندهی میکردم."

په پورته ډول د کشتمند د لیکنې له مخې له یو لړ پوښتنو وروسته، چې وهل ټکول او برق ورکول ورسره ملګري وو، هغه څه ولیکل، چې ورنه وغوښتل شول، خو دده دغه ځواب د نورو ځوابونو په شان لنډ او په یوې ساده جمله کې ادا شوی. ده په "کودتا" کې هم خپله ونډه وړه ښوولې، په داسې حال کې چې دده په خپل قلم په هغو ځوابونو کې، چې په کالنۍ کې فوټو کاپي شوې خپله ونډه مهمه او لویه ښوولې ده. په دغو ځوابونو کې ده د نظامي او ملکي ملګرو په ګډون خپل د "کودتا" پلان ښه اوږد بیان کړی، البته ځنګه چې کشتمند په مرګ سره ترټل شوی و،

اعترافونه یې د اعتبار وړ نه شي کېدی، خو کشتمند باید په خپل کتاب کې ددغې موضوع په مهمو اړخونو باندې پوره رڼا اچولې وای او په دې یې بسیا نه وای کړې، چې "رژیم بخش از سوال ها و پاسخ ها را که بنفع خود تشخیص کرده بود، منتشر ساخت." د کشتمند دغه لیکنه هم رښتیا نه ده. رښتیا دا ده، چې دده د هغه وخت ځینې ځوابونه دده له هغو ځوابونو نه، چې په کتاب کې یې راوړي، ډېر اوږده دي او د "کودتا" په اړه یې اوږده لیکنه کړې. ددغه تفاوت یا دغه دوه ډول توب له امله د هغه د اوسنیو ځوابونو په اړه شک پیداکېږي، په تېره چې دا هم په نظر کې ونیول شي، چې دغه ځوابونه یې 24 کاله وروسته له خپلې حافظې نه بیان کړي، هغه هم په یقیني ډول چې دغه کارګران څه چې په واقع کې ناشونکي دي. داسې ښکاري، چې هغه څه چې کشتمند اوس په خپل کتاب کې ددغې موضوع په اړه راوړي،. ددې لپاره راوړي چې خپل دریځ په حقه وښيي، نه دا چې د واقعیت بیان وکړي. دغه لیکنه دغه شک نور هم پیاوړې کوي، چې دی وایي په اعترافونو کې یې په "کودتا" کې د عبدالقادر، محمد رفیع، شاهپور او میر علي اکبر له نومونو سربېره "دوه درې" نور نومونه هم ذکر کړي، حال دا چې هغه "دوه درې" نومونه، نه بلکې یوولس نومونه دي.

د کشتمند له کتاب نه دا هم جوته ده، چې نور مهم تورنان تر ده نه زیات کړول شوي، چې په هغو کې یو هم محمد عثمان هاشمي د کابل پوهنتون د طب پوهنځي استاد و. هاشمي له خپل بندي کېدلو نه یوویشت کاله وروسته په کال 1999 کې د "فرار از کام مرگ" په نامه کتاب خپور کړی او په هغه کې یې د خلقي دورې په زندانونو کې خپلې شخصي تجربې، لیدنې کتنې او اورېدنې راوړي او خپل تعبیرونه او تفسیرونه یې پرې اضافه کړي دي. کتاب یې په 350 مخونو

کې د ناول په شان کښلی او د پېښو نېټې یې هم نه دي ورکړي. غټه ځانګړتیا یې دا ده، چې دی په خپل دغه ناول ډول کتاب کې یواځې له بندیانو او له هغو سره د چاروواکیو له چلند نه غږېږي. دا چې هاشمي په کومه نېټه له پوهنتون نه د صدارت مانۍ ته وړل شو، معلومه نه ده، خو هلته په هماغه او له ورځ اسدالله سروري په داسې حال کې چې په کوچ باندې د هغه تر څنګ ناست و، ورته وویل چې "استاد قلم و کاغذ برایت میدهم، جریان را بدون کم و کاست برایم بنویس." او چې ده کړه "کدام جریان را؟" سروری "مشتش را پس برده چنان به بینی و دهنم کوبید که باصطلاح ستاره ها در روز روشن در نظرم مجسم گردید. ضربه آنقدر شدید بود که باوجود شکستن بینی درد آن را در همان لحظه احساس نکردم ولی جریان خون از ان پیراهن و پتلونم را کاملاً الوده ساخت." هاشمي وړاندې وایي، چې "بعد از ان اسدالله سروری مانند رهزنانی که به عجله و قبل از رسیدن کمکی دار و ندار شخصی را به یغما ببرد [ببرند] بجانم افتاد." بیا نو په خپله سروري د هغه شخصي څیزونه یانې د لاس ساعت، درې خود رنګه قلمونه، د سګرټو قطۍ او یو څه مقدار پیسې له هغه نه قبضه کړې. هاشمي نه یواځې فیروزه یي رنګه ګوتمۍ، دریشي او د تن کالي پاتې شول او بیا په یوې ټوټې رسۍ سره یې پښې او په بلې سره یې لاسونه وتړل شول. بیا سروري په خپله هاشمي له کوچ نه لاندې وغورځاوه "...با لګدهایش بجانم افتاد و بانګ میزد: حال برایت نشان میدهم." سروري وروسته "چون خرس های وحشی حمله نموده و با دو چنګالش ګلویم را ګرفت و با دو دستش، بروی مجرای تنفسی، طوری به فشردن پرداخت که تنفسم تدریجاً مشکل و مشکل تر ګردد... وجودم رو بهٔ کرختی میرفت." سروري بیا له یو څو شېبو وروسته، چې خپله سترتیا یې ایستلې وه، "...روی شکم من بالا شده

و به لگد کردن پرداخت." بیا یې امر ورکړ، چې هاشمي ته دې برق ورکړل شي. برقي آله یوه لاستي لرونکې صندوقچه وه، چې سیمونه به یې د چا د وجود په کوم ځای یا ځایونو تړل کېدل او د لاستي په څرخولو سره به برق ورتېرېده. سیمونه د هاشمي په پښو و تړل شول او برق ورته چالان شو. "شدت درد باندازه ی بود که خود داری از فریاد و فغان را ناممکن میساخت. اما دیری نگذشت که فریاد و فغانم فرو نشست و دیگر صدایی از من بلند نشد." دی دا هم وایي، چې "اولین باری بود که متوجه مرگ شدم، خاموشانه درد میکشیدم و خاموشانه ارزوی مرگ میکردم." له یو څه ځنډ وروسته، چې د صدارت چارواکي رخصت شوي وو، سروري له هاشمي نه پوښتنه وکړه، چې "با ولید حقوقی چه پلانی را طرح کرده بودید؟" له هاشمي نه د سروري دا دوېمه پوښتنه وه. دی وایي، چې ما حقوقي له نږدې نه، نه پېژندو، خو د هغه نوم مې اورېدلی و او چې دا مې په ځواب کې وویل "او یک بار دیگر با مشت و لگد بجانم افتاد و به سر و تنم آن قدر مشت و لگد حواله نمود که ممکن خودش هم از درد پا عذاب کشیده باشد. سلسله شوک های برقی دوبار اغاز یافت و یک بار دیگر رقص شیاطین به دور من بر پا شد."

سروري به په ځان تکره "د انقلاب" ټینګ پلوی او د مخالفانو مرګکي دښمن و، چې بندیان یې په خپله وهل. که یو څوک همدغسې هم وي، خو چې د یوې مهمې دولتي مؤسسې سروال وي، لږ تر لږه په خپله دغسې نه کوي، مګر دا چې په طبیعت کې وحشي ډوله انسان وي. د جنرال عزیز احمد عزیزي په نظر سروري په اصل کې همدغسې انسان و. ده "در برابر انهانیکه تصور میرفت تهدید و خطر برای انقلاب را بار می آورد برخورد بیرحمانه و قاطع داشته تا حد نابودی آنها تصمیم میگرفت.[8]" د هاشمي په وینا سروري بل ځل له

میر علي اکبر سره کوټې ته ننوت او علي اکبر سمدلاسه غبرګ کړ، چې "این شخص دوکتور محمد عثمان هاشمي است. با ولید حقوقی پلان کودتا را طرح نموده بود، تا رژیم فعلی را از بین برده و در رژیم جدید ولید حقوقی به حیث رییس جمهور و محمد عثمان هاشمی بحیث معاون اجرای وظیفه نمایند." هاشمي د میر علي اکبر له قوله دا هم وايي، چې "عثمان هاشمي از من دعوت نموده بود تا به آنها بپیوندم." په دې ډول هاشمي له ولید حقوقي او میر علي اکبر سره د حکومت پر ضد "کودتا" کې ښکېل وښودل شو. ولید حقوقي په پاچايي دوره کې د سترې محکمې مرستیال او یو پېژندل شوی حقوق پوه لکه میر علي اکبر یو پېژندل شوی طبي ډاکټر او د جمهوري روغتون سرطبیب او یو ملي شخص و. پښتو یې هم روانه ویله. دواړه په اګسا کې سخت کړول شوي وو. میر علي اکبر په داسې حال کې، چې په کوټه کې سروري ناڅاپه په ټلیفون کولو بوخت شو، "چنان وانمود کرد که دیګر تحمل شکنجه و عذاب کشی برایش نمانده است." وروسته هاشمي ته دا هم معلومه شوه، چې "ولید حقوقی را تحت شکنجه های وحشیانه قرار داده بودند."

هاشمي ځان د ملي وحدت نهضت غړی ښيي، خو دی هغه کله د "حلقي" او کله "د حزب" په نامه یادوي. د غه نهضت د ثور له کودتا نه یوه میاشت وروسته د کابل پوهنتون د غو استادانو جوړ کړی و. سید عبدالله کاظم، غلام محمد نیاز، عزیز الله لودین، محمد داود یار، محمد امین فرهنګ او محمد اختر مستمندي. هاشمي خپل ځان او ضامن علي غرجی هم د هغه په مؤسسانو کې حسابوي. مؤلف صدیق فرهنګ ددغې ټولنې موخه "تنویر محصلان در باره سیاست ضد ملی رژیم و توسعه جویی شوروی در افانستان بود.[9]" وروسته محمد ګل رومان چې د طب ډاکټر و، د محمد داود یار

په اعتبار دد غې ټولنې غړی شو. دا هغه وخت و، چې هاشمي له مير علي اکبر سره ليدلي او د هغه له "حلقې" سره يې د خپلې "حلقې" د يو موټي والي په اړه خبرې کړې او د غه جريان يې خپلو ملګرو ته ځرګند کړی و، بې له دې چې نوم يې اخيستی وي. په دغې غونډې کې فيصله شوې وه، چې "ما حلقه مربوط به مير علی اکبر را از نقاط نظر خود مطلع سازيم و در صورتيکه با ما اختلاف نظری نداشته باشند، فعاليت های خود را مدغم نمايم." هاشمي بې له دې، چې دغه "نقاط نظر" ځرګند کړي، مؤظف شو چې د خپل نهضت اساسنامه به مير علي اکبر ته رسوي."

مير علي اکبر هاشمي ته ويلي و، چې "با حلقه هائيکه فعاليت های ضد دولتی دارند، از نزد يک به تماس ميباشد." علي اکبر دا هم ورته ويلي وو، چې "در اين حلقه ها تعداد زياد صاحبمنصبان اردو و يک عده آ مرين ماموريت های پوليس شهر کابل [داخل] ميباشند." هاشمي ورته بيا وعده ورکړې وه، چې په هغه حال کې چې ملګري يې موافقه وکړي "... گروپ صاحبمنصبان مربوط خود را با هم معرفی نمايیم تا باهم در ترتيب پلان کودتا همکاری نمايند." دا چې دغه افسران څوک وو او دا چې هغوی يواځې له ده سره يا له نورو ملګرو سره هم اړيکې لرل، په دې اړه هاشمي څه نه وايي. هاشمي دا هم نه وايي، چې نورو نهضتيانو له کودتا کوونکيو سره ملګرتوب کاوه يا نه؟ د کودتا موضوع خو ددغې ټولنې له اساسنامې سره اړخ نه لګوي، چې هغه په اصل کې "تنوير" کول و. مهمه دا چې په کودتا يانې په قوت سره چې په معمولي ډول له هغه نه مراد نظامي قدرت وي، يو نظام چپه کول هغه هم د پوهنتون استادانو له خوا، چې ټول عمر يې په زده کړې او درس ورکولو تېر کړی وي، له يوه رومانتيکي خيال پرته بله مانا لرلی

نشي، مګر دا چې کومه غټه پياوړې نظامي ډله يې ملګرې وي.
دد غه حکم رښتين توب د هاشمي له ليکنې نه هم معلومېږي، چې وايي "باوجوديکه من در اعترافاتم از هشت نفری که در ان شب اجتماع نموده بوديم، تذکر دادم ولی اسدالله سروری کوچکترين سوالی در مورد آنها و در مورد جلسات احتمالی ديگر ما از من ننمود." دده په فکر "...اسدالله سروري مطمين شده بود که اين حلقه محدود بوده هنوز بسط نيافته است." سره له دې هم له محمد داود يار نه پرته، چې دمخه له وطن نه وتلی و، د ټولنې ټول غړي ونيول شول، که څه هم د حکومت پر ضد يې په کوم عمل لاس پورې کړی نه وو. هاشمي وايي، چې "سوال ها... بطور عموم در اطراف ارتباط با دوکتور مير علی اکبر و دوکتور وليد حقوقی می چرخيد." وليد حقوقي د کودتا شخص نه و، خو څنګه چې په تېرو حکومتونو کې د يوه نوميالي محمدزي قانون پوه په صفت يو پېژندل شوی شخص او د دکتاتوری نظام او کمونزم مخالف و، اګسا زغملی نه شو. مير علي اکبر که څه هم د يوه لوی روغتون سر طبيب و، لکه چې دمخه ويل شوي د يو د ډګروال اصحاب الدين سيدي په وينا د هغه په ملګرتوب يې د کودتا لپاره د "صاحبمنصبانو او نورو وطنپالو" په جلبلولو پيل کړی و. مير علي اکبر د سيداګل غريبيار په نظر، چې د څرخي پله زندان کې يې پېژندلی و، دغسې يو حساس ملي افغان و، چې زور واک نظام يې منلی نه شو. دا چې مير علي اکبر او هاشمي ډېر وکړول شول، له دې امله به وو چې د دوی موضوع له "تنوير" نه پورته د نظامي عمل کومې مرحلې ته رسېدلې وه. د سيدي او هاشمي ليکنې هم همدغه مفهوم ور کوي. دا سې ښکاري، چې هاشمي له کومې نظامي ډلې سره اړيکې ټينګ کړي وو، خو دا معلومه نه ده چې هغه به د ملي نهضت په دستور وې. هر څه چې و، دی د همدغه ارتباط له

امله د بندي توب په لومړۍ مرحله کې، چې په صدارت کې و، د سروري له خوا د مرګ تر حد پورې کړول شوی و.

بندیان د کورنیو چارو په وزارت کې

عثمان هاشمي په صدارت کې له دولسو ورځو وروسته له میر علي اکبر سره یو ځای د کورنیو چارو وزارت د دویم پوړ په یوې کوټې کې او علي اکبر په بلې کوټې کې واچول شو. هلته له هاشمي نه یوه ملکي هڅیت پوښتنې کولې. پوښتنې به چې زیاتره شفاهي او کله تحریري وې، د شپې کېدلې. د تحقیق موضع بیا هم له میر علي اکبر او ولید حقوقي سره د هغه د ارتباط او کودتا په اړه وه. یو ځل سید داود تړون له هاشمي او میر علي اکبر سره د یوه بل په مخ کې پوښتنې وکړې او هماغه پخواني ځوابونه یې واورېدل. د هاشمي قول بیا نو "با برق و چوب بجانم افتادند، از شدت درد به خود می پیچیدم و از فریاد و فغان خود داری نمیتوانستم." خو دلته کړول کېدل تر هغو سپک و، چې په صدارت کې و، که څه هم دی د څلورمې شپې قصه په دې ډول کوي، چې "دردی که امشب از استعمال تلیفون (صندوقچه برق دادن) احساس میکردم شدید تر از دردی بود که از تیلفون اسدالله سروري احساس میکردم." دی دا هم وایي، چې "امشب صدای فریاد و فغان از اتاقهای دیگر بیش تر بگوش میرسید." په پای کې د تحقیق په شپږمه شپه د کورنیو چارو وزیر محمد اسلم وطنجار، اسدالله سروري او اسدالله امین د هاشمي کوټې ته ننوتل او وطنجار ورته وویل، چې "تو خود را به کشتن دادی. محکمه انقلابی حکم اعدامت را صادر نموده است." دا څنګه محکمه وه، چې د تورن په نشتوالي کې په هغه د اعدام حکم کوي؟ دا څنګه محکمه او چارواکي وو، چې تورن ته د اعدام حکم په شفاهي ډول اوروي، بې

له دې چې لامل يا لامونه يې ورته ووايي؟ له "انقلابي محكمې" نه به شايد د دوى مطلب دا و، چې هر هغه افغان، چې د خلقي حكومت مخالفت كوي، بايد د هغې له لارې وځپل او حتى اعدام شي. د هاشمي د اعدام حكم شايد ددې لپاره و، چې هغه په زندان كې د اعدامېدو په وېرې سره شپې او ورځې په اندېښنه كې تېرې كړي. هماغه و، چې په سبا يې له پېنځو نورو سره، چې په هغو كې يې ملګري، سيد عبدالله كاظم او عزيز الله لودين هم وو. په يوه بس كې د عسكرو په ملګرتوب سره د څرخي پله زندان په لومړي بلاک كې واچول او هاشمي يې اعدام نه كړ. د څرخي پله زندان ته د دوى سپارل په هغه ډول و، چې وروسته په پرچمي دوره كې موږ څلور استادان حبيب الرحمن هاله، محمد عثمان روستار او شكرالله كهګداى له صدارت نه د څرخي پله زندان دويم بلاک ته وسپارل شو، په داسې حال كې چې ډېرې مو رسېدلې او رنګونه مو زېړ وو، خو موږ په جسمي لحاظ كړول شوي نه وو.

له بندي نه د پوښتنو كولو بله نمونه په ولسي جرګې كې د نورستان يو پخوانى وكيل محمد اسماعيل دى، چې د ثور له كودتا نه پېنځه مياشتې وروسته (سنبله 1357) له خپلو دوو وروڼو جنرال محمد صفر وكيل غرزي دكابل پخواني ښاروال محمد كبير نورستاني او يو څو نورو خپلوانو سره ونيول شو او بيا اعدام شو. تر هغه دمخه يو بل ورور يې د سپين زر شركت پخواني سروال عبدالملک نورستاني بندي شوى وو[20]. له وكيل محمد اسماعيل نه د كورنيو چارو په وزارت كې د اګسا مرستيال عزيز اكبري او نورو په شفاهي ډول ډېرې پوښتنې كړې وې. ډېره مهمه پوښتنه دا ده، چې د خپل "پلان هدف" او دا چې د هغه په اړه يې له چا سره ارتباط نيولى و، بيان كړې. د وكيل ځواب منفي و، خو د يوې بلې كوټې بندي دارا خان نورستاني د هغو په مخ

کې وویل، چې وکیل په کابل کې خپل قومیان وهڅول، چې نورستان ته لاړ شي او د نورستان خلک د حکومت په مقابل کې د پاڅون لپاره اماده کړي. وکیل په ځواب کې وویل، چې دا یو بې بنسټه تور دی. بیا نو د وکیل په وینا "شخصی که مقابل من نشسته بود بپاخاست و سلی محکمی حواله ام کرد و دشنام داد." دی وایي، چې ما حوصله وکړه او ورته مې وویل، چې "دشنام دادن کار مرد نیست... خواهش میکنم دشنام ندهید." سره له دې هم هغه بیا دی وکنځه. نو د وکیل په وینا "من نفهمیدم که چه کردم؟ همراه دو دست چنان بر سرش کوبیدم که نقش زمین گردید... محافظین با قنداق تفنگ، مشت و لگد بر سرم ریختند. چشم گشودم شخصی برویم اب سرد می پاشید. پرسیدم، کجا هستم؟ گفت زندان دهمزنگ. سرم از چند جا سوراخ و چشمهایم ورم کرده بود. دیده نمیتوانستم، خوراک نیست و آگر باشد خورده نمیتوانم. بالاخره یکما سپری شد کم کم بحال آمدم. دیگر محبوسین برایم غذا و آب تهیه میکردند." څو اونۍ وروسته دی هم د ځرخي پله زندان ته وسپارل شو.

د سلیم عقل په حکم که د غو نورستانیانو خپل ټبر د حکومت پر ضد د پاڅون لپاره هڅولای، لکه چې دغه تور پرې لګول شوی و، دوی باید له خپلو کورنیو سره نورستان ته تللي وای، خو دوی په کابل کې وو. حقیقت دا دی، چې د نورستانیانو له هماغه اول سر نه له خلقي حکومت سره نه لګېدله. یو دا چې دوی په مسلمانۍ ټینګ ولاړ وو، په داسې حال کې چې خلقي چارواکي د اسلام مخالف ګڼل کېدل. دوی د امیر عبدالرحمن په وخت کې اسلام منلی وو، یا پرې منل شوی و. بله دا چې له نورستانیانو نه ډېر خلک د نورستان له فتح نه تر دغه وخته پورې په کابل کې په ملکي او نظامي لوړو مقامونو ګومارل شوي وو، دوی د واکمنې کورنۍ ټینګ پلویان وو، لکه پخوا چې

قزلباشان د سدوزي کورنۍ او وردګ د امیر شېر علي د کورنۍ خاص پلویان وو. درېیمه دا چې خلقي چارواکیو له نورستانیانو سره ز یږ چلند کاوه. لکه چې دمخه و یل شوي د کونړ د پېچ درې نورستانیان د هېواد له هغو اولو خلکو نه وو، چې د حکومت پر ضد پاڅېدلي وو. د وکیل محمد اسماعیل نورستاني او د کورنۍ نورو غړیو او نورو نورستانیانو نیول به ددې لپاره وو، چې نورستانیان ووېرېږي او په ملي سطح کې له پېژندل شویو لویانو نه محروم شي.

مذهبي ډلې او اکسا

اکسا له مذهبي ډلو نه بې شماره کسان په تېره ملا یان، مولویان، پیران او دا سې نور نیولي او له منځه وړي دي، حتی ځینې عادي افغانان هم د دیني وظیفو د اجرا په حال کې نیول شوي او له منځه وړل شوي دي. په هغه وخت کې ډېره او د مذهبي وظیفو اجرا د بندي کېدلو سبب کېده، لکه اوس چې بې ږیرو او درېشي کړو افغانانو ته په ښه سترګه نه کتل کېږي.

په هر حال، هغه روحانیان او مذهبي پیران، چې د ثور له کودتا نه وروسته پاکستان ته واوښتل، ژوندي پاتې شول لکه د ګیلاني کورنۍ مشران او د تګاو میا ګل جان او داسې نور... هغوی چې دننه په وطن کې پاتې شول، ژوندي له خطر سره مخ کړو لکه مجددیان. په یوه روایت د ګیلاني کورنۍ مشر د شلمې پېړۍ په سر کې له بغداد نه افغانستان ته راغی او امیر حبیب الله ضیا یې ورته په سره رود کې مواجب مقرر کړل. دی چې د نقیب صاحب یانې د قوم مشر په نامه یادېده، د قادریه صوفي طریقې پیرو و، ورو ورو یې په خاص ډول په پښتنو کې نفوذ وکړ او په ننګرهار او پکتیا کې یې ډېر پلویان وموندل، خو دوی د مجددیانو پرخلاف له ملي سیاست سره علاقمن نه وو. د ثور د کودتا په وخت

کې سید حسن ګیلاني د دغې طریقې مشر و[11]. د شورویانو له یرغل نه وروسته دی او ورېرونه یې د ملي محاذ د تنظیم له لارې په ملي سیاست او جهاد کې پوره دخیل او فعال شول، چې دا یې د بحث ځای نه دی. دلته د غومره و یل په کار دي، چې دوی پراخ نظره، عصري او معتدل مذهبي مشران وو، چې په پېښور کې ډېر ملي او تعلیم کړي افغانان هم ورسره ملګري شول.

مجددیان په افغانستان کې تر ګیلانیانو نه اوږد تاریخ لري، په یوه روایت د مجددیانو مؤسس شیخ احمد سرهندی و، چې په کال **1564** کې پیدا شوی او د هندوستان په سرهند کې مړ شوی و. دی د مجدد الف ثاني په لقب یادېده، په دې مانا چې د مسلمانانو په عقیده له یوې اوږدې مودې یا زر کال نه وروسته دغسې یو مصلح هسک کېږي، چې اسلام اصلي اصلونو ته په رسولو سره نوی او پیاوړی کوي.)عیسویان یهودان یا د هغو ځینې فرقې هم په دې عقیده دي، چې له یوې اوږدې مودې نه وروسته له دو نه به یو مذهبي مصلح هسک شي او نور به وژغوري.(دد غه سرهندي یو لیرې ځای ناستی قیوم جان مجددي له هندوستان نه په نولسمې پېړۍ کې افغانستان ته مهاجر شو او د کابل ښار په شوربازار کې یې واړول او یوه مدرسه یې هلته پرانېستله. کورنۍ یې له هغه وروسته د شوربازار حضرت په نامه یاده شوه او په خلکو په تېره د ښار په کسبګرو او په غلزي پښتنو اوپه خاص ډول په سلیمان خېلو کې یې نفوذ وکړ. دغې کورنۍ په هرات، لوګر او غزني کې هم څانګې وکړې[12]. په کابل کې دغه کورنۍ وروسته له شور بازار نه د قلعه جواد کلي کې هستوګنه شوه او هغه یې د خپلې طریقې مرکز وګرځاوه. څنګه چې مجددیان د خپلې نقشبندي صوفي طریقې په حکم، چې د نفوذناکې مذهبي ډلې په بڼه یې ساتنپالي کوله، په دولتي واکمنو او چارواکیو باندې فشار راوړ، چې د

شریعت په رعایت کې ټینګ وي، نو دوی د افغانستان په سیاسي ژوند باندې ډېر اثر کړی دی. تر ډېره حده پورې د دوی د مخالفت له امله و، چې د افغانستان لوی مصلح پاچا امان الله له افغانستان نه د تل لپاره په وتلو اړ شو او اصلاحي پروګرامونه یې په ټپه ودرېدل[13]. له هغه وخت نه د ثور تر کودتا پورې په داسې حال کې، چې مجددیانو په حکومت کې هم غټه ونډه لرله، دوی د ملتپالو او اصلاح او نویتوب غوښتونکیو افغانانو په نظر د پرمختګ او ملتپالنې مخالف ګڼل کېدل. صدراعظم محمد داود هم په همدغه فکر و. دی د یحیی خېلو د واکمنې کورنۍ لومړنی مهم غړی و، چې برالا یې همدغسې ویل. دغه فکر په خلقیانو کې هم قوي و. د همدغه فکر له مخې به و، چې خلقي چارواکیو د اګسا له لارې "شب جمعه 29 دلو 1357 به خانقاه مجددی به قلعه جواد حمله نموده و حضرت صاحب ضیاءالمشایخ ابراهیم مجددي سجاده نشین طریقه نقشبندی را با اهل و عیال و اطفال و مریدان حاضر در خانقاه به طرز وحشتناک گرفتار نموده روانه زندان پلچرخی نمودند که تا امروز از زنده و مرده شان خبری نیست.[14]" د مؤلف فرهنګ په وینا د محمد ابراهیم مجددي ماشومان د کورنۍ له ښځو سره بندي شول او "در این حادثه جمعاً هفده نفر از خانواده حضرت شوربازار مفقود و بگمان اغلب اعدام گردیده که علاوه بر محمد ابراهیم مجددی چار پسر، و داماد و خواهر زادگان او هم جزان بودند.[15]" په همدغه وخت کې د کوهستان، هرات، غزني، ننګرهار او کندهار مجددیان هم ونیول شول، چې په غالب احتمال وروسته له منځه یووړل شول. د دوی ډېر نومیالي د هرات پخوانی سناتور عبدالباقي مجددي او د ننګرهار فضل احمد مجددي وو. دا چې ټول ټال څومره مجددیان له منځه وړل شوي دي، په یقین سره معلومېدلی نه شي. اټکلو نه سره

توپیر لري. ټول شمېر یې شاید د اتیا تنو په شاوخوا کې وي. دا چې دوی په څه تور ونیول شول، دا هم معلومه نه ده. دا هم معلومه نه ده، چې له دوی نه څه پوښتنې او په څه ډول وشوې؟ دوی د حکومت پر ضد کوم عمل هم نه وو کړی، که څه هم د هغه ټینګ مخالف وو. دغسې مرګکې ضربه په مجددیانو باندې په افغانستان کې بل هېڅ وخت حواله شوې نه وه. له دوی سره د نقشبندي طریقه هم په افغانستان کې وځپل شوه، لکه چې د کابل محمدزیان وځپل شول. نقشبندیان د لومړي ځل لپاره په کال 1888 کې په مزار کې، چې والي سردار محمد اسحاق یې د امیر عبدالرحمن په مقابل کې یاغي کړی ته هڅولی وو، له مېنځه وړل شوي و[16].

پوځي واحدونه او بندیان

لکه چې دمخه ویل شوي، خلقي حکومت کوښښ کاوه چې پوځ خلقي کړي، په دې مانا چې له مخالفو افسرانو نه یې پاک او خلقیان یې افسران کړي. ددغه مقصد لپاره یې په پوځ کې ګوندي منشیانو او سیاسي آمرانو ته بېحده واک ورکړی و. تره کي به ویل، چې د ګوندي منشیانو امر دده د امر په شان د منلو وړ دی. دا چې له دغه واک نه په ټولو پوځي قطعو کې کار اخیستل وی وي، په یقین سره معلومه نه ده. په دې اړه د ننګرهار او د خوست د فرقې په اړه معلومات ترلاسه شوي دي. له دغه واک نه د خوست د فرقې په نهه پنځوسم کنډک کې، چې د ډیورنډ کرښې ته نږدې د غړومبې په مېرې کې او د ننګرهار فرقې په یوولسم غونډ کې، چې په چپرهار نومي دښتې کې ځای پر ځای و، پوره کار اخیستل شوی دی، چې د هغو په اړه مې د څرخي پله زندان کې له بندي افسرانو نه معلومات ترلاسه کړي وو. د غړومبې په کنډک کې د 1357کال له جدي نه د بل کال تر سنبلې پورې یانې د نهو میاشتو په اوږدو کې د خوست له

فرقې نه یو سل او یا تنه نظامي افسران د خیر محمد په امر، چې د فرقې سیاسي آمر و، له مېنځه وړل شوي دي. په دوی کې یو شمېر ملکي کسان هم شامل وو. د خوست د فرقې قوماندان دغه خیر محمد د 1357کال تر جدي پورې تر کنټرول لاندې نیولی و، خو دی په دغې میاشتې کې بل چېرې تبدیل شو او خیر محمد ځان ازاد ولید او په وژلو یې پیل وکړ. خیر محمد، چې فراه نه و یو مفعول بد اخلاق ګوندي و.

په ننګرهار کې د پوځي فرقې یو اتیاوم غنډ، چې د شاهمرد خان شګو ته ورځېرمه په چپرهار نومې دښتې کې ځای پر ځای و، هم د غړومبې د مېرې په شان د مخالفو افسرانو د وژلو ځای ټاکل شوی و. مخالف افسران هلته وروسته له هغه په ډېر شمېر له مېنځه یووړل شول، چې حکومت په فرقه کې د هغو د پاڅون له نقشې نه خبر شو او هغوی یې پخوا له دې، چې په عمل یې لاس پورې کړی وي، ونیول خو د فرقې قوماندان بهرام الدین وژل شوی و. د یوه بندي خلقي شېرزاد له قول نه روایت دی، چې "نابېره په لسګونو د فرقې افسران او د انضباط د ټولي عسکر یې بندي خانې ته رادننه کړل. له هغې جملې نه پېنځه ځلوېښت کسان له مېنځه یووړل شول. په دغو بندیانو کې د سور جرنیل زوی هم و." شېرزاد دا هم وایي، چې "د هغه د وژلو لپاره لوی درستیز یعقوب له کابله راغی او د سور جرنیل زوی یې، چې د توطیې اصلي محرک و، بې پوښتنې په توپنچه وویشتی او مړ یې کې." (17)

په ننګرهار کې د وژلو لپاره درې ځایونه ټاکل شوي وو: د چپرهار دښته، شاه پلنګ تالار او کمکي خیبر. د چپرهار دښته کې بې شمېره وژنې شوې دي. د وژلو طرز هم وحشتناک و، دغومره وحشتناک چې د باور وړ نه ښکاري. تورنان به د ننګرهار د فرقې له هر نظامي واحد نه هلته وړل کېدل، لکه په خوست کې چې د

غرومبي د ښتې ته ورل کېدل. له تور نانو نه به اول چېرته په فرقه کې شفاهي پوښتنې کېدلې او ډول ډول جزا ګانې به ورکول کېدلې. بيا به تورن بندي په داسې حال کې، چې پښې او لاسونه به يې تړل شوي وو، د چپر هار د ښتې ته امبولانس يا هغه ته ورته په کوم بل ډول وسيلې کې ورل کېدل، چې څوک د هغو د وژلو فکر ونه کړي. بندي به هلته د يوه کمره په ژۍ درول کېده، چې لاندې به يې دمخه په غاښه وررو سره کندې کېندل شوې وه. د بندي دواړو خواوو ته به دوه کسه چړکي په لاس ولاړ وو. بندي ته به ويل کېده، چې: "خدای يا نور محمد تره کی؟" که بندي ويل، چې خدایؑ، چړکی به يې په نس ورخښېدله او پکې به تاوېده راتاوېده، بيا به بندي کندې ته غوزارېده او په خپلو وينو کې به رغړېده او په داسې حال کې، چې نيم ژواندی به هم و، خاورې به پرې اړول کېدلې. که بندي به د پوښتنې په ځواب کې نور محمد تره کی ويل، ژ غورل کېده به او بيا به تر روزنې لاندې نيول کېده. ويل شوي، چې هغو چې د نور محمد تره کي نوم اخيستی وو، په شمېر کې ډېر وو. کريم فکور، چې ملکي ګوندي او د ننګرهار پوهنتون د طب د پوهنځي سروال و، د غو بنديانو په وژلو کې لوی لاس درلوده. فکور د پرچمي رجيم له پيل نه د 1366کال تر اسد پورې په څرخي پله زندان کې بندي و.

د ترين کوټ بنديان

د ارزګان ولايت مرکز ترين کوټ ښار د بنديانو په اړه د حکومتي چارواکيو چلند يو څه معلوم دی، خو د نورو ولايتونو د بنديانو په اړه دغسې معلومات نشته، چې بيان يې دلته وشي. د ارزګان په اړه دغه ليکنه له محمد حسن سهاک سره په ټيليفوني مرکې سره او د اسدالله نوابي د کتابګوټي د "سرګذشت زندان" له مخې برابره شوې ده. سهاک د خلقي حکومت په وخت کې هملته د

مرکزي احصائيې مدير او نوابي چې په خپله د ارزګان شوونکی و، د ترين کوټ بندي و.
ارزګان د پرېمانه اوبو، شو زراعتي ځمکو، ښو مېوو او ښې اب او هوا په لرلو سره يو ډېر سمسور ولايت دی. په هغه وخت کې، چې دايکندي او شهرستان هم ورپورې تړلي وو، يو لوی او مهم ولايت و. خلک يې په سلو کې تر شپېتو زيات پښتانه او نور يې هزاره وو. دغه پښتانه، چې زياتره يې نورزي، اڅکزي، پوپل زي، بارکزي، الکوزي، غلجي او نور وو، د وزيرو او مسيدو په شان زړه ور، ټينګ او ازاد طبع دي. د 1357کال په اخره کې د دوی او حکومت ترمېنځ اړيکې تر دې حده پورې ترخې شوې، چې حکومت بيا تر پايه پورې په ټول ارزګان حکومت ونه شو کړی. يواځې د ترين کوټ ښار ورته پاتې و، چې په جګړه پروت دی. په دغه حال کې، چې ارزګانيان بندي کېدل، د ترين کوټ په زندان کې ورسره بېخي زيږ چلند کېده.
د ارزګان د اول خلقي والي نظام الدين شريک په وخت کې له خلکو سره ډېر زور زياتی کېده، په تېره د تېري او دهراود له خلکو سره. په همدغه وخت کې، چې د ملک حسن هزاره له کور نه وسلې ووېستل شوې، هغه له يو څو نورو سره له مېنځه يووړل شو. د ارزګان هزاره بيا د خلقي حکومت تر پايه پورې ارام وو.
دويم والي بيت الله غرنی، چې پوځي پيلوټ او د پکتيا و، له خلکو سره ښه چلند کاوه، خو د دريم والي قربان خېل په وخت کې له خلکو سره بيا زيږ چلند کېده، ان تر دې چې ځينې په بېلو نومو نو اعدام شول. په ارزګان کې اول د خوني او چارچينو پښتانه د حکومت په مقابل کې جګ شوي وو. په همدغه وخت کې به و، چې د د هراود پښتانه چې زياتره يې نورزي دي، پاڅېدل او حکومت صاحبجان صحرايي له يوې کماندويي ډلې سره د هغو د ايل کولو لپاره واستوه، خو هغه

ددې پرځای چې له خلکو سره د روغې جوړې لار ونیسي، د زور لار ونیوله. که څه هم دی په خپله د دهرواود د نورزی و. ده په ارزګان کې هغسې بې رحمي وکړه، لکه د بریښنا او اوبو وزیر منصور هاشمي، چې له خپلو بدخشانیو سره وکړه. دی هم د صاحبجان غوندې په لوړو اختیارونو سره بدخشان ته استول شوی و. په همدغه وخت کې به و، چې حکیم ګوندي د یوې وسله والې ډلې په سروالی سره د کورونو د پلټلو لپاره د سیند اغاړه ترین کوټ ته لاړ او هلته یې په یوه ماجت کې په خلکو غږ وکړ، چې "څوک غواړي جنت ته ولاړ شي؟" دغو صاف زړو ناري کړې، چې "موږ غواړو جنت ته ولاړ شو." بیا نو د ګوندي په امر ګولۍ پرې واورولې شوې او ټول یې ووژل شول. پښتانه بیا تر دې حده پورې وپارېدل، چې هغه وخت چې والي قربان خېل د ولایت د څانګو له سروالانو سره د نېش ولسوالۍ ته لاړ، خلکو ناڅاپه پرې ودانګل او ټول یې له منځه یووړل. د بل والي تر راتګ پورې د پوهنې مدیر شمله دار چې د څو اونیو په موده کې د والي کار کاوه، په خلکو ډېره بې رحمي وکړه. د ترین کوټ هټۍ والو خپلې هټۍ د اعتصاب په توګه وتړلې، خو خلقیانو هغه په زور پرانېستلې او ټول څیزونه یې چور او د کندهار په ښار کې خرڅ کړل. له هغه وروسته و، چې له ترین کوټ پر ته نور ټول ارزګان د حکومت تر پایه پورې خپلواک و. د نېش له تراجیدۍ نه وروسته، چې الله داد طوفان د ارزګان والي شو، په ټول ارزګان کې یواځې ترین کوټ حکومت ته پاتې و.

د ارزګان ناکراري په اصل کې ددغو "سرو خلقیانو" د هغه چلند نتیجه وه، چې له هغو خلکو سره یې کاوه، چې دوی ورته "فیوډال"، "ارتجاعیون"، "د امپریالیزم زامن" او "امپریلزم نوکران" ویل او د ښمن یې ګڼل. اسدالله نوابي د هغوی دغه چلند په خپل ګتابګوټي کې

بیان کړی، په نامه د "سرګذشت زندان، په افغانستان کې د سره استعمار د مظالمو څرک[18]". نوابي د ارزګان د ښوونځي ښوونکی او په ترین کوټ کې بندي و.

اسدالله نوابي وايي، چې په لار کې روان و، چې خلقیانو ونیوه او په جیپ کې یې واچوه، چې په هغه کې یې اویا کلن حاجي عبدالقدوس دمخه تخته کړی و. څنګه چې د ترین کوټ په محبس کې "زولانه او ولچک خلاص شوي وو" دوی دواړه یې په یوه زنځیر سره په دې ډول وتړل، چې "زنځیر یو سر یې زما په غاړه کې او بل سر یې د حاجي عبدالقدوس په غاړه کې واچوی او قلف یې کړ." هرڅه چې د دوی په جبونو کې وو، هغه ترینه واخیستل شول. نیونکو بیا د محبس په آمر باندې غږ کړ، چې "دغه د امپیریالزم نوکران... زندان ته ننباسئ." خو د محبس آمر، چې د نوابی د کورنی مخلص و، له ده سره په پټه مرسته کوله. لومړی غټه مرسته یې دا وه، چې کور ته یې څواب واستوه او له کور نه بستره، روی جایی او نور ور ته راوړل شول. آمر دوه خبرې هم ور ته وکړې، یو دا چې "هر کله چې له ما سره د محبس ساتنمنان ملګري وي، نو د کرامت بشري خبرې په خوله مه اخلئ." بل یې دا ورته وویل، چې "په دې محبس کې ستاسې غوندې څلور سوه تنه بې ګناه دغسې شکنجه دي، لکه تاسې او هره شپه شل شل تنه بې موجبه په شهادت رسوئ یا له ډېرو وهلو ټکولو په حق رسېږي." د بندیانو مړي په هغو کندو کې اچول کېږي، چې په بولدوزرونو سره یې دمخه کې ندلي وې. نوابي وايي، چې د شپې د نهو بجو په شاوخوا کې "یو سړی یې زموږ د اطاق دروازې ته نزدې راوستی، عسکر ورته وویل دلته ویده سه. هغه ورته وویل، چې: هوا ډېره سړه ده ما اطاق ته دننه ورولـه. عسکر)ور(باندې خشمېد او په ډېر قهر یې ورته وویل: دلته

پریوزه که نه اوس به دې کشتارګاه ته بوځم." د محبس باموڼه اخېړ شوي نه وو، سوري يې هم لرل او بنديانو ته تلتک يا شال هم نه ورکول کېده. ځينو ته، چې له کورونو نه بستري استول کېدلې، له تلتک نه پرته چې بندي ته ورکول کېده، نور يې تحويلخانې ته وړل کېدل. له دې امله د ترين کوټې په محبس کې بنديانو له سړو نه او داسې هم له ولږې او تندې نه سر ټکاوه، لکه چې د بندي عبدالقيوم شاغاسي له دغې وينا نه ښکاره ده، چې "تر ابلې شپې پورې خو يې په لوی محبس کې په يوه کوټه کې اچولی وم، سترګې يې راته ترلې وې، د شپې او ورځې فرق مې نه سوای کولای، له ډېره يخه مې ټول وجود درد کوي، تراوسه پورې مې څه غذا هم نه ده خوړلې."

له بنديانو سره د ساتمنانو چلند زيږ وو، بندي حاجي محمد صديق ديناخيل بېرون د ديوال ترڅنګه ناست و، په پښو کې يې زولنې وې او مخ يې هم پټ و. نوابي دی د اوداسه کولو په وخت کې وليد. هغه وغوښتل، چې څادر له خپل مخ نه ليرې کړي، خو "عسکر چې يې سرته ولاړ و، د توپک په قنداغ يې د اوږو په مېنځ کې ووهه]او[په خشم يې ورته وويل، چې : پټ کړه مخ دې که نه اوس به دې مردار کړم." بيا يې دی هم د نوابي په کوټه کې تخته کړ. هلته يې بيا خپله قصه په دې ډول نوابي او نورو ته بيان کړه. "ماښام په کور کې له خپل فاميل سره ناست وم، يو نفر معلم چې زما همسايه دی او په ځمکه باندې څه لانجه ورسره لرم، د دوو مسلحو عسکرو سره راغی. دروازه يې راوټکوله، زه چې ورته راووتم، نه پوښتنه نه ګروېږنه، لغتې او سوکان يې راته ونيول. په موټر کې يې واچولم، محبس ته يې راوستم. په يوه څادر کې مې څلور شپې تېرې کړي دي او په همدغه دوران] کې[يکي يوه ډوډۍ يوه عسکر د پنځوس افغانۍ په مقابل راته راوړه، هغه مې خوړلې ده. بيا د شپې څکه رابانډې حرامه

ده." د بندي حاجي عبدالعظيم په وينا، له کورونو نه چې بنديانو ته پخه ډوډۍ راوړل کېدله، نيمه به يې عسکرو خپلوله.

د نوابي د زندان کوټه شپه لويه او دفتر ته نږدې وه، له دې امله مهم بنديان هلته استول کېدل... يو ځل درې کسه)ملا جان، ملک حمد اورزګانی او ميرزا عبدالرحمن(يې پکې دننه کړل. وروستي وويل، چې "له لوړې مرو، نن ځلورمه ده چې په ژبه مو شی نه دی ايښی." دوی په بد حال کې و. "د مخ غوښې يې په امبور ځينې شلولې وې، چې لمنې يې پورته کړې او وجود يې راښکاره کړ، له نوکه تر سره تک شين يو ځای هم روغ نه و. کميسونه او پرتګونه يې د وجود په زخمونو باندې نښتي وو. لا سونه تک شنه، سترګې پړسېدلې." اخر په کومه ګناه؟ دوی وويل، چې "په هېڅ شي خبر نه يو، د شپې تقريباً لس بجې وې چې له کورونو نه يې راوايستلو، په ولسوالۍ کې يې يو ځای کړو. يو ملحد ولسوال دی، چې فضل ربي نومېږي او د ترين دی. موږ ته يې وويل، چې: د امپريالزم زامنو! تاسې ولې تخريب کوئ. ميرزا عبدالرحمن خپلو خبرو ته په دې ډول دوام ورکړ: "يوه سړي تر لاسو او بل تر پښو چپه ونيولو او بل سړي شا را لوڅه کړه، لښتې يې راته ونيولې. دوه شپې يې هغه قيامت راباندې جوړ کړی و، چې د ځمکې اسمان لوری يې راڅخه ورک کې." ده دا هم وويل، چې ولسوال په همدغه وخت کې په غرور سره وويل، چې "خپل خدایج ته ووايه، چې تاسې ته له موږ نه نجات درکړي." په درېيمه ورځ يې امبور راواخيست او په ډېره بې رحمۍ يې دغه حال راباندې جوړ کړ، چې وينې يې." نوابي وايي، چې په بله ورځ يوه عسکر ورته وويل، چې "ستاسې هغه درې رفيقان خو يې برايي د کلاشنکوف په ضرباتو آبل جهان ته ولېږل."

نوابي د یوه پېژندګلوي رحمت الله له خولې د محمد اکبر خان قیصه په دې ډول کوي، چې "یوه شپه هم ظالمانو ارام نه یم پرې ایښی. هره شپه یې زه تر لښتو، لغتو، سوکانو لاندې وم. آخر یوه شپه د ملحد او خدای ناترسه والي په سرکردګۍ کې، چې یو بې ناموسه مدیر تعلیم او تربیه [کلیوال وردګ] هم ورسره و، یوه هیئت ته یې پېش کړم. څو تنه زندانیان یې نور هم راوستلي وو. اور یې بل کړی وو، سیخان یې پکې ایښي وو... والي... په ډېر قهر ماته وکتل. ویل: دا د امپیریلزم اصلي بچی دی؟... عسکر زما پایڅه راپورته کړه او ده [د پوهنې مدیر] ظالم مې په دا پسته غوښه کې سیخ چخ کی. نور نه یم پوه سوی. له خولې مې یوه چیغه ووته او بې سده شوم." رحمت الله د یوه بل بندي قیصه کوي، چې والي د هغه په مخ کې ورته وویل، چې "ښه ته نو حال نه ورکوې؟" بندي ورته کړ، چې "حال وای نو ما به درکړی وای، اوس په بېګناه خلقو لاس نه سم نیولای." بیا د پوهنې مدیر د والي په امر "له اوره یې څو سکروټې راجلا کړې او عسکرو ته یې څه وویل. هغو پرتوګ څېنې وکیښ او په اور یې کېناوه، خو سړی نه باندې کښېنستی. دوی لغتې او چپلاخې ورته ونیولې. په څلور پنځو کسو یې په زوره په اور کېنوی، خو په اخ او ډب کې اور هم سره تیت و پرک شو. [د پوهنې] مدر سور سیخ باندې راواخیست او په کوناټو یې داغونه ورکړل. سړی لویې لویې نارې وهلې او بې سده سو." رحمت الله وویل، چې معلم غلام محمد او حاجي عبدالقادر یې "زما په مخ کې په اور باندې بالا کېنوه او د کوناټو او ورنو د غوښو بوی په ټول دفتر کې خپور سو." دی دا هم وایي، چې "هره ورځ دغه حال و."

نوابي او ملګرو یې له ګاونډۍ کوټې نه د بندیانو وش او وی هم اورېده. "له نیمې شپې

وروسته مې غوږو داسې اوازونه واورېدل، های مړ سوم، های کلمې مې پرې سوې، های څوک مسلمان سته، چې یو غړپ اوبه راکي. دا هغه وخت و، چې میرزا عبدالرحمن د دوی په کوټه کې و او هغه نیمه شپه د نورو په مشوره د بندي بسم الله په اوږو یوه سوري ته جګ شو او په هغه بندي باندې، چې معلم ګل محمد نومېده، غږ کړ چې "کله یې وهلې اوبه مه څکه، ځکه چې درته ښې نه دي." نو څنګه چې هغه ډېر په عذاب و، وویل چې "په لحاظ د خدای لږ اوبه راکی. زه]زه یې [داسې نه یم وهلی، چې ژوندی پاتې سم. زما کولمې شلېدلې دي، زما په لړمانه کې یې د پایپ... په ذریعه ایشېدلې اوبه داخلې کړي دي. ژبه مې خوږینه ده، حلق مې خوږین دی." نوابي وایي، چې یو ګیلاس اوبه مو په زحمت او ویرې ورورسولې، خو په هغه وخت کې د معلم ګل محمد ساه ختلې وه.

د ترین کوټ زندان له بندیانو نه ډک او ډېر ناپاک و. "نو د انساني وینو او غلاظت له وجې نه داسې تعفن و، چې انسان ساه نسوای اخیستای." د نوابي له کتابګوټي نه ښکاري، چې په هیڅ بندي باندې کوم خاص او مشخص تور نه و لګول شوی. "چاته به یې د امریکا زامن ویل، چاته د انګلیس او څوک به یې د مرتجعینو او فیوډالو او امپیریلزم د زامنو په نومونو یادول. زندانیان به ورته حېران وو، چې دا اوس دوی څه وایي، ځکه چې هغه]هغوی[ساده مسلمانان وو. نه د مرتجع په معنی پوهېدل او نه د فیوډال او امپیریلزم." له همدې امله به و، چې د محبس خورد ضابط چې له کوم بندي سره "یو ښه بوټ، واسکټ، کرتی، ساعت، قلم یا بل داسې شی ولیده، نو هغه به یې هم ځینې واخیست. بیا به یې ورته وویل، چې ته فیودال یې، ځان ته به تر دې هم ښه واخلې، دا یې زما."

د ځرخي پله محبس بنديان

لکه چې دمخه ويل شوي، نه په خلقي او نه په پرچمي دوره کې د ټولو بنديانو شمېر معلومېدلی شي، حتی د ځينو زندانونو بندي وانانو د خپلو بنديانو حساب هم ورکولی نه شو. د مزار د محبس قومندان د 350 بنديانو باقي و، لکه چې سيد عبدالله هم د ځرخي پله زندانيانو باقي وو. ددې مانا دا ده، چې د دوی بنديان د کوم چارواکي په شفاهي دستور له مېنځه وړل شوي، بې له دې چې د هغو د بندي توب لاملونه او يا حتی د هغو هويت ثبت شوی وي.

په عين حال کې د خلقي حکومت په وخت کې په کابل کې اوازې وې، چې لاس او پښې تړلي بنديان د مقر او قلات ترمېنځ غرو کې د هزاره جات په خوا کې له الوتکو نه لاندې غورزول شوي دي، لکه چې د هندوکش له پاسه او داسې هم د امو په سين کې بنديان د منصور هاشمي په دستور غورزول شوي دي. د وروستي په هکله په هغه وخت کې زما يوه بدخشاني محصل دغسې ويلي و. په دغسې حال کې ممکنه نه وه، چې په خلقي دوره کې د له مېنځه وړل شويو بنديانو شمېر معلوم شي، خو د بنديانو غټ مرکز کابل، په تېره د ځرخي پله زندان و.

لکه چې دمخه ويل شوي دي، د خلقي حکومت په وخت کې په کابل کې د دهمزنګ، د کابل ولايت د کورنيو چارو وزارت، د صدارت او ځرخي پله له زندانونو نه کار اخيستل کېده. د ښار له پېنځلسو ناحيو نه هم د زندان په توګه کار اخيستل کېده. په ارګ، صدارت او کورنيو چارو وزارت کې به له بنديانو نه پوښتنې کېدلې، حتی دغسې کسان هم کړول شوي دي لکه د کابل پوهنتون پخوانی سروال، د صدراعظم مرستيال او د پلان وزير صمد حامد، چې په رښتين توب سره يې حکومتي کارونه کړي او د هغو له امله د يوه

ملي شخصيت په توګه پېژندل شوی شخص و. نامعلوم شمېر بنديان په کړول کېدو او وهلو سره مړه شوي دي. د څرخي پله زندان په عمومي ډول د بنديانو د ساتنې لپاره خاص شوی و.

د څرخي پله محبس تر ټولو زندانونو لوی او کانکريټي دی، د محمد اسحاق جبران د معلوماتو له مخې دغه زندان په 125 جريبه (25 هکتاره) ساحه کې د څرخي پله ختيځ خوا د ښته د ولسمشر محمد داود په نوښت او د هغه تر څارنې لاندې د هندي متخصصانو او مهندسانو په نقشه او مهندسۍ ودان شوی دی. په خلقي دوره کې يواځې دوه بلاکه (لومړی او دويم) د استفادې وړ وو، هغه هم پوره نه. په پرچمي دوره کې يې اوه واړه بلاکونه په کار ولوېدل. هر بلاک په جګ ديوال سره چارپېر او د بېل زندان په شان دی. له ټولو بلاکونو نه بيا يو ډېر جګ ديوال راتاو شوی، په دې ډول چې ټولو بلاکونو ته يې د يوې ټينګې برجه ورې کلا بڼه ور کړې ده. هر بلاک څو پوړه لري، د ځينو کوټې يې برابرې او د ځينو يې ښې لويې دي، چې په يوه اړخ کې وړې کوټې قطار پرتې دي. ويل کېږي، چې د غه وړې کوټې په اصل کې د بنديانو او نورې يې د کارخانو لپاره په نظر کې نيول شوې وې، خو په خلقي او پرچمي وخت کې په هرې لويې کوټې کې تر دوو سوو پورې بنديان هم اچول کېدل. دريم بلاک د غومره لوی سالونونه لري، چې په هر يوه کې يې په سلګونو بنديان ځايېدلی شي. هره وړه کوټه يو متر او اتيا سانتي متره پلنه او دوه متره اوږده ده او هره يوه کوټه يواځې د يوه بندي لپاره په نظر کې نيولې شوې وه، خو په پرچمي رجيم کې د بنديانو شمېر دومره ډېر شوی و، چې په هرې يوې کې تر شپږو بنديانو پورې هم اچول کېده. زه په خپله هم په يوې کې تر ډېر وخته پورې وم. په دې ډول د څرخي پله زندان نهايي ظرفيت تر پېنځوسو زرو نه هم ډېر کېدای شي. د همدغه

ظرفیت له امله به هم و، چې خلقي او پرچمي چارواکیو ددې پروا نه کوله، چې که بندیان هر څومره ډېر هم وي، دوی یې د کلو نو لپاره بندي ساتلی شي، خو بندیان دلته له غېر صحي او نمجنو کوټو او خسکو نه په امان دي. په هغه سربېره بندیان په لویو کوټو کې ګرځېدلی هم شي او څنګه چې د کوټو چتونه ښه لوړ او حجم یې هم ډېر دی، بندیان یکې د ضیق توب او د هوا د کموالي احساس نه کوي، لکه د ښار په زندانونو کې یې چې کوي، خو په خلقي دوره کې تشنابونه فعال نه وو او د هر بلاک په پراخ انګړ کې له لرګیو نه جوړو مبرزونه درول شوي وو او څنګه چې بندیان ډېر او په کوټو کې قید وو، د طبیعي حاجت رفع غټه درد ناک او حتی سپکونکې ستونځه وه. بندیان په شپه او ورځ کې د رفع حاجت لپاره دوه ځله بېرون و تل او مجبور وو، چې د غو ناولو او بوی ناکو مبرزو ته د ننوتلو لپاره قطار ودرېږي او خپل وار ته انتظار وباسي. بندیان دننه په کوټو کې مجبور وو د طبیعي حاجت رفع لپاره له پلاستیکي خلتو نه کار واخلي او هغه بیا انګړ ته د وتلو په وخت کې په مبرزونو کې واچوي. غېر له هغه هم د طبیعي حاجت رفع باندې قید او د محافظانو سلوک بندیان سخت زورول. د یوه بندي په وینا "یکطرف تعداد نفر زیاد بود زود برای شان نوبت نمیرسید. از جانب دیگر زود خلاص نمیشدند... ان عجب صحنه بود از یک طرف محافظین عجله میکردند که زود خلاص شوند و از طرف دیگر زود خلاص شدن ممکن نبود. یک هیاهوی و کش و گیری بر پا میشد. زندانیان بیچاره بی جهت شلاق میخوردند و دشنام می شنیدند. دیدن چنین صحنه ها خیلی دلخراش و تاسف انگیز بود." (19)

لومړی بلاک، چې تر دویم بلاک نه ووړ و، د مهمو بندیانو لپاره خاص شوی و. د لومړي پوړ ختیځه خوا یې د کوټه قلفي بندیانو لپاره وه.

د پخوانیو حکومتونو وزیران، لوړ رتبه نظامي افسران، والیان، د پوهنتون استادان او دیني عالمان په همدغه بلاک کې اچول شوي وو. د سر په کسانو کې صدراعظم نور احمد اعتمادي، د صدراعظم مرستیال او د پلان وزیر صمد حامد، د دولت وزیر عبدالمجید، د عامه روغتیا وزیر عبدالله عمر، د اطلاعاتو او کولتور وزیر عبدالرحیم نوین، د پوهنې وزیر عبدالقیوم وردګ، د کرنې وزیر عزیز الله واصفي، د طلاعاتو او کلتور وزیر نامتو جورنلست او مؤلف صباح الدین کشککي، د فواید عامې وزیر محمد کبیر، د دولت وزیر غلام علي ائین، د ولسي جرګې مرستیال عبدالاحد کرزی، د پروان والي عبدالغفور وصیل وردګ، د لوګر والي حضرت میر، د ستم د ډلې مشر طاهر بدخشی، عبدالغفور روان فرهادي، شاه جهان احمدزی، عبدالقیوم کوچی، قاضي عبدالهادي هدایت او نور... له هغو استادانو نه، چې دمخه یاد شوي دي، نور نومیالي استادان، سید الف شاه غضنفر، ضامن علي غرجی، غلام محمد نیاز، عبدالکریم یورش او محمد نادر عمر هم په همدغه بلاک کې قید شوي وو. میر علي اکبر هاشمي، ولید حقوقي او د پوهنتون استادان، چې دمخه یې یادونه شوې، د تاج محمد وردګ او روشندل وردګ په ګډون هم ددغه بلاک بندیان وو.

ددغه بلاک په بندیانو کې ځینې یې د پاخه عمر خاوندان هم و، لکه پېنځه اتیا کلن سردار احمد علي د دربار وزیر، چې همدلته مړ شو، دو اتیا کلن سردار احمد علي شاه او پېنځه اویا کلن غلام محمد شېرزاد د مخابراتو وزیر. په نظامي افسرانو کې لوی درستیز غلام فارق هم و. په دې ډول خلقي چارواکیو ددغسې افغانانو په بندي کولو سره افغانستان او هم خپل حکومت له مسلکي او مجربو ملکي او نظامي کدرونو نه محروم کړ، په دغې خاصې هیدلې، چې دوی به وطن د هغو له مرستې نه پرته هغه هم د مارکسستي فکرونو له

مخې اداره کړي. په دې کې هم دوی سخت تېر وتل. وروسته د پرچمیانو د کود تا په تور کې شاهپور احمدزی، جنرال عبدالقادر، سلطان علي کشتمند او محمد رفیع هم د لومړي بلاک په لویدیځ اړخ کې وا چول شول. د پرچمیانو بندي کېدل یوه لړۍ شوه، چې په دواړو بلاکونو کې اچول کېدل او ټول شمېر یې شاید سلګونو ته رسېدلی وي. ددغومره ډېرو پرچمیانو بندي کېدلو نه مطلب شاید دا و، چې د پرچم ډلګۍ د یوه تنظیم په توګه له مېنځه تللې او د سیاست کولو توان ونه لري.
په هر حال، د ځرخي پله زندان کې ددغسې ډلو پلویان وو، چې ډېر یې د نړۍ لید او هم د چلند له پلوه سره جوړ نه راتلل. د حسیني په وینا " با امدن پرچمی ها صنف سوم بوجود آمد. قشر متوسط با پرچمی ها هیچ سازش نداشتند، ولی محمدزایی ها، و بیش تر وزرا جنرال ها، و والیان با پرچمیان خوب بودند." دی دا هم وایي، چې د اخوانیانو او پخوانیو حکومتونو د چارواکیو اړیکې سره ترخې وې[20]. دا به ځکه دغسې و، چې په بندي خانه کې په عمومي ډول یو ځوک هغسې سلوک کوي، چې په واقع کې یې غواړي او هماغسې وي. "زندان جایی است که نقاب کاذب دولتی از چهره ها می افتد و هر کس آنچنان میشود که خودش میباشد."[21] په بله ژبه، دوه مخي توب چې زموږ په دولتي چارواکیو کې د هرې بلې ډلې له خلکو نه ډېر وي، په زندان کې نه وي یا ډېر ضعیف وي.
د لومړي بلاک په بندیانو کې له یوې بلې ډډې نه هم توپیر ځرګند او حتی د رخې وړ و. حسیني په یو څه مبالغې سره وایي، چې په هغه وخت کې چې "چشم زندانیان دنبال یکدانه میوه تازه کور مید شد... برای سرداران، جنرالان و خان زاده گان هر پانزده روز صندوق ها و خرجین ها پر از صدها قسم میوه های خشک و تر میرسید."[22] په خلقي دوره کې په هر دوو اونیو کې او په پرچمي

دوره کې په څلورو اونیو کې به بندیانو ته د دوی له کورنیو نه کالي او د خوړو شیان راوړل کېدل. د پایوازې په دغو ورځو کې به د پایوازانو ګڼه ګوڼه بیخي ډېره وه، خو په پرچمي دوره کې زما د تجربو او لیدنو کتنو له مخې هغو بندیانو ته، چې خواړه رسېدل، له هغو سره به یې شریکول، چې پایواز به یې نه لاره. په هغه ورځ به یو لوی دسترخوان و غوړول شو او نږدې هر چا به د خپلو خوراکي څیزونو نه یو څه راوړل او یوه میله به جوړه شوه. په تېره د بې پایوازو بندیانو لپاره. دا چې د افغانانو کورنۍ اړیکې، د مېلمه پالنې او سخاوت حس ښه قوي دی، د زندان په ډېر سخت حال کې هم پوره څرګند او د ویاړ وړ و.

په اول بلاک کې ښځې او ماشومان هم اچول شوي وو. له ښځو او ماشومانو سره د یوې کورنۍ ټول غړي بندي کېدل د لومړي ځل لپاره د محمد هاشم په صدراعظمي کې عملي شوې وه. په هغه وخت کې د ساپیو له جنګ نه وروسته، چې ډېر ساپي لویان لکه سلیم او شهسوار بندي او پرار شوي وو، د بندیانو نومیالی کورنۍ د میر زمان کونړي[23] او ملک قیس خوږیاني وې. ددغو کورنیو ټول غړي اول د دهمزنګ په زندان کې د کلونو لپاره وساتل شول او بیا هرات او مېمنې ته پرار شول، خو په خلقي حکومت کې د مهمو کسانو د کورنیو ټول غړي په فاصلو کې په لومړي بلاک کې واچول شول، لکه د واکمنې محمدزي کورنۍ، د حضرتانو کورنۍ، د تګاو میا ګل جان کورنۍ او د وکیل محمد اعظم شینواري کورنۍ. وروسته، چې د خلق د سرکسان سره مرګکي دښمن شول د نور محمد تره کي. د اسلم وطنجار، د اسدالله سروري کورنۍ او په پای کې د حفیظ الله امین د کورنۍ غړي هم په لومړي بلاک کې بندي شول. له کوټه قلفي بندیانو نه پرته نور د ورځې اوه پلا د بلاک انګړ ته د ګرځېدلو لپاره ایستل کېدل. ماشومان

انګېر ته په تللو کې ازاد وو، نو خلقي چارواکيو که څه هم خپل خلقي نظام يې د خلکو په خدمت کې ګاڼه، د يوه کس لپاره د هغه ټوله کورنۍ بندي کوله. البته دا د مهمو کسانو د کورنيو حال و. په دې ډول دوی د ډله ييز جزا فکر، چې د قانوني پاچايي په لسيزې کې او د محمد داود په ولسمشرۍ کې ترک شوی و، بېرته ژوندی کړ.

دويم بلاک تر لومړي بلاک نه ډېر لوی و، په يوه روايت په دغه بلاک کې اټکل اته زره بنديان اچول شوي وو. په دوی کې د پرچميانو او اخوانيانو شمېر تر نورو ډېر وو. دوی که څه هم په بېلو پوړونو کې اچول شوی وو، هرې ډلې ستونځې پيدا کولې. د اخوانيانو په اړه به وروسته وغږېږم. پرچميان که څه هم حکومت ته مغضوب وو، په خلکو کې هغسې منفور نه وو، لکه د شوروي له يرغل نه وروسته چې شول، خو خلقي چارواکيو ته راپور ورکړ شوی و، چې هغوی "بين محبوسين فعاليت های مخفی مينمايند... بناءً مشران ان را که تقريباً سی چل نفر ميشد، به بلاک اول اوردند و در يک دهليز بحالت کوته قلفی نگهداشتند که در ان جمله سليمان لايق، نظام الدين تهذيب، دگرمن خليل... قابل ياد آوری است.(24)" بنديانو ته نه يوازې د طبيعي حاجت په رفع کې، بلکې د ډوډۍ په وېش کې هم تکليف ورکول کېده. "ديگ های کلان کلان را در سه چار جای دهليز ها استاده ميکردند. همه آنها با بشقاب های مسی استاده ميبودند و بالنوبه قدم بقدم سوی ديگ های سمت شان نزديک ميشدند تا هر کردام به ديگ های شان ميرسيد. اشپزها به عجله ملاقه يا کبگيرهای شان را در ديگهای مربوط ميزد و در بشقاب های هر کدام شان خالی ميکردند. کسانيکه طعام ميگرفتند پس بسلسله همان لين خود با طاق های شان ميرسيدند. گويا تقسيم نان شان هم يک دو ساعت کشمکش بکار

داشت.(25)"

د بندیانو شمېر تل په تغییر کې وو، احمد شاه وردګ چې د 1357کال د جوزا په لومړی ورځ لومړي بلاک ته راوستل شو، د بندیانو شمېر درې څلور سوه ښيي، خو دا یوازې اټکل و. د هاشمي په وینا "هر شب به تعداد زیاد محبوسین جدید به زندان اورده میشدند.(26)" د سید اګل غریبیار په وینا "هره شپه به د دولسو او یوې بجې په شاوخوا کې بسونه لومړي بلاک ته راتلل" او بندیان به يې په پولیګون کې د اعدام لپاره وړل(26الف). اصله خبره دا ده، چې په وطن کې به پاخونونه کېدلو په زندان کې به بندیان ډېر پېدل. سره له دې، چې بندیان به کله له کابل نه نېغ پولیګون ته د اعدام لپاره وړل کېدل. د احمد شاه په وینا: "با زیاد شدن وقایع در کشور تعداد محبوسین روز بروز زیاد تر شده رفت. هر شب ده دوازده موتر نفر می اوردند، دریندجا تخلیه میکردند تاحدیکه هرگز جای باقی نماند. اکثریت آن صاحبمنصبان عسکری بودند.(27)" څنګه چې د خلقي حکومت په وخت کې اول یوازې لومړی او دویم بلاک او وروسته څلورم بلاک فعال وو، په یوه وخت کې د ډېرو بندیانو ساتل ګران وو. د حسیني په وینا "...کشتارهای دسته جمعی از 7 ثور سال 1357 تا مدت یک سال بشدت ادامه داشت.(28)" ځینې بندیان به وژل کېدل، ددې لپاره چې نورو ته ځای پیدا شي. د احمد شاه په وینا "تا اخر سال مذکور بلاک های محبس پلچرخی تا حدی سرازیر گردید که قطعاً گنجایش مزید را نداشت." دا سره له دې، چې "گرفتار شده گان وقایع چنداول، بالاحصار، وغیره را بزندان نیاوردند و راساً بدیار عدم سوق میدادند، آنهم بدون تحقیق و محاکمه.(29)" حسیني د څرخي پله زندان بندیان پېنځلس زره ښيي(30). د خلقي حکومت تر پایه پورې په څرخي

پله زندان کې بندیان په دغه شمېر پاتې نه وو. له دولس زره نه زیات یې له مېنځه وړل شوي دي. حسیني وایي، چې د پرچمي رجیم په پیل کې د عمومي بښنې په وخت کې 2600 تنه بندیان پاتې وو[31]. دغه شمېر په لېږ توپیر سره زما له رقم سره سر خوري.

زما د لیکنې له مخې د خلقي حکومت په پای کې 2700 تنه بندیان پاتې وو. حفیظ الله امین د خپل سروالۍ په وخت کې 850 تنه بندیان ازاد کړي وو او پاتې یې د ګوند د شپاړسمې کالیزې د جنورۍ په اوله ورځ ازادول، په داسې حال کې چې تر هغه دمخه یې دولس زره بندیانو یو لست خپور کړی و، چې د تره کي په وخت کې چې اسدالله سروري د اګسا سروال و، له مېنځه وړل شوي وو[32].

د څرخي پله زندان او قومندان سید عبدالله

روشن احمد شاه، چې د 1357 کال د جوزا په لومړۍ ورځ لوړي بلاک ته راوستل شو، د بندیانو په اړه لیکي، چې "احوال شان بسیار بد معلوم نمیشد. قیودی چندان نداشتند، از طرف روز در صحن (بلاک) می برامدند. از طرف شب در اطاق های شان قرار داشتند. محافظین هم پولیس بودند، وضع نامناسبی نمیکردند.[33]" په خپله د محبس قومندان قطره چې پولیسي افسر و، له بندیانو سره ښه چلند کاوه. د څاښت ډوډۍ به وریجې یا ښوروا وه او د شپې له خوا به زرد کې له ډوډۍ سره ورکول کېدلې، خو د ډوډۍ مغز به دغومره خام و، چې د خوړلو به نه و. وضع تر دوو میاشتو پورې همدغسې وه، خو له هغه وروسته چې سید عبدالله د قطره پر ځای د څرخي پله زندان قومندان شو، د بندیانو ژوند تریخ شو. توربخن سید عبدالله)کندهاری(چې 35 کلن به و، د څلورمې زغورې قوې لومړی بریدمن او ګوندي سرپرېکړی

و. ده هم په سر کې له بندیانو سره ښه چلند کاوه، خو "...همینکه کمی بلد شد و از استادانش درس گرفت، روز بروز اژدها گشته زندانیان بیچاره را بی جهت ب آب و لت میکرد.[34]" داسې ښکاري، چې د کورنیو چارو د وزارت چارواکیو په تېره سید داود تړون سید عبدالله ته پوره اختیار ورکړی و.

سید عبدالله په زندان کې واکمني چلوله، څنګه چې د بندیانو او محبس په اړه قانون نه و، څنګه چې حکومت ځانله انقلابي وایه، څنګه چې سید عبدالله په یوه ځل له ټیټې رتبې نه دغسې لوړ مقام ته ورسول شو، چې حتی بندیان یې اعدام ته هم ورکولی شول او څنګه چې هغه د پخوانیو حکومتونو لوړ پوړي چارواکي او د پوهنتون استادان شپه او ورځ تر خپل لاس لاندې ولیدل، خپل ځان ورته ډېر غټ او مهم وبرېښېد. توپنګچه په لاس له وسله والو محافظانو سره به د بندیانو کوټو ته ننوت. له بندیانو نه به یې احترام غوښته، په تېره له هغو نه چې له مخې به یې تېرېدل او که چا ورته سلام نه اچوه، وهل به یې. سپین ږیری یاسین مایل هروي یې په دې ووهه، چې د هغه په وینا "بموقعیکه از راه گذشتم، طرف اطاق کار سید عبدالله نظرم افتاد. وی را بد آمد. ناگاه با لاریم حمله نمود و بی جهت زیر لت و کوب گرفت.[34الف]" داسې یې هم پېښه او یا کلن محمد کبیر د فوایدې عامې وزیر بې عزت کړ. سید عبدالله بندیانو ته د خپل قوت ننداره هم جوړوله. بندیان، چې به د بلاک په انګړ کې ګرځېدل، هغه به په خپل جیپ موټر کې د هغو له مېنځ نه تېرېده، خو سید عبدالله د واکمنې کورنۍ د ښځو په برابر کې پاتې راغی. هغه خپل دفتر شاید د کوم شخصي غرض له امله د ښځو برخې ته، چې په دریم پوړ کې و، نزدې کړ. په دې پلمه، چې په نورو اعتبار کولی نه شي. ښځې مجبورې وې، چې په داسې حال کې چې ناریینه او

ماشومان یې د بلاک په نورو برخو کې اچول شوي وو، د هغه دفتر ته ورشي. بڼا هم دی په خپل مقصد ونه رسېد، هرڅه چې و . دغو ښځو "تا اخیر حیثیت و شرافت خود را مردانه وار نگهداشتند.[(24ب)]" بیا نو سید عبدالله حتی په انګړ کې د ګرځېدلو په وخت کې هم د هغو ماشومان نه پرېښودل، چې له خپلو مېندو سره وګوري. دوی له خپلو پلرو نو سره اچول شوي وو. داسې هم سید عبدالله "... حلقه محاصره شان را تنگتر ساخته هفته ها و ماه ها او شان را کوته قلفی نگهداشته... اولاد های شان را هم بی موجب لت و کوب مینمود.[(34ج)]" خو ډېره موده نه وه تېره شوې، چې محمدزي ښځې او ماشومان او تنکي ځوانان، چې د شپېتو په شاوخوا کې به وو، ازاد شول او ناریینه یې له نورو بندیانو سره ملګري وو.

سید عبدالله په خپل امر بې له کوم ظاهري دلیل نه په بندیانو باندې بندیز لګاوه. د بندیز په وخت کې که څه هم هوا به ښه توده وه، کوټې به قلفې او کړکۍ به تړلې وې او بندیان به په انګړ کې قدم وهلو ته هم نه پرېښودل کېدل. څو ورځې وروسته به بیا هر څه عادي شول. سره له دې هم سید عبدالله به "همینکه نیشه میشد و یا مخبر خود صفتش چیزی اطلاع میداد و یا خود در محضر زندانیان گذر میکرد و سلامی های گرم را نمی یافت، ناسزا میگفت" ټولې کوټې به یې قلف کړې. د روشن احمد شاه په نظر "ساعت تیری شان همین بود، از ازار ما لذت میبرد و آن را اولین مضمون تفریحی خود میدانست.[(35)]" سید عبدالله یو ځل له بندیانو نه قران مجید، تسبیح، جای نمازونه او داسې هم قلم، کاغذ، کتاب او داسې نور ټول کړل. د شطرنج تختې یې هم ټولې کړې، ددې لپاره چې بندیان له عبادت نه لاس واخلي او د ساعت تېرۍ وسیله ونه لري، خو د بېرونیو پېښو له امله یې د عبادت څیزونه

بېرته ورکړل، خو بیا هم بندیان یې نه پرېښودل چې په ګډه لمونځ وکړي. د پرچم د رجیم په دوره کې بیا بندیان پرېښودل شوي وو، چې لمونځ په جمع ادا کړي، که څه هم امام به له لمانځه نه وروسته کې په جهر ویل، چې "فانصرنا علی القوم الکافرین."

سید عبدالله د کوټو لټولو په وخت کې د بندیانو وړې بترۍ لرونکې راډیوګانې ټولې کړې وې، خو څنګه چې بندیان د لوړې سویې خاوندان او له وطني او بانډنیو خبرونو سره علاقمن او د رجیم د سقوط په فکر او هیلې وو، ځینو یې سره له دې هم راډیوګانې حتی د پولیسانو له لارې هم پیدا کړې وې. په دې ډول دوی د وطن له پېښو او داسې هم د هغو په اړه د بانډنیو راډیوګانو له تبصرو نه هم خبرېدل او له نورو بندیانو سره یې شریکول. د دغه حال په خبرېدلو سره سید عبدالله "به سید داود ترون قوماندان عمومی راپور داده بود که یک شبکه رادیویی را در محبس کشف کرده، اطلاعات میگیرد و بدیگر زندانیان پخش مینمایند. اغلباً آن به بی. بی. سی یا کدام منبع دیگر خارجی ارتباط میگیرد."[36] ترون ورته د سخت تحقیق هدایت ورکړی و.

سید عبدالله اول عبدالله عمر تر پوښتنې لاندې ونیوه، خو له هغه سره یې سخته و نه نیوله او چې له روشن احمد شاه نه یې مطلوب معلومات ترلاسه نه کړل، چې راډیو یې له کوم ځای نه ترلاسه کړې؟ اول یې په پښو کې او بیا په غوږونو کې برق ورکړ او په پای کې یې رخصت کړ. احمد شاه بیا ورته کړه، چې "... بی جهت مرا زجر دادید من چل سال در این مملکت خدمت کرده ام به سن و سال شما بچه ها دارم." عبدالله په ځواب کې وویل، چې "... خدمت را به ظاهر شاه کرده اید." " من گفتم نوکر شخصی ظاهر شاه نبودم." "او گفت برائید انگلیس، بسیار گپ مزن." د "انګلیس" د کلمې په اورېدو سره احمد

شاه ته ډنګ غبرګون وښود او سید عبدالله په لغته ووهه او په څمکه یې وغورځاوه. په دغه حال کې احمد شاه وایي، چې "... بی اراده دشنام از زبانم برامد." هغه بیا "... بالای ضابطان و حاضر باشان خود امر کرد بزنید!" بیا "پنج و شش نفر حاضر باشان ذریعه قنداقهای تفنګ و چند نظر ضابطان هم توسط لګد مرا میزدند. خودش با بوت های میخ دارش شخصاً ضربات شدید میرسانید. یک لګدش بین چشم و ګوش راستم رسید، بیهوش شدم."[37] احمد شاه، چې په هوښ راغی، ورته معلومه شوه چې سید عبدالله "... اکثریت ان زندانیان را که راد یو دا شتند نیز خواسته یکی پی دیګر زجر و شکنجه ها دادند... در ان جمله وزیران مخابرات، فواید عامه و معاون کابینه جمهوریت و چند تن شخصیت های ممتاز دیګر شامل بودند."[38]

هاشمي د پوهنتون پخوانی استاد او د اطلاعاتو او کولتور وزیر، عبدالرحیم نوین په اړه لیکلي، چې "وقتی برای اولین بار در زندان با وی مواجهه شدم، باورم نمیشد این همان دکتور نوین و همان استاد فعال و خندان ما باشد. زرد و زار و لب بسته و خاموش به وضو و طهارت میپرداخت و دست در کمر ګرفته دوباره راه سلولش را در پیش میګرفت. او را انقدر لت و کوب و شکنجه داده بودند که نه توان ګردش زیاد را داشت و نه ارزوی ان را."[39] هغه یې تورن کړی و، چې "... قبلاً به شما از امریکا یک چک دالری آمده و آن را ګرفته ائید. بیچاره را سخت برق داده و شکنجه کرده بود تا اینکه او را از اطاق شان بیهوش کشیده به بستره اش انداختند."[40] عزیز الله لودین د اقتصاد د پوهنځي استاد په داسې حال کې، چې د بلاک په انګړ کې په اودس کولو بوخت و، ناڅاپه په ځپېړه ووهل شو "سید عبدالله ناګاه با و حمله

نموده و به نفر مربوط [ضابطان] امر داد بزنید. بیچاره را بروی زمین انداختند و از دو سه طرف شدیداً لگدمان میکردند." وروسته سید عبدالله ته معلومه شوه، چې هغه یې په دغه ناسم راپور سره وهلی و، چې لودین ګواکې ویلي و "تره کی یک شخص دروغگو و جاهل است.[41]" سید عبدالله بیا ترېنه بښنه وغوښتله. دا سې هم سید عبدالله "ولید حقوقی بیچاره را بگناهیکه چرا در وقت اقتدار ستره محکمه او دعوی بنفع سیدان قندهار فیصله نشده، ناگهان زیر قنداق های تفنگ و لگد انداخته... عبدالاحد خان کرزی را هم باین بهانه که خان هستند، ظلم کرده ائید به محضر دیگر زندانیان نو وارد بی جهت بی آب کرده بود.[42]"

د سید عبدالله اصلي د نده، چې د بندیانو ساتنه وه، نه شو کولای دغسې نوميالیو افغانانو ته په خپل سر جزا ور کړي، خو دا چې لویانو ور ته واک او اجازه کړې وي. خلقي حکومت خو د کودتا له پیل نه د هغو افغانانو په ځپلو پیل کړی و، چې "واکمنې طبقې" ته یې منسوب ګڼل. چارواکیو یې هم د خپلې ایډیالوجۍ او هم حکومتي او ګوندي لویانو په پلوی له "فیوډالانو" سره د دښمنۍ چلند کاوه، چې د ترین کوټ چارواکي یې یوه نمونه ده، چې دمخه یې بیان شوی د. د سید عبدالله ویناوې او کړه هم د همدغې روحیې له مخې وې. یو ځل یې د بلاک په انګړ کې بندیانو ته ویلي و، چې "شما میخ کوبان رژیم های گذشته هستید. خون ملت را مکیده ائید، سخت مسؤلیت دارید. اگر شما میخ های رژیم گذشته را محکم نمیکردید، اینقدر دوام نیمکرد. وقت تر از میان میرفت بناً از شما سخت باز خواست خواهد شد.[43]" له دغې وینا نه څرګندېده، چې جزاګانې په اصل کې ایډیالوجیکي او سیاسي وې. ددغسې سیاست د عملي کولو یوه نښه دا وه، چې سید عبدالله د بلاک په انګړ کې بندیانو ته یوه

ورځ څرګنده کړه، چې "ما از شما انتقام برادران چلی خود را میگیریم، زیرا رفقای ما در چلی ناکام شدند و تلفات زیاد دیدند."[44] احمد شاه د خلقیانو له قول نه وایي، چې "مشاورین روسی به خلقی ها هدایت میداد هیچ یک شخص مخالف انقلاب را نباید سلامت گذاشت، زیرا ما در چلی این اشتباه را کردیم، عناصر ضد انقلاب را ازاد گذاشتم. آنها یک قدرت گشته نظام جدید مارکستی را پس از ریشه کشید."[45]

له ښار نه حکومتي هئیاتو نه هم د څرخي پله محبس ته تلل او د بندیانو په کوټو کې به ګرځېدل، خو د هغو په ورتګ سره هم د بندیانو حال په څرګند ډول ښه شوی نه دی. د خوست پخوانی وکیل شیر احمد لا د سید محمد ګلابزوی له ورتګ نه وروسته له مېنځه وړل شوی دی. ګلابزوی، چې خوستی یې په یوې کوټې کې ولید، ورسره تود روغبړ وکړ، خو ددوه شپې وروسته له هغه له کوټې نه وایستل شو او بیا چا ونه لید. د خوستي په وینا ګلابزوی د "هغه قومي دښمن او مدعي و" او د پوښتنو په وخت کې یې دغومره ډېر "وهل خوړلي و، چې د ملا د زخمونو نه یې تر اخره وینې تللې."[46] ګلابزوی، چې په پرچمي رجیم کې د کورنیو چارو وزیر و، په کال 1985 کې د څرخي پله زندان پنځم لمبر بلاک هغه لوی سالون ته ورغی، چې له 180 کسه بندیانو نه یې یو هم زه وم. د بندیانو په لیدلو سره یې، چې د غولي په سر لکه رمه پراته وو، خپلو ورسره ملګرو ته څرګنده کړه، چې "د بندیانو مغزونه خو وچ شوي، اوس به یې ګېډې هم وچې شي." دده دغه وینا رښتیا وه. کومه هغه ډوډۍ، چې دده وزارت له خوا دغو بندیانو ته ورکول کېده، بېخي خواره وه. په داسې حال کې، چې د هغو بلاکونو بندیانو ته چې د خاد له خوا ورکول کېده، تر هغې ډېره ښه وه.

په خلقي دوره کې له ځینو شتمنو بندیانو نه پیسې هم په چل سره ترلاسه کېدلې. د اریوب سینما خاوند نور ګل ځاځی، زوی او ورور یې تر سختې څارنې لاندې نیول شوي وو. له هغو نه هېڅ پوښتنه هم نه ده شوې. سید عبدالله د هغو د آزادولو په نامه شپږ لکه افغانۍ ترېنه وغوښتلې. پیسې په لسو ورځو کې د هغو د کورنیو له لارې ور سول شوې، سره له دې هم هغوی اعدام شول[47]. سید عبدالله بندیان د مرګ پنجو ته هم سپارلی شول. " او چې د شپې به بسونه د وړلو او وژلو لپاره راغلل، نو ده به ورسره هغه بندیان چې دده خلقي او ګوندي ملګرو ورښوولي وو، په خپل امر یو ځای د مرګ لپاره پولیګون ته لېږل.[48]" نو ځکه قومندان سید عبدالله د ځینو نورو قومندانانو په شان د بندیانو باقي و. دی د 650 تنو بندیانو باقي و[49].

د بندیانو اصلي ناکراري به د شپې وه، چې بندیان به د اعدام لپاره پولیګون ته وړل کېدل، خو له کوټو نه د هغو ټولول اسان نه و. په دې چې "نه قومنداني و نه مقامات بالاتر از ان هیچ کدام بصورت دقیق نمیدانستند چه کسانی را اعدام نموده اند، چه کسانی محبوس اند و در کدام بلاک زندان جابجا گردیده اند.[50]" دغه ستونځه له دې امله وه، چې یو خو بندي کېدل لکه یوه جاري پروسه وه، بله دا چې دا د مسلکي میرزایانو کار نه، بلکې د خلقي چارواکو په تېره د اګسا چارواکو کار و او دوی په دفتري کارونو نه پوهېدل، نو ځکه په دې اړه کارونه ګډوډ وو. "روی همین بی نظمی بود که وقتی تصمیم به اعدام یک تعداد اشخاص میگرفتند، لست اسمای اشخاص را در جیپ گذاشته به سلول زندان سر میزدند و به قرائت میپرداختند.[51]" په دې ډول د اعدام له موضوع نه به د دواړو بلاکونو بندیان خبرېدل، که څه هم لست وال به د بندیانو د اعدام په اړه څه نه ویل. هغو به لا

بندیانو ته ویل، چې له بند نه خلاصېږي او کالي مو راټول کړئ، خو هر بندي پوهېده چې غوا توره شېدې یې سپینې، نو د نوم اخیستلو په وخت کې به " دهن و گلو خشک و نفس ها به شمار می افتاد. با شنیدن هر اسمی هر کدام شان فکر میکرد که اسم بعدی از آن خودش باشد." بندیان به غلي او سترګې به یې د صاحبمنصب په لور کړې وې. نوم لوستل، چې به خلاص شو، په پاتې بندیانو کې به ساه ورغړېده. "اهسته اهسته خون در رگ ها بجریان می افتاد. اثار زندگی در چهره ها نمایان میگشت."[52] ځینې وایي، چې "روندگان به پولیگون 20 نفری، 30 نفری، 40 نفری و دوبار 120 نفری بود."[53] دا چې بندیان به ډله ډله وړل کېدل او وژل کېدل، په دې کې شک نه شته، خو په دې کې غټ شک دی، چې هغه به په دغه دقیق شمېر وي، لکه چې دی یې وایي، خو دا به رښتیا وي، چې "هیچکس گمان آن را نداشت که فردا بتواند دیگران را به بیند و از این رو هر شبی که می آمد تمام زندانیان باهم خدا حافظی میکردند."[54] دغه څه به په خاص ډول په اخواني بندیانو باندې صدق کوي. هاشمي، چې په خپله تر اعدام لاندې و، د بندیانو احساس په دې ډول انځوروي: "هیچ محبوسی احساس مصونیت از مرگ را نداشت، موقف آنکه حکم اعدامش صادر نشده بود با آن که چنین حکمی در موردش صادر شده بود تفاوتی نداشت. هر محبوس مرگش را از نزد یک میدید. روز را در واهمه اتفاقات شب و شب را بانتظار ورود جلادان و پایان زندگی اش بسر میرسانید."[55]

د اعدام غټه پېښه د 1358 کال د جوزا په اتمه شپه وه، چې د بلې ورځې تر سهاره پورې اوږده شوه. دا د هغو اخوانیانو د وژل کېدلو په اړه وه، چې د محمد داود په ولسمشرۍ کې د پرچمي چارواکیو په دسیسې سره نیول شوي، په

دهمزنګ کې بندي شوي او په خلقي دوره کې د څرخي پله زندان دویم بلاک ته لېږدول شوي وو. په دوی کې د اسلامي جمعیت مؤسس او د شرعیاتو د پوهنځي سروال غلام محمد نیازی، عبدالرب رسول سیاف، یو شمېر نظامي افسران او د پوهنځیو محصلان هم وو او نیازی لکه چې په جمهوري دوره کې اعدام شوی او سیاف بېرته دهمزنګ ته استول شوی وو. د جمعیت نور مشران لکه برهان الدین رباني، ګلبدین حکمتیار او نور په هغه وخت کې پېښور ته اوښتي وو.

له دهمزنګ نه نور بندیان هم د څرخي پله زندان دویم بلاک ته وړل شوي وو، چې په هغو کې د محمد هاشم میوندوال له ډلې نه ډګر جنرال عبدالرزاق، تورن جنرال نیک محمد سهاک، ډګروال شاه علي مومند، ډګروال مهر علي زلال، ډګروال نور احمد کامه وال، ډګروال وارث شینواری، حاجي باز زرمتی، حاجي فقیر محمد، عبدالحنان ځاځی وو. د اقبال وزیري د لیکنې له مخې، چې دی هم هلته بندي و، د اخوانیانو او دغو بندیانو نه سربېره د جنرال میر احد شاه، مولانا فیضاني، د ستمیانو او خلقیانو پلویان هم هلته بندي وو. په دویم بلاک کې د اخوانیانو د وژل کېدلو په هکله روایتونه ډېر، خو سره متفاوت دي. د حسیني روایت تر نورو ښه څرګند او واقعیت ته هم نژدې معلومېږي.

اخواني بندیان د دویم بلاک په کوم پوړ کې اچول شوي وو او په هغه باندې د "خطرناک" نوم ایښودل شوی و. دوی چې د پیاوړي روح او ټینګې ارادې خاوندان وو، په خپلو کې سره یو موټی وو او د چارواکیو د هر ناوړه چلند په وړاندې به یې په ګډه غبرګون ښوده، لکه دیوالونه په لغتو یا قاشقو سره وهل، چیغې نارې کول. دوی په دغو عملونو سره د بلاک چارواکي وارخطا کړي وو. بیا نو دوی ټولو ته یوه ورځ وویل شول، چې دوی به یوه اونۍ وروسته اګسا ته د پوښتنو لپاره

بوتلل شي. څنګه چې په ولسمشرۍ کې له دوی نه تحقیق شوی او د بند په مودو محکوم شوي وو، دوی پوهېدل چې د چارواکیو اصلي مقصد بل څه دی. دوی ټول د 120 تنو په شاوخوا کې وو. د حسیني په وینا، چې دی له هغو سره خواخوږي ښکاره کوي او یو وروریې هم پکې و "بعد ازین ابلاغ... آنها هر روز غسل میکردند، شب و روز در طهارت و پاکیزه گی بسر میبردند. لباس پاکیزه میپوشیدند و سر و بدن خود را خوشبو میکردند و همه شان چشمان خود را سرمه میزدند تا سنت ابراهیمی را بجا اورده باشند." دی دا هم وایي، چې د هغو محافظانو لوړه کوله، چې "آنها با ملایک ارتباط داشتند و فرا رسیدن همان شب را بهتر از ما خبر داشتند."[56]

په هر حال، له د غو اخوانیانو نه او یا تنه نیمه شپه په دوو سروېسونو کې له دویم بلاک نه لومړي بلاک ته ورو ستل شول. پروګرام دا و، چې هلته به د محافظانو په ملګر توب پېنځه_پېنځه تنه په وار وار د خدای په امانۍ په پلمه یوې کوټې ته ننباسي، خو هلته به یې سترګې پټې او لاسونه وتړل شي او له بل وره نه به بیرون کړل شي، خو هلته لومړنۍ ډلې بندیانو له سید عبدالله سره خپرې ولګولې او په حېرانوونکي مهارت او چټکۍ سره بیرون ووتل او په جهر سره د تکبیر په ویلو سره یې ملګري د عمل لپاره وبلل او په دې ډول د دواړو خواوو ترمېنځ نښتې پیل شوې، خو څنګه چې اندېول پوره بې اندو له او بندیان بې وسلې او محصور وو، په پای کې ټول ووژل شول او پېښه د سهار په خلور بجو پای ته ورسېدله.[57]

په دویم بلاک کې پنځوس تنه اخوانیان لا هم وو، چاروکیو تجویز نیولی وو، چې د جوزا په دیارلسمه یې په یوه نوي تاکتیک سره له منځه یوسي. سید اکبر نوی بندي لا دمخه د پېنځو زرو افغانیو په بدل کې د یوه محافظ له لارې یوه

چړکــى ترلاســه کــړي او د پښــې پــه جرابــې کــې ځــاى پر ځاى کړې وه. چاروا کیو دد غې ور ځې په مازیګر په داسې حال کې، چې د دویم بلاک لـه ودانـۍ نـه د دېــوال تــر بیــرون پــورې د څلــورمې زغــرورې قــوې وســله وال سرتېري پــه دواړو خــواوو کــې قـطار ولاړ وو، د بـنديانو په ابـستلو پـیل وکړ، خو بـنديان او په خاص ډول سید اکبر د دوى په نـیت پوه وو. دى، چې سید عبدالله ته، چې د قـطار په مخ کې ولاړ و، نـږدې شو خپل دستمال یې لا ندې و غورزاوه او د جګو لـو لـپاره یې ځان ورټـیټ کړ او چړکی یې لـه جرا بې نـه وايـستله او په بې ساري ګړندیتوب سره یې په سید عبدالله حمـلـه وکړه او پېنځه ځلـه یې په چړکى ووا هه. سید عبدالله ټـپي شو، خو مړ نـه شو. نظامیانو په هغه وخت کې په سید اکبر باندې لـه دغې وېرې نـه ډزې ونـه کړې، چې خپل ملګرى به یې هم ووژل شي، یوه سرتېري بـیا ځان سید اکبر تـه نـــږدې کـــړ او مرګکـــي ډز یـــې پـــرې وکـــړ. حســـیني د نـــورو بنـــديانو پـــه هکلـــه دغـــومره وايـــي، چـــې "بـــرادران را زودا زود ســـوار کردنـــد و همـــه بـــاهم رفتند." (58)

د خلقـــي حکومـــت وژن تـــون پولیګـــون و، پولیګـــون چې د څو ضلعي ما نا ور کوي، د څرخي پـلـه د سیمې یـــوه برخـــه ده چـــې پـــه اصـــل کـــې د ســـرتېرو او زده کوونکیـــو د نظـــامي تـــمرین لپـــاره وه. پولیګـــون پـه د غه دلـیل د وژن تون په توګه غوره شوى و، چې خلـــک د اعـــدام پـــه ډزو بانـــدې د تمرینونـــو او ا نداختونو ګو مان و کړي. څلورمې ز غرورې قوې تـه نـږدې همد غه پولیګون به وي، چې خلقـیانو ور تـه د "تاریخ کنده" ویلـه. دلتـــه بـــه لـــه څرخـي پلـــه یـــا کابل نـه د بېلو بېلو روایتو نو لـه مخې هره شپه بـنديان په څو موټرو نو کې راوړل کېدل. موټرو نـه بـــه نظـــام قـــراول تـــه نـږدې، چېرته درول کېـدل او لـــه هغـــه ځـــاى نـــه بـــه اتـــه تنـــه جـلادان پـــه دوو جیپونـــو کـــې ورســـره ملګـــري کېـــدل. بیـــا بـــه ټـــول موټرونـــه دده ســـبز پـــه لـــور د شـــلو دقیقـــو پـــه

شاوخوا کې د "تاریخ کندې" ته رسېدل. د "تاریخ کنده" کې به دمخه کندې کندل شوې وې، جلادانو به بیا بندیان په کلا شنکوفونو سره وژل او په بولدوزرو یا نورو وسیلو سره به خاورې پرې اچول کېدلې. کله چې به سخت باران شو، د مړو غړي به رابرسېره کېدل. جلادان به زیاتره وخت نشه وو او چې بارکونو ته به رسېدل، د وژلو قیصې به یې کولې. د "تاریخ کندې" ډزې به په عسکري قشلو کې اورېدل کېدلې، د چندولو په قیام کې ډېر انسانان ژوندي تر خاورو لاندې شوي او ټانکونه پرې ګرځول شوي دي.

د څرخي پله زندان له قومندان سید عبدالله نه وروسته

فکر نه کېږي، چې د قومندان سید عبدالله په ټپې کېدلو سره به کوم بندي خپه شوی وي. د هغه پرعکس ممکن په زړه کې خوښ شوي وي، خو د هغو پنځوسو تنو بندیانو په ټول وژنې سره به بندیان خپه شوي وي، چې په تېر رجیم کې محاکمه او محکوم شوي وو او په محبس کې یې د خپل بندي توب موده تېروله، خو بندیان به هیله من شوي وي، چې په د غې تراجیدکې پېښې سره به د دوی په اړه د حکومت په سیاست او د زندان د چارواکیو په سلوک کې تغییر راوړل شي، همدغسې هم وشول. نوي قومندان محمد رسول له بندیانو سره نرم چلند ونیوه، خو نرم چلند له دې امله غوره نه شو چې دبندیانو د طبیعي او اساسي حقونو درناوی وشي. هغه ددې لپاره غوره شو، چې د بندیانو په اړه د حکومت سیاست او د سید عبدالله سلوک پوره غلط ثابت شو او وېره پیدا شوه، چې په دوام سره به یې شاید لا خطرناکې پېښې رامېنځ ته شي، نو که د واک خاوندان هر څېړې چې وي، د خلکو د اساسي او طبیعي حقونو او د هغو د حیثیت درناوی وکړي او په هر حال د خپلوسیا ستونو او کړو پایلې په نظر کې ونیسي،

ددغسې تراجیکو پېښو مخه به نیول شوی او د انسان له شان سره بهٔ د برابر ژوند لپاره ډګر هوار شوی و، خو بې تجربې او سمدلاسه واک ته رسېدلي کسان تر هغو چې د خپلو کړو ناوړې پایلې یې لیدلې نه وي، دغسې نه کوي. له دې امله د واکمنو ترځنګ د پخو مشاورو شتون حتمي دی.

د نوي قومندان محمد رسول له ټاکل کېدلو وروسته غټ بدلون د بلاکو نو په دهلېزونو کې د تلویزیونو نو ایښودل و، چې د بندیانو لپاره هم د ساعت تېری او هم د خبرونو اورېدلو مهمه وسیله وه. چارواکیو دا هیله هم لرله، چې رسمي تلویزیوني خپرونې به په بندیانو باندې ښه اثر وکړي، خو بندیان پوهېدل چې په تلویزیون کې چې د حکومت په پلوی غونډې او لاریونونه ښودل کېږي، هلته د حکومت پرضد پاڅونونه شوي[59]. په هغه سربېره بندیان پرې ښودل شول، چې دننه په کوټو او بیرون په انګړ کې ازاد وګرځي. دا یو ډېر غټ بدلون و، چې سید اکبر په خپلې قربانۍ سره بندیان ترینه بهره من کړل. په دې ډول بندیان له ډېرو هغو سختو بندیزونونه ازاد شول، چې د سید عبدالله د قومندانۍ پر مهال پرې لګول شوي وو، خو د څرخي پله په زندان کې لا مهم بدلونونه د اسدالله سروري له ورکېدو نه وروسته د حفیظ الله امین په واکمنۍ کې راوستل شول.

امین د سنبلې په 25مه د تره کي پرځای د ګوندي او حکومتي مقامونو سروال شو. د امین د "قانونیت، مصونیت او عدالت" د شعار د اعلام له مخې څرخي پله ته "هیات ها هر روز می امدند، به احوال یک تعداد افراد عسکری و صاحبمنصبان خورد رتبه... رسیدګی مینمود و در چند روز یک تعداد محدود آن را رها دادند."[60] دغه "محدود تعداد" لکه چې دمخه هم ویل شوي، 850 تنه وو او ټاکل شوې ده، چې پاتې ټول بندیان به د جدي

په لسمه (جنوري اول، 1980) خوشې شي، خو په دغه وخت کې د شوروي یرغلیز پوځ امین او د هغه حکومت له منځه وړی و.

د امین په راتګ سره ښاپسته (اندړ) د محمد رسول پر ځای د محبس قوماندان ټاکل شوی و. ده هم "یک سلسله نو اوری ها را در زندان پلچرخی در دست گرفت."[61] په عمومي ډول "در زمان حکومت حفیظ الله امین اوضاع زندان از ارامش نسبی برخوردار بود."[62] په هر بلاک کې کتابتونونه پرانیستل شول، خو د هغو محتویات رسمي خپرونې وې. په لومړي بلاک کې یوه پایه راډیو هم ودرول شوه. د امین د وخت یو نوی کار دا شو، چې د کوریو چارو د وزارت په دیوالونو باندې د هغو بندیانو د نومونو لستونه وځړول شول، چې تر هغه دمخه د تره کي او اسدالله سروري په وخت کې له منځه وړل شوي وو. نوي حکومت دا هم څرګنده کړه، چې له دې وروسته به له سندونو پرته څوک بندي نه شي، خو لکه چې زر په ولیدل شي، دغې څرګندونې درناوی ونه شو.

نوي حکومت د تره کي له بندي کولو نه وروسته د هغه مېرمن مرجان، وروڼه، وربرونه او داسې هم د اسدالله سروري، اسلم وطنجار کورنۍ هغه هم له ماشومانو سره په لومړي بلاک کې بندي کړل. د اکتوبر په لسمه د نور محمد تره کي مړینه په رسمي، مګر عادي ډول اعلام شوه. د کورنۍ غړیو یې په اول بلاک کې غوغا جوړه کړه او په نورو بندیانو یې غږ وکړ، چې "او مردم برخیزید که رهبر تان را کشتند." دغه اواز بندیانو ته عجب معلوم شو، چې "در نیمه زینه ها پولیس ها... به سر وقت شان رسیده چوب زنان آنها را داخل سلول ها رهنمایی و دروازه را عقب شان قفل نمودند."[62الف] د ریشخورو په فرقه کې، چې د تره کي پلویان او زرغونیان جګ شوي وو، په هوایي بمباري سره وځپل شول او ډېر تره کي پلوه خلقیان د افسرانو په ګډون، د څرخي پله زندان

کې او دا سې هم د جلال آباد ښار دننه محبس کې واچول شول[63]. په دې ډول خلقیان هم د لومړي ځل لپاره په ډله ییز ډول په خلقي حکومت کې بندي شول. عجبه دا ده، چې د احمد شاه په وینا "بدنبال آن یک تعداد نفر را بسر کردگی غلام محمد فرهاد گرفتار نمودند و آنها را عامل واقعه مذکور دانستند."[63] فرهاد، چې د افغان ملت گوند مؤسس، د ولسي جرگې وکیل، د کابل ښار لومړنی ګوند ښاروال او د میوند جادې ایستونک او تر ټولو مهم یو مشر شخص وو، هم د سیاست قرباني شو. ددغه او نورو پېښو په نظر کې نیولو سره هغوی، چې حفیظ الله امین "پښتونست" او "فاشست" ګڼي، د فاشزم په مانا نه پوهېږي، یا څنګه چې هغه په ختګه خروټی پښتون و، هسې پروپاګند ورپسې کوي.

د حفیظ الله امین پلویان ادعا کوي، چې د "قانونیت، مصؤنیت او عدالت" په دوره کې اعدامونه، نه وو، خو د څرخي پله بندیانو)محمد عثمان هاشمي، ن.حسیني، روشن احمد شده او سیداګل غریبیار(په خپلو کتابګوټو کې راوړي، چې په دغې لنډې دورې کې هم بندیان اعدام شوي دي، چې څرګند مثالونه یې د لویې څارنوالۍ مرستیال عبدالهادي هدایت، د ستمي ډلې مشر طاهر بدخشی، د زرغون ډلګۍ مشر عبدالکریم زرغون، ډګر جنرال عیسی نورستانی، عبدالله رستاخیز، جنرال صفر جان نورستانی او عبدالکریم یورش وو. دوی د صدراعظم نور احمد اعتمادي نوم نه اخلي، خو هغه هم په غالب احتمال په همدغه وخت کې له منځه وړل شوی و.

احمد شاه دا هم وایي، چې د دوی او نورو له اعدام نه دمخه "... عزیز نام رییس کام چند روز مسلسل به محبس آمد، همه زندانیان را از نظر گذشتاند و بعضی نفری را نامنویس گرفت." بندیان په دې فکر شول، چې عزیز چې د اګسا پر ځای د کام مرستیال شوی و، د بندیانو نومو نه

ددې لپاره ولیکل، چې خوښې به یې کړي، "ولی حقیقت ان بود که عزیز مذکور نفری قابل قربانی را بین زندانیان انتخاب و چهره میکرد." (64)
وروسته د جنرال عبدالقادر، محمد رفیع او سلطان علي کشتمند د اعدام حکمونهد بند په اوږدو مودو بدل شو، خو ډېره موده نه وه تېره شوې چې لوی درستیز جنرال شاهپور احمدزي او د جمهوري روغتون رییس میر علي اکبر له لومړي بلاک نه وابستل شول او بیا ونه لیدل شول. احمد شاه لیکلي، چې دوی "نزد همه زندانیان محبوبیت خاصی حاصل داشته بودند. بناءً فقدان شان چنان داغ المناک را در قلوب ماگذاشتند که تا زنده باشیم، فراموش نخواهد شد." (65) غریبیار د میر علي اکبر په هکله وایي، چې "ډاکټر میر علي اکبر اصلاً شیعه و، په پښتو ډېر ښه پوهېده، د ملي احساس خاوند او د ایران د دولت سخت مخالف .... و. لنډ قد یې درلود، د لوړو اخلاقو او پاخه جرئت خاوند و." (66)
په خلقي دوره کې له ټولو بندیانو نه تحقیق، هغه هم لیکلی تحقیق نه کېده. د اګسا د مرستیال عزیز په وینا "... پوښتنې په هغو کیسونو کې کېدلې، چې تورنان به اماده وو اقرار وکړي، نور تورنان وژل کېدل. د خمیني پلویان او د اخواني تنظیم غړي به سمدلاسه له منځه وړل کېدل." (67) په خلقي او وروسته په پرچمي دوره کې اعدامونه ایډیالوجیکي او سیاسي وو. هغوی به بندي کېدل او اعدامېدل، چې چارواکیو به هغوی د خپلې ایډیالوجۍ، د خپل حکومت او د خپل "انقلاب" دښمنان ګڼل، یا به یې له حکومت سره په قول او عمل کې مخالفت کاوه، خو په خلقي دوره کې له بندیانو نه د تحقیق لپاره کومه خاصه خپلواکه محکمه جوړه شوې نه وه، نو په خلقي دوره کې بندي کېدل، کړول کېدل او اعدامېدل د اګسا له لارې کېده. دا چې د اعدام حکم په مشخص ډول چا ورکاوه، په یقین

سره معلومه نه وه. د امنیتي څانګو چارواکیو او په سر کې اسدالله سروري په اعدام کې لوی لاس لاره، نو ویل کېدای شي چې د بندي کولو، کړولو او اعدامولو مسؤلان د ګوند او حکومت سروالان، د امنیتي څانګو چارواکي او جلادان وو. معلومه نه ده، چې له دوی نه به کوم چا د اعدامونو مخالفت کړی وي؟ لکه چې هېڅ چا مخالفت نه وي کړی. د اعدام په سر خو هېڅ چا وظیفه هم نه ده پرې ایښې.

دوی له نورو سره موافق وو، چې د نظام دښمنان دې د انقلاب ضد په تور وځپل شي. دوی په واقع کې د غه ځپل د خپل نظام د ټینګښت لپاره حتمي ګڼل. د پولټبورو غړي او د کرنې او اوبو وزیر صالح محمد زیری لا وایي، چې دده ملګرو د انقلاب د مخالفانو بندي کول، کړول او وژل ستایل: "موږ ټولو په ټېره هغو لارښوونکو چې امنیتي چارې یې په غاړه وې، همدا ویل چې په ځینو ځایونو کې ګاونډیان او داخلي ارتجاع ګډوډي رامېنځ ته کوي، چې باید وځپل شي. موږ ټول په دې عقیده وو، چې د فرانسې او اکتوبر ستر انقلابونه د همداسې مقاومتونه سره مخامخ شوي وو. له دې کبله زموږ واکدارانو دغه مقاومت سخت ځپې او موږ یې دد غه کار ستاینه کوله او دغه مو قاطعیت باله[98]." په دې ډول دوی که څه هم په ظاهر کې تحول غوښته، په واقع کې یې مکاني او زماني تغییرونه، نه منل او په هغه سربېره افغانانو ته یې د خدمت په نامه افغانان له مېنځه وړل.

پېنځم څپرکی

د خلکو پاڅونونه

لومړنی خبرې

هغومره پاڅونونه، چې په افغانستان کې په خلقي دوره کې د سره بېرغ له هسکېدلو نه وروسته په څه کم یوه کال کې شوي دي، بل وخت په دغومره موده کې نه دي شوي. خلقي حکومت، چې د باندنیو فکرونو او طریقو پر بنسټ چلول کېده، ددغسې ګوند په انحصار کې و چې غړي یې په حکومتي چارو کې بې تجربې او د اجتماعي دودونو او جوړې روغې مخالف وو. سره له دې هم حکومت د هغو له لارې خپل پارونکي پروګرامونه زیارکښو خلکو ته د خدمت په نامه پلي کول، خو ځنګه چې دوی دولتي قدرت په کود تا سره نیولی و، وېر بدل چې مخالفین به په کود تا سره هغه ترېنه ترلاسه کړي، نو دوی خپل مخالفین ځپل. په دغه حال کې مخالفینو ته بله لار نه وه پاتې، خو دا چې د دوی پر ضد عمل وکړي. په نتیجه کې په دغې مودې کې افغانستان په زیاته اندازه د پاڅون، وژنې، ځپلو، بندي توب او کړولو ډګر شو. سره له دې هم چارواکیو له حفیظ الله امین نه پرته، هغه هم په اخر وخت کې، له دغو پېښو نه د عبرت درس وانخیست. دوی په خپل ګوند، په خپل حکومت، په خپل پوځ او هم د شوروي اتحاد په ملاتړ ډاډه وو. له همدې امله نور ګوندونه په تېره چپي او اسلامي ګوندونه ورسره دښمن او زیاتره افغانان ورسره مخالف شول او کړکېچ دغومره پراخ شو، چې په رسمي ګوند یې هم لار

وموندله او په ډلو یې ووېشله، خو واکمنه ډله یې لا هم په هېواد حاکمه وه، ترڅو په پای کې شوروي اتحاد په خپل نظامي پوځ وځپله.

لکه چې دمخه ویل شوي، د سره بېرغ له پورته کېدلو نه وروسته د هېواد په ډېرو سیمو کې وارړه لوی پاڅونونه ډېر وشول، خو د ټولو په اړه معلومات نه شته. د ټولو په هکله لیکنې نه دي شوي او حکومت هم په ممکن ګړندیتوب سره هغه وځپل. تراوسه دغسې څېړونکي هم لیدل شوي نه دي، چې ددغو پاڅونونو په هکله له خلکو سره مرکې وکړي او په هکله یې معلومات او واقعیتونه را ټول کړي، خو د یو شمېر پاڅونونو په اړه لیکنې شوي، چې د هغو پر بنسټ د نېټې په رعایت سره دغه لیکنه برابره شوې ده. دغه لیکنې د هرات، بالاحصار، اسمار، دره صوف، پلخمري او د چندول پاڅونونو په هکله دي. دا به د پاڅونونو پوره بیان نه وي، خو د هغو لومړی منسجم بیان به وي، چې د پاڅونونو د عمومي تصویر یو لنډ تصویر ورته ویل کېدای شي. دغه لیکنه ددې لپاره شوې، چې لوستونکي ددغو پاڅونونو په واقعیتونو پوه وي او درک کړي، چې هغه د کومو رسمي سیاستونو او د هغو د څه ډول عملي کولو او د هغو په برابر کې د خلکو د څه ډول غبرګونونو او ځوابونو پایلې وې. څنګه چې په جنګونو کې انسانان وژل کېږي، د جنګونو بیان به په خلکو کې لږ تر لږه د جنګ ضد روحیه پیاوړې کړي.

د هرات لوی پاڅون

هرات څنګه چې په یوې ښېرازې سیمې کې پروت او هري رود او نورو ډېرو وړو رودونو نه بهره من دی. له لرغوني زمانې نه راپېدېخوا د انسانانو ټاټوبی دی. لرغونی نوم یې "اریا" یا "هري" و. دغه نوم په اصل کې د هري رود له نوم نه اخیستل شوی، چې لرغونی نوم یې هري

وا) Harivo (یا اریوس) Arius (و او په اسلامي دوره کې هرات شو. لهراسپ یې بنیاد ایښی، گشتاسپ پراخ کړی، بهمن ښه کړی او لوی سکندر بشپړ کړی دی. د محلي روایت له مخې د ښار زړی د شمیران په نامه یوځای و، چې وروسته یې ځای د هزار جریب ونیوه، خو هزار جریب زر ترک شو او شمیران بېرته ښار غوره شو او لوی شو.
په هرات کې په تاریخ کې سلطنتونه جوړ شوي او بیا بادنیو رنگ کړي او ښار یې ویجاړ کړی د، خو ښار هر ځل د خلکو په همت او د نهرونو او د سیمې د ښېرازتوب له امله بېرته ودان شوی او لا ښه شوی دی. د ښار له پېنځو لویو ورو نو څخه پېنځه سړکونه غځېدلي او د ښار په منځ کې په چارسو)چارسوق(کې سره یوځای شوي دي[1].
د ثور له کودتا نه دمخه د هراتیانو په ژوند کې څرگند ښه والی راغلی و. له یوې خوا ایران د خواریکښو هراتیو لپاره د کار او پیسو منبع شوی و، ان تر دې چې هرات د زراعتي کارگرو له لږوالي سره مخ شوی و. له بلې خوا یو شمېر هراتیان د سړکونو او شخصي ټرانسپورټي وسیلو په ښه والي سره د هرات_ایران او هرات_کابل ترمېنځ سوداگرۍ بوخت شوي وو. پانگه هم په کار ولویدلې وه، عصري ودانۍ ډېرې شوې او کرنه هم ښه شوې وه. ډېرو کورونو کې عصري مالونه، ټرانسټري راډیوگانې او ټیپونه هم رواج شوي وو. له پخوانه په هرات کې د سواد، شعر او شاعرۍ او فرهنگ سویه هم لوړه وه. هرات په کال **1349/1970** کې یوولس ولسوالۍ او یوه علاقه داري او تر اوو لکو نه زیات نفوس لاره. د هرات د ښار نفوس دره اویا زره تنه وو.
په هرات کې د خلک د ځمکې د وېش په پروگرام سره هغومره نه وو تور بدلي، چې د چارواکیو په هغه زیږ چلند سره تور بدلي وو، چې په تېره د لویانو د زده کړې په کورسونو کې یې ورسره کول. ضابط درویش خان د خلکو د توربدلو لوی

عامل و. دی په دغه خام فکر و، چې افغانستان "فیوډالو" خراب کړی او چې دوی ورک شي، عدالت به خوندي او وطن به سمسور شي. ده د ثور له کودتا نه وروسته د مهري لېسي یوه ښځینه زده کوونکې، چې دیوه شتمن لور وه، په رڼا ورځ ووژله او د هغې له جسد نه یې د الماسو ګوتې په سختۍ سره وایستلې او خپله کړه. وروسته، چې دی د پښتون زرغون په ولسوالۍ کې د یوې پوستې قوماندان وټاکل شو، له یو څو ملګرو سره د یو څو خانانو مېلمه شو. مېلمستیا په خوښۍ سره پای ته ورسېده او له هغه وروسته درو ښخان خپل پېنځه کورباته په خبرو خبرو لېږي بوتلل او هلته ملګرو یې د هغه په امر له مېنځه یووړل. د پښتون زرغون ولسوالۍ د هرات ښار د سهېل ختځې په اتیا کیلومترۍ کې پرته ده.

په هرات کې د لیک او لوست زده کړې کورسونو ته د ښځینه او نارینه لویانو کښول سختې پارونې وکړې. په کورسونو کې د ښځو ګډون ته هغه څرکنده وه. د کورسونو ښوونکي نارینه ځوانان وو، ځینو یې ښځې کورسونو ته د ننوتلو په مهال لټولې. د کورس یوې مېرمنې، چې نوې واده شوې وه، خپل خسر ته طعنه ورکړه، چې یا خپل ننګ پرځای کړه یا په ما سمه مرده ګاوي وکړه[2]. د حوت په نهمه ورځ د سواد زده کړې کوم هیئت چې د ولسوالۍ په سلیمي کلي کې د ېره و، د خلکو له خوا ووهل شو او له کلي نه وایستل شو. په بله ورځ یو ساتنمن له خپلو دوو ملګرو سره هم په همدغه ډول له کلي نه وایستل شو. دوی هلته تللي وو، چې د کورس د شړل شویو ښوونکیو حیثیت پرځای کړي. له هغه وروسته د سلیمي کلي او نورو کلیو خلکو د جمعې ورځ)د حوت 11(د جهاد ورځ وټاکله، چ د یلان دښتې په لوی جومات کې به اعلام شي. د جمعې په ورځ همدغسې و شول او د جهاد شین بېرغ هسک شو. ډېر زر د هغو د ځپلو او کرارو لپاره د هرات له

یولسمې فرقې نه یو کندک سرتېري د سلیمي کلي ته لاړل، دواړه خواوې سره ونښتلې او یو شمېر ملکي کسان ټپي او ووژل شول. سره له دې هم نارامي د درې ورځو لپاره روانه وه او د لوی جومات خطیب نثار احمد له مېنځه یووړل شو[3]. دا د هرات د لوی پاڅون لومړی ګام شو.

د هرات ډېر مخور او روحانیان هم په زندان کې واچول شول. یوه لیکوال دوی "زر دولس سوه" ښودلي، چې وروسته د پاڅون په وخت کې ازاد شول. دی دا هم وایي، چې "کمونستانو به د هرات پوځي چاونۍ ته هره ورځ د هرات سیمې سپین روبي، علماء او روحاني خلک راوستل... څو ورځې پس به په خپله پوه شوم، چې وژل شوي دي."[4] د هرات اولسمه فرقه، چې نارامه شوې وه، شپېر زره سرتېري لرل. د ناکرارۍ لوی لامل یې دا و، چې هلته لکه په نورو پوځي قطعو کې د ټیټو رتبو ګوندي افسران په لوړو مقامونو ګومارل شوي وو. د هرات فرقې په سر کې د سید مکرم په نامه یو تورن خلقي افسر کېنول شوی و، چې "ټول غټ افسران به ورته په سلامي ودرېدل." ډګروال میر علم ساپی وایي، چې حتی د کابل د حربي پوهنتون د اخري ټولګي ځینې خلقي ګوندیان پخوا له دې، چې فارغ شوي وي، هم په مقامونو ګومارل شوي وو. "ددغو افسرانو پلرونو او اقرباوو به په کلي او ولس کې برېتونه تاوول او خلکو ته به یې ګواښونه کول." بله دا چې د ثور له کودتا نه وروسته ډېر شوروي مشاوران په پوځ کې ننوتل. "یواځې د هرات فرقې ته پېنځه اویا تنه روسان راغلل."[5] ددغو روسانو پوځي سویه هم ښکته وه او سربېره پر دې، چې "ملحد وو" په ګېډه ماړه نه وو. "موږ او دوی به په یوه وخت کې ډوډۍ خوړلو ته لاړو. موږ به لا دوه مړۍ نه وې کړې، چې دوی به هرڅه خټلي وو." د همدغو مشاورانو په مشوره د لوړو افسرانو واک کم شوی

و، په دې چې دوی د هغو په فکر له دولت سره د زړه کار نه کاوه او لوړ مقامونه د ډاډ وړ افسرانو ته ورکول کېدل. ډګروال ساپی هم د دوی په مشوره د یوې اونۍ لپاره په فرقه کې بندي شوی و. په نتیجه کې د غیرګوندي افسرانو او شوروي مشاورانو ترمېنځ حساسیت تر دې درجې پورې رسېدلی وو، چې د ساپي په وینا "موږ ټولو افغاني پوځیانو له دوی نه کرکه کوله."(6) په دې سربېره ګوندیانو په فرقه کې لمونځ کوونکي افسران هم بندي کول "او که به یې د ګرفتارۍ وس نه کېدو، د هغه ځار نه به یې کوله، ترڅو د هغه د ګرفتارۍ... طرح جوړه کړي." ګوندیانو به هغوی د اخوانیانو په نامه یادول. څنګه چې په فرقه کې ګوندي افسران تر نورو لږ وو، دوی په وېره کې شول. بیا یې یو شمېر مخالف افسران د پېژند د مدیر په ګډون په یوه او بل نامه کابل ته لېږل، چې بیا ونه لیدل شول. ساپی وایي، چې "په دې وخت کې موږ خلکو پټ تحریک هم شروع کړی و، ترڅو دوی څه غوښتل موږ پرې ړوندې شو."(7)

د هرات د پاڅون په اړه لیکنو کې د فرقې رول په څنګیز ډول شوی، په داسې حال کې چې د ډګروال محمد علم ساپي د هغې رول د مخکې ښودلی. په دې ډول، چې په هغه کې یو شمېر افلسرانو د "ملي اسلامي انقلاب" په نامه اول په پټه او بیا په څرګند ډول برخه اخیستې او په اخر کې یې په شریکي ډول فعالیت کړی. ددغو افسرانو په اړه به د پاڅون په پای کې وګړېږم او د پاڅون بیان به د ساپي په وینا پیل کړم، چې وایي: " موږ دوی]د هرات ښار خلکو[ته بولې ورکړه. دوی د بولې مطابق حرکت شروع کړ. په بولې کې دغو خلکو ته دا هم ویل شوي وو، چې د ښار امنیت خراب او ګړو بړ پیدا کړي. دغو خلکو همدغسې وکړل."(8)

پاڅون لکه چې دمخه وویل شول، د پښتون زرغون ولسوالي د سلیمي له کلي نه د کب په یوولسمه

پیل شو. له هغه وروسته د غوریان ولسوالۍ ناکراره شوه. اول یو څو کسو د ځمکو د وېش سندونه د ولسوال په مخ کې د اعتراض په ډول څیرې کړل، د ولسوال په امر هلته بیا یو څو تنه ووژل شول. له هغه وروسته ډېر خلک د کب په اتلسمه د ولسوالۍ په مرکز توی شول او محاصره یې کړ او ګوندي منشي نسیم یې له مېنځه یووړ، خو ولسوال له یو دوه ملګرو سره د شپې په تیاره کې په دې بریالی شو، چې د هرات ښار ته ځان ورسوي او لوړ چارواکي په پېښې خبر کړي. خلک په پوځ او هوایي بمبارۍ سره خواره شول او ارامي په ظاهر کې خوندي شوه، خو د غه وخت د هرات ښار ته نږدې د زنده جان د ولسوالۍ او ګذرې ولسوالۍ خلک هم جګ شوي او د ځمکې د وېش یو څو ګوندیان یې له مېنځه وړي وو. ګذره د ښار شمال او زنده جان د ښار جنوب په څلوېښت کیلومترۍ کې واقع دي. دواړه ولسوالۍ په یو څه انساني تلفاتو سره د حکومت لاس ته ورغلې او پاڅون کوونکي په شا او خواره شول[9]، خو د پاڅون په هوډ ټینګ ولاړ وو.

د کب په 24مه د پنجشنبې په ورځ د هرات ښار خلک د حکومت پر ضد جګ شول. دا وروسته له هغه و، چې بهاءالدین خطیب د هرات په لوی جوماتکې د کب په اتلسمه یانې د غوریان ولسوالۍ د پاڅون په ورځ د هرات د عالمانو له خوا جهاد اعلام کړی و. ورپسې حاجي ایوب د جهاد د ضرورت په اړه د صبغت الله مجددي او نورو په لاسلیک دغسې پېغام پاڼې په خلکو وېشلې، چې خلک یې لوی پاڅون ته بلل. "مومنان پاکباز هرات و مجاهدان فدایی را حق برسم نیاکان پاک بیک قیام عمومی و هنګامی بپردازید.[10]" د جهاد اعلام، چې په واقع کې د جنګ اعلان دی، په اصل کې د دولت د سروال له صلاحیتونو او امتیازونو څخه دی، خو دلته هغه د هرات عالمانو خپل کړ او خلکو هم پرې عمل و کړ. په دې ډول په افغانستان کې اول

په خلقي او وروسته په پراخه توګه په پرچمي دوره کې د جهاد اعلام واک د ټولنې له سروال نه ديني عالمانو ته انتقال وکړ، چې هغه د نارامۍ او بې ثباتۍ يو عامل شو. په دغو پېښو سره "در همه اطراف و نواحی شهر و ولسوالی های هرات یک امادگی کامل روانی برای قیام عمومی گرفته شده بود." له بلې خوا حکومتي چارواکيو هم "خود را اماده رويارويی به اين قيام همگانی تاخته در هر قسمتی از شهر و ولسوالی ها سنگرها را برای اين امر تهيه ديده بود و توسط دو طياره کشاف وادی هرات را بگونه مداوم ديده بانی ميکرد.[11]"

د کب په 22مه د ګذرې ولسوالۍ خلک د ګل محمد تيزاني په مخکې بيا په حرکت راغلي وو. ګل محمد چې په "ګلکي" يادېده او د خپلې مجاهدې او زړورتيا له امله "مجاهد بزرګوار" نومول شوی و، په اصل کې د "بدمعاشانو د يوې ډلې" سروال و، چې له هغه نه په هرات کې "د هر سړي وېره کېده." ده به ويل، چې "زه نور في سبيل الله جهاد شروع کوم، ګوندې خدای ج راته تېر ګناهونه معاف کړي." د زمري په شان به يې په ملحدانو ورټوپ کړ." دی دا هم وايي، چې ګل محمد "په اخر کې يو داسې غازي او مجاهد جوړ شو، چې نن سبا د هغه مثال اډو پيدا کېږي نه.[12]"

د ګذرې کابو دوه زره خلکو د روضې باغ څنګ له کې تېره کړه او په سبا يې ددې پرځای، چې د ولسوالۍ په مرکز ورتوی شي، د ښار په لور روان شول. د علاقه دار د کانونو په برخه کې له ګل محمد تيزاني او ملګرو سره يې له ګذرې او انجيل نه نور خلک هم ورسره ګډ شول. په دې ډول د پنجشنبې په ورځ د کب په 24مه " از چار سمت هرات کفن پوشان رزمجو و دلفريبگان راه شهادت در مسيری در حرکت بودند تا در مرکز شهر نفوذ کنند.[13]" دغه ګڼ خلک، چې له پل مالان څخه

واو ښتل، د پل کار په برخه کې له ټانکونو نه په پر له پسې ډول ګولۍ پرې واورېدلې. سره له دې هم په داسې حال کې چې شنه بېرغونه يې په لاس او د تکبير ناري وهلې، مخ په وړاندې تلل او "ګلکۍ" يې دمخه په يوه ګړندي موټر کې روان و، چې نوی يې له حکومتيانو نه نيولی و. په ښار کې دننه دکانداران هم يا په خالي لاس يا له بېل او کلنګ او د وسپنې له ډنډو سره ور ګډ شول. که څه هم له ټانکونو نه پرې ډزې کېدلې او يو څو تنه يې ووژل شول. په همدغه حال کې د کندهار وره ته ورسېدل، چې هغه بيا د "انقلاب وره" باندې ياده شوه. په دغه وخت کې له يوې الوتکې نه بمونه هم پرې وغورځېدل، چې "چندين خانه را ويران و اهالی ان را به شهادت رسانيد." د عراق وره کې هم حال همدغسې و. د لارې په اوږدو کې د باباجي، سر حبيره، مولوی صاحب زيارت او وردګو او عربو له محلو نه هم خلک له دوی سره ګډ شول. دلته د وستوک انترک روسي استازی له دفتر نه وايستل شو او ووژل شو او په وچلي يې وليکل شو: "اينجا بخارا نيست." له هرې خوا نه بېحسابه خلکو د نوي ښار د چارسو او د محبس په لور مخه وکړه، که څه هم په لار کې د ايماق د برق له کارخانې، د بهزاد هوټل او نورو ځايونو نه پرې ډزې کېدلې. دوی په دغسې ټينګې جذبې سره مخ په وړاندې روان وو، چې "نه بنام سنی و شيعه، نه بنام مکتبی و غير مکتبی، نی بنام جمعيتی و حزبی، نی بنام عالم و متجدد هيچ نوع اختلافی ايشان را از جهاد يکپارچه و برحق شان باز نميدارد."[14] د ځلور لارې په باغ کې يې د راډيو مرکز له کار نه وغورځاوه، خو محبس ته د تګ په لار کې يوه ټانک نه، چې شين بېرغ پرې باندې ځړول شوی و، خلک په ګوليو ووېشتل شول او دوی ونه شو کولی چې محبس ونيسي. د همدغې ورځې په ماښام زورور باران وشو او کراچۍ والو دلته هم لکه په نورو

ځایونو کې "بدون وقفه اجساد پاک شهدا را می بردند و دفن میکردند."(15)
ښاریان او د شاوخوا کلیو خلک د شپې په راتلو سره خپلو کورونو ته او نور د ښار جوماتونو ته ننوتل یا د ښاریانو مېلمانه شول. د هرات لوی جومات کې اټکل یو نیم زر کسان ځای پر ځای شول. وروستیو په دغه ډول "در داخل مسجد جامع و با موضع گرفتن در منارهای سر بفلک کشیده مسجد جامع ناخود اگاه خود ها را در محاصره دشمن مجهز با تانک و توپ اسیر کردند، در حالیکه قبلاً دشمن محیل در مناره های مسجد جامع سنگر گرفته بود." بیا نو د تیارې په خورېدلو سره ګوندیان او حکومتیان "با تانک ها و تمام تجهیزات به شهر روی اورده زخمی های خود را به شفاخانه برده... با تجهیزات مطمین بر مسجد جامع حمله کرده... مجاهدین پاکباز را از انجا ګرفتار کرده... بحیث گروگان گرفته بودند. عده ای از ایشان را به زلمی کوت انتقال دادند."(15) سره له دې په بله ورځ)جمعه، د حوت 25مه(خلک له هرې خوا په تېره د ښار له لویدیځ نه په ښار ننوتل او په تنکۍ غرمه کې د کندهار وره ته ورسېدل. د مؤلف یوسفي په وینا "در حقیقت روز جمعه روز فتح و پیروزی جانبازان حماسه افرین در تمام نواحی و مواضع شهر بود." خو د امنیې قومندانې محاصره وه، لوی محبس د حکومتیانو په لاس و او پوځې فرقه لا ځای پر ځای وه. په داسې حال کې، چې حکومتي قوتونه یو ځای بل ځای مات شوي او په شا تللي وو، جنګي الوتکې)میګ 21، میګ 23 او توپ لرونکي هلیکوپترونه(دپاسه ښکاره شول او "بمبهای خانمانسوزی، در نواحی کاربار، اسیاب کلوخی، بکر آباد، بادمرغان، نحور درواز، محله نو، کلاب، پل رگینه، باغدشت، گازرگاه شریف، تخت صفر، زیارت مولانا عبدالرحمن جامی، برامان

و شهر نو... پرتاب می گردید.[16]"

د کب په 26مه د هرات اولسمي فرقې په څرګند ډول د پاڅون کوونکیو خوا ونیوله او د هرات ښار حکومتیانو له کنټرول نه واېستل شو. د پاڅون تر وخته پورې د هرات فرقې په ماهي فروشانو کې تطبیعات کول، شاید ددې لپاره چې حکومت خلکو ته خپل قوت وښیي. د فرقې درنې وسلې لکه هاوانونه، اوبو سونه او نور درا نده توپونه به هلته وړل کېدل او د هغو نندارې ته به "د هرات ټول پوځي او ملکي اراکین راتلل.[17]" خو په فرقه کې لکه چې دمخه ویل شوي، مخالف افسران تر ګوندي افسرانو نه ډېر او موقع ته سترګې په لار وو. لکه چې دمخه ویل شوي، دوی ښاریان د پاڅون لپاره هڅولي وو. د پاڅون په پیل سره تطبیقات ودرول شول او وسلې چاونۍ ته راوړل شوې. "په دغه وخت کې روسانو د غو وسله والو ته بولۍ ورکړه، چې د هرات ښار او شاوخوا کلي په توپونو وولي. دوی په انداخت شروع وکړه." ساپی وایي، چې دوی "ټول زموږ ملګري او شاګردان وو.... دوی له موږ سره په پلان کې شریک وو. دوی صرف د بولۍ منتظر وو." نو دوی نښې نه ویشتلې او "روسان پوه شول، چې افغاني افسران خپل وروڼه عزیزان نه وژني، نو په خپله یې نښانونه ونیول." بیا کله چې افغان افسران په خپلو ځایونو کې کېناستل، ساپی وایي چې "ما دوی ته د روسانو او کمونستانو په طرف د اوربل کومانده ورکړه او شېبه پس ټول کمونستان او روسان[18]" له منځه یووړل شول.

همدغه پېښه به وي، چې لیکوالو ددغې پېښې صحنه د زلمي کوټ د ډوډۍ او کنفرانس سالون ښودل، چې هلته اټکل شپېته حکومتي افسران او روسي مشاوران د جګتورن نور محمد توپچي افسر او جګړن عبدالعزیز د توپچي کنډک قومندان د ماشینګڼو په پرله پسې ډزو سره له منځه وړل

شوې دي[19].

په هر حال، د ټولو ليکنو له مخې جګتورن نور محمد لومړی د هاوان په انداختونو او بيا د توپونو په وېشتلو سره بې ساري فعاليتونه وکړل او غټ نوم يې وګټه، خو وروسته ګونديانو ته په لاس ورغی او هغوی په ډېرې بې رحمۍ سره وواژه. د ګونديانو ددغې وينا په ځواب کې، چې "تا غوښتل قومندان شې" هغه ويلي و، چې "نه ما غوښتل جمهور رييس شم او چې د شپانه زوی د غې رتبې ته رسېږي، زه ترچا کم يم؟"[19الف]

په هر حال، وروسته د ولايت مرکز او د فراموز خان باغ کې د فرقې مرکز ووېشتل شو او والي نظيف الله نهضت او د فرقې قومندان سيد مکرم شاه له روسي مشاور سره په ګډه د انضباط په کاليو کې هوايي ميدان ته او بيا شينډنډ ته لاړل او ښار د پاڅون کوونکيو په لاس ولوېد. يواځې هغه حکومتيان او ګونديان ژوندي پاتې شول، چې "خود را بقوماندانی امنيه ولايت، ليسه زراعت، شفاخانه ملکی و تعمير سينما رسانيدند."[20] په دغه وخت کې جګړن شمشېر خان دغسې زړروتيا او وړتيا وښودله، چې ټولو ليکوالو ستايلې. ډګروال ساپی لا وايي، چې "مووړ ټول دده عقل او تدبير ته تسليم وو."[21] د محبس چارواکيو بې له مقاومت نه د محبس ورونه خلاص پرېښودل او "زر دولس سوه" بنديان ترېنه ووتل. په خلکو کې د خوښۍ څپه خوره شوه، که څه هم په زرګونو خپلوان او وطنوال يې له منځه تللي وو. دا د شنبې ورځ د کب 26مه او د مارچ 16مه وه. دغې پېښې په اړه په هرات، کابل او مسکو کې ټينګ غبرګون وښودل شو، چې زر به يې بيان کړم.

د حکومت په وړاندې د ملکيانو او نظاميانو دغه پېوستون او بې ساری بری خلک نور هم په هوډ ټينګ کړل. پېوستون هغه وخت نور هم ټينګ شو،

چې د فرقې ټولې سپکه او يو څه درنه وسله په خلکو ووېشل شوه. وسلې په څلورو مرکزونو کې په خلکو په پوره نظم سره ووېشل شوې او د وسلو ډيپوګانې تشې شوې. وسلې حتی د فراه او بادغيس هغه مخورو ته هم ورکړل شوې، چې رابلل شوي وو. د هرات ښځو ته هم د "اتلسو زرو ميلو" په شاوخوا کې ټي. ټي توپنچې ورکړل شوې[22]. د يادولو وړ ده، چې د اسلامي تنظيمونو مجاهدينو، چې په کال 1992 کې د نجيب الله د حکومت له نسکورېدلو نه وروسته کابل ونيوه، وسلې او نور دولتي مالونه يې غصب کړل او د وسلو په سر يې سوداګري او جنګونه هم وکړل، خو په هرات کې دغو پوځي افسرانو وسلې په خلکو ووېشلې. معلومه ده، چې دوی خپل ملي او اسلامي حرکت ته رښتين وو، چې هغه يې دمخه جوړ کړی او په شخصي کورونو کې يې پټې غونډې کولې. د جګړن شمشېر خان کور هم د دوی د غونډو يو مرکز و. داسې ښکاري، چې د ګونديانو زور زياتی او د پښتون زرغون وژنې هم عادي خلک او هم دغه افسران ډېر پارولي وو. پر هغه سربېره د شمشېر خان په قول "اوس خو ټوله مسئله د دين او خاورې ده" او ګونديان او حکومتيان "... اکثره زموږ د اصولو لا څه کوې، بلکې د دين او عامو خلکو د عقيدې او رسم و رواج لحاظ هم نه کوې."[23]

دغو مخالفو افسرانو دمخه مشر نه لاره، چې د هغه پر سروالي له پېښو او حکومت سره مقابله وکړي. ددې لپاره "د قيام په درېيمه ورځ د ملګرو له خوا په بست بابا کې يوه لويه پوځي جرګه جوړه شوه." تر دې وخته درېيو افسرانو نوم اېستلی وو او د مشرۍ لپاره په نظر کې وو. ډګروال مير علم ساپی د 33م غونډ قومندان جګتورن نور محمد د ارکان رييس او جګړن بسم الله د توپچي قومندان په پای کې د رايو په اتفاق پرېکړه وشوه، چې مير علم ساپي يې چې تر ټولو

مشر و"د آینده جهاد مشر او کوماندان وي."[24]
لکه چې دمخه ویل شوي، جګتورن نور محمد او جګړن بسم الله په دغه پاڅون کې غټه برخه لرله. د مقاومت نوی نظامي قومندانان د غه افسران غوره شول: میر علم ساپی د فرقې قومندان، جګړن داود اپریدی د مخابرې بولندوی، جګتورن سردار پکتیاوال د 33م غونډ، جګړن شمشېر خان د دافع ټانک، جګړن وارث د 28م غونډ، تورن عبدالخلیل د دافع هوا او تورن نظر محمد پکتیاوال د توپچي، خوله مقاومت نه اخوا د دوی سیاسي او اصلي موخه معلومه نه ده. دا معلومه ده، چې د دوی په بري سره د کب له 26مې نه تر 29 پورې د پښتون زرغون، کرخ، غوریان، زنده جان، کهسان، کشک، مګران، ادرسکن او او به ولسوالۍ ګانې او د چشت علاقه داري یو په بل پسې د حکومت له کنټرول نه ووېستل شوې. له چاروا کیو نه څوک وتښتېدل او څوک ونیول شول او له مېنځه یووړل شول[25]. په دې ډول له ټول هرات نه د حکومت لاس لنډ شو او خلقي حکومت د لومړي ځل لپاره له یوه خطرناک ګواښ سره مخ شو.
دغه ګواښ ځکه خطرناک و، چې هرات د سرحدي سیمې په توګه له کابل نه لیرې او ایران ته نږدې و. بلکه دا چې کابل نه شو کولای غټه نظامي قوه هلته واستوي. د پوځ د سیاسي آمر اقبال وزیري په نظر "...دا وېره موجوده وه، چې که د هرات فرقې د اړو دوړ ځپلو لپاره له کابل څخه قطعات واستول شي، په کابل کې کومه توطیه ونه شي." د وزیري په وینا تره کي او امین په دې فکر شول، چې له "... شوروي اتحاد په پټه یو کنډک د مرستې په توګه وغواړي." عجبه یې لا دا ده، چې د دوی په فکر د غه کنډک دې د شوروي اتحاد د "اسیایي هېوادو له سرتېرو نه جوړ وي او د وظیفې له اجرا کولو نه "یو دوه ورځې" وروسته بېرته لاړ شي[26]. څومره خام او څومره

ساده فکر!.
عجبه ده، چې خلقي حکومت د خپلو یاغي خلکو د ځپلو لپاره له یوه زبر ځواک ګاونډي هېواد نه پوځي مرسته وغوښتله، هغه هم په خپلو شرایطو سره. د معاصر افغانستان په تاریخ کې دا لومړی ځل و، چې یوه برحال حکومت ددغسې مرستې غوښتنه کړې. دا هم یقیني نه وه، چې شوروي اتحاد به دغسې فرمایشي پوځي مرسته وکړي او که یې کړې وای ممکنه نه وه، چې په د غومره لنډې مودې کې یې خپل پوځ بېرته غوښتلی وای، په تېره هغه وخت چې په غالب احتمال ډېر سرتېري به یې وژل شوي وای. په داسې حال کې بیا طبیعي وه، چې شوروي اتحاد به له خلقي حکومت نه ډېر امتیازونه ترلاسه کړي وای، چې د افغانستان په خپلواکۍ به ناوړه اثر کړی وای. لکه چې زر به ولیدل شي شوروي اتحاد له دغسې مرستې کولو نه ډډه وکړه، خو د داخلي ګډوډۍ وضع د ارزونې لپاره یې شوروي نظامي هیئتونه افغانستان ته واستول او په دې ډول د افغانستان په چارو کې تر پخوا زیات دخیل شو.
د هرات ښار له سقوط نه دوه ورځې وروسته)مارچ 18(تره کي د شوروي اتحاد صدراعظم کاسګین سره له کابل نه په ټلیفون کې وغږېد. دا یوه ډېره مهمه تلیفوني غږېدا وه، په دې ډول چې تره کي لکه د یوه عارض په شان د خپل حکومت بدحال کاسګین ته وړاندې کوي او ورنه غواړي، چې "... په مېړو او وسلو سره ورسره عملي او تخنیکي مرسته وکړي" او که نه "... یاغیان به کندهار او بیا کابل ته مخه وکړي." دی دا هم ورته وایي، چې موږ کافي پوځ نه لرو او "ممکنه نه ده، چې له نورو ښارونو څخه هرات ته سرتېري واستوو، ځکه چې په دغه کار سره به زموږ وضع په نورو ښارونو کې ضعیفه شي." خو کوسګین ورته وایي، چې په دغه کار سره به "... په دوو ساعتونو کې ټوله نړۍ خبره شي

او هر يو به نارې سورې کړي، چې شوروي اتحاد په افغانستان کې لاسوهنه پيل کړې ده." سره له دې هم تره کی ورته وايي، چې "موږ تاجکان، ازبکان غواړو چې راواستول شي." دوی به په افغان يونيفورم کې وي او هېڅوک به يې ونه پېژني، چې دوی بهرنيان دي، خو کوسيګين ورته وايي، چې "... ته مسئله ساده خيال کوې، په داسې حال کې چې دا يوه پېچلې سياسي او بين المللي پرابلم دی." سره له دې هم کوسيګين دې نه خواشينی کوي او ورته وايي، چې په دې اړه به موږ سره مشوره وکړو او بيا به خپل ځواب درکړو(27).

د مارچ په شلمه امين د اقبال وزيري په ملګرتيا د کابل په عسکري کلب کې د شوروي اتحاد له دفاع وزير او ستينوف سره په ټليفون کې وغږيد. د خبرو موضوع بيا هم د هرات وه، خو او ستينوف وويل، چې ښه به داوي چې تره کی د خبرو لپاره مسکو ته راشي او هغه وه، چې "مازيګر وختي نور محمد تره کي په ځانګړې الوتکه کې مسکو ته سفر وکړ، چې لوی درستيز محمد يعقوب ورسره ملګری و(28)." تر هغو پورې د شوروي اتحاد لويانو فيصله کړې وه، چې نه غواړي افغانستان ته په دغه وخت کې خپل سرتېري واستوي، ځکه چې په دغه کار سره به له امريکا سره د سالټ_2 خبرې په ټپه ودرېږي، د بريژنيف او د امريکې ولسمشر جمي کارتر ليدل به ونه شي او له اروپايي هېوادونو سره به د شوروي اتحاد اړيکې خړ پړ شي او په عمومي ډول د ډېتانت يا د کړکېچ د دفع فضا چې په ډېر زحمت سره راوستل شوې ده، په يو ځل هوا وکړي. خو په عين حال کې دوی ټولو د باندنيو چارو وزير اندري ګروميکو له دغه نظر سره موافقه ښکاره کړې وه، چې "افغانستان بايد موږ هېڅکله له لاسه ورنکړو." نو دوی سره فيصله وکړه، چې له يوې خوا به

کابل ته وسلې او نظامي مهمات او سل زره ټنه اوړه ور کړل شي او د شبرغان د غاز بیه بیه په زر مکعب متر باندې له پېنځلسو روبلو نه 25 ته لوړه شي او له بلې خوا به د ایران او پاکستان حکومتونو ته اخطار ور کړل شي، چې د افغانستان په چارو کې له لاسوهنې نه ډډه وکړي.
په کابل کې حکومت دمخه څرګنده کړې وه، چې څلور زره ایرانیان په افغان جامه کې هرات ته ننوتلي او هلته یې ګډوډۍ ته پکی وهلی دی. د شوروي اتحاد حکومت هم په همدغه نظر و. ګرومیکو لا ویل، چې د ارامي ګډوډونکي "د ایران او پاکستان له ملکونو نه استول شوي دي، ددې لپاره، چې په افغانستان کې یې ځانونه پټ کړي وي، په افغان جامه کې ښکاره شول او د غه بغاوت یې وهڅوه." هغه دا هم وویل، چې "دغه ټولې پېښې نه یوازې په افغانستان کې، بلکې په ګاونډیو حکومتونو کې د چین په ګډون د امریکې په دستور ترسره کېږي." لا مهمه دا ده، چې کوسیګین په تره کي او امین هم شکمن و. خپلو ملګرو ته یې کړه، چې "تاسې ممکن هرڅه ووایئ امین او تره کی یو شان له موږ نه رښتیني وضع پټوي. موږ اوس هم په دې نه پوهېږو، چې په افغانستان کې په رښتیا څه پېښېږي؟" د دوی دغه شک له دې ډډې نه هم و، چې تره کی په داسې حال کې، چې د کندهار او کابل له احتمالي سقوط نه هم اندېښنه ښکاره کړې وه، امین د هغه پرخلاف ګرومیکو ته ډاډ ور کړی و، چې د افغانستان وضع ښه ده او له باندې نه خطر نشته(29).
سره له دې هم نه شوروي لویانو او نه د خلقي حکومت سرانو د دوستۍ هغه تړون یاد کړ، چې د دوی ترمنځ دمخه شوی او پکې ویل شوي و، چې په هغه حال کې به په مشوره له یو بل سره نظامي مرسته کوي، چې له باندې نه پرې تجاوز شوی وي. دوی ته هم معلومه وه، چې دغسې تجاوز په هرات باندې نه دی شوی، که څه هم دغسې پروپاګند یې

کاوه. ایران ممکن د هرات په ناارامۍ کې تحریکات کړي وي.
د مارچ په شلمه د شوروي اتحاد څلور لویان)کوسیګین، ګرومیکو، اوستینوف او پانو ماریف(له تره کي سره په ګډه ولیدل. له بریژنیف سره ترکي بیل ولیدل. د معمول په شان د خبرو مزی له کوسیګین سره و. هغه سمدلاسه تره کي ته ډاډ ورکړ، چې د افغانستان له دموکراتیک جمهوریت سره د شوروي اتحاد دوستي مشروطه او د لنډې مودې لپاره نه ده، بلکې "د عصرونو لپاره سنجول شوې ده." تره کي ته یې دا هم وویل، چې "موږ به په ټولو ممکنو وسیلو سره مرستې در چالان کړو. و سلې، مهمات به در واستوو، خلک به درولېږو چې د هېواد ملکي او پوځي چارو په اجرا کې به درته ګټور وي. ماهران به درواستوو، چې د ډېرو عصري ډولونو وسلو او نظامي ماشین په استعمال کې ستاسې نظامي کدرونه وروزي." د پوځي مرستې په اړه یې خپل پخوانی نظر په دغو الفاظو کې بیا ورڅرګند کړ: "په افغانستان کې زموږ د قوتونو پر ځای کېدل به سمدلاسه بین المللي ټولنه وخوځوي او څو اړخیزې ناوړې نتیجې به تولیدې کړي. دا به په واقع کې نه یواځې له بین المللي ټولنې سره جنګ وي، بلکې د یوه چا له خپلو خلکو سره به هم جنګ وي. زموږ ګډ دښمنان بس دغې شیبې ته سترګې په لار دي، چې شوروي قوتونه په افغانستان کې ولیدل شي. دا به دوی ته پلمه په لاس ورکړي، چې د تاسې مخالف قوتونه ځای پر ځای کړي." کوسیګین دا هم وویل، چې "که زموږ پوځونه ننوتل، وضع به ستاسې په ملک کې نه دا چې ښه نه شي، بلکې لا به خرابه شي. څوک له دېنه انکار نه شي کولای، چې زموږ سرتېري به نه یواځې له بانډنیو تېري کوونکیو سره وجنګېږي، ستاسې د یوې برخې له خلکو سره به هم وجنګېږي او خلک دغسې څه نه بښي. په دې سربېره همدا چې

زموږ سرتېري له پولې نه واوښتل، چين او نور تېري کوونکي په تبرئه شي." کوسيګين تره کي ته ډاډ هم ورکړ، چې حکومت به يې د افغانستان په ګاونډيو هېوادونو کې د افغانستان په اړه له خپل نفوذ نه کار واخلي، خو " افغانستان بايد له ايران، پاکستان او هندوستان سره د ښو اړيکو د ښه کولو په لور د هغو پلمو د له منځه وړلو لپاره کار وکړي، چې دوی يې ممکن په افغانستان کې د لاسوهنې لپاره لري." تره کي بيا کوسيګين ته له خپلې وفادارۍ نه هغسې ډاډ ورکړ، چې لکه يو مريد خپل پير ته د زړه له اخلاص نه ورکوي "موږ به له هېڅ چا سره هغومره نږدې نه شو لکه چې تاسو سره يو. موږ له لېنن نه زده کړه کړې او لا هم ترېنه زده کوو." کوسيګين بيا ورته دا زېری ورکړ، چې موږ به له زغرورو وسيلو سربېره ځلور هليکوپتره او نور مهمات هم وړيا درکړو، لکه چې دوه ورځې دمخه مو دوه MI-8 هليکوپترونه او نور مهمات دراستولي دي. تره کي د باندني تېري په مقابل کې "ضمانت" هم غوښته او ويې پوښته، چې "که له باندې نه په موږ تېری وشو، تاسې به څنګه عمل وکړئ؟" د کوسيګين ځواب دا و، چې "موږ کوښښ کوو چې دغسې څه پېښ نه شي.[30]" تره کي بيا له بريژنيف سره د لنډ وخت لپاره وليدل. د بريژنيف په وينا تره کي "مسکو ته په يو څه پاربدلی حال راغی، خو د خبرو په وخت کې ورو ورو وغوړېد او په پای کې يې په ارامۍ او هوښيارۍ سره سلوک وکړ.[31]" شوروي لويانو تره کي ته دا هم ياده کړه، چې حکومت دې خپل چلند يو څه نرم کړي.

تره کی په بله ورځ وطن ته ستون شو او حکومت يې لکه چې زر به ولېدل شي، د شوروي اتحاد په الوتکو او هليکوپترونو او ورو وسيلو سره د هرات پاڅون وځپه، خو شوروي اتحاد له هغه

وروسته په افغانستان کې خپل شتون نور هم ټینګ کړ او په دې لټه کې شو، چې پرچمیان له خلقیانو سره په حکومت کې شریک کړي. که شورویانو د هرات پاڅون په ځپلو کې مرسته وکړه، لکه چې په بل څپرکي کې به یې بیان وشي، د سر په خلقیانو کې یې اختلاف هم خلق او ټینګ کړ او په دې ډول یې له خلقي حکومت سره د مرستې په نامه افغان سیاست په ژول ډول متاثر کړ.

دمخه ویل شوي، چې د هرات د فرقې له پاڅون نه وروسته د امنیه قومندانۍ له ټینګ حصار او یو څو نورو ځایونو پرته ټول ښار د پاڅون والو لاس ته ورغلی او حکومتي لوړ چارواکي د شین ډنډ هوايي ډګر ته تښتېدلي وو. دواړو خواوو ته له جنګ کولو او وژلو پرته بله لار نه وه پاتې او حکومتي لویان اندېښمن وو، چې که پاڅون زر ونه ځپل شي، ممکن نور ولایتونه یې هم له لاسه ووځي، نو حکومت پخوا له دې چې له شوروي نه یې نظامي مرسته ترلاسه کړې وي، په پوځي عملیاتو لاس پورې کړ. "روز دوشنبه 28 حوت از سر شب تا صبح تانک ها از قندهار وارد وادی هرات میشود... این منافقان با بیرق های سفید می آیند... مسلمانان پاک طینت... با ستقبال این قوا... می شتابند. به مجرد نزدیک شدن این قوا به زلمی کوت شش تانک... آن ها.... بوسیله قوای مسلح مسلمانان زلمی کوت به اتش کشیده می شوند."(32)

د ډګروال میر علم ساپي روایت تر دغه روایت یو څه توپیر لري. دی وایي، چې د کندهار د قوې په راتګ موږ خبر وو "موږ لا په چاونۍ کې وو، چې د کندهار مجهزه عسکري قوه راورسېده او په تعرض برید یې شروع وکړ... موږ هم د هغو سره د مقابلې ترتیب او تیاری نیولی وو. پوره درې ورځې] موږ[جګړه ور سره وکړه. الوتکو هم د دوی په ملاتړ بمباري کوله، خو دوی بیا هم شکست وخوړ، وتښتېدل... ددې قوې د شکست نه وروسته

سمدستي د پلچرخي په له مجهزه قوه راورسېده... د ځلورو ورځو خونړۍ جګړې نه پس دوی هم وتښتېدل. له دې قوې سره هم د الوتکو ملاتړ وو. په دې وجهه موږ هم ډېر تلفات ولیدل.[33]" ساپی بیا وايي، چې "روسانو... خپل کماندو پوځ هم د هرات د چاونۍ په برخه کې د الوتکو نه د پرا شوت په ذریعه پیاده کړ او چېر ته لیرې به یې په غونډیو کې مورچل ونیوه. زموږ چې به ځوک بهر وو تل، دوی به په نښان کې راو ستل او و به یې وېشتل." په پای کې دده په وینا "موږ په محدودو وسلو دومره کار وکړ، چې د روسانو کماندویي پوځ مو هم وارخطا کړ او په شکست یې شروع وکړه.[34]"

د شوروي له کوماندوګانو نه په هرات کې کار اخیستل د شوروي لویانو د وینا پرخلاف وه، خو ساپی د هغو دیسانټ (له هوا نه ښکته کېدل) او د قیام کوونکو پرخلاف د هغو عملیات په غوځه توګه یادوي.

په هر حال، د هغه په وینا شورویانو بیا له جنګي "وچت ماډل" الوتکو نه کار واخیست او په چاونۍ یې بمباري پیل کړې، خو ځنګه چې د ساپي ملګرو د چاونۍ په شاوخوا غونډیو باندې جګ خولي توپونه لګولي وو، د شوروي "خورا ډېرې الوتکې" راوغورځول شوې. نورې الوتکې بیا دومره هسکې الوتلې، چې د توپونو ګولۍ نه وررسېدلې. دغو الوتکو به چې "بم راوغورځاوه، یا به په هوا کې منفلق شو او یا به د هوا د فشار په وجه د چاونۍ (نه) بچ په کوم بل ځای کې وغورځېد، خو چې بم به په ځمکه ولګېد، په ځمکه کې به پېنځه ویشت متره ژور ښخ شو او بیا به یې انفلاق وکړ، تر دې چې په شاوخوا ځمکو کې به اوبه راوخوټېدې." دی اضافه کوي، چې "په هرات کې چې د سر او مال څه نقصان پېښ شوی، د همدغې الوتکې د ګولې مارۍ په وجه دی.[35]"

یوسفي هم د ساپي د وینا په ملاتړ وایي، چې که څه هم د همدغو الوتکو له امله مجاهدین "از اطراف شهر و زلمی کوت از نواحی قریه شاطر، شیدایی و دامنه تخت صفر محاصره [شدند] باز هم نیروی دشمن در فراز زلمی کوت مواضع قوای عسکری مجاهدین قهرمانان براحتی پرواز کرده نمیتوانستند چه شدیداً مورد اصابت قوای دافع هوایی مبارزین قرار میگرفتند." له بلې خوا وزیري وایي، چې "د هرات فرقې ته د ټانکونو په رسېدو سره د انقلاب ضد عناصر وتښتېدل او د فرقې او د هرات د ښار کنټرول اعاده شو." د عملیاتو لپاره له کابل څخه د پاراشوټ له کنډک نه سرتېري او د دوو ټانکونو لپاره د شوبلو د څلورمې او پېنځلسمې لوا ګانو څخه یوه یوه عمله هرات ته رسول شوې وه، د توپچې ریاست رییس انځرګل په مشری[37].

په هر حال، د غه عملیات به ښه شدید وو، چې زلمی کوټ پوره وران شوی. د روایتونو له مخې ښار او فرقه له شپږو ورځو نښتو نه وروسته د حکومت لاس ته ورغله، خو نښتې لا هم روانې وې. له هغه وروسته د مقاومت افسرانو چریکي یا نامنظم جنګ ته ملاتړ له او دد غه مقصد لپاره یې یوویشت ډلې جوړې کړې، چې د "هر ګروپ تعداد څلوېښت تنه وو." په دغه لړ کې تورن "محمد اسماعیل خان د ملګرو په سلا مشوره ګلران ته لاړ او هلته په امور د جهاد سر شو."[38] څنګه چې دی په اصل کې د هرات یا شینډنډ اوسېدونکی و، چریکي جنګونه یې په هغه وخت کې او هم وروسته د یرغلګر شوروي پوځ په مقابل کې په مېړانه پرمخ یوړل، خو نور افسران د چریکي جنګونو له نابریالي توب نه وروسته یا په جنګونو کې ولوېدل، یا له هرات نه ووتل. د ښار له سقوط نه ورسوته غټه نښته شاید هغه وي، چې د پل پښتون په برخه کې د یوه کنډک حکومتي سرتېرو او دغو افسرانو ترمېنځ وشوه. د ساپي

په وينا په دغې جګړې کې "پېنځه اتيا تنه مو د مقابلې خوا مړه کړل. زموږ يو غازي ورور شهيد شو او بل سخت زخمي شو."[39] زخمي همانغه نامتو ګل محمد تيزاني مشهور په ګلکي و، چې ايران ته د وړلو په لار کې مړ شو. مؤلف عبدالعلي احراري هم کښلي، چې "مردم با استفاده از اسلحه غنيمتی که از ذخاير اسلحه فرقه 17 بدست اورده بودند، کميته های چريکی در گوشه و کنار قرا و قصبات تشکيل دادند و جبهه مقاومت را پديد اوردند."[40] له همدې امله به هم و، چې حکومت حتی په ښار باندې حاکميت زر جاري کولی نه شو او د پاڅون افسران لا هم پرې لاس برې وو. ساپی وايي، چې د جنګونو له امله "خلقي دولت او په خاص ډول د هرات ولايت او چاونۍ ډېره زياته کمزورې شوې وه. هره شپه مو روسان او روس نوازان له کورونو نه راايستل او اسلامي محکمې ته مو سپارل." دی زياتوي، چې "په دغه کال د هرات سپي څاربه شوي وو." د ښار امنيت د مجاهدو په لاس وو او دوی د پوليسو په تانو کې اړولي وو.

حکومتي چارواکيو هم له خلکو سره زيږ چلند کاوه او د نوي والي عبدالحی يتيم په مشرۍ يې په انتقام لاس پورې کړ. هر هغه څوک ځپل کېده، چې يې په پاڅون کې برخه اخيستې وه، يا يې له پاڅون والو سره مرسته کړې وه. د يوسفي په وينا "مردم و اهالی هرات دسته جمعی از کوچه و بازار دستګير و رهسپار زندان ميګرديدند. قوای ضربه با تانک و توپ هرات را محاصره نمودند و [کسی] را که در ميیافتند، به سلول [زندان] می انداختند. اين حالت اختناق در دوازده ولسوالی و علاقه داری هرات مرد افرين ادامه داشت."[41] د کليو او بانډو لويان هم نيول کېدل او له مېنځه وړل کېدل. د هرات په کوڅو کې جسدونه يو ځای بل ځای پراته وو، ډېرو ښاريانو ځپل مړي

په خپله ښخ کړل او نور ډېر جسدونه په موټرونو کې د فرقې شمالي خوا کې د يوې غونډۍ شاته په دوو چولونو کې واچول شول او خاورې پرې واړول شوې. د ښار کوڅې او سړکونه تر دې حده په وينو ککړې وې، چې بې له پاکېدو نه کېده او پاکې شوې.

دا چې په دغو ټولو نښتو کې به څومره افغانان وژل شوي وي، معلومه نه ده. تراوسه پورې د غه موضوع چا څېړلې نه ده، که څه هم د انسان ژوند ته بايد تر هرڅه زيات اهميت ورکړل شي. د تلفاتو په اړه اټکلونه ډېر دي، خو هغه ډېر سره توپير لري. د هغه وخت والي نظيف الله نهضت د يوه رسمي راپور له مخې ليکي، چې "د هرات په ولايت کې د فتنې له پيل څخه په اولسمه فرقه باندې د دولت تر واکمن کېدلو پورې 320 تنه وژل شوي دي."[42] دغه شمېرنه دغومره لږه ده، چې هغه حتى د شوروي اتحاد د باندنيو چارو وزير اندري ګروميکو ته هم د منلو نه ده، چې وايي د فرقې د يوې برخې په ياغي کېدو سره نښتې وشوې، چې "تلفات يې ډېر وو، له زرو نه ډېر پکې ووژل شول."[43] دی "د فرقې د يوې برخې د ياغي کېدلو" د نښتو په نتيجه کې له زرو نه زيات تلفات ښيي. په يوه حساب حتى په خپله حکومت هم دغه شمېرنه ردوي، چې وايي "نږدې څلور زره تنه ارتجاعي او انقلاب ضد عناصر، چې د افغانانو په جامو کې افغانستان ته [رااستول شوي وو د [دموکراتيک جمهوريت د امنيتي قواوو او د هرات د زيار ايستونکيو خلکو له خوا په کلکه وټکول شول."[44] د هغه وخت د فراه والي الله داد طوفان د صدارت په محبس کې ددغه پاڅون تلفات ماته دولس زره و ښوول. له بلې خوا غېر حکومتي خوا اټکلونه هم ډېر سره متفاوت او هم له حد نه او چت ښکاري. يوسفي د ټولو تلفاتو شمېر د پېنځه وېشت او شپږ د پرش زره ترمېنځ او د ثقافتي شورا ليکوالان يې پېنځه ويشت زره

ښيي[45]. د هرات په پاڅون کې د هېڅ لوري کسانو د بل لوري د کسانو په وژلو صرفه نه ده کړې، په هېڅ لیکنې کې نه دي ویل شوي، چې یوې خوا به د بلې خوا کسان بندي یا یرغمل کړي وي. دا هم معلومه ده، چې د پاڅون په وروستیو شپږو ورځو کې وژل، زخمي کول او ورانول په خاص ډول شدید وو او پاڅون هم چې له پښتون زرغون نه پیل شوی و، درې اونۍ دوام کړی و او څنګه چې د پاڅون په اولو ورځو کې ګوندیانو او امنیتي چارواکیو د ښار له ستراتیجیکي ځایونو نه له ټانکونو نه په روانو ګڼو خلکو باندې ګولۍ چلولې او حکومتي او شوروي الوتکو په تېره د فرقې له پاڅون نه وروسته په سرتېرو باندې بمونه غورزول، تلفات به یې حتمي ده چې ډېر وي او څنګه چې په دغه پاڅون کې له شمېر نه وتلو افغانانو ګډون کړ و، د وژل شویو او ټپي شویو شمېر به هم له حساب نه وتلی او ډېر وي. ددغومره ډېرو افغانانو وژنه په خپل ذات کې یوه غټه تراجیدي ده، خو دا یواځینۍ تراجیدي هم نه ده. حکومت له هغې نه د عبرت درس هم وانخیست، نه یې له خلکو سره خپل چلند نرم کړ او نه یې د پاڅون په اړه تحقیق وکړ. بس په دې یې بسیا وکړه، چې پاڅون په اصل کې د څلور زره ایرانیانو کار و، چې په افغان جامو کې هرات ته ننوتلي وو.

د هرات د پاڅون لاملونه دمخه ښودل شوي دي، خو د پاڅون په بهیر کې نه حکومتي چارواکیو او نه د مقاومت افسرانو د ټاکلې کړنلارې له مخې عمل وکړ. په دواړو خواوو کې هېڅ چا کوښښ ونه کړ، چې لانجه په خبرو سره هواره کړي. هرې خوا بری د مقابل لوري په ځپلو کې غوښته. په دغه کار کې د مقاومت افسران سره یو موټی او حکومتي چارواکي سره بې اتفاق وو. والي نظیف الله نهضت له قومندان د فرقې سید مکرم سره، چې تورن و او له سیاسي آمر رسول سرده سره تر دې

حده وران وو، چې د پاڅون په وخت کې یې هم سره د زړه همکاري و نه کړه. نهضت لا هغوی په دې، چې شین ډنډ ته تښتېدلي وو، د محاکمې وړ ګڼل (46). په دغه ټول اړ و دوړ کې حکومتیان او ګوندیان بې روحیې، چوپ او له دفاعي ځواب نه لوېدلي وو. دا به له دې امله هم و، چې د ساپي په وینا "د هرات والي او ځینې نور غټان زموږ سري وو، خو په ښکاره د حکومت سره وو. نو موږ په دې وجه هغوی ته هېڅ ونه ویل. (47)" له بلې خوا د مقاومت افسرانو که څه هم سخت فعالیت وکړ، د عمل کوم ټاکلی پلان نه درلود. د پاڅون په اړه ټول لیکوال په دې نظر دي، چې که د غو افسرانو د کوم ګوندیه مشر په لار ښودنه او د کوم ټاکلي پروګرام له مخې عمل کړی وای، لږ تر لږه خپلې غوښتنې به یې په حکومتیانو باندې منلې او د ډېرو وژنو مخه به یې نیولې وای. ددغه کار لپاره دوی وسایل هم لرل. د فرقې ټوله سپکه او درنه وسله د دوی لاس ته ورغله او دوی له هغو نه په کار اخیستلو کې ماهران هم وو. داسې ښکاري، چې دوی د پاڅون مشرۍ ته تیار نه وو او پېښو سمدلاسه د پهلوانۍ هر کارې ته ټېل و هل. د حکومتي چارواکیو بله غټه ستونځه په هرات کې د کافي ملاتړ نه لرل وو او دوی هغوی په خپلو زیړو او شډلو کړو سره سخت پارولي وو. د احمد شاه فرزان په وینا "حزب تا تاریخ 7 ثور 1357 به جز چند نفر شناخته شده طرفداری در هرات نداشت... از ان پس هر کس در ان حزب نامنویسی میکرد میتوانست صاحب پست و مقامی شده نسبت بدیگران برتری و امتیازی داشته باشد. (48)" په کابل کې هم د ثور له کودتا نه وروسته ډېر کسان په ګوند کې ننوتل، دوی بیا د "ثوریانو" په نامه یادېدل. په هرات کې ځوانو ګوندیانو چې د هورا په ویلو سره پارونې کړې وې، د پاڅون په وخت کې یې مرسته کولی و نه شوه. په دغه حال کې ګوندي او حکومتي چارواکي د پاڅون

والو په مقابل کې يې واځې پاتې شول، خو داد حکومت او شوروي هېواد هواي قوتونه وو، چې پاڅون کوونکي يې وځپل او هغوی يې بېرته په واک کړل، خو د هرات د خلکو او پوځي فرقې پاڅون "... جرقه های اغتشاش را بین اردوی افغانستان پخش نمود" او "... بزودی سرمشقی شد برای قیام های مردم بادغیس، جوزجان، سمنگان و در مکاه ثور مردم غور وغیره.(49)"

د دره صوف پاڅون

دره صوف د سمنگانو د ولايت دره د 1357 کال په لړم کې يانې د هرات له پاڅون نه دمخه، خو د هرات په شان د لويانو د زده کړې د کورس په اړوند د خلکو د پاڅون او مرگ ژوبلې دوام لرونکی ډگر شو. د يوه ښوونځي خلقي سرمعلم عبدالخالق)ازبک(د خپل نيايي نکندې او لور هم مجبور لوې، چې د ليک لوست زده کړې په کورس کې گډون وکړي. دی د خپل نيايې له لور سره دواده کولو په طمع هم و. نيايې يې قربان بای په دغه کار راضي و، خو له دې سره مخالف و چې نکندې او لور يې کورس ته ورشي. زامن يې، چې له صحرا نه کور ته ستانه او په موضوع خبر شول، د خپل عمه زوی يې د هغه له چپړاسيانو سره ووا هه. عبدالخالق يو قاصد په اس سپور د ولسوالۍ مرکز ته واستوه او ولسوال ته يې چې د والي باجه و، خبر ورکړ چې د مسود د کلي)پخواني بابوقلعه(خلک ياغي شوي او غواړي په ولسوالۍ حمله وکړي. ولسوال سمدلاسه بې له دې، چې د پېښې په اړه يې دقيق معلومات ترلاسه کړي وي، له يو شمېر وسله والو کسانو سره د مسود کلي پر لور روان شو. قربان علي دغه وخت د کلي خلک سره ټول کړي و، چې د کشالې بنداوبست وکړي، خو ولسوال چې خلک غونډ وليدل، خيال يې وکړ چې ياغي شوي دي. په هغوی يې د

اور بل امر وکړ، د دواړو خواوو ترمېنځ نښته وشوه، چې په نتیجه کې ولسوال او د هغه ډېر ملګري او نور ووژل شول. په بله ورځ د مزار له د هدادي نه په ټانکونو کې حکومتي قوه ورسېدله. د دره صوف ناریننه غرو ته وختل، خو حکومتیانو یې په ښځو برید وکړ. ویل کېږي، چې ډېرې ښځې غرو ته وختلې او ددې لپاره، چې حکومتیانو ته په لاس ورنه شي او سپکې نه شي، له یوه کمره نه یې ځانونه لاندې وغورځول او تلف شوې. له دوی سره ماشومان هم وو، یو شمېر نورې ښځې او نجونې وروسته له هغه چې سپکاوی یې وشو، په تېره د هاشم دقیق سیغاني په امر ووژل شوې.

په ژمي کې بیا هلته قوه واستول شوه، چې یو شمېر خلک یې له مېنځه یووړل. د بل کال په ثور میاشت کې د نوي والي ساغر په امر د دره صوف خلکو ته جرګه واستول شوه او د روغې جوړې غوښتنه وشوه. خلکو ته وویل شول، چې حکومت حاضر دی د تاوانونو جبران یې وکړي، خو چې ارامي مراعات شي. د دره صوف خلکو د خپل یوه غوره شوي قومندان په مشرۍ جرګې ته دتپخواني والي الله داد طوفان او مستوفي هاشم دقیق سیغاني ظلمونه یو یو بیان کړل او په پای کې یې ورانديز وکړ، چې دوی حاضر دي د حکومت وړانديز ومني، خو چې طوفان او سیغاني دوی ته ورکړل شي. حکومت د غه کار نه کاوه. جرګه نابریالۍ ستنه شوه. له هغه وروسته له قندوز نه اټکل اووه زره عام خلک، چې زیاتره یې له بازار نه ټول شوي وو، دره صوف ته واستول شول. دوی ته ویل شوي وو، چې د دره صوف د خلکو سرونه د حکومت او ښځې او مالونه یې ستاسو دي، خو دوی ته د دواب خلکو ماتې ورکړه. په عین حال کې حکومتي الوتکو په سهو د غه خلک او حکومتي کسان تر بمبارۍ لاندې ونیول او ډېر یې ترېنه له مېنځه یووړل. بیا یوه غټه ملېشایي قوه له قندوز نه دره صوف ته او بله له پغمان نه

بامیانو ته په پورته وعدې سره واستول شوه، خو وروسته له دې چې ډېر تلفات یې ور کړل، په شا شول. دره صوف ازاد او د نصر سازمان تر واک لاندې شو.

د 1358کال په ثور کې په تاله او برفک باندې هم هغه سې برید وشو، لکه چې په دره صوف باندې شوی و. د تاله او برفک انساني تلفات د دره صوف تر تلفاتو هم زیات وو، که څه هم طوفان، مستوفي هاشم دقیق او سرمعلم عبدالخالق د سمنګان د ښار او د هغه د شاوخوا کلیو د مالونو په خپلولو، بندي کولو او وژلو تر دې حده وېره اچولې وه، چې ډېرو سمنګانیانو خپل کورونه پرې ایښي او له خپلو کورنیو سره کابل ته تښتېدلي وو(50).

د کونړ_نورستان پاڅونونه

په کونړ او نورستان کې د حکومت پر ضد پاڅونونه په یوه وخت کې او عمومي نه وو، خو په اوږدو او لنډو درو کې یې پاڅونونه ډېر او د اوږدې مودې وو، خو څنګه چې د هرې درې په دوارو خواوو کې واړه لوی غرونه ولاړ دي، پاڅونونه زیاتره محلي وو. په دغه حال کې حکومت ته ګرانه وه، چې په دغو درو کې خپلې نسکور شوې ولسوالۍ او علاقه دارۍ په پوځ سره بېرته فعالې کړي. دا ټول په دغسې حال کې، چې له بهسودو نه تر اسمار پورې د کونړ اوږده او لویه دره په ستراتیجیکي لحاظ ډېره مهمه ده. په کونړ کې ناارامي او د حکومت ناتواني په پېښور کې اخواني ډلو ته که څه هم په دغه وخت کې مهمې نه وې، ښه موقع ورکوله چې په ناارام کونړ کې نفوذ وکړي او خلک د حکومت پر ضد پاڅون ته وهڅوي. له دې امله حکومت د دغې سرحدي سیمې امنیت ټینګ نیوه او چارواکیو یې له خلکو سره له زور او شدت نه کار اخیسته.

لکه چې دمخه ویل شوي د کونړ_نورستان سیمه

له هغو سیمه څخه وه، چې په هما غه اول سر کې یې د حکو مت پر ضد مخالـفت کړی و. د دلاور سهري د یـــوه کتــابګوټي)جهـــاد در کنــر(لـــه مخـــې لـــه کود تـا نـه دوه میـا شتې ورو ستـه د کونړ پـه شیګل، موټي، ولـجي او نـورو کلـیو کې د یـوې وړې حـکومتې قـوې او "مجاهدانـو" پـه نښــتې ســره د نـــا ارامـۍ بلـــه لـــړۍ پیــل شـــوه. دغـــه نـ ښتې کـــه څـه هـــم وړې وې او انـ سانـي تلـفات یـې لـږ وو، خـو د حکومتـ یانـو د بـې رحـمۍ لـه امـلـه یـې خـلـک سخت و پـا رول، پـه تـېره چې خـلـک لـه کلـیو نـه مر کزي نـور ستـان تـه کډه شول او چاروا کیو د کلـیو سر کـ سان ونـیول او د نـنګلام پـه لوی کـلـي کې یـو حـکومتي افـسر پـه ر ښا ورځ ووژل شـــو. حکومــــت ددغـــې پېښــې پـــه ســبا د پـــېچ درې ولـســوالۍ تـــه یـــوه لـویــــه عســـکري قــــوه واســـتوله، د سـیمې خلــک وپـار ېدل او "... در بـرابـــر ایـــن مـــردم مجا هد منطـقـه بـه حر کت آ مده، جر گـه هـای جـ هـاد را در دهـــات فعـــال ســـاختند.[51]" لـــه هغــه وروســـتـه د سرطان پـه لـ سمه د مجا هدو او حـ کومتي قوې ترمېنځ نښـــته وشـــوه او لاســبرۍ د مجاهـــدو پـــه برخـــه شـــو. حکومـــت زر بلـــه قـــوه د پـــېچ ولســوالۍ مرکـــز تـــه وا ستولـه او د غې قـوې د نـنګلام پـه لـوی کـلـي بـا نـدې ودانګل. "قریـــه نـــنګلام را کـــه در حـــدود ســه هـــزار خانـواده بـود مـورد ا تش تـوپخا نـه قـرار داد و پس از آنـ که مـردم بـ یدفـاع قـر یـه را تـرک کـرد نـد، د شمن ان را اتش زد، بـــه خاکســتر یکســان نمــود.[52]" دغـــې قـــوې بـ یا د نـور ستان وایګـل دره کې عملیـــات پیـــل کړ، خو پـه شایـلام کې یـې مـاتې وخوړه.

د نـنګلام تـراجـ یدي هم پـه کونـړ، هم پـه نور ستان او تـــر څه حـــده پـــه ســیمې اثـــر وکـــړ. د سهري پـه ویـ نـا لـه پـ ېنځلس زره او سېدونـکیو نـه یـې یـو شمېر بـــاجوړ تـــه ولاړل، نـــورو یـــې د چـــلام او مســعود درو تـــه پنـــاه یـــووړه او مجا هدان یـې مرکـــزي نـورســـتان تـــه پـــه شـــا لاړل. ددغـــې تراجیـــدۍ بلـــه پایلـــه د کشـــالې د هواڕولـــو لپـــاره دیـــوې لارې لټـــول شـــول. دواړو خــــواوو قـــومي جرګـــو تــــه مخــــه وکــــړه، اول

حکومتي چارواکیو له شایلام نه "کلیو او قومونو" ته جرګې واستولې، خو سهري نه وايي چې د جرګو مشخص وړانديزونه څه وو؟ دغومره وايي، چې د غه جرګې په مقصد و نه رسېدلې. مجاهدو هم چې مرکزي نورستان يې خپل مرکز ګرځولی وو، هرې خوا ته جرګې واستولې. "از دره های مختلف ولایت کنرها دیوه ګل، بادیل، شوریک، چپه دره، دره مزار، دیووز، ساو، دره سین جرګه ها باهم دیدن کرد ند)و(باهم پیمان بستند و فیصله بعمل آوردند که علیه حکومت دست نشانده دهری به جهاد متوصل گردند.[53]" سهري دا هم نه وايي، چې دد غو جرګو مشر يا مشران څوک وو، خو له ليکنې نه يې معلومېږي، چې هغوی ځايي قومي کسان وو، نه کوم سياسي ګوند ته منسوب کسان.

په هر حال، د ننګلام له تراجيدۍ نه وروسته څه باندې درې مياشتې وضع په ظاهر کې ارامه وه. بيا مجاهدو د کلا علاقه داري ونيوله او د پېچ ولسوالۍ مرکز ته نږدې شول او يوځای بل ځای يې په حکومتي قوتونو باندې غلچکي بريدونه کول او مهمات او لوازم يې ترېنه نيول "جنګ های تنتيل، يوتی کوند، سره مرغه، پيرونی از جنگ های خونين در طول زمستان سال 1357 در دره موصوف ميباشد (و) در اين فرصت دشمن قتل عام مردم را براه انداخت.[54]"

د مجاهدو پرمختګ د 1358 کال له پيل نه څرګند و، دوی د ورې مياشتې په سر کې حتی د ولايت مرکز اسداباد په پېنځه کيلومترۍ وټه پور او پيرو کې په حکومتي قوې ودانګل او وي نيوله. "برای نخستين بار مجاهدين سلاح های سبک راکت، هاوان و توپ بتريه را با مهمات فراوان از دشمن به غنيمت گرفتند." دی دا هم وايي، چې "از سلاح های به غنيمت گرفته شده به ديوه ګل، پنجشير، بدخشان و حتی به لغمان هم داده

شد.[55]" تر دغه وخته پورې د مجاهدو مهمه وسله ده‌ن پر توپکونه وو، هغه هم په لږ شمېر. د پیرونې او مانوګي له سقوط نه ورسوته د پېچ ولسوالۍ مرکز هم د مجاهدو لاس ته ورغی او د جهاد مرکز و ټه پور ته نقل شو. په دې ډول د کونړ د ولایت مرکز د مجاهدو تر خطر لاندې راغی او پاڅون کوونکي د خپل حرکت په یوه نوي پړاو کې ننوتل.

په نورو کلیو او درو کې هم د حکومتي قوتونو او ځایي خلکو ترمېنځ نښتې شوي دي. په شلتن او شیګل کې که څه هم درنې نښتې نه وې شوې، خو د حکومتیانو له خوا د 1357کال په اوړي کې د ډاکټر شلتن په ګډون د یو څو تنو بندي کول او بیا له مېنځه وړل، په خلکو کې وېره پیدا کړه. ان تر دې چې د شلتن ماموندو باجوړ ته کډه وکړه، داسې هم د مروري دره کې چې هم د ولایت مرکز او هم د ډیورنډ کرښې ته نږدې پرته ده او هلته د خان غونډۍ په نامه یو کنډک عسکر ځای پر ځای و، نښتې و شوې. مجاهدو که څه هم د هغې درې علاقه داري ونیوله، خو د کنډک په نیولو کې پاتې راغلل. د مجاهدو غټ مشکل دلته دا و، چې دلته د حکومت قومي پلویان ډېر وو، خو د شین ګوړي مجاهدان لکه د باډېل او د ېوه ګل او مزار درې خلک د حکومت پر ضد وو. په ختیځ نورستان کې د باشګل یا بازګل په اوږده دره کې په تېره په بریکوټ او کامدېش او شاوخوا سیمو کې خلک د حکومت پر ضد هغسې ټینګ دریدلي وو، لکه د پېچ اوږدې درې خلک چې پاڅېدلي وو. د 1357کال د میزان په میاشت کې یې اول برګمټال علاقه داري او وروسته د کامدېش ولسوالي ونیوله او مجاهدو خپل مرکز بریکوټ ته نږدې په باغچه کې نقل کړ، خو حکومت هلته د سهري په وینا یو غونډ او د قومندان عبدالروف ساپي په وینا، له سرتېرو څخه یوه فرقه جوړه کړې وه[56] او بریکوټ یې له سقوط نه ژغورلی و. سره له دې هم د همدغه کال

په ژمي کې د سختو سړو سره په پتیکل، میردیش، کامو، دمنې، ګوهردېش او مندیش کې خونړۍ جګړې و شوې او د سلواغې په میاشت کې د ولسوالۍ مرکز کامدیش بېرته د حکومت لاس ته ورغی. مجاهدو بیا خپل مرکز له باغچې نه مندیګل ته نقل کړ. له هغه وروسته مجاهدو د مرکزي نورستان د ملاتړو په ملګرتوب د بریکوټ او کامدېش ترمېنځ په چریکي جنګونو لاس پورې کړ. حکومت که څه هم له هوایي بمباریو او نورو تدبیرونو نه کار اخیدست، پرمختګ کولی و نه شو او د کب په میاشت کې یې کامدیش هم پرېښود. د وري په میاشت کې د ختیځ نورستان نږدې څلور سوه مجاهدان د سین درې له مجاهدو سره یوه ګډه جبهه جوړه کړه او "چندین حمله بالای ناری و بریکوټ بعمل آوردند. شکری و انچگل دو پسته قوی دشمن تسخیر گردید." (57) دواړو خواوو درانده تلفات ورکړل، د همدغو نښتو له امله په سره ژمي کې خلکو چترال ته مخه وکړه، چې په لار کې "کودکان زیاد در نتیجه سرما جان های خود را از دست داده بودند و در نتیجه تاثیر سوء برق در کوتلهای بلند انگشتان دست و پای بسیاری از بین رفت." (58)

حکومت نور تدبیرونه هم ونیول، هم یې په خان غونډۍ، اسمار، بریکوټ او کامدیش او مانوی کې خپل نظامي واحدونه پیاوړي کړل او هم یې له نورګل نه د نرنګ تر علاقه داری پورې پنځوس پوستې واچولې او یوه ایله جاري قوه یې هم جوړه کړه. مهمه دا ده، چې حکومتي چارواکیو یو شمېر قومي لویان تر خپل نفوذ لاندې راوستل او "این بزرگان ضعیف النفس در بین قوم خود به نفع دولت پوشالی کار کردند." (59) خو څنګه چې له حکومت سره مقابله د قومونو وه، نه د ګوندونو، دوی خپل جهاد په جرګو سره پرمخ بیوه... "پس از قیام علیه تره کی در نورستان مرکزی و دره پیچ در دره های غرب و مرکز ولایت چون بادیل و دیوه گل جرگه های قومی برای سر و

سمان دادن مجاهدین به جنبش درامدند."[60] له دې سره جوخت د ګونديانو او حکومتيانو زور زياتى، چې څرګند مثال يې د ننګلام سوځول و، هم خلک د حکومت پر ضد و پارول. دا د خلکو په ملا تړ سره و، چې جنګياليو يې د 1358کال په پسرلي کې د پېچ اوږده دره ونيوله او وټه پورې يې خپل مرکز وګرځاوه او د ولايت له مرکز نه يې د ګونديانو او حکومتيانو په ايستلو لاس پورې کړ او ددغه مقصد لپاره د کېرالې په کلي کې ننوتل.

د کېرالي ټول وژنه

د کېرالي ټول وژنه په هېڅ اثر کې بيان شوې نه ده، په ځينو اثرونو کې يې په لنډه او اخباري ډول ذکر شوی دی. زه دغه پېښه، چې د 1379کال د اپريل په شلمه د جمعې په ورځ شوې، د هغو معلوماتو له مخې بيانوم، چې د څرخي پله زندان کې او په کال 2007 کې له محمد حسن شېرزاد نه ترلاسه کړي. شېرزاد په اصل کې د کونړ او د پېښې په وخت کې په کونړ کې و.

کېرا له د کونړ ولايت د اسدآباد له مرکز سره نښتې او د کونړ او پېچ درې سيندونو په مېنځ کې لوی کلی دی. اوسېدونکي يې ځايي خلک، حکومتي ماموران، معلمان او نور وو. مجاهدو د وټه پور کلي له نيولو نه وروسته فيصله وکړه، چې د ولايت مرکز اسداباد به هم ونيسي او له ټول ولايت نه به د حکومت لاس لنډوي، نو يې خپل وسله وال په پټه په کېرالي کې ځای پر ځای کړل. دوی د ولايت له ټولو قومونو څخه وو، مشواني او د کټار او ګمبير له کليو نه هم خلک پکې وو. ساپيان پکې تر ټولو ډېر وو. د نورو سيمو خلک او د اسلامي تنظيمونو جنګيالي پکې نه وو. حکومت، چې د پېچ اوږده دره د وټه پور تر کلي پورې له لاسه ورکړې وه، د ولايت په مرکز اسداباد کې يې لويه قوه د ېره کړې وه. انتوني

هایمن د هغو شمېر دوه سوه تنه سرتېري او شل تنه شوروي مشاورين شيي[61]، خو دغه شمېر له واقعي شمېر نه ډېر لږ دی. نورو سرچينو دغه قوه د عبدالحق عالميار په قومندانۍ يو غونډ ښودلی.
په هر حال، حکومتيان په کېراله کې د مجاهدو له ننوتلو نه خبر شول، کلی يې په سرتېرو سره محاصره کړ او ټوله شپه تر سهاره پورې ور سره وجنګېدل. څنګه چې مخالفان په جګه او حکومتي سرتېري په لاندې هواره کې وو، وروستيو ته درانده تلفات واوښتل. په سباوون کې د مجاهدو کارتوسونه او مهمات خلاص شول، خو دوی له کلي نه وتلی نه شول. ځينې يې په کورونو ننوتل او نور يې د غنمو په نږدې پټيو کې پټ شول. د ورځې په رڼا کې دوی ټول له کورونو او پټيو نه وايستل شول او د کلي له نارينه او ځوانانو سره په يوه ميدان کې په دې نامه غونډ کړی شول، چې چارواکي غواړي ور سره خبرې وکړي. همدا چې دوی سره غونډ شول، وسله والو سرتېرو په يوه دم پرې ګولۍ واورولې او ټول يې ستړې وتړې وغورځول او جسدونه يې په داسې حال کې، چې ځينې نيم ژواندي هم وو ، په لاريو کې په نږدې کندو کې واچول او په بولډوزرونو يا غاښه ورو سره يې خاورې پرې واړولې.
د کېرالې د ټول وژنې شمېر معلوم نه دی، تر څوارلسو سوو پورې يې هم اټکل شوی دی. په دوی کې څه بانډې شپږ سوه د کېرالې اوسېدونکي او نور له کټار، ګمبير او نورو ځايونو څخه وو. له دغې پېښې نه وروسته يو سل او څلور کونډې، چې له ځينو سره ماشومان هم وو، د اسمار له لارې باجوړ ته واوښتې. يوه ديني تاجک عالم، چې په دغه وخت کې په باجوړ کې و، په څرخي پله زندان کې قيصه کوله، چې ځينو ځايي خلکو غوښتل له هغو سره واده وکړي، خو د سيمې خان دوی بې ننګه وبلل او مانع يې شو. دا هم معلومه نه

ده، چې د غه ټول وژنه د چا په امر شوې ده؟ د نظامي پوځ قوماندان، لکه چې دمخه وويل شول، عبدالحق عالميار و. د ولايت په مرکز اسداباد کې په دم کلي يا چغه سرای کې د ټولو غونډونو د ارکان رييسان، والي نظام الدين، د امنيت قوماندان او څو تنه روسي مشاورين هم سره ټول شوي وو(62). له دوی سره يو اوپراتيفي يا عملياتي بلوک هم وو. د ننګرهار والي او د فرقې قوماندان بهرام هم له څو شوروي مشاورينو سره هلته ورغلی و. والي بهرام بيا په همغه شپه جلال آباد کې د افغان ملتيانو له خوا له مېنځه يووړل شو، خو د هغه له مېنځه وړل په مخالف جنګ سره نه و.

ددغې ټولې وژنې د تجويز ګوته شوروي مشاورينو ته نيول شوې ده، د کېرالې ټول وژنه په افغانانو کې بې ساري وه، خو روسانو ته هغه نوې نه وه. روسانو د کېرالې له ټول وژنې نه څه باندې سل کاله دمخه د مرو په ښار کې شپږ سوه ملکي ترکمنان د تجويز له مخې په دغه مقصد ووژل، چې د اطراف ترکمنان وويروي، چې له مخالفت نه لاس واخلي. د کېرالې ټول وژنه به هم په اصل کې د دوی په تجويز په همدغه مقصد شوې وي، خو په کونړ کې له دغې ټول وژنې سره سره د هغه په لنډو او تنګو درو کې مخالفت روان وو او د 1358 کال د اسد په دېرشمه د قوماندان عبدالروف ساپي په تدبير سره د اسمار له غرني غونډ نه د حکومت لاس لنډ شو او نږدې و، چې دغه قوماندان له هغه وروسته ټول کونړ ونيسي. د کونړ له ټول وژنې سره سره هم چارواکيو خلکو ته د خدمت نارې وهلې او خپل ګوند يې د "خلکو خدمتګار" باله.

د اسمار حېرانوونکي پېښه

اسمار د ډيورنډ د کرښې له ايستل کېدو نه وروسته تر پخوا لا مهمه ستراتيجيکي سيمه شوې وه، له اسمار نه د چترال، باجوړ، کونړ او نورستان په لور لارې تللې دي. د مقدوني لوی

سکندر دوه زره او درې سوه کاله دمخه د اسمار په لار باجوړ ته تللی و. د اسمار د خاص نظامي اهمیت له امله و، چې د برتانوي هند حکومت غوښته هغه په خپلې نفوذې سیمې کې راولي، خو د امیر عبدالرحمن د ټینګار له امله له دغه فکر نه واوښت. په هغه وخت (1892) کې سپاه سالار غلام حیدر څرخي له یوه لوی پوځ سره هلته دېره و، په دغه مقصد چې په باجوړ باندې د افغانستان نېغ حاکمیت جاري کړي، آسمار له باجوړ سره په هر لحاظ نژدې دی، په واقع کې اسمار د باجوړ یوه برخه وه. د اسمار اوسېدونکي سالارزي، ماموند او مشواني دي او د هغو زیاتره په باجوړ کې اباد دي. همدا اوس هم ځینې باجوړیان په اسمار کې د کر کیلې ځمکې لري. د همدغه اهمیت له نظره و، چې عبدالرحمن له وخت نه را په دېخوا په اسمار کې غټ نظامي پوځ دېره شوی دی. ددغې لیکنې د بحث په وخت کې ددغې قوې د اسمار غرني غونډ قومندان عبدالروف ساپی د تګاو اوسېدونکی و. ساپي ګوندي افسر نه و، خو څنګه چې دی یو لایق مسلکي افسر و، د ننګرهار فرقې د یوه ټولي له قومندانۍ نه د اسمار غونډ قومندانۍ ته ور سېد، چې په دغه وخت کې یې 3500 سرتېري او پېنځه او یا تنه خلقي او پرچمي افسران لرل. دی که څه هم ګوندي نه و، د شیګل په ټولي باندې یې د حملې په دفع کولو کې هم د مجاهدو او هم د حکومت اعتماد ګټلی و. څنګه چې ساپی دمخه په اسمار، بریکوټ او جلال آباد کې پوځي دندې تر سره کړې وې، د کونړ له نارامیو نه ښه خبر و او له جهادیانو سره یې په پټه مرسته کوله. د اسمار په غونډ کې یې افسران جلب کړي او د هغو له همکارۍ نه یې ځان داډه کړی و. ساپي او د غونډ غېر ګوندي او مخالف افسران د ننګلام په سوځېدلو، په هرات باندې د شوروي اتحاد بمباري او د کېرالې په ټول وژنې سره پارېدلي او د

حکومت په برابر کې په مناسب وخت کې عمل کولو ته په انتظار وو.
د اسمار د غونډ کنډکونه د غرو په ډډو کې پراته او د ټولیو قومندانان یې خلقي او پرچمي افسران وو. هر ټولي زیکو یکو نه، هاوانو نه، د مخابرو عصري وسیلې او نورې ډول ډول وسلې لرلې. د ټولو قومندانۍ په یوې څلور پوړیزې ودانۍ کې په دغسې یوې هسکې کې وه، چې درې خوا ته یې غرونه وو. قومندان ساپی له دغسې هسکې ودانۍ نه د خپل پلان په پلي کولو پیل وکړ، چې د هغه له مخې به خلقي او پرچمي افسران له منځه وړل کېږي. لومړنی تجویز دا و، چې دغه کوندي افسران په یوه پلمه په یوه ځای کې ټول شي او بیا له منځه یووړل شي. دغه پلان په دې رد شو، چې حکومت به زر خبر شي او غنډ به تر بمبارۍ لاندې ونیسي. د قومندان ساپي په دغه تجویز سره هم موافقه و نه شوه، چې هر ملګری افسر دې یو کوندي افسر د سرتېرو په ملګر توب له منځه یوسي، ملګرو یې د غه تجویز خطرناک وباله. خبرې په پټه روانې وې، چې په دغه وخت کې دوه سرتېرو د بندي کېدلو په وخت کې خلقي افسرانو ته وویل، چې "... ضابط قطعه شان به آنها گفته است که خلقی ها و پرچمی های داخل لوا از بین برده میشوند."[63] خلقیانو دغه ضابط ونیوه او هغه دوه تنه نور افسران ورپه ګوته کړل او په دې ډول درې تنه مخالف افسران خلقیانو ته په لاس ورغلل او موضع د خطر سرحد ته ورسېده.
په دغه حال کې قومندان ساپي که څه هم د عمل لپاره تیار نه و، مجبورشو د یاد شوي دویم تجویز د اړول شوي شکل له مخې عمل وکړي. دده په وینا "بتاریخ 30 اسد 1358 [اګست 20، 1979] ساعت چار عصر سه نفر از خلقی های بسیار قدرتمند را بدفتر خواستم. اینان عبارت بودند از آمر سیاسی، منشی سازمان و امر کشف

لوا.[63]" ده دمخه د قومندانۍ ساتونکیو ته هدایت ورکړی و، چې هغوی ماڼۍ ته د ننوتلو په وخت کې په عادي ډول بې وسلې کړي، خو د وتلو په مهال کې یې په زینو کې له منځه یوسي. ګونډي امران د قومندانۍ دفتر ته یواځې له توپنګچو سره راغلل او که څه هم د روژې میاشت وه، په چای څښلو او له قومندان سره په خبرو کولو بوخت شول. دوی له قومندان نه وغوښتل، چې د نیول شویو افسرانو د اقرار له مخې 27 تنه نور افسران د توطیې نیت لري او باید ونیول شي او دوی ته وسپارل شي. ساپي هغو ته د هغو افسرانو له سپارلو سره مخالفت وکړ، په دغه دلیل، چې " با در نظر داشت اوضاع و حالات اطراف و روحیه اسلامی که عساکر لوای اسمار از ان برخوردارند، اگر توطیه در کار نیز نباشد هم علیه شما دست بکار می شوند.[65]" هغه دا هم ور ته وویل، چې دغه افسران به جلال اباد ته واستول شي، چې هلته چارواکي چې څه غواړي، هغسې ورسره وکړي. خبرې اوږدې شوې، خو جوړه رانغله او خلقي افسران د مازیګر په پېنځه نیمو بجو په دغه نیت له دفتر نه ووتل، چې هغه 27 تنه افسران په خپله ونیسي او په جزا یې ورسوي، خو په زینو کې د ښکته کېدلو په وخت کې د ماڼۍ سرتېرو نصیر احمد او عبدالله په خپلو وسلو سره له منځه یووړل[66]. ډزې به بیرون اورېدل شوې وي، چې قومندان ساپي نژدې ځایونو ته زر خبر ورکړ، چې د وسلو پاکولو په وخت کې په خطا سره فیر وشو او نور خیریت دی. هغه بیا د دریم کنډک قومندان عبدالباقي او نورو له لارې د مخابرې او تلیفون مرکز په لاس کې ونیوه او د قرارګاه د ټولي قومندان یې له اصل موضوع نه او داسې هم له دېنه خبر کړل، چې د غو خلقي افسرانو غوښتل دی هم له منځه یوسي او "اینک وظیفه خودت است تا صاحبمنصبان خلقی و پرچمی را که من ذریعه تلیفون بدفتر فرا میخوانم، سر

به نیست کنی." هغه دغه ماموریت په خوښۍ سره ومانه، بیا هم د قوماندان ساپي په وینا "صاحبمنصبآن خلقی و پرچمی را که بداخل لوا بودند یکایک به نام آیذکه آمر سیاسی با انها کار دارد و راجع به وظیفه با انان صحبت مینماید، باین ترتیب بدفتر خواستم که در منزل پایان به جزای اعمال شان رسانیده میشدند.(67)" په دې ډول د قوماندان ساپي په قول "منصبداران خلقی و پرچمی در ظرف یکی دو ساعت در داخل لوا از بین برده شدند و نوبت تصفیه حساب بان عده صاحبمنصبان فرار رسید که در قلل شامخ مواضع داشتند و با اسلحه پیشرفته قطعات شان مجهز بودند." دی اضافه کوي، چې "گرچه مرکزیت آنان دیگر از هم پا شیده بود... با آنهم در موقفی قرار داشتند که میتوانستند با قدرت ناچیز کار بزرگی انجام دهند.(68)" ددغه ټولي خلقي قوماندان، چې تر ټولو زیات په یوه حساس ځای کې ده وه، د بې سیم مخابر په هدایت د یوه مخالف افسر له خوا له منځه یووړل شو. د هغه په له منځه وړلو سره د ګوندیانو د وژلو عملیه له پښې نه ووتله. د ساپي په وینا "به تمام شبکه های که تلیفونی و بگونه بی سیم با لوا رابطه مستقیم داشتند، علناً قومانده دادم تا تمام خلقی ها و پرچمی ها را از بین ببرند.(69)" په دې ډول پاتې خلقي او پرچمي افسران د شپې تر یوولسو بجو پورې له منځه یووړل شول، بې له دې چې هغوی ته د مقاومت موقع په لاس ورغلې وي.

ددغې بې سارې عملیې بریالی پای قوماندان عبدالروف ساپی په لوډ سپیکر کې اعلام کړ. په هغه سره سرتېري او افسران ډېر خوښ شول او هغو خپله خوښي د رسام ګولیو په پورته ویشتلو سره وښودله. د غومره ډېرې ګولۍ واورولې شوې، چې د شپې تیاره فضا دغومره روښانه شوه، چې په اسدباد کې والي نظام الدین هم ورته متوجه شو. په ټلیفون کې یې قوماندان ساپی په دې ملامت کړ،

چې "از یکطرف داد میزنی که مهمات نداری و از جانب دیگر با فیر مرمی های رسام فضای کنر را بروز روشن مبدل ساخته ایی." په ځواب کې یې وویل، چې "فیرها توسط اشرار صورت میگیرد که از چار طرف با ما حمله اورده اند." شایسته ځنډ وروسته یې والي ته په ټیلیفون کې ډاډ ورکړ، چې "حمله که بر لوای اسمار صورت گرفته بود، به عقب زده شد و حمله اوران شکست خوردند. اینک انان خود را تسلیم نمودند، امدن خودت ضرورت است تا با مردم دره از نزدیک ببینی و ضمناً مارشی نیز بخاطر این پیروزی اجرا شود." والي وعده ورکړه، چې سبا به په اوو بجو ورسېږي.

قومندان بیا د شاوخوا خلک هم پرې خبر کړل او هغوی، چې په دغه بري ډاډه او خوښ شوي وو، د سهاره شپږو بجو د غنډ په شپږ کیلومتری کې غونډ شول. والي نظام الدین له وعدې سره سم د سهار په اوو بجو په هلیکوپتر کې ځان ورسوه، خو همدا چې هلیکوپتر بېرته په هوا شو، والي نظام الدین هم له مېنځه یووړل شو. عجبه لا دا ده، چې همدغه هلیکوپتر "تا عصر هشت مرتبه به لوای اسمار پروازهای انجام داده و مهمات اورده اما از چگونگی رویداد بیخبر ماند."[70] په بله ورځ دغه هلیکوپتر بیا راکوز شو، خو دا ځل ونیول شو او جلال اباد ته خبر ورکړل شو، چې څنګه چې د هغې سیم له کار نه لوېدلی، بله الوتکه راواستوي. په دریېمه ورځ بله الوتکه له دوه انجنیرانو سره اسمار ته راغله او هغه هم ونیول شوه. په څلورمه ورځ بله الوتکه همدا چې د اسمار فضا کې ښکاره شوه، بېرته په شا شوه. دغه وخت حکومت د اسمار د غونډ له سقوط نه خبر شوی و.

د اسمار په غرني غونډ کې په دغه ډول د پېنځه او یا تنو ګوندي افسرانو له مېنځه وړل، فلمي یانې غیر حقیقي ښکاري، خو دغه بیان به

تر هغو پر ځای وي، چې د نورو معلوماتو له مخې هغه په بل ډول انځور کړای شي.

د قوماندان ساپي بل قدم د اسداباد او جلال اباد نيول او له ټول ننګرهار نه د خلقي حکومت لاس لنډول و. دغه هدف ته د رسېدلو لپاره ده کار هم کړی و او ډاډه و چې "در طول مدتی که من در جلال اباد و چغه سرای بودم با صاحبمنصبان و عساکر که از رژيم کمونستی حمايت مينمايند، خيلی کم اند... که در صورت براه افتادن قيام در يک قشله موازی با آن قيام ها در قطعات و قشله های ديگر نيز صورت خواهد پذيرفت." نو ځکه دی وايي، چې "بروفق نقشه ايکه من طرح نموده بودم، بايست در مدت سه روز چغه سرای بدست عساکر مسلمان لوای سوم اسمار فتح ميشد.[71]" ددې لپاره ده د پېچ درې، مرورې، دره سين او اسمار د مجاهدو قوماندانانو په ملګرتوب په مرکز باندې د يرغل پلان هم ترتيب کړ. د سهري په وينا "عبدالروف خان به صفت قوماندان عمومی حمله در صف جلوی عساکر و مجاهدين قرار گرفت. فير توپ های هاوان، و بتريه به مرکز ولايت آغاز يافت... با تاسف در اوانی که قوماندان مصروف عمليات بمرکز بود از عقب افراد دستوری حزب (اسلامی) و عناصر دشمن عليه قوت عسکری قوماندان قيام نموده فوه (و) را با پرسونل، مهمات و سلاح چور و چپاول نمودند. حرکت مجاهدين جهت گرفتن مرکز به ناکامی منجر گرديد، يک محشر غير قابل پيش بينی در منطقه برپا شد. نزديک بود جنگ داخلی رخ دهد. قوماندان مانع شد و خود را نجات داد و از منطقه بيرون شد.[72]"

په دې ډول که له يوې خوا د قوماندان عبدالروف ساپي په حېرانونکي او بې ساري تجويز او عمل سره بې له دې، چې يو ملګری يې هم تلف شوی وي، يوه مهمه نظامي قطعه د حکومت له

کنټرول نه وایښتل شوه او خلکو پرې جشن جوړ کړ، له بلې خوا "... چپاول قوه دګروال همانا سقوط دو باره منطقه بدست دشمن [حکومت] و وخیم شدن اوضاع و پائین آمدن مورال جهادی در آن بود."[73] که ساپی او ملګرو یې پېښځه اویا تنه ګوندیان ووژل، په دې نامه چې مسلماني یې پرې ایښې او زورواکي کوي، نورو دوی چور او نابریالي کړل، په دې نامه، چې دوی د هغو په شان مسلمانان نه وو. په هرې خوا کې د افغانانو په عقیدې او فکر کې تغیر راغلی، بې اتفاقي پیاوړې شوې او د ملي سیاست او ژوند په اړه کره ضد او نقیض شوی و. حکومت د اسمار د نظامي قطعې له سقوط نه په څلورمه ورځ او د خپل والي له وژل کېدلو نه په دریمه ورځ خبر شو. د غه حال د قوماندان ساپي د پاخه تدبیر او له خلقي نظام سره د خلکو او په خاص ډول له ګوندي افسرانو سره د غېر ګوندي افسرانو د ټینګ مخالفت قیصه کوي. د اسمار د غونډ سقوط نه یواځې د خلقي حکومت پرمخ دغسې سخته څپېړه وه، چې د تره کي او امین ترمېنځ یې موجوده بې اعتمادي نوره هم پیاوړې کړه، د وزیري په وینا "...دا موضوع د وطن د عال شورا په غونډې کې یاده شوه او تره کي صاحب هڅه وکړه، چې ددې پېښې پړه په امین واچوي او داسې ښکارېده چې دوی د هرې پېښې څخه د یوه او بل ملامتیا لپاره ګټه پورته کوي."[74] په نهایت کې د قوماندان ساپي او د قومي حرکت شنډتوب ددغې لوی حرکت پیلامه شوه، چې په هغه سره د عنعنوي ولسي پاڅون ځای ګوندي فعالیتونو ونیو او د افغان د مبارزو بڼه بدله شوه.

د پلخمري پاڅون

د پلخمري ښار خلکو د 1358 کال د ثور له دویمې کالیزې وروسته پاڅون پیل کړ. د پاڅون سملاسي محرک د ښوونځي یوه ښوونکې وه، چې و یل

يې وطن ته "كفر" راغلى دى. هغې ټوپک په لاس د غسې تبليغ كاوه، خلک پرې ودر ېدل چې حكومتي قوتونو او خلكو سره مقابله وكړه او دواړو خواوو ته ډېر تلفات واوښتل.
له پاڅون كوونكيو نه اټكل درې سوه ووژل شول او ښوونكي هم تر يوه ټانک لاندې شوه او له مېنځه لاړه، خو ددغې پېښې پايلې درنې وې. د بغلان والي محمد خان پيګير په امر هر پاڅون كوونكى چې امنيتي چارواكيو ته په لاس ور ته، له مېنځه وړل كېده. داسې هم موټروانان او د كابل_كندوز د لارې لارويان د ښاريانو په شان نيول كېدل. په دغه ورځ 450 كسان امنيتي چارواكيو ته په لاس ورغلل او د بغلان په شپږ ميلۍ فاصله كې د هاشم پله ته نزدې د جر شكن په نامه يوې طبيعي كندې كې څوک مړه او څوک نيم ژواندي واچول شول او خاورې پرې واړول شوې.
سره له دې هم د ثور د ميا شتې په نولسمه د ولسوالۍ مركز پرته تر دولسو بجو پورې ټول پلخمري د پاڅون كوونكيو لاس ته ورغې. دوى فكر كاوه، چې پاڅون هسې چې په پلخمري كې عام دى، په ټول هېواد كې عام شوى او حكومت نسكورېږي، نو دوى په خپل هوډ ټينګ ودر ېدل. ښار يې هم ونيو، حكومتي دفترونه يې چور كړل او ډېر ګوندىان او كاركران يې له مېنځه يووړل، خو په دولسو بجو كې د نهرين له فرقې نه د ذكريا هاشمي په قومندانۍ يوه غټه قوه ور سېدله او د پاڅون كوونكيو په نيولو او وژلو يې لاس پورې كړ. سرتېرو هر هغه څوک نيوه، چې يې نيولى شو. له كورو نو نه يې هم خلک وايستل او ټول يې د جر شكن په طبيعي كنده كې واچول او خاورې يې پرې واړولې. خلكو كندې ته د وړل كېدلو په وخت كې چيغې كولې، چې "اوه مسلمانانو! موږ ژوندي خښوي، خلاص مو كړئ." د قومندان ذكريا هاشمي په وينا، په دغې كندې كې 750 تنه او د يوه بل راوي په قول، 450 تنه اچول شوي دي. له پېښې

نه وروسته د ښار دکاندارانو خپل دکانونه د اعتراض په توګه وتړل، خو حکومتي چارواکیو مجبور کړل، چې بېرته یې خلاص کړي[75].

د چنداول پاڅون

چنداول د کابل ښار په تاریخ کې خاص مقام لرلی دی، نادر شاه افشار وروسته له هغه چې په 1738 کې یې د شاه حسین په سروالۍ د هوتکو واکمنۍ نسکوره کړه، د کابل له لارې یې د هندوستان د نیولو تکل وکړ. په کابل کې یې یوه قوه ځای پرځای کړه، د چنداول په نامه چې د قراول پرخلاف هغې قوې ته ویل کېده، چې شاته پر ته وي. دغه قوه له قزلباشانو نه جوړه وه. قزلباشان، چې د بېلو بېلو خېلونو یو ترکیب وو، په عمومي ډول په خټه ترکمن او په مذهب دولس امامي شیعه وو. قزلباشان په اصل کې د فارس د صفوي پاچایانو سر پرېکړي مریدان وو، چې په سرونو باندې د سور رنګه ټوکرو په تاوولو سره په دغه نامه یاد شوي دي. صفوي واکمنو په زیاته اندازه د دوی په قوت سني فارس په شیعه فارس بدل کړی و.

احمد شاه دراني نور قزلباشان هم پرې اضافه کړل. قزلباشان که په کندهار یا کابل کې وو، سدوزي واکمنو ته پوره وفادار وو، په تېره هغوی چې د غلام شاهي په نامه د هغو خاص پوځیان او محافظان وو. نور قزلباشان د منشیاتو او سر رشته دارانو او میرزایانو په توګه په رسمي دفترونو کې ننوتل. د کابل قزلباشانو اهمیت وروسته له هغه نور هم ډېر شو، چې کابل د کندهار پرځای په کال 1776 کې د دراني امپراتورۍ مرکز شو. دوی په خاص ډول تیمور شاه دراني او شاه محمود ته ډېر مقرب وو. د محمدزي واکمنۍ مؤسس امیر دوست محمد خو د دوی خوریه و. د هغه مور چې د کندهار د قزلباشانو د سپاه منصور له خېل نه وه، د هغه په روزنه کې یې له

خپل مېړه سردار پاینده محمد نه ډېره موثره وه. قزلباشانو د افغانستان په سیاست کې که څه هم په شمېر کې کم او یو وروستی مهاجر ولس دی، ډېر اثر کړی دی. خو دوی د افغان_انګلیس له لومړي جنګ نه وروسته په سیاسي لحاظ مخ په ځوړې شول. په دغه جنګ کې د دوی یو نامتو مشر خان شیرین د افغان غازیانو پر مخالفت د یرغلګرو خوا ونیوله او د افغانانو حساسیت ورسره زیات شو. په دویم افغان_انګلیس جنګ کې هم له دوی نه ډېرو له یرغلګرو سره مرسته وکړه او بیا د امیر عبدالرحمن په واکمنۍ کې دوی تر سخت فشار لاندې ونیول شول. سربېره پر دې، چې دوی له یرغلګرو سره مرسته کړې وه، په دوی تور ولګول شو چې د هزاره جات یاغیان یې چې له دوی سره په مذهب کې شریک دي، د حکومت پر ضد لمسولي دي. بیا نو دوی او داسې هم هزاره ګان اړ شول، چې خپل مذهب پرېږدي او سني شي. قزلباشانو د تقیې د اصل له مخې، چې د خطر په وخت کې له خپل مذهب نه تېرېږي، په ظاهر کې سني شول[76]، خو د امیر له مړینې وروسته قزلباشان بېرته د امامیانو په توګه څرګند شول.

قزلباشان د شلمې پېړۍ په نیمایي کې نور نو چنډول ته منحصر نه وو او د امنیت په ټینګېدو، د ښار په پراخېدو او په تېره د میوند جادې په ایستلو سره د ښار په نورو برخو کې مېشت شول. څنګه چې دوی په دغه وخت کې پوره فارسي ویونکي شوي وو، د ښار له نورو خلکو سره په اسانۍ محشور شول او خیښي یې هم ورسره وکړې. په همدغې پېړۍ کې دوی په خپلو تکیه خانو کې تبلیغ زیات او برلاس کړ، که څه هم د امام حسین په یاد په زنځیرونو سره ځانونه وهل، وینې کول او کړول یو عجب او د نه کولو کار دی. په عین حال کې څنګه چې په دوی کې د میرزایي عنعنه ښه ټینګه وه، په عصري پوهنې کې په زیات شمېر

ننوتل او مسلکي او عصري ماهران شول، خو ویل کېږي چې د حقوقو په پوهنځي کې یې زده کړه نه شوه کولی. په نتیجه کې په دوی کې د ثور د کودتا په وخت کې هم مذهبي واعظان او هم مسلکي ماهران، ملي شخصیتونه او حتی پوهاندان کم نه وو. که څه هم له خلقي حکومت سره دوی جوړ نه وو، بیا هم تر ډېره وخته پورې په ظاهر کې ارام وو. د دوی او حکومت ترمېنځ روانې وروسته له هغه څرګند شوې، چې د هرات د پاڅون په وخت کې د ایران یوه مذهبي مشر ایات الله شریعتمداري د خلقي حکومت پرضد تبلیغ پیل کړ او حکومت د دوی یو شمېر نومیالي د انجنیر محمد اکرم پروننتا او انجنیر محمد شریف پرونتا په ګډون ونیول[77]. خلقي حکومت په دې فکر و چې څنګه چې دوی نه یواځې په مذهبي چارو کې، بلکې په حقوقي او حتی سیاسي چارو کې هم د ایران د مجتهدانو تر نفوذ لاندې دي او هغوی په عمومي ډول د تقلید مرجع ګڼي، دوی د افغان دولت مخالف دي، نو یې د شریعتمداري له ویناوروسته چې خلقیانو د "شریعت مداري" په نامه یاداوه، په هغو سخته ونیوله. د 1979کال د جون په میاشت کې یې وروسته له هغه چې د یو شمېر شیعه عالمانو په شفاعت سید سرور واعظ له بند نه ازاد کړی و، یو شمېر نور یې د محمد اسماعیل مبلغ، سید ابراهیم عالمشاهي، نادر علي جاغوري په ګډون یو په بل پسې بندي کړل، خو د کابل شیعه ګانو د حکومت پرضد وروسته له هغه عملي ګام اوچت کړ، چې د جوزجان ولایت په سرپل ولسوالۍ کې یوه پېښه شوې وه. هلته خلقي ولسوال خلک اړ کړل، چې خپلې ښځې او لوڼې د سواد زده کړې کورس ته ولېږي. د غه کورس د امام زاده یحیی زیارت ترڅنګ ماجت کې نیول شوی و، چې شیعه ګانو پرې عقیده لرله. شیعه ګان وتورېدل او د دوی او حکومتیانو ترمېنځ نښته وشوه، چې په هغې کې له دواړو خواوو نه یو

شمېر ووژل شول. دغې پېښې د کابل شیعه ګان و تورول او واعظانو یې خپل خلک د حکومت پر ضد عمل ته وهڅول. د توحید ګوند او رسالت ګوند په نومونو، چې په پټه نوي جوړ شوي وو، سره فیصله کړې وه چې د حکومت پر ضد دې عمل و شي. پرېکړه دا وه، چې هزاره ګان او چنداولیان دې د سرطان په دویم سهار)جون 23، 1979(د میوند جادې په لومړۍ برخه کې د لاریون لپاره غونډ شي او له هغه ځایه به ښار ته ننوځي او پاڅون به عمومي کوي. له دوی سره اسلامي ګوند منلې وه، چې پلویان به یې د بیني حصار او میوندجادې له دویمې برخې نه ورسره یو ځای کېږي. په عمل به هغه وخت لاس پورې کېږي، چې د محمد عمر په لاس جوړ شوی یو ساعتی بم به په لسو بجو چول کېږي، خو دغه ساعتي بم له وخت نه دمخه وچاود او حکومت د تګ راتګ لارې په چټکۍ سره بندې کړې.

د یوه بل روایت له مخې، حکومت له دغې فیصلې نه یوه ورځ دمخه خبر شوی و او د پاڅون لویانو عمل بلې ورځې ته ځنډولی و، خو دغه خبر د هغو چنداولي پلویانو ته نه و رسېدلی او ورواستیو خپل لاریون په داسې حال کې پیل کړ، چې حکومت پرې خبر و.

په هر حال، لاریون کوونکیو لا دمخه د چنداول د پولیسو د مامور یت یو خلقي ضابط وژلی او نور یې تسلیم کېدلو ته اړ کړي وو او دوه سوه میله وسله یې د ماشین دار او کلاشنکوف په ګډون چور کړې وه، نور نو د فرهنګ په وینا "در طول جاده میوند چند هزار تن از مردم شهر با سلاح ابتدایی سوته و کارد و امثال آن به تظاهر کنندګان پیوسته جمعیت بزرګی را تشکیل دادند. اما در پایان چار ساعت ګلوله باری توسط نظامیان که تا دندان مسلح بودند، ان تعداد از تظاهر کنندګان که سر به سلامت بردند، در کوچه های تنګ دو طرف جاده میوند پراګنده شدند." (78)

بیا هم فرهنګ "بدنبال این حادثه انتقام ګیری

دولت اغاز شد. در جاده میوند نیروهای نظامی در دو طرف جاده جابجا شده عابرین را اعم از پیاده و سوار تفتیش میکردند و از بین مردم هزاره ها... را جداً نموده بگروه اعدام میسپردند. هنگام شب چندول توسط نیرو های نظامی محاصره شده صاحمنصبان عنقاً بخانه ها داخل میشدند. جوانان را دستگیر و پول و اشیای گرانبها را به یغما میبردند و به مقدسات مذهبی مردم بی احترامی مینمودند. در هر خانه ایکه شخص مجروح مشاهده میشد، بدون تحقیق اینکه ایا در تظاهرات شرکت داشت و یا تصادفاً جراحت برداشته نه تنها شخص مجروح، بلکه تمام مردان خانه را با خود برده سر به نیست میکردند. بدینصورت بقیه عالمان دینی و روشنفکران اهل تشیع در چندول و سایر نقاط شهر بدلیل باتهام شرکت در تظاهرات زندانی و بشتر مفقود میشدند.)[79]"

د بالاحصار پاڅون

بالاحصار له 1767 نه وروسته، چې کابل د تیمور شاه درانی په وخت کې پاچایی مرکز شو، په دغه هسک او ټینګ حصار کې افغان واکمنان له خپلو کورنیو سره او سېدل. نظامي قوه هم هلته دېره وه او میرزایانو او چارواکیو پکې حکومتي کارونه ترسره کول. د افغان_انګلیس په دویم جنګ کې، چې د ګندمک د تړون له مخې د انګلیس استازي لویي کوګناري له خپلو څو تنو انګلیس چارواکیو او ډېرو هندي ساتونکیو سره د امیر محمد اعظم په هستوګنځي کې دېره شو، چې د امیر محمد یعقوب له هستوګنځي نه یو څه لېرې پروت و. د 1879 کال په سپتمبر کې، چې افغانانو دوی ټول په خپل پاڅون سره له مېنځه یووړل، کابل د انګلیس پوځ له خوا ونیول شو. بالاحصار بیا په یوې قوي چاودنې سره وران او د سیاسي مرکز په توګه ترک شو. امیر عبدالرحمن بیا په خپلې

واکمنۍ کې ارګ ودان کړ، چې هغه تراوسه پورې د افغانستان د سروال هستوګنځی دی.
د پاچا محمد نادر په لنډې واکمنۍ کې بالاحصار بېرته ودان او حزبي پوهنتون پکې ځای پرځای شو. د پاچا محمد ظاهر په پاچايۍ کې، چې ځرخي پله ته نږدې پراخې ودانۍ جوړې شوې، حربي پوهنتون هلته نقل شو. په بالاحصار کې بیا د کوماندويي قوې په نامه یو غونډ پکې ځای پرځای شو. دغه قوه، چې له دولس سوو سرتېرو نه جوړه وه، له دې امله مهمه شوه چې د ښار دروازه د لمن په هکسه کې پرته او ارګ ته نږدې او په هغه حاکمه وه. د خلقي حکومت په وخت کې د بالاحصار تر پاڅون نه یوه ورځ دمخه له جلال اباد نه یوه نظامي قطعه پکې ځای پرځای شوه، چې ویل کېږي د اسلامي ګوند یو شمېر افسران پکې وو.
د بالاحصار پاڅون په اړه، چې دزمري میاشتې په 14م کال 1379) د اګست 5مه 1979 (وشو، روایتونه ډول ډول دي او یو یې هم دقیق او مفصل نه دی. هرڅه چې و حکومت هغه په چټکۍ او بې رحمۍ سره وځپه. جنګي الوتکو له هوا نه او ټانکونو له ځمکې نه راکټونه او ګولۍ پرې حواله کړې او له دولس نیمو بجو نه تر شپږو بجو پورې یې په پېنځه نیمو ګړیو کې پاڅون غلی او نابریالی شو.
د مؤلف هایمن د وینا له مخې له بالاحصار نه "...یو کماندويي واحد او ټانک چلوونکي د اګست پېنځمه غرمې کې مخ په ښار روان شول، چې د تره کي_امین د وزیرانو په نیولو سره چې د خلکو په کور]ارګ[... کې یې غونډه لرله، په کودتا سره حکومت ترلاسه کړي. د بغاوت مخکښان ځوان افسران وو، چې د لومړي ځل لپاره یې له چریکانو سره لاس یو کړی وو. "[80] زما د جورنال له مخې "... مخالفین د حکومت پر ضد ولاړ شول او د څو سیاسي ډلو طرفداران وو، چې ائتلاف یې سره کړی... او

یوه لویه توطیه یې جوړه کړې وه او د کابل په نورو میشته لښکرو او فرقو کې هم باید دغسې حرکت په یوه وخت کې شوی وای، خو... حکومت ته ددغسې حرکت راپورر سیدلی و، مګر د شروع ځای او وخت یې ورته معلوم نه و او څه وخت، چې حکومت د بالاحصار په غونډ کې ځینې مشتبهه منصبداران ونیول، نور پاتې توطیه کوونکي په دې فکر شول، چې پخوا له دې چې وخت فوت کیږي او حکومت پر دوی خبر یږي، باید حرکت شروع شي. دا و چې دوی شروع وکړه او لومړی یې د کوماندو هغه قطعه، چې تازه له جلال اباد نه راغلې وه، له میدځه یووړه. په همدغه ګیر و دار کې حکومت خبر شو او په مقابلو اقداماتو یې لاس پورې کړ، چې د هغوی یانې مخالفینو پر ضد د مکانو او ټانکونو استول وو. مخالفین یو خو حصار شول او بله دا چې له نورو قطعو سره یې ارتباط قطع شو او که څه هم دوی ډیر کوښښ وکړ... په پای کې دوی وو هل شول. تلفات په دواړو خواوو کې زیات وو... په دوی کې لاروي هم شامل وو."[81]

دلته څو ټکي د توجه وړ دي، یو دا چې دغه پاڅون د یوې ډلې نوښت نه و، عظیمي دا د ماوستانو د عمومي پاڅون یوه برخه ګڼي، چې د حرکت اسلامي او رهایي په ګډون یوه جبهه وه. د دوی په وینا "...قرار بود همزمان در بسیاری نقاط دیگر کابل و ولایات حرکت های مسلحانه جهت براندازی دولت امین بوجود اید."[82] خو د هغو په فکر د غه پاڅون د څو تنو د خیانت له امله سرته ونه رسید. څنګه چې له دوی سره د خلق دموکراتیک ګوند د ښمني، چې حکومت یې په لاس کې و، ایډیالوجیکي او نه پخلا کیدونکې وه، تر دغه وخت پورې یې د هغو پیژندل شوي غړي تر مرګکي فشار لاندې نیولي وو. دوی هم د چارواکیو په زورواکی سره پاربدلي وو، خو دغه ډلې د ائتلاف په حال کې هم د غومره پیاوړې نه وې، چې حکومت په کودتا سره نسکور کړي. دا هم یقیني نه ده،

چې د غه جبهه به په رښتیا له پېنځو سازمانونو نه جوړه وي. له رهایی او حرکت اسلامي پرته د نورو نومونه هم معلوم نه دي. کوم شی چې معلوم دی، دا دی چې دوی سره په ګډه او یوه وخت کې عمل و نه کړ، یا یې کولی و نه شو. بله دا چې کودتا کوونکیو افسرانو ته دا پته وه، چې حکومت دوی پېژندلي او پخوا له دې، چې اګسا ته په لاس ورشي، انتحاري عمل ته لاس وا چوه. بیا هم زما د جورنال له مخې، "... څنګه چې یو ډګرمن منصبدار ونیول شو او له هغه نه دغسې لست د منصبدارانو ووت، چې د اګسا غړو په خاص مهارت سره ددغه لست رمزونه کشف کړل او هغه منصبداران یې ونیول. پاتې منصبدارانو ښه وګڼله، چې پخوا له دې چې دوی هم ونیول شي، سمدلاسه یې په فعالیت لاس پورې کړ. له همدې امله به وي، چې پاڅون کوونکیو بې له دې چې ملګرو یې حرکت کړی وی، په رڼا ورځ د انتوني هایمن په وینا په "ځان وژونکي" عمل لاس پورې کړ. په دغه لنډ او ناکام پاڅون کې ډېر نظامیان او لارو یان په ډېرې بې رحمۍ او غوڅه توګه له مېنځه یووړل شول، چې په هغو کې ډېر ماهر کمپوزر نینواز هم شامل و. دغه ناکام پاڅون بې اثره هم نه و. د مؤلف حق شناس په وینا "گرچه قیام بالاحصار به ناکامی انجامید، لیکن اثرات قابل ملاحظه ای بر قطعات دیگر اردو وارد نمود. بارز ترین نمونه اش پیوستن غند کوهی اسمار با مجاهدین و مردم بود که در اوایل میزان صورت گرفت."(83) د همدغه پاڅون له ځپلو وروسته حکومت د نظامي او امنیتي افسرانو معاشونه په سلو کې سل زیات کړل، دا سې یې هم د کابل په کش کروهي کې له "انقلاب" نه دفاع کمېټې ډېرې کړې او غړي یې ورته وسله وال کړل. په کابل ښار کې یې د شپې ګرځېدلو بندیز تر پخوا یو څه نور هم اوږد کړ.

د بالاحصار او اسمار پوځي پاڅونونه، چې

دواړه د 1979 کال د اګست په میاشت کې وشول، د خلقي حکومت پر ضد وروستي لوی او مهم پاڅونونه وو. د اسمار له پاڅون نه څه کم یوه میاشت وروسته، چې حفیظ الله امین واکمن شو، حکومت ضد پاڅون لیدل شوی نه دی. د امین په وخت کې د یادولو وړ یواځینی ناکراري د ریشخورو په فرقه کې پېښه شوه، چې تره کي پلوو افسرانو د هغه له مرګ نه وروسته جوړه کړې وه او هغه هم زر وځپل شوه. پوځ، چې د پاڅونونو په ځپلو او داسې هم د خلقي کېدلو په بهیر کې بېخي ډېر تاوانونه وګالل، په پای کې حکومت ته د اعتماد وړ قوت او مخکښان یې امین پلوه افسران او منشیان شول، خو دغه کار وطن او وطنوالو ته ډېر ګران تمام شو. لکه چې ولیدل شول، د پاڅونونو د ځپلو او د پوځ د خلقي کېدلو په بهیر کې دغومره ډېر نظامي او ملکي افغانان ووژل شول، چې په افغانستان کې بل هېڅ وخت په دغومره لنډې مودې کې دغومره ډېر افغانان وژل شوي نه دي. ددغې تراجیدۍ اصلي علت دا و، چې د ثور کودتاچیانو حکومت په خپله جوړ کړ، ځانله یې ځانګړی کړ، نورو سیاستمدارو ته یې پکې برخه ورنکړو او په هغه سربېره حکومت یې هم په خپله خوښه او په زور چلوه، بې له دې چې د خلکو ارزښتونه او حتی د هغوی د چلندونو په برابر کې د هغو غبرګونونه په نظر کې ولري.

شپږم څپرکی

د تره کي_ امین دښمني او د اندروپوف شیطاني

لومړنی خبري

هغه سې چې د ثور کودتا د عمومو د هیلې پرخلاف وه، داسې هم د نور محمد تره کي او حفیظ الله امین اختلاف د توقع پرخلاف و. دوی دواړه سره ډېر نزدې پېژندل شوي وو. تره کي به ویل، چې دی او امین لکه نوک او وری داسې دي. امین هم تره کي ته دغسې احترام کاوه، چې لکه یو منونکی زوی یې خپل پلار ته کوي. امین به د خلکو په مخ کې هم د تره کي لاسونه ښکلول. په واقع کې ټولو ګوندي غړیو تره کي ته ډېر احترام کاوه، که څه هم هغه د عبدالکریم میثاق په شان د لږې منظمې زده کړې خاوند و. تره کي تر ټولو ګوندي لویانو مشر و او ګوند هم په اصل کې د هغه په نوښت او پرله پسې زیار جوړ شوی و، نو ټولو ورته هغه سې اراده لرله، لکه چې مریدان یې خپلو پیرانو ته لري. تره کي په ټولو رسمي خپرونو کې په مبالغه یېزو لقبونو ستایل کېده لکه "د ختیځ نابغه"، "پیاوړی استاد"، "د ګوند روح" او داسې نور... تره کی په دغسې ستاینو سره د رومانیې د کمونستي نظام مشر چایسسکو مقام ته رسول شوی و، چې د "کارپاتین نابغه" او "د ډانیوب فکر" په لقبونو ستایل کېده. دا او دغسې نور لقبونه د امین له خوا تره کي ته ورکول کېدل او هغه په ټولو حکومتي او ګوندي خپرونو او وسیلو کې

لیکل کېدل او اورول کېدل. داسې هم د تره کي لوی عکسونه په ټولو حکومتي او ګوندي او د کابل ښار په ودانیو باندې ځړول شوي وو، چې زیاتره ښاریان یې په لیدلو زړه خورین کېدل.
په همدغه لړ کې د جولای په 14مه د تره کي د زوکړې کالیزه په دغسې پرتمین ډول ولمانځل شوه، چې افغانانو ته بېخي بې سارې او د تعجب وړ وه. په معاصر افغانستان کې دا لومړی ځل و، چې یو افغان هغه هم یوې شپنې کورنۍ ته منسوب افغان په نظامي کودتا سره د دولت سروال شي او بیا په دغسې بېسارو لقبونو سره وستایل شي، لکه ستالین چې په شوروي اتحاد او هټلر، چې په نازي جرمني کې ستایل کېده. امین د تره کي په وړاندې ځان "وفادار شاګرد" په نامه یاداوه، خو په عین حال کې یې په مهارت سره کوښښ کاوه، چې د هغه قدرت کم او خپل قدرت زیات کړي.
په راتلونکیو پاڼو کې د دغه موضوع څېړل کېږي، چې د دوی دغسې دوستي ولې او څنګه په مرګکي دښمنۍ بدله شوه او شوروي لویانو او ک.ج.ب والو په هغه کې څه ډول رول ولوباوه؟

د تره کي_ امین دښمنۍ نه دمخه

د تره کي_ امین ترمېنځ اختلاف د هرات له پاڅون نه وروسته پیدا شو، چې د ک.ج.ب چارواکیو په لمسونې سره زر په مرګکي دښمنۍ بدل شو. ددغې دښمنۍ بیان به زر وشي، خو ترهغو چې د همدغه کال په سپتمبر کې په دلکشا ماڼۍ، اګسا او په سل بستره ییز روغتون کې د امین پلویان نه وو وژل شوي، حتی د حکومت ډېر وزیران او لوړ رتبه ګوندیان هم په دغه اختلاف خبر نه وو. اختلاف تر دغه وخته پورې د دسیسو په بڼه و، چې په اصل کې د اګسا د سروال اسدالله سروري او د هغه د ملګرو له خوا د ک.ج.ب چارواکیو په سر کې د اګسا مشاور بوګدانوف په لمسونې سره کېدلې. دا د سرپټو او زورواکو حکومتونو خاصه ده، چې اعلی قدرت د خلکو په

نامه له خلکو نه اخلي او خپلو پاسنیو کړیو ته یې منحصر کوي او خپلمنځي اختلافونه په دسیسو او د رقیبانو په ځپلو له مېنځه وړي، نه د زغم په ښوولو او په بحث کولو سره. د خلقي زورواکۍ نظام هم همدغسې و.

د کرنې او اوبو لګولو وزیر او د ګوند د پولیټبورو غړی صالح محمد زیری وایي، چې "زه تر هغه وخته پورې چې په ارګ کې د دوی] تره کي او امین[د محافظینو ترمېنځ نښته وشوه، د دوی په اختلافونو نه وم خبر." دی دا هم وایي، چې نور وزیران)د مالیې وزیر عبدالکریم میثاق، د پوهنې وزیر غلام د ستیګر پنجشیری، د عدلیې وزیر عبدالحکیم شرعي جوزجانی او د کانو او صنایعو وزیر محمد اسماعیل دانش(هم په دغه اختلاف خبر نه وو. زیری ددغې بې خبری علت دا ګڼي، چې "زموږ خبر]تیا[او ناخبر]تیا[کوم اهمیت نه درلود.)1("تره کي خپل وزیران له سیاست کولو نه منع کړي او هغو ته یې فرمایلي وو، چې "تاسو د خپلو وزارتونو کارو ته متوجه شئ، په سیاسي او نظامي موضوع ګانو سره] مه خوړوئ. د غه دی موږ ټوله ورځ په همدې مسئلو اخته یو او د شپې تر ناوخته یې حل او فصل کوو." امین هم په همدغسې ناستې کې د "شرق نابغه" په ملاتړ وویل، چې "موږ هر یو باید هغه وظیفه اجرا کړو چې تره کي صاحب او ګوند راسپارلې ده. که موږ وغواړو په ټولو چارو د یوه بل په کارونو ځان پوه کړو، نه شو پسې رسېدلای.)2("

په دې ډول په خلقي نظام کې حکومت او سیاست، چې په اصل کې د ګوند په انحصار کې و، په ګوند کې د امنیتي سروالانو په انحصار کې شو، چې زیاتره یې په اصل کې نظامي واړه تخنیکي منصبوال وو، لکه اسدالله سروري د هوایي قوې میخانیک، محمد اسلم وطنجار، چې د ټانک نیمه باسواد افسر و، سید محمد ګلابزوی چې دریم برید من و، عزیز اکبري چې څارندوی و او داسې نور... په

خپله د "شرق نابغه" هم د لومړي ښوونځي يو ځو ټولګي لوستلي و. په دوی کې يواځې امين د لوړې زده کړې خاوند و. وروسته له هغه چې د کابل پوهنتون په ساينس پوهنځي کې لېسانس شوی و، د نيويارک په پوهنتون کې په روزنه او پوهنه کې د ماسټري درجه ترلاسه کړې وه. په کولمبيا کې هغه ډاکټري شهادتنامې ترلاسه کولو لپاره د تيسس تر ليکلو پورې زده کړه کړې وه، چې د زده کړې بورس يې د کابل پوهنتون د سروال صمد حامد له خوا قطع شو او دی کابل ته وغوښتل شو.

لکه چې دمخه ويل شوي، د کابل حکومت لويانو د هرات په پېښه کې شوروي اتحاد ته موقع ور کړه، چې د افغانستان په چارو کې تر پخوا ډېر ښکېل شي. بيا نو د ک.ج.ب سروال يوري اندروپوف په دغسې کوښښونو پيل وکړ، چې ببرک کارمل د امين پرځای په واک شي. د ک.ج.ب چارواکيو له همدغه وخت نه تر نظامي يرغل پورې په کابل کې حيرانوونکې دسيسې وکړې. د همدغو دسيسو لپاره يې د شوروي سفارت له غړيو نه سربېره د متخصصانو او مشاورو په نامه ډېر شورويان افغانستان ته واستول. دوی په اسانی سره افغانستان ته راتللی شول. د ک.ج.ب له چارواکيو نه غېر د شوروي نظامي استخباراتو (GRU) چارواکيو هم په افغانستان کې د خپل فعاليت لمنه پراخه کړه.

د شوروي حکومت له اول نه د خلقي حکومت په راتلو خوښ نه و. د وزيري په وينا "... د ثور د انقلاب په برياليتوب د شوروي اتحاد مشرتابه او په خاصه توګه اندروپوف ډېر خپه وو."[2] نو دوی "... د ببرک ډله دې ته هڅوله، چې څومره زر کېږي او خلقيانو څخه واک ترلاسه کړي."[4] د شوروي لويانو دغه هيله بېځايه وه. دغه کار د کارمليانو په وس کې نه و. لکه چې دمخه ويل شوي، په دغې لار کې يې کوښښ وکړ، خو له لاسه يې څه ونه شول. لويان يې اول بهر سفيران شول او

بیا له افغان تابعیت نه هم محروم شول. سره له دې هم دوی شورویانو ته په تمه وو، چې په واک به یې ر سوي. د دوی زیاتره لویان لکه چې دمخه ویل شوي، د شوروي اتحاد منونکي ایجنټان وو. په خپله کارمل هم د "مارید" په نامه د دوی ایجنټ و، نو ځکه دوی تر خلقیانو زیات شورویانو ته د اعتماد وړ وو. خلقیان که څه هم مسکو پلوه وو، خو د شورویانو په دستور یې حکومت نه کاوه. شورویان چې په تره کي هم پوره ډاډه نه وو، هغه یې هم "مغرور" او هم "بې کفایته" ګاڼه، سره له دې چې هغه تر کارمل نه دمخه د ک.ج.ب ایجنټي منلې وه، خو د ک.ج.ب د اصولو له مخې تره کی وروسته له هغه چې ګوند یې د شورویانو له خوا د "ورور ګوند" په نامه وپېژندل شو، په رسمي ډول له ایجنټۍ نه آزاد وګڼل شو. شورویانو بیا له هغه سره د ګوند د لوړ سروال یا عمومي منشي په توګه همکاري کوله(4الف). خو ک.ج.ب "... د امین په اړه چې د تره کي او کارمل پرخلاف د ک.ج.ب له خوا هېڅکله د ایجنټ په توګه جلب شوی نه و، لا سخته بدګوماني درلودله.(5)" نو د ک.ج.ب ټولې دسیسې د امین پر ضد وې، خو امین نه یواځې د غه دسیسې شنډې کړې، بلکې ځان یې د ګوند او دولت د سروالۍ مقام ته ورساوه.

خلقي او شوروي لویان په کریملن کې

لکه چې دمخه ویل شوي، شوروي حکومت له اول سر نه د خلقي حکومت په هسکېدو خوښ نه و، د شوروي اتحاد لوړ واکمن لیوېند بریژینف دغه ناخوښي هغو یوولسو خلقي لویانو ته څرګنده کړه، چې د 1978 کال د دسمبر په میاشت کې د تره کي په سروالۍ مسکو ته تللي وو او د سفر په پای کې یې د افغان_شوروي د دوستۍ تړون

لاسليک کړ. تراوسه دغه سفر د خلقي او شوروي لويانو د دوستۍ اعلی نمونه ګڼل کېده، خو د دسمبر په اووم ماښام په کريملن کې د بريژنيف او تره کي ترمېنځ هغسې لفظي ټکر پېښ شو، لکه چې يو کال دمخه د ولسمشر محمد داود او بريژنيف ترمېنځ پېښ شوی و. دلته د لومړي ځل لپاره ددغه ټکر بيان په يو څۀ اوږد ډول د خيال محمد کټوازي د يوې لاسي ليکنې له مخې کېږي، چې زما د پوښتنو په ځواب کې يې کړې، په نامه د "زما سترګو ليدلی حال". دی د هغه افغان هيئت مطبوعاتي غړی وو د غه ټکر تر هغه بل ټکر نه شډل او زيږ و او بريژنيف په خلقي لويانو دغسې تېره ور ته، چې لکه د کټوازي په وينا "اولادونه" يې وي، خو دغو "اولادونو" هغه خپل سپک چلند ته ښه ملتفت کړ.

په غونډې کې لومړی بريژنيف خپله ليکل شوې وينا واوروله "خو کله چې ... نور محمد تره کي په خپلې وينا پيل وکړ... بريژنيف د نور محمد تره کي د خبرو په مېنځ کې ورولوېد... او ور ته يې وويل، چې "ولې د دوستۍ او مرستې اړتياوې تکرارې؟ مهرباني وکړه د موجودو اختلافاتو په هکله خبرې وکړه!" کټوازي ليکلي، چې تره کي له د غې مداخلې سره سره خپلې وينا ته دوام ور کړ "خو دا وار بيا هم بريژنيف په ترېو تندي د تره کي خبرې ور غوڅې کړې او په تکرار سره يې وويل: ماته د مرستو او وروړګلوۍ خبرې مه کوه... زموږ او ستاسې په خپلمنځي شته ستونځو باندې وغږېږه." کټوازی ليکي، چې د تره کي رنګ سور شو او په تندي کې يې د قهر او خواشينۍ نښې څرګندې شوې او ځان يې غبرګون ښودلو ته اماده کاوه، چې "حفيظ الله امين... د نور محمد تره کي په اجازه په جدي لهجه بريژنيف ته وو يل: د نننۍ خبرو په اجنډا کې خو د اختلاف موضوع موجوده نه وه، ځکه چې موږ له تاسې سره کوم اختلاف نه لرو، خو تاسې چې د دواړو

هېوادونو په شته اختلافاتو او خپلمنځي کړکېچ باندې خبرې کوئ، نو مهرباني وکړئ د اختلافاتو مسئله رامېنځ ته کړئ، چې خبرې اترې پرې وکړو." کټوازی خپلې لیکنې ته دوام ورکوي او وايي، چې بریژنیف "څرنګه چې هغه یې د خپل ځان سیاسي آندول نه ګاڼه، نو د حفیظ الله امین مداخله... سپکاوی ورته ښکاره شو، ځکه یې د هغه د خبرو په وړاندې غبرګون ونه ښود." تره کي بیا "د خبرو مزی په لاس کې ونیوه، نو په جدي توګه یې وویل: د افغانستان د اقتصادي ودې او تکامل په یوه داسې وروسته پاتې پړاو کې دی، چې تر هغه دمخه بهرنیو مرستو ته اړتیا لري او موږ په هم دې هیله انقلاب کړی. موږ ګومان کاوه، چې شوروي اتحاد... به له هېڅ ډول مرستو او همکاریو څخه ځان و نه سپموي... خو که تاسو ته د مرستو او دوستۍ یادونه ښه نه ښکاري، موږ د خبرو لپاره نور هېڅ نه لرو او په نړۍ کې ډېر داسې پرمختللي هېوادونه شته دی، چې مرستې ورڅخه و غواړو... دا چې تاسې د اختلافاتو موضوع یادوئ، په دې هکله دومره ویلی شم چې افغانستان یو آزاد او خپلواک هېواد دی، موږ به هېڅ چا ته اجازه ورنکړو، چې قومنده را کړ شي." تره کي بیا بې له دې چې د بریژنیف غبرګون ته انتظار وباسي، له سالون نه په وتلو شو او ملګري یې ورپسې وخوځېدل، خو په دغه وخت کې د شوروي د ګونډي چارو د باندنیو اړیکو سروال پانوماریف له بریژنیف سره پس پسکې وکړې او بیا د تره کي په لور ورغلل، چې وضع عادي شي، خو "ګټه یې ونکړه او غونډه بې له کومې پایلې او نتیجې په خوابدۍ سره رنګه شوه."

کټوازی لیکي، چې افغانان ټول د تره کي په کوټه کې په کریملن مانۍ کې غونډ شول "او هلته نور محمد تره کي سره له دې، چې پوهېده چې د هغه په کوټه کې د خبرو د ثبت وسایل شته... په قصدي توګه د بریژنیف په ناوړه چلند ګوت نیوی

وکړ" تره کي بیا ددغې پوښتنې په برابر کې، چې د دواړو هېوادونو د اختلاف موضع به څه وي؟ وویل چې "شوروي زما په ویناوو او مطبوعاتي مرکو او همدا راز زموږ په حکومتي جوړښت خوشحاله نه دی او دوی وایي، چې ولې نور محمد تره کی په هره مرکه کې... وایي، چې موږ داسې انقلاب کړی چې نه بریژنیف خبرو او نه کارتر او په دغه انقلاب کې نه روبل مصرف شوی او نه ډالر." تره کي دا هم وویل، چې "دوی په دې خوابدي دي، چې ولې ببرک کارمل او څو تنه پرچمي ملګري یې له خپلو حکومتي پوستو څخه لیرې او سفیران وټاکل شول." هغه دا هم وویل، چې "شورویان له موږ څخه غواړي، چې کارمل او ملګري یې بېرته افغانستان ته راشي... خپلې پخوانۍ رتبې ولري، خو موږ به دا ورسره ونه منو."

د کتوازي په وینا سبا "د شوروي اتحاد صدراعظم الیکسي کاسیګین او نورو وزیرانو د افغاني لوري سره اړیکې نیولې وې او د بریژنیف د چلند په اړه یې بشنه غوښتې وه." بیا د همدغې ورځې په ماښام په کریملن کې مېلمستیا شوې وه، چې په هغې کې د معمول په شان د شوروي لورو چارواکیو او سفیرانو ګډون کړی وو. د ډوډۍ پر سر بریژنیف څو ځله له ځایه ولاړ شو او د تره کي "د ستایلو په ترڅ یې د هغه په سر سلامتي جامو نه پورته کړل... خو نور محمد تره کی تر پایه په خپل ځای ارام ناست و." اقبال وزیري هم ددغه ټکر ذکر کوي، چې هغه یې د کتوازي او داسې هم د هیئت د بل غړي محمود سوما د شفاهي یاداشت له مخې ترتیب کړی دی(6).

د افغان هیئت بل غړی صالح محمد زیری هم ددغه لفظي ټکر یادونه کوي، خو په لنډه ډول. "نور محمد تره کي د مجلس د پای ته رسېدلو په وخت کې دبریژنیف سره د مباحثې په جریان کې له

غونډې وپاڅېدهاو بریژنیف ته یې وویل، چې یواځې خو تاسې نه یاست چې موږ مرستې درڅخه اخیستلای شو، په نړۍ کې هېوادونه ډېر دي." زیری وایي، چې "بریژنیف یې سپک کړ." سره له دې هم د زیري په وینا "شورویانو تر هغه وروسته هماغسې اقتصادي مرستې وکړلې، چې موږ غوښتې وې.[7]" دا به شاید هسې تصادف وي، چې هم محمد داود او هم خلقیان هر یو له کریملین سره له ټکر نه یو کال وروسته نسکور شول.

د تره کي_ امین د اختلاف پیل

لکه چې دمخه و یل شوي، د تره کي_امین اختلاف د هرات د پاڅون په بهیر کې پیل شو. کیسه داسې وه، چې د هرات د پاڅون په وخت کې امین د اقبال وزیري په ملګرتیا عسکري کلب ته لاړ او له هغه ځایه د شوروي اتحاد د دفاع وزیر دیمتري اوستینوف سره د پاڅون په اړه وغږېد، چې په دې اړه دمخه یو څه ویل شوي دي. او ستینوف امین ته وویل، چې ښه به دا وي چې تره کی په دغه اړه له بریژنیف سره په مسکو کې ووینی. هغه دا هم وویل، چې دد غه مقصد لپاره به یوه ځانګړې الوتکه دروا ستول شي او سهار د وخته به له تره کي سره بېرته کابل ته در شي. همدغسې هم و شول. له تره کي سره لوی درستیز محمد یعقوب ملګری و. په مسکو کې لکه چې دمخه ویل شوي، تره کي له شوروي لویانو سره په اوږد ډول وغږېد. تر هغه ځایه، چې په دغې موضوع پورې اړه لري، په مسکو کې تره کي د بریژنیف له خوا "هڅول کېږي، چې د هرات پېښې څخه په ګټه اخیستلو امین د ملي دفاع وزارت څخه ګوښه کړي." تره کی په بل سهار د انقلابي شورا په غونډه کې، چې له امین پرته د تره کي په سفر خبر نه وو، بې له دې چې له چا سره یې مشوره کړې وي، ناڅاپه غږ کړ چې "ما اسلم وطنجار د باصلاحیته لوی درستیز په توګه وټاکلو او په

خپله به د ملي دفاع وزارت په چارو کې ور سره مرسته کوم."[8] په امين باندې دا يوه ناڅاپه څپېړه وه، چې حواله شوه او چې په دې ډول له ملي دفاع وزارت نه گوښه شو، ورسره يې په خپگان سره همکاري پرې کړه. په داسې حال کې، چې په پوځ باندې يې تر هر بل خلقي نه اثر ډېر و. وطنجار که څه هم په کودتا کې يې د مخکښې رول په برې سره لوبولی و، د امين د نه همکارۍ په حال کې ددې جوگه نه و، چې د ملي دفاع چارې تر سره کړي. د ملي دفاع وزارت سر مشاور تورن جنرال ستانيسلاف گاريلوف په همدغې روحيې سره د وزيري له لارې تره کي ته پيغام واستوه. په پای کې د امين او تره کي نزدې کسان، چې مشخص شوي نه دي، د تره کي او امين ترمېنځ شکته او پورته شول او تره کی بيا د مارچ په 27مه امين لومړی وزير، وطنجار د ملي دفاع وزير او محمد يعقوب لوی درستيز په توگه وټاکل[9].

په پورته ډول د امين او تره کي ترمېنځ په ظاهر کې روغه راغله، خو همغه رښتينې نه وه او دوام يې نه شو کولی. تره کي که څه هم امين د لومړي وزير په توگه ونوماوه، په خپله يې "لا هم د وزيرانو شورا د غونډو سروالي کوله او امين په دغه کار سره ډېر خپه کېده."[10] په خلقي نظام کې د سر په کسانو کې دټکر امکان ډېر و. غټ علت يې دا و، چې نظام نوی او ناآشنا و او دغسې قانون يې نه لاره، چې د همغه له مخې د مقامونو صلاحيت او د ندو حد او حدود ټاکل شوي وي. بل علت په گډه او ملگرتوب سره د کار د کولتور نشتوالی او په دغو پښتنو کې د گونديماري او تربورۍ ټينگ احساس و. هرڅه چې و، په دغو پښتنو کې د واکمنۍ په وخت کې د واک گټلو د دورې ملگرتوب هوا کړې وه او ځای يې د ځان پالنې او رقابت احساس نيولی و. د همدغه احساس له مخې به و، چې لومړي وزير امين د می په اوله ورځ، چې حکومت د کارگرو د ورځې په

نامه لمانځله، تره کی خبر نه کړ او د حکومت استازي توب یې په خپله وکړ. که څه هم د غه امتیاز د عنعنې له مخې د تره کي و. د جولای تر میاشتې پورې د دوی د غه اختلاف د لفظي ټکر سرحد ته رسېدلی و. امین د سیاسي دفتر په غونډه کې د حکومت د ناکامیو پړه په تره کي واچوله. په بلې میاشت (اګست) کې تره کي امین په دې ګرماوه، چې کورنۍ واکې کوي[11]. له دېنه د تره کي مقصد دا و، چې د امین مشر ورور عبدالله امین که څه هم د ګوند غړی نه و، په کندوز او درې نورو ولایتونو کې د تنظیمي رییس په شان په پوره صلاحیت سره کار کاوه. په همدغې میاشت کې د اسمار په پېښې سره د دوی ترمېنځ اختلاف نور هم زیږ شو، چې دمخه یې بیان شوی دی. امین له اختلاف سره سره تره کي ته په ځرګند ډول پوره احترام کاوه او د پښوا په شان یې په مبالغه ییزو لقبونو سره ستایه. په عین حال کې یې کوښښ کاوه، چې د هغه واک د ځان کړي. امین ډاډه و چې په پای کې به لاس بري دده وي. دی چې په دغه وخت کې د پنځوسو کلونو په ځان تکړه، روغ، فعال او خواریکښ و، په داسې حال کې چې د دوو شپېتو کالو منډلی او چاغ تره کي، چې په ځان روغ هم نه و، په حکومتولو کې د امین جوګه کېدی نه شو. په افغانانو کې هم د غه فکر ټینګ و، چې د ګوند او حکومت اصلي محور حفیظ الله امین دی.

خو امین ته دننه په ګوند او حکومت کې دغسې نور مخالفین پیدا شول، چې تر پرچمیانو نه هم ورته خطرناک وو. دغه مخالفین د اګسا سروال اسدالله سروري او درې وزیران (محمد اسلم وطنجار، سید محمد ګلابزوی او شیر جان مزدوریار) وو. دوی د 1979 د جون په میاشت کې سره یو موټی او د امین پر ضد شوي وو. د دوی د مخالفت لوی علت دا و، چې دوی د خپلو زارتونو په اړه د کارونو راپور د پښوا په شان تره کي ته ورکاوه، نه

حفیظ الله امین ته، که څه هم دی د لومړي وزیر په توګه د هغوی نېغ آمر شوی و. سروري په اګسا کې د ک.ج.ب سرمشاور ل.پ.بوګدانوف ته د امین پر ضد خپل مخالفت ښودلی. د مخالفت د غه راپور په کابل کې د ک.ج.ب استازي جنرال ایوانوف او داسې هم اوساد چې په مسکو کې اندروپوف ته استوه [12]. سروري خپل مشاور بوګدانوف ته په مشخص ډول ویلې، چې "امین یو ډېر خطرناک سړی دی، هغه به هر هغه څه وکړي، چې غواړي یې." [13] دوی ټولو دا هم ویل، چې ډله ییزه مشري له مېنځه وړل شوې او هر څه امین په لاس کې نیولي. امین او د غه څلور کسان په شخصي لحاظ هم سره وران وو، وروستیو له خلقي نجونو او نورو نه جنسي استفاده کوله او امین دد غه کار مخالف و. په واقع کې دوی "لچکان" وو، په داسې حال کې چې امین فامیلي سړی او د حیثیت او اخلاقي کرکتر خاوند و [14]. په دغه وخت کې د شوروي سفارت غړو او د ک.ج.ب خاص استازي جنرال بوریس ایوانوف د غه ډله لمسوله، چې د امین او تره کي اړیکې سره خړ پړ کړي. وزیري لیکي، چې تر هغو چې "... د شوروي سفارت کارکوونکو او د ک.ج.ب ایجنټانو د اسدالله سروري او د هغه د ملګرو په ذریعه په دې لا بریالي شوي نه وو، چې تره کی او امین یو پر بل باندې بې باوره کړي، نو هغه سفارت به شبنامې د تره کي_امین با نډ په نامه خپرولې او د اګسا او د شوروي سفارت له موټرو به تیت کېدلې، خو کله چې پاس یاد شویو څلورو تنو وکړای شول، چې د ک.ج.ب په دستور د تره کي او امین ترمېنځ نفاق مېنځ ته راوړي، بیا شبنامې د امین با نډ په نامه خپرېدې او د اګسا او شوروي موټرو له خوا تیت کېدې." وزیري دا هم وايي، چې "شورویانو بۀ کله کله موږ ته پخپله راکولې، چې ګویا دوی ته رسېدلي دي." [15]
د امین پر ضد شپې لیکونه به دغومره ډېر خپرېدل، چې یوه امریکايي مؤلف براډ شبر هم د

هغو یادونه کړې ده. د هغه د روایت له مخې د اګست 29مه شپه لیک تر نورو ښه څرګند دی. په دې ډول، چې د څوارلس تېروتنو یا ناکامیو په سر کې یې راوړي، چې "وفادار انقلابي کسان" ګوښه کړل شوي او "په زرګونو هغه خلقیان، چې له امین سره نه جوړېدل، بندي شوي دي" او دا چې "د امین د سلوک او استبداد... په سبب مخالفین سره یو موټی شوي چې د هېواد امنیت او روغتیا یې له خطر سره مخامخ کړې ده." د شپې لیک په اخر کې ویل شوي، چې "که څه هم موږ د ګوند عمومي منشي د امین په کړو او سلوک نه څو ځله خبر کړ، هغه په ډېر افسوس سره وویل چې د هرڅه واک د امین په لاس کې دی او زه هېڅ څه کولی نه شم او د هرڅه مسؤلیت د امین په غاړه دی، نو ښکاره ده چې ټول خلقیان باید د امین په وړاندې سره یو موټی شي او له واک نه وغورزول شي."[16] لکه چې وزیري هم وایي ټول دغه شپې لیکونه په اګسا کې د سروري له خوا خپرېدل. نورو مخالفینو ته د هغو خپرونه د شپې ییز بندیز په حال کې ناشونکې وه. سروري د بوګدانوف په ډاډ سره امین ته سپکې سپورې هم ویلې. په خپله بوګدانوف هم د هغو شوروي مشاورانو له ډلې نه و، چې له امین سره سخت مخالف و.

لکه چې دمخه یاد شوي، سروري چې یو سخت زړی دسیسه ګر و، په دې فکر وې چې د "ثور انقلاب" مخالفین باید وځپل شي. البته په خلقیانو کې دغه فکر عام و، خو ده د "ضد انقلاب" د ټکولو لپاره دغسې اداره لرله، چې ښځینه او نارینه افغانان یې بندي کولی، کړولی او وژلی شو، بې له دې چې د محکمې، قانون او حتی ګوندي او حکومتي لویانو پروا وکړي. د زلمي خروټي په وینا، کله چې ماما یې امین له سروري نه د خلکو د عریضو له مخې د ورک شویو افغانانو په

اړه معلومات وغوښتل، هغه وویل چې "هغوی پاکستان ته تښتېدلي دي.[17]" امین بیا سروري ته اخطار ورکړ، خو اخطار یې بې اثره و، ځکه چې په هغه باندې د هېڅ افغان زور نه رسېده. د هغه شاته ک.ج.ب ولاړه وه. د امین د وراره میرویس امین په وینا امین نه یوازې سروري مهارولی نه شو، له هغه نه وېرېده هم، نو یې خپل ځان او د خپلې کورنۍ غړي په احتیاط سره ساتل.

د سروري د ډلې دویم سړی سید محمد ګلابزوی و، چې په اول سر کې له امین سره د غومره نزدې و، چې له کودتا نه وروسته په قصر کې ورسره اوسېده. که څه هم د کودتا په وخت کې "نوموړي خپله دنده پرې ایښې تر دې حده چې خپل کور ته تللی او له هوایي قواوو نه ورغلی ټانک بې اړیکې پاتې و.[18]" سره له دې هم هغه په رسمي خپرونو کې د کودتاچیانو په ډله کې نیولی شوی و. دا ددې لپاره، چې اندروپوف پرې خوښ شي. دا په ځکه حقیقت ولري، چې ګلابزوی د "ما مد" په مستعار نامه د ک.ج.ب "ایجنټ" و. لکه محمد رفیع چې د "نیروز" په نامه د ک.ج.ب "ایجنټ" و. دوی دواړو د ثور د کودتا خبر پخوا له دې، چې پرې پیل وشي، په کابل کې د ک.ج.ب مرکز ته استولی و[19]. له امین سره د ګلابزوی مخالفت په دې و، چې امین د هغه د هیلې پرخلاف د کورنیو چارو وزیر ټاکلی نه و. د امین په نظر ګلابزوی یو بې تعلیم او بې سواده ووړ ضابط و.

په افغانستان کې د شوروي اتحاد خاص هیئتونه

د شوروي اتحاد حکومت له لمسونو نه سربېره په نظامي او سیاسي ډګرونو کې هم فعال و. د هرات له پېښې نه لس ورځې وروسته د اپریل په پېنځمه یې د دفاع وزیر لومړی مرستیال او د

پوځ د سیاسي چارو سروال جنرال الیکسي یپیشیف (Yepishev) په سروال له شپږو نورو جنرالانو او نورو نه جوړ یو هیئت کابل ته واستوه، چې هلته "وضع وڅېړي او په افغان پوځ کې د دسپلین، معنویاتو او اغېزتوب پیاوړي کولو لپاره سپارښتنې وړاندې کړي او په پلي کولو یې ټینګار وکړي، خو دغه هیئت اغېزه چې په ماهیت کې سیاسي وه، څرګنده نه شوه."[20] له یپیشیف سره سیاسي ماهران هم ملګري وو. دی په 1968 کې پراګ ته هم د یوه هیئت په مشرۍ استول شوی و او بیا یې خپل حکومت ته د وارسا د تړون له خوا د مداخلې نظر هم ورکړی و، چې د شوروي اتحاد سیاسي نفوذ پرې خوندي وساتي. هیئت په کابل کې له یوې اونۍ تمکېدلو او سروې کولو نه وروسته خپل حکومت ته نظر وړاندې کړ، چې د افغان پوځ د معنویاتو د ضعف له امله ممکنه ده په هغه کې مخالفین نفوذ وکړي[21]، خو د شوروي حکومت اصلي توجه د خلقي حکومت ترکیب ته وه، چې غوښتل یې د "انقلابي" یا "ملي دموکرات کولو" په نامه د خپلې خوښې افغانان پکې ننباسي. ددغه مقصد لپاره یې د واسیلي سفرنچوک په نامه یو ازمېدلی دیپلومات یا سیاسي استازی کابل ته واستوه. دی پخوا په ګانا کې سفیر او له 1971 نه تر 1976 پورې په ملګرو ملتونو کې د شوروي هیئت د دایمي استازي مرستیال و. کابل ته د هغه له راتګ نه دمخه د امریکې سفارت راپورونو ښودله، چې "... شورویانو لا پخوا دغسې پلانونه په لاس کې نیولي وو، چې مطلب یې د خلقي مشرتابه عوض کول و."[22] نو د سفرنچوک اساسي ماموریت دا و، چې په افغان حکومت کې "اساسي تغییر" راوستل شي، چې مشر به یې دغسې یو نوی صدراعظم وي، چې د حکومت "له جاري سیاستونو سره پېژندل شوی نه وي" لکه نور احمد اعتمادي. په دغسې حکومت کې به تره کی، امین

او کارمل هم غټ مقامونه ولري[23]. سفرنچوک، ځکه په دغه ماموریت وګومارل شو، چې که هغه پکې نابریالی شو، یا له هېواد نه ووېستل شو، د شوروي اتحاد حیثیت به زیانمن شوی نه وي[24].

په خپله سفرنچوک هم د امریکې سفارت له ځینو غړو سره د خلقي حکومت د تغیر په اړه غږ بدلی و، حتی مولف سلیګ هري سن ته یې هم ویلي و، چې امین د حکومت د پراخ بنسټ وړاندیز ته غوږ نه نیوه او چې "کله موږ په نورو ځایونو کې د ملي دموکراتیک طریقې بریالیتوب ور ته وایه، هغه به ویل چې د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند بل ډول دی او دا چې هغه په کافي اندازه پراخ بنسټه دی.[25]"

د شوروي اتحاد حکومت په اصل کې ددې لپاره، چې د سفرنچوک ماموریت اغېزناک شي، یو بل لوی نظامي هیئت د دفاع وزیر د مرستیال جنرال ایوان پاولوفسکي په مشرۍ د اګست په 17مه یانې د بالاحصار له پاڅون نه وروسته او د اسمار له پېښې نه دمخه کابل ته واستوه. دغه لوی هیئت له دري شپېته نظامي افسرانو نه جوړ و، چې په هغه کې نور دولس جنرالان او شپږ کرنیلان وو. ماموریت یې په ظاهر کې دا و، چې د هېواد پوځي وضع وڅېړي او د پاڅونونو د ځپلو لپاره وړاندیزونه وکړي. دا به یې هم په ماموریت کې و، چې د امنیت د خرابېدو په حال کې د شوروي اتحاد نظامي دخالفت په نظر کې ونیسي[26]. د هیئت تم کېدل په افغانستان کې دوه میاشتې و، خو د دفاع وزیر آستینوف دغه موده اوږدوله.

په هر حال، د هیئت غړي د وضع د سروې کولو لپاره په ټول هېواد کې خپاره شول، خو په اړه یې په رسمي ډول څه ونه ویل شول. پاولوفسکي هغه جنرال و، چې په 1968 کې یې د چکوسلواکیې د لاندې کولو قوماندانې پر غاړه لرله[27]. خو پاولوفسکي د افغانستان پوځي وضع معلومولو نه وروسته له کابل نه استینوف ته څرګنده کړه، چې

دا به "مصلحت" نه وي، چې شوروي اتحاد خپل پوځ افغانستان ته واستوي او دا چې له امین سره دې په لوړه سویه خبرې وشي، خو استینوف د هغه هیئت په نومبر کې مسکو ته وغوښت. په مسکو کې جنرال پاولوفسکي له استینوف سره خپله لیدنه په دې ډول بیانوي: "پس از پایان گزارش پیرامون اوضاع در افغانستان دیدگاه خود را در باره اینکه نباید سپاهیان خود را به افغانستان بفرستیم ارایه کردم... پیشنهاد نمودم که کسی از اعضای دفتر سیاسی حزب امین را که بسیاری در مسکو دیگر باو اعتماد ندارند، دعوت کنند. در ضمن از پیام خاص او به لیونید بریژنیف که از طریق مستشار ارشد نظامی در جمهوری دموکراتیک افغانستان فرستاده بود، اطلاع دادم. مگر وزیر به سخنان من گوش نداد.(28)" له هغه وروسته جنرال پاولوفسکي د افغانستان په اړه خبرو ته نه غوښتل کېده او تنزیل هم ورته ورکړل شو. امین به دد غه جنرال او هئیت له نظر نه ډاډه و، چې شوروي اتحاد به په افغانستان باندې نظامي تېری و نه کړي، خو شوروي اتحاد له دد غه هیئت له راتګ نه دمخه د جولای په میاشت کې زیات او کم یو کنډک سرتېري په بګرام کې ځای پر ځای کړي وو. په عین حال کې د سفرنچوک د ماموریت په وخت کې د جولای میاشتې په نیمایي کې په کابل کې شپې لیکو نه یواځې د امین پر ضد خپر بدل، چې په هغو کې د وزیري او نورو په ویناشوروي چارواکیو هم لاس درلود. په دغو لیکونو کې میر اکبر خیبر رښتینی انقلابي او امین د سي.ای.ای "ایجنټ او د بدماشو فاشستي ډلې" مشر ښودل شوی و، چې غواړي شوروي اتحاد او سوشلزم بې اعتبار کړي(29).

دغه تور، چې امین د سي.ای. ای ایجنټ دی، پوره خور و، که څه هم هغه بې بنسټه و، خو شورویانو او پرچمیانو اول په پټه او له یرغل

نه وروسته برالا لګاوه. د سفرنچوک ماموریت، چې کارمل او نور په خلقي حکومت کې ننسباسي، نتيجه ورنکړه. په دغه حال کې امين کوښښ کاوه، چې په ګوند او حکومت کې خپل دریځ نور هم پیاوړی کړي. د جولای په 27مه په حکومت کې تغییر هم راوستل شو. امين د دفاع وزیر هم شو او د دفاع وزیر وطنجار د کورنیو چارو وزیر او د کورنیو چارو وزیر مزدوریار د سرحداتو وزیر شو. امين دمخه د ګوند په مرکزي کمېټه کې یو شمېر افسران، چې پلویان یې وو، هم د غړیو په توګه داخل کړي وو. په دې ډول واقعي واک له امين سره و، که څه هم د ګوند عمومي منشي، د انقلابي شورا سروال، د ټول پوځ ستر قوماندان او د دفاع شورا سروال تره کی و. د همدغه واقعیت له مخې به و، چې د سفرنچوک د ماموریت په نابریالي توب سره د شوروي سفارت یوه غړي وویل، چې په دغه وخت کې د خلقي مشرۍ لپاره عوض نه شته[30]. سره له دې هم وضع کړکېچنه وه، امين که څه هم د نظام پیاوړی کس و، لوی پاڅونونه ځپل شوي وو او په پېښور کې د افغان اسلامي جمعیت او اسلامي ګوند د نورو هېوادونو له ملاتړ نه بهره من نه وو، په ولس کې نارضایت او په ګوند او حکومت کې تاوتریخوالی زیات و. د امين هغه ځلور مخالفين د تره کي تر شا ولاړ وو او تره کی له امين نه په ژور ډول ناراضه و. ټول په دې لټه کې وو، چې امين پخپله د دوی له خوا یا د شورویانو په مرسته له واکه نه وغورځول شي یا حتی له منځه یووړل شي.

د غه وخت په هاوانا کې د ناپېيلو هېوادونو د سرانو د کنفرانس وخت نزدې شوی و، چې افغان پلاوی باید یا د تره کي یا د امين په سروالی پکې ګډون وکړي، خو دوی د هاوانا تر سفر پورې "یو د بل له وېرې څخه... ته نه شو تللی. تره کي هڅه کوله، چې امين هاوانا ته ولېږي، خو امين له دې څخه وېرېده چې دده په غياب کې به له خپلې دندې څخه لیرې کړای شي.[31]" په همدغه حال کې و، چې امين د پولي تخنيک په تالار کې

ناڅاپه څرګنده کړه، چې د افغانستان ستر لارښود انقلابي شورا مشر تره کی صاحب د کیوبا په هاوانا کې د ناپېيلو هېوادو نو په کنفرانس کې د افغانستان د هيئت مشري کوي. تره کی بې چاره ته بله لاره نه وه پاتې، مګر دا چې د سپتمبر په لومړۍ ورځ هاوانا ته د مسکو له لارې حرکت وکړي، که څه هم د هغه پلويانو په کابل کې او شوروي لويانو په مسکو کې ترېنه وغوښتل، چې دغه سفر ونه کړي. له تره کي سره په دغه سفر کې د باندنيو چارو وزير شاه ولي، د طلاعاتو او کولتور وزير خيال محمد کټوازی، د باندنيو چارو وزارت مرستيال شاه محمد دوست او سيد محمد داود تـرون ملګري وو. وروستي د تره کي سرياور و، د اګسا مرستيال عزيز اکبري هم ددغه پلاوي غړی و.

تره کی په هاوانا او مسکو کې

په هاوانا کې د تره کي د ياد وړ کار د پاکستان له مشر جنرال ضياءالحق سره د افغانستان او پاکستان د کشالو په اړه خبرې اترې کول او په خبرو کې د دواړو له خوا د روغ نيتۍ ښودل وو، چې په بل څپرکي کې به يې بيان وشي. دلته به په مسکو کې له بريژنيف سره د هغه د خبرو او موافقې په اړه بحث وشي. دا دويم ځل و، چې تره کي د شوروي اتحاد له لوړ واکمن سره په يواځې ځان وينني او د خپل هېواد د اساسي موضوع ګانو په اړه ورسره غږېږي او د هغه هدايت ته غوږ ږدي. د دوی د خبرو اجندا هغه وه، چې د کابل ک.ج.ب والو دمخه ټاکلې وه. په دې ډول چې هغو د تره کي د سفر په شروع)سپتمبر1(سره مسکو ته يو اوږد يادښت استولی او په هغه کې يې د افغانستان په اړه تجويز وړاندې کړی و، لکه افغانستان چې د دوی تر لاس لاندې هېواد وي.

يه يادښت کې ويل شوي و، چې حکومت په خلکو

کې واک له لاسه ورکوي او افغانان "په
زیاتېدونکي ډول د شوروي پر ضد کېږي." په هغه
کې دا هم ویل شوي، چې "د شوروي مشاورو په هره
سطح کې تره کی او امین ته مشورې ورکړي" چې د
خپل حکومت بنسټ پراخ کړي، خو "هغه نږدې ټولې
له نظر نه غورځول شوې." دوی د هغه په عوض
"...د داخلي مسئلو د حل لپاره په پوځي زور
ډډه کوله او غیر حق یې عامه جزا یي کارونو ته
ادامه ورکوله." په یادښت کې "امین ددغه سیاست
لوی تنظیم کوونکی" ښودل شوی. په پای کې دغو
ک.ج.ب والو مسکو ته وړاندیزونه وکړل، چې مهم
یې دا وو چې "باید یوه لار وموندل شي، چې امین
د هېواد د مشرۍ له مقام نه گوښه کړل شي، په
دې چې هغه د داخلي سیاست د وړاندې بیولو مقصر
دی." نو هغه "باید د داخلي سیاستونو د
ناکامیو او قانون پرخلاف کارونو مسؤول وگڼل
شي." بله دا چې "تره کی باید وهڅول شي، چې دا
اساسي ده چې یو دموکراتیک ائتلافي حکومت جوړ
شي، چې په هغه کې د لارښود رول په حتمي ډول د
پرچمیانو په گډون د افغانستان خلق دموکراتیک
گوند سره وي." په یادښت کې دا هم ویل شوي، چې
د وطنپالو روحانیانو، قومونو، ملي لړه کیو او
روښانفکرو استازیو ته هم پکې برخه ورکړل
شي[32].

دا په واقع کې د سفرنچوک هغه تجویز و، چې
اصل مقصد یې په حکومت کې د شړل شویو پرچمیانو
شریکول و او لومړی وزیر امین یې مخالف و، خو
اوس هغه د شوروي حکومت لوړې سطح ته ورسول شو،
چې په خپله بریژنیف او ملگري یې په دې اړه په
مسکو کې د افغانستان له اعلی واکمن نور محمد
تره کي سره ووینې او له هغه سره په دې اړه
کوم ډول موافقې ته ورسېږي. د همدغه مقصد
لپاره تره کي ته په هاوانا کې وویل شول، چې
افغانستان ته د بېرته تگ په لار کې په مسکو کې

تم شي او له بريژنيف سره وګوري. تره کي بيا له خپل ور سره هيئت سره وطن ته د ستنېدلو په لار کې دوه ورځې)سپتمبر 9_10(په مسکو کې تم شو، خو هلته يې په يواځې ځان د سپتمبر په لسمه له بريژنيف سره وليدل. په دغې ليدنې کې بل افغان له تره کي سره نه و. څنګه چې د کابل ک.ج.ب والو يادښت د افغانستان په اړه د عالي کمسيسيون غړو اندروپوف استنيوف او ګروميکو له خوا منل شوي و)د غه کميسيون د هرات له پاڅون نه وروسته جوړ شوی و، چې د افغانستان د پېښو څارنه او دهغو په اړه فيصله به کوي(. بريژنيف د هغه له مخې تره کی په دې ډول مخاطب کړ، چې "...د نورو په لاسونو کې د قدرت له حد نه ډېر تمرکز حتی که ستا ډېر نږدې ملګري هم وي، د انقلاب لپاره خطر ناک کېدی شي. دا به له مصلحت نه ډېر ليرې وي، چې يو څوک د هېواد په مشرتابه، په وسله والو ځواکونو او په دولتي امنيتي څانګو کې د ممتاز قدرت خاوند وي.[32الف]" ميتروخين وايي، چې "دا د تره کي لپاره نېغ او څرګند دستور و، چې له امين نه ځان خلاص کړي." دی دا هم وايي، چې تره کي ته د يوې سياسي لوبې د اجرا لپاره نسخه ورکړل شوه او رضايت وښودل شو، چې په واقعي ژوندانه کې يې عملي کړي. دوی پرېکړه وکړه، چې امين استعمال کړي او د ټولو هغو تېروتنو، ناکاميو او جرمونو لپاره يې چې په سياسي او نظامي لحاظ شوي، ملامت وګڼي.[32]" اقبال وزيري لا وايي، چې "د شوروي مشرانو په کلک ټينګار نور محمد تره کی دې ته اړ ايستل شو، چې امين په فزيکي توګه له منځه وباسي." دی د يوې "موثقې سرچينې" په حواله دا هم وايي، چې د شخص اندروپوف په نوښت نور محمد تره کی او ببرک کارمل هم سره دوه په دوه وليدل، په داسې حال کې چې تره کي له ګروميکو سره هم دوه په دوه ليدلي و[34]. دلته دغه ټکي په خاص ډول وړ دي.

یو دا چې له شوروي لویانو سره د تره کي له یواځې لیدلو نه معلومېږي، چې د دوی ترمېنځ خبرې دغسې خاصې وې چې حتی د هغه د هیئت له ملګرو په تېره له شاه ولي نه هم پټې وې، په داسې حال کې، چې د باندنیو چارو وزیر په توګه ده باید په خبرو کې ګډون کړی وای. که خبرې خاصې نه وای، تره کي به وروسته خپل ملګري پرې خبر کړي وای، خو هغه خبر نه کړل. له دېنه معلومېږي، چې لږ تر لږه تر هغه ځایه چې په دغو خبرو پورې اړه لري، تره کي ته شوروي لویان تر خپلو لوړ پوړو چارواکیو نه هم نږدې او د اعتماد وړ وو. لا مهمه دا ده، چې تره کی ولې دې ته حاضر شو، چې د باندنیو په دستور خپل صدراعظم له وظیفې نه ګوښه کړي، یا په له مېنځه وړلو سره یې رضایت ښکاره کړي. یا حتی دغه کار په غاړه واخلي. هر څه چې و، ده دغسې کار په غاړه واخیسته، چې کولی یې نه شو او که یې کړی هم وای، پایلې به یې نه یواځې خلقي حکومت بلکې وطن ته هم ډېرې ګرانې وای. د تره کي په دغې موافقې ښوولو کې شاید سروري هم اغېزه لرلې وي. د راجا انور په وینا سروري د سپتمبر په 7مه تره کي ته په تلیفون کې په هاوانا کې ویلي و، چې "امین پلان لري، چې موږ یا بندي کړي، یا مو ټول ووژني ددې لپاره چې ستا تر ستنېدلو دمخه یې حکومت په لاس کې نیولی وي."[35]

د خلقي حکومت ترکیب اړول او پرچمیانو ته پکې ځای ورکول[36]، له امین پرته د بل چا په وسه کې نه و او امین دغه کار نه کاوه. دا هم د تره کي په وس کې نه وه، چې امین له صدراعظمۍ نه ګوښه کړي او د باندې یې د سفیر په توګه واستوي. په دې اړه یې دغسې دلیل هم نه لاره، چې خپل لوړ پوړي خلقیان پرې قانع کړي. له بلې خوا شوروي لویان په دې فکر ټینګ وو، چې د دوی د اعتماد وړ پلویان پرچمیان په

حکومت کې برخه ولري، نو امین باید د واک له ډګر نه وتلی یا ایستل شوی وي او دغه کار باید په کوم ډول دسیسې سره وشي او دسیسه ګر په ظاهر او صحنه کې خلقیان په تېره د سروري ډله وي. په دغه حال کې دا عجبه نه وه، چې د کابل ښار زر د دسیسو او خلقي ګوندیانو د وژنې ډګر شو.

راجا انور وايي، چې سروري د امین د له مېنځه وړلو پلان حتی هاوانا ته د تره کي له تللو نه دمخه ایستلی و. پلان دا و، چې امین به هغه وخت په ماشین ګڼو سره له مېنځه وړل کېږي، چې د تره کي د هرکلي لپاره هوايي ډګر ته روان وي[37]. سروري ددغه پلان لپاره د اګسا مرستیال عزیز اکبري، چې د هغه خوریه و، مامور کړ. هغه ته وظیفه ور کړل شوه، چې د پلان د عملي کولو لپاره لس کسه وروزي، بې له دې چې هغوی د پلان په مقصد پوه شوي وي[38]، خو اکبري دبل ایجنټ و. هم یې خپل د شوروي مشاور او هم امین په پلان خبر کړ او بیا د وزیر په وینا "... شوروي مشاورینو په ګډه د لوی درستیز]محمد یعقوب[سره د هغه په دفتر کې ددغه پلان د ناکامۍ لپاره بل پلان جوړ کړ، چې د هغه په نتیجه کې امین هوايي ډګر ته روغ رمټ ورسېد.[39]" د حېرانۍ ځای دی، چې شوروي مشاورانو ولې د خپل مرکز د فیصلې پرخلاف د امین له مېنځه وړلو پلان په شنډولو کې برخه واخیسته. ممکن دغه مشاوران د مرکز له فیصلې نه خبر نه و. په مرکز یانې مسکو کې "اندروپوف... بریژنیف او تره کي په دې قانع]کړي وو[چې... د ک.ج.ب د معلوماتو له مخې کابل ته د تره کي د رسېدو له مخه به امین لیرې شوی وي." په همدغې ډاډینې سره و، چې د هغه مسلمان کنډک له استولو نه کابل ته ډډه شوی و، چې وظیفه یې د تره کي ساتنه وه[40].

په دغه حال کې د "ستر لارښود" او "وفادار شاګرد" ترمېنځ ناباوري تر اخر حده پورې

ورسېدله او امين خپل ژوند په خطر کې لیده. په عين حال کې په کابل کې پرچمیان بیا فعال شول، شپې لیکونه به یې خپرول او له "اصولي خلقیانو" سره له وحدت نه غږېدل[41]. د سپتمبر په یوولسمه کابل ته د تره کي راتګ په ظاهر کې د دولت د رییس په توګه د معمول په شان و، د پښتونستان له واټ نه تر هوايي ډګر پورې ګوندیان او نور خلک قطار ولاړ وو. د امين "د سوارۍ موټر مخ په هوايي ډګر لکه د مرمۍ غوندې په سرعت تېر شو." امين دمخه د هوايي ډګر کنټرول د خپلو اعتمادي کسانو په لاس ورکړی و او په خپله یې تر درېشۍ لاندې ز غرور کالی په تن و. د تره کي الوتکه د ښکته کېدلو له ټاکلي وخت نه یوه ساعت نور هم په هوا کې ګرځېده او همدا چې امين ډګر ته ورسېد، هغې ته د ښکته کېدلو اجازه وشوه. امين لومړی کس و، چې د تره کي مخې ته ودرېد، خو هغه سمدلاسه وپوښته چې زما "نور وزیران" چېرې دي؟ امين ورته ډاډ ورکړ، چې "ټول شته دي او وبه یې وینې."[42]

وطن ته د تره کي بېرته راتګ او د هغه پای

په داسې حال کې، چې امين د ارګ په دلکشاه او تره کی د ارګ په ګلخانې ماڼۍ کې و، په کابل کې د سپتمبر له یولس نه تر 16 پورې ډېرې زیږې او مهمې پېښې وشوې، چې په هغو سره تره کی اول پوره بې واکه شو او یو څو نور خلقیان ووژل شول. تره کی بیا د اکتوبر په نهمه له مېنځه یووړل شو او امين د ګوند او دولت لوړ سروال شو. د غه پېښې په اثرونو کې په ډول ډول بیان شوي، دلته کوښښ کېږي چې هغه د وزیري او میتروخین د لیکنو له مخې بیان شي، چې د لومړیو لیکنو په شان مهمې دي، خو مشکل دا دی چې دوی دوه مغرضو حکومتونو ته منسوب دي او لیکنې یې په اساسي ټکو کې سره نه جوړېږي. په

د غه حال کې څېړونکي په خاص ډول مجبور دی، چې د تحقیق پولیس شي، چې له هغو نه واقعیت یا واقعیتونه وایستلی شي. غیر له هغه هم د لنډ وخت پېښو دقیق بیان په اصل کې یو ګران کار دی، خو څنګه چې د ارګ په تاریخ کې دا لومړی ځل دی، چې دغسې زیږې پېښې شوي، ریښتینی بیان یې د افغانانو لپاره خاص اهمیت لري.

تره کی کابل ته په رسېدلو سره په هماغه ورځ (11 سپتمبر) د انقلابي شورا غونډه جوړه کړه او په هاوانا او مسکو کې یې د خپلو خبرو راپورو ورته وړاندې کړ، خو د میتروخین په وینا "... د خبرو اصلي موضوع یې پټه کړه."(43) په هماغه ورځ تره کي له پوزانوف سره هم ولیدل. د بلې ورځې (12 سپتمبر) په سهار تره کي سروري خپل دربار ته وغوښت او امین یې هم د تلیفون له لارې وغوښت. د ورو ستیو د خبرو جریان معلوم نه دی، خو امین ورته غوښتي و چې د سروري او ملګري یې له دندو نه ګوښه کړي. هغه د تره کي د سفر په وخت کې د هېواد را پور هم وړاندې کړی و او دا یې هم ورته ویلي و، چې په دغه وخت کې دده د وژلو قصد شوی و او محرکان یې سروري او د هغه ملګري وو. تره کي کوښښ وکړ، چې امین د هغوی "بښنه" ومني او موضوع ختمه وګڼي، خو هغه رضایت ښکاره نه کړ. "داسې ښکاري، چې تره کي خپل دریځ دمخه ټاکلی و او د ګوندي مشرتابه په اړه یې راپور واورېد، چې پکې ویل شوي و "... په ګوند کې دد غې دننني جګړې نوښتګر له امین پرته بل څوک نه دی."(44) د بلې ورځې (13 سپتمبر) په سهار سروري او درې نور ملګري یې "... د تره کي صاحب دفتر ته د کلاشنکوفونو سره راغلي."(45) امین چې د هغو له وسله وال ورتګ نه د تړون له لارې خبرېږي، د تره کي دفتر ته له ورتګ نه ډډه کوي. میتروخین د تره کي له خوا امین ته په ټلفون کې له دغسې وعدې ورکولو نه غږېږي، چې د باور وړ نه ښکاري

او هغه دا چې دی تیار دی "دده ټول رقیبان موقوف کړي" او پر هغه سربېره "... اماده دی چې امین د ګوند د مرکزي کمېټې عمومي منشي شي."[46] میتروخین په همدغه مهال کې دا هم وايي، چې امین د جمهوري ګارډ قوماندان جانداد او د پوځ لوی درستیز محمد یعقوب ته قومانده ورکړه، چې د تره کي د امرونو له منلو نه ډډه وکړي. په داسې حال کې چې وراره یې اسدالله امین د کابل ښار د کومېټې منشي، د کومېټې د پیاوړتیا لپاره ډېر کارونه وکړل. میتروخین دا هم وايي، چې دواړو خواوو کوښښ کاوه، چې په دغې مقابلې کې د شوروي اتحاد ملاتړ ترلاسه کړی.

په دغه وخت کې اندروپوف ته په مسکو کې] له کابل نه په یوه تلګرام کې وویل شول، چې "تره کي کوښښ وکړ امین وهڅوي، چې هستوګنځي ته یې ورشي، خو امین له ورتګ نه ډډه وکړه او څرګنده یې کړه چې د هغه ټولې غوښتنې باید ومنلی شي او که نه په فعالو کارونو به لاس پورې کړي. تره کي دا یوه دسیسه وګڼله او خبرې پرې شوې."[47] بیا د همدغې ورځې)13 سپتمبر(په ماښام سروري، ګلابزوی، وطنجار او مزدوریار د شوروي سفارت ته لاړل او هلته "د تره کي له خوا سروري وغوښتل چې یوه ډله شوروي ملګري د امین په نیولو کې له دوی سره مرسته وکړي."[48] د وزیر په وینا د همدغې ورځې)13 سپتمبر (په نیمه شپه کې دوه پېښې و شوې. له یوې خوا له شوروي سفارت نه "... د اسلم وطنجار له خوا د وسله وال پوځ قطعاتو ته قومانده ورکول کېږي، چې د تره کي صاحب ژوند په خطر کې دی او د امین پر ضد یې حرکت ته رابولي، خو دده په قومنده څوک د ځایه ونه ښورېده." له بلې خوا د صاحب جان صحرایي په هاند د تره کي په هستوګنځي کې تره کي او امین سره پخلا کېږي.

تره کی هغو څلورو تنو ته په شوریو سفارت کې

تیلفون کوي او ورته وایي، چې "... بچو خپلو کورونو ته راشئ، امین داوس زما په کور کې ناست دی. موږ سره پخلا یو او بیا تیلفون امین ته ورکوي او هغه هم د وطنجار سره خبرې کوي او دا پخلاینه تاییدوي.[49]" هغوی هم دغه پخلاینه ومنله او د شپې په دولسو بجو خپلو کورونو ته په مایکروریانو کې ستانه شول. میتروخین هم د امین او تره کي پخلاینه یادوي، خو دده روایت بل ډول دی او ناسم معلومېږي. په دې ډول، چې تړون د شپې په نهو بجو او شلو دقیقو پورانوف ته خبر ورکوي، چې امین د تره کي هستوګنځي ته راغلی او پوزانوف بیا د جنرال ایوانوف جنرال پاولوفکسي او ګوریلوف په ملګرتیا د تره کي کور ته لاړل او دغه پخلاینه یې شونکې کړه[50]. په داسې حال کې چې وزیري په غوځه توګه وایي، چې همدا چې "پوزانوف او جنرال ایوانوف چې خبر شول چې تره کی او امین د صحرایي په کوښښ سره پخلا شوي دي، په دې هڅه کې شول چې دا پخلاینه په شخړه بدله کړي." مهمه دا ده، چې دوی د نورو سرچینو په حواله په دغه شپه ارګ ته په ګډه نه وو تللي. لا مهمه دا ده، چې د وزیر په وینا "د هغوی په لمسون د نواب وژنه او د درو تنو تېښته تنظیم شوه.[51]" د بلې ورځې (14 سپتمبر) په غرمه کې د دغه خبر خپور شو، چې د اګسا مرستیال نواب چې د امین پلوی و او هغه د اګسا سروالی ته په نښهٔ کړی و "...د سروري د یاور له خوا تپي شوی دی... پوځي روغتون ته وړل شوی و. د نواب پوښتنې ته د هغه دوه وطنداران انجنیر خیر محمد او ډاکټر سورګل روغتون ته ورغلي وو. د پوځي روغتون قوماندان غني اندړ په ډېره بې رحمۍ سره نواب خیر محمد او سور ګل وژلي وو، چې وروسته یې په خپله هم ځان وژلی و.[52]" غني اندړ، چې د تره کي پلوی و، په دې فکر و چې امین له منځه وړل شوی یا له منځه وړل کېږي. د یادونې وړ ده، چې دغه

وژنې د ک.ج.ب په لیکنو کې نه دي یادې شوي.
د کټوازي په روایت له امین سره پخلاینه کې تره کي منلې وه، چې سروري او ملګري به یې چېرته سفیران کوي، خو دوی چې په سبا (14 سپتمبر) له خپل سفیر کېدلو نه خبر شول، بیا وتښتېدل. کټوازی، چې په مکروریانو کې له هغوی سره نزدې اوسېده، د هغوی تېښته په دې ډول بیانوي: "د کړکۍ له ښیښې څخه مې ورته کتل، چې دوی دا وار له خپلو پنډو او بکسونو سره یو ځای له خپلو کورونو څخه راووتل او په یوه موټر کې کېناستل. له خپلو اولادونو او مېرمنو سره یې د لاسونو په خوځولو سره مخه ښه کوله او داسې ښکارېدل، چې ګواکې بېرته به په بریالۍ توګه راوګرځي او موټر یې ورو ورو وخوځېد او له سترګو څخه الونیا شول." له دوی سره دا ځل شېر جان مزدوریار نه و.
سروري او ملګري یې دا ځل د ک.ج.ب یوه چارواکي کور ته لاړل، چې لومړی نوم یې ایلین (Ilyin) و. هغه بوګدانوف پرې خبر کړل، اول سروري تره کي ته په ټلیفون کې وویل، چې امین یې پر ضد توطیه کوي او دوی حاضر دي د ساتنې لپاره وسله وال راشي، خو تره کي دغه وړاندیز و نه مانه. بیا ګلابزوی ایلین ته کړه، چې "امین زموږ د بندي کولو امر کړی، نو موږ دوه لارې لرلې: یا تر مرګه پورې مبارزه یا دلته پناه راوړل. موږ وروستۍ لار غوره کړه، ځکه که موږ ووژل شو، موږ به ګټور نه شو، خو موږ سره له دې هم خپلو شوروي ملګرو ته خدمت کولی شو."[54] یوه ورځ دمخه (د سپتمبر په 13مه) د شوروي و پولټبورو د پریکړې له مخې پوزانوف ته ویل شوي و، چې "دغه حقیقت په نظر کې ولره، چې موږ په خپله په غاړه اخیستلی نه شو، چې امین د خپل کنډک په زور ونیسو، ځکه چې دغه کار به د افغانستان په دننیو چارو کې نېغه لاسوهنه وي او د اوږدې مودې پایلې به

ولري. په واقع کې دا له عملي نظره یو ناشونی کار دی.[55]" شوروي لویانو ته دا د افغانستان په دننه یو چارو کې نېغه لاسوهنه نه وه، چې د حکومت وزیرانو ته یې د صدراعظم پر ضد په سفارت او د ک.ج.ب چاروا کي په کور کې پناه ورکړې وه او په دې ډول یې هغوی هڅولي او ور سره مرسته کړې وه. د غو شورویانو غوښتل، چې دغه کار په خپله د افغانانو له خوا وشي، البته د دوی په مرسته. دلته د ک.ج.ب د پخواني چاروا کي الیکزاندر موروزوف دغه وینا په ځای ښکاري، چې ویلي و "مسکو په تره کي ټینګار وکړ، چې امین په خپل ځای کېنوي، د سفیر پوزانوف د اندروپوف استازي جنرال ایوانوف او جنرال پاولوفسکي په مرسته، چې د استینوف په مشرۍ د ملي دفاع وزارت استازی و.[56]" وزیري له دوی سره د افغانستان د دفاع وزارت سرمشاور ګاریوف هم ملګری نیسي.

په هر حال، "دوی سمدلاسه دا اوازه خپره کړه، چې د شوروي سفیر او ور سره کسانو یې د بریژنیف پېغام راوړی او غواړي د افغان مشرانو ترمېنځ اړیکې نورمال کړي.[57]" دوی دغه پېغام مشخص نه کړو. وزیري وایي، چې "پلان داسې و، چې امین به د بریژنیف د پېغام په نامه د تره کي دفتر ته وغواړي، د ګلخانې د ماڼۍ په بام باندې به د روسي کوماندو سرتېري ځای پرځای کړي، چې د جنرال ایوانوف د شخصي ساتونکیو تر نامه لاندې په ځانګړي موټر کې دده سره یوځای ګرځېدل. د تره کي ساتونکو (قاسم او ببرک) ته دنده ورکړل شوې وه، چې امین د تره کي دفتر ته د ننوتلو په مهال کې له مېنځه یوسي.[58]" ایوانوف دومره وایي، چې "... ټینګې اوازې وې، چې امر ورکړل شوی چې همدا چې امین د خلکو په کور کې ظاهر شو، ودې وژل شي، خو تره کي وویل چې دا رښتیا نه ده.[59]" ددې مانا دا ده، چې د امین په وژلو کې شورویان لاس نه لري او دا د نورو یاني

د افغانانو کار دی، خو دوی دواړه یانې په کابل کې د ک.ج.ب سروال جنرال ایوانوف او د افغانستان د دولت سروال تره کی اقرار کوي، چې په دغسې اوازې خبر دي او دوی د هغې د څنګه والي په اړه هېڅ تحقیق و نه کړ او دا په دغسې حال کې، چې امین د دوی په لور روان و. مهمه لا دا ده، چې د میتروخین لیکنه چې یواځې د شوروي چاروااکیو او په خاص ډول د ک.ج.ب چاروااکیو د راپورونو پر بنسټ تهیه شوې ده، په دې اړه چوپه ده چې امین وروسته له هغه هلته تلل ومنل، چې پوزانوف په ټلیفون کې ورته داډ ورکړ، چې ژوند به یې خوندي وي، خو د ک.ج.ب پخواني چاروااکي الیکزاندر موروزوف لیکي، چې وروسته له هغه چې پوزانوف او درې تنه جنرالان د تره کي دفتر ته لاړل "... تره کي له امین نه وغوښتل، چې دی هم په غونډه کې ګډون وکړي، خو امین په دې چې ممکن هلته ژوند یې په خطر شي، له ورتګ نه ډډه وکړه، خو د تره کي په ټینګار سره یې موافقه وکړه. په دې شرط، چې پوزانوف یې د ژوند د خوندي توب ضمانت وکړي. وروستي په ټلیفون کې دغه ضمانت ورکړ."[61] نور نو د اقبال وزیري په ژبه، چې په دغه وخت کې د دفاع په ماڼۍ کې و، خو دی د غه کیسه د محمود سوما له خولې کوي، چې په خپله امین ورته کړې وه.

"... نور محمد تره کي امین ته ټلیفون کوي، چې پوزانوف له خپلو ملګرو سره یو ځای دده دفتر ته ورغلی او د بریژنیف پیغام یې راوړی دی، خو امین د تره کي دفتر ته د ورتګ څخه ډډه کوي. په دې مهال کې پوزانوف د خپل ژباړونکي په ذریعه د امین سره تلیفوني خبرې کوي او امین ته وایي، چې نو موړی یې امنیت تضمینوي او که ځان مصؤن نه احسا سوي، د خپلو ساتونکو سره دې راشي. امین د پوزانوف سره موافقه کوي او د ځان سره د ساتونکو په توګه حبیب الرحمن مصطفی او وزیر ځیرک بیایي... امین د ګلخانې ماڼۍ ته

ننوځي او د تړون له خوا د تره کي دفتر ته] په دويم پوړ کې[بدرګه کېږي. د امين مخې ته تړون او ورپسې وزير او په وزير پسې امين او د هغه شاته مصطفی او حبيب الرحمن روان دي او دويم پوړ ته په زينه خېژي. د تره کي ياوران هغه وخت، چې دوی په زينه راخېژي، وربانديې ډزې کوي. تړون سمدلاسه وژل کېږي، وزير سخت ټپي کېږي او امين او نور ساتونکي يې تښتي. امين، چې وزير يې په لاسونو کې نيولی و، په بيړه سره خپل موټر ته خېژي او په چټکتيا سره د دلکشا ماڼۍ ته په خپل موټر کې تښتي. د تې تښتې په مهال د ګلخانې د بام څخه په امين او ساتونکو باندې يې د شوروي د کوماندو د سرتېرو له خوا ډزې کېږي او امين دا صحنه په خپله ويني.[62]"
امين له صحنې نه روغ و ځي او د دفاع وزارت ته ځي.

دا به قصدي وي، چې د ميتروخين په ليکنه کې دغه مهمه پېښه نه ده بيان شوې. دغومره پکې ويل شوي، چې "يو څو دقيقې وروسته د تره کي د دفتر له هغه بل وره نه د ماشين ګڼ اواز واورېدل شو. ملګري ل.ن.ګوريلوف کړکۍ ته لاړ او کتل يې چې حفيظ الله امين د انګړ د ېوال ترڅنګه ځغستل.[63]"
عجبه ده، چې ميتروخين د تره کي د يوه محافظ له قول نه وايي، چې دا سيد داود تړون و، چې اول يې په يوه محافظ ډزه وکړه او هغو بيا سمدلاسه دی وواژه. کوم شی، چې دلته په اساسي ډول مهم دی، هغه د تره کي په دفتر کې دد غې پېښې په وخت کې د پوزانوف او درې تنو شوروي جنرالانو شتون و، چې موظف شوي وو د امين په لاندې کولو کې له تره کي سره مرسته وکړي. له همدې امله به و، چې تره کي هغې پخلاينې ته اهميت ورنه کړ، چې څلورويشت ساعته دمخه يې د صاحبجان صحرايي په مېنځګړتوب له امين سره کړې وه. په دغې پخلاينې سره تره کي منلې وه، چې

سروري او ملګري به يې سفيران کوي، خو هغوی چې دغې فيصلې له منلو نه سر وغړاوه او په خپل ښار کې يې شورويانو ته پناه يووړه، هغه هغوی ياغي ونه ګڼل او د هغه پرځای يې د خپل صدراعظم په له مېنځه وړلو کې له شورويانو سره لاس يو کړ. معلومه ده، چې تره کي د غې پخلاينې ته رښتين نه و، دی هغه پلان ته رښتين و چې په مسکو کې د امين د له مېنځه وړلو لپاره ايستل شوی و، که څه هم لکه چې دمخه ويل شوي امين د ثور کودتا په خپل نوښت او قومنده سرته رسولې وه او بيا يې خلقي نظام په اصل کې په خپل فعاليت سره په پښو درولی و. پر هغه سربېره تره کي له دغه درک نه عاجز و، چې که امين وژل شوی وای، بيا به دی واکمن سروال نه، بلکې هغسې بېواکه سروال وای لکه په ختيځې اروپا کې چې دولتي سروالان وو او وروسته کارمل شو. معلومه ده، چې تره کي، سروري، ګلابزوی او وطنجار ته خپلواکي مهمه نه وه، دوی ته مهمه دا وه چې په قدرت کې وي، که څه هم د يوه بېګانه هېواد تر ولکې لاندې وي. دا خو لا پر ځای پرېږده، چې دوی ټولو يوه غېر اخلاقي او وحشي کار ته ملا تړلې وه.

دغې پېښې په اړه غبرګونونه به په بل څپرکي کې وکتل شي، دلته به د هغې په وروسته بهير باندې خبرې وشي. له پېښې نه وروسته، چې يوه بې ساري کړکېچنه فضا رامېنځ ته شوه، طبيعي وه چې تره کي او امين به هر يو د خپل دريځ د پياوړي کولو او د بل د ناتوان کولو او لاندې کولو لپاره زيار باسي، خو لومړی تره کي له امين سره، په داسې حال کې چې اقبال وزيري ور سره په دفتر کې وو په تليفون کې وغږېد او وزيري له امين نه واورېدل، چې "د نر ترپ وي يا خرپ." هغه دا هم ورته وويل، چې "زه خو ستا دفتر ته د درتګ په مهال په ډزو استقبال شوم، خو تاسې د سفير او د هغه له ملګرو سره يو ځای

راشئ، زه به دې په ګلونو استقبال کړم." په عين حال کې پوزانوف هم له امين نه په تليفون کې وغوښتل، چې غواړي ورسره وګوري. پوزانوف بيا له خپلو ملګرو سره ورسره وليدل، په پېښې يې خواشيني ښکاره کړه او وروسته له هغه چې يې سره وعده وکړه، چې د ماښام په اوه نيمو بجو ياني دوه نيم ساعته وروسته به بيا سره ګوري، د امين له دفتر نه ووتل. په عين حال کې تره کی "د ګارد قومندان جانداد ته امر کوي، چې د دلکشا ماڼۍ له خاورو سره برابره کړي، خو هغه... ورته وايي چې هلته امين او نور ملګري دي او نه شي کولی په خپلو ملګرو بريد وکړي." تره کی بيا د هوايي پوځ د قومندان مرستيال حاجي محمد ته تليفون کړی و، چې په بګرام کې دشوروي اتحاد پراشوټ کندک دده مرستې ته ورداننګي. نو موړي ورته ويلي و، چې هغوی دا کار نه کوي. (63الف)" يواځې د خواجه رواش په هوايي ډګر کې د سياسي څانګې امر دوست محمد په هڅې سره يو جنګي ماشين راووت او په ارګ باندې يې ډزې وکړې، خو ماشين تسليم کړل شو او دوست محمد ونيول شو. په دې ډول د امين پر ضد د تره کي کوښښونه کوم ځای ته ونه رسېدل او پوزانوف او ملګرو يې هم ورته شا کړه او په نتيجه کې تره کی د واکمنۍ په تخت باندې د يوه بې واکه او لغړ واکمن په شان يواځې پاتې شو. ده ته به ښه وای، چې په خپله امين ته تللی وای او ترېنه يې د زړه بښنه غوښتې وای، خو ده دغه کار ونه کړ.

د تره کي پر ضد د امين کوښښونه غوڅ او بريالي وو، د هغه د تليفون د مزي په پرې کېدلو سره په خپل دفتر کې ګوښه کړل شو. د امين په قومنده وسله والې قطعې ښار ته ننوتلې او د ښار امنيت يې په لاس کې ونيوه او په افغانستان راډيو کې سروري او ملګري يې له خپلو وظيفو نه ګوښه شوي اعلام شول. په دې ډول

د سپتمبر په پېنځلسمه امین په واقع کې په ګوند او حکومت کې د تره کي ځای ونیوه. اوس نو د ګوندي او حکومتي سرانو کار و، چې هغه ته د مشروعیت او "قانونیت" بڼه ورکړي.

د سپتمبر په پېنځلسم سهار امین د ګوند پولټبورو یا د ګوند تر ټولو لوړ سیاسي تنظیم د دلکشا په ماڼۍ کې راوغوښت او غړیو ته یې د ګلخانې او د روغتون د وژنو او اړوندو پېښو راپور وړاندې کړ. په دغه وخت کې د امین پلویان د ګوند په پولټبورو، مرکزي کمېټې او داسې هم په انقلابي شورا کې په اکثریت کې وو. په اجتماعي سازمانونو او په خاص ډول په پوځ کې هم وضع همداسې وه. په بل عبارت، هم په حکومت او هم په ګوند کې امین تر ټولو پیاوړی وو. د دستګیر په وړاندیز، چې تره کی دې غونډې ته راوغوښتل شي، لنډ بحث وشو او امین هم ورسره سر وښوراوه، خو په عین حال کې یې دا هم وویل، چې د تره کي محافظانو اخطار ورکړی، چې که څوک ورنږدې شي، ډزې به پرې وکړي او دی ددغه کار مسؤلیت په غاړه اخیستلی نه شي. په پای کې د امین دغه نظر ومنل شو، چې د ګوند مرکزي کمېټه دې په دې اړه پرېکړه وکړي.

په بله ورځ (سپتمبر 16) په مرکزي کمېټه کې د امین په وړاندیز د "تره کي صاحب پر مستعفي کولو" بحث وشو. د زیري په وینا "تر بحث او سوال پرته نور محمد تره کي مستعفي او حفیظ الله امین د ګوند عمومي منشي په څېر وټاکل شو.[64]" وزیري او پنجشیري د مرکزي کمېټې پرځای د مرکزي کمېټې پلینوم نوم یادوي، چې د ګوندي او حکومتي لوړو څانګو د غړو ګډه غونډه ده.

په هر حال، انقلابي شورا هم د تره کي ګوښه کول ومنل او امین یې د هغه پرځای د خپل سروال په توګه غوره کړ. په دې ډول امین د ګوندیانو له خوا د ګوندي او دولتي سروالۍ مشروعیت ترلاسه کړ، خو هغه ته د تره کي شتون د اندېښنې

وړ و. دی تراوسه د ګوند او حکومت مشر و او په دوا ړو کې یې پلو یان لرل او د ګوند سپین ږیری مؤسس هم و. پر هغه سربېره څو ورځې دمخه یې په مسکو کې د شوروي اتحاد امپراتور لیوېند بریژنیف سره دوه په دوه لیدلي او د امین په لیرې کولو کې یې ورسره موافقه کړې وه او د همدغې موافقې له امله د امین بندي ګرځېدلی و.

سره له دې هم درې او نیم ورو سته د اکتوبر پر لسمه په یوې رسمي څرګندونې کې په لنډ او عادي ډول وویل شول، چې نور محمد تره کی د هغې ناروغتیا له امله چې ورپېښه شوې وه، مړ شو او په قول ابچکان کې په پلرنۍ هدیرې کې خښ شو. تره کی د ځیګر، معدې او ساه کښلو نه شکایتونه لرل، خو یو یې هم د غومره جدي نه و، چې د هغه له امله مړ شي، هغه هم سمدلاسه. امین د بي. بي. سي استازي سره په مرکه کې دو مره ویلي وو، چې هغه ناروغ دی او دی طبیب نه دی، چې ناروغي یې ور ته په دقیق ډول معلومه وي. دغه استازي له امین نه سختې او دقیقې پو ښتنې کولې او هغه په ډېرې زیرکۍ سره ځوابو نه ورکول. په پرچمي رجیم کې د روزي له خولې د تره کي د له مېنځه وړ لو خبر په راډیو کې خپور شو. عظیمي او په تېره فرهنګ د تره کي وژنه اوږده بیان کړې، چې لنډیز یې دا دی چې تره کی د لوی درستیز محمد یعقوب او د ګارډ قومندان جاندا د په څارنې سره عبدالودود د ګارډ د مخابراتو رییس او روزي زیرک د میزان په 16مه یا 17 مه) اکتوبر اتمه یا نهمه(د ارګ په باغچه کوټې کې ورو سته له هغه، چې کورنۍ یې ور نه بېله کړې وه، په بالښت سره د لسو یا پېنځلسو دقیقو په بهیر کې دغسې سخت خپه کړی و، چې ساه یې وختله [65].

په یوه روایت تره کی هغه وخت له مېنځه یووړل شو، چې بریژنف د هغه د برخلیک په اړه علاقه ونه ښودله او د امین د پېغام په ځواب کې، چې له بندي تره کي سره څه وشي، ویلي و چې

"ددې اړتیا نه شته چې تره کي مسکو ته واستوي. دا ستاسې مسئله ده، په کوم ډول چې ته ښه پوهېږې، حل يې کړه.(66)" دغه روايت د بريژنيف له هغه غبرګون سره سر نه خوري، چې هغه د تره کي په مرګ ښودلی. د ګروميکو په وينا، بريژنيف ددغه خبر په اورېدلو سره "بل څه شو" او ويې ويل، چې "هغه په څپېړه په مخ وهل شوی دی او مجبور دی ځواب يې ورکړي." په دغه وخت کې دده ځواب له واک نه د امين لېرې کولو فکر و، نه نظامي يرغل(67). لکه چې په بل څپرکي کې به ولېدل شي، بريژنيف د تره کي له مرګ سره سره د امين له حکومت سره اړيکې ساتل او پرمخ بيول.

د تره کي وژنه د امين غټه تېروتنه وه، له اخلاقي او انساني کتنو نه سربېره سياسي مصلحت او د سليم عقل حکم دا و، چې تره کي په داسې حال کې چې هغه څلور فتنه ګر له صحنې نه وتلي او د عمومو په ذهن کې محکوم شوي او تره کي په ارګ کې بندي شوی او له بيرون سره يې اړيکې شلېدلې وو، پر ځان پښ او نه چندان فعال تره کي امين ته خطر کېدلی نه شو، البته له روحي نظره به امين ته ګرانه وه، چې تره کی وژغمي، خو دولتي لويان د ملي چارو په اجرا کې له مصلحت او سليم عقل نه کار اخلي، يا بايد کار واخلي، نه له بدل او انتقام نه.

نور محمد تره کی

نور محمد تره کی په رسمي خپرونو کې په کال 1917 د جولايي په 14مه د مقر د ناوې په سور کلي کې پيدا شوی. د وژل کېدلو په وخت دوه شپېته کلن و او تر خپل عمر نه زوړ معلومېده. دغه نېټه شايد ده په خپله غوره کړې وي، ددې لپاره چې د خپلې زوکړې کال شوروي "انقلاب" او نېټه د پاريس باستيل ورځې ته منسوبه کړي او په دې ډول خپلو پلويانو ته ځان يو طبيعي انقلابئ

وښيي. په هغه وخت کې د افغانستان په کليو کې هغه هم په يوې شپنې کورنۍ کې د زوکړې نېټې ليکل رواج نه لاره. پخوا نور محمد تره کي په خپل قلم د عبدالروف بېنوا کتاب)پښتانه ليکوال(کې د خپل زوږ کړې ځای ميمنه ښوولی او تره کي بيا په خپلې واکمنۍ کې دد غه اثر ټول ټوکونه له دولتي کتابتونونو نه ټول کړل او د مقرد ناوې په سور کلي کې يې په خپلې زوکړې باندې له حد نه زيات ټينګار وکړ. د اروا ښاد عبدالرشيد ساپي په روايت، تره کی چې لا ماشوم و له خپلې مور سره له روسي ترکمنستان نه ميمنې ته راوستل شو او هلته محمد زمان تره کي ورسره واده وکړ.

په هر حال، د تره کي سترګې شنې، اوږې يې پلنې، و نه يې ټيټه او پر ځان مندلی او پڼ و. هر څه چې و، تره کی په واقع کې يو ټيټ ذګ او زيږ پښتون و. د لومړي ښوونځي يواځې څو ټولګي يې لوستلي و او په خپل شخصي زيار سره يې ځان تر دې حده رسولی و، چې د کندهار موسی خان شرکت له خوا بمبۍ ته واستول شو او بيا بېرته په کابل کې د محمد زمان تره کي په مرسته د ماليې وزارت په مجله کې محرر وټاکل شو او وروسته د ملي بانک سروال عبدالمجيد زابلي په مرسته په دولتي انحصاراتو کې مقرر شو.

له دويم نړېوال جنګ وروسته د ويښ زلميانو په ګوند کې يو فعال غړی شو او د وخت له نوميالیو ليکوالو سره يې ملګرتوب پيل کړ او د ملي سياست په ډ ګر کې ننوت. د شاه محمود په صدراعظمۍ کې تره کي د بې نوا په سپارښتنه په باختر اژانس کې په کار وګومارل شو. وروسته په داسې حال کې، چې حکومت د ويښ زلميانو ځينې لويان بندي او نور يې تطميع کړل، تره کی يې په واشنګټن کې د مطبوعاتو اتاشه مقرر کړ، خو د محمد داود د صدراعظمۍ په شروع کې هغه په دې، چې انګرېزي يې ښه نه وه زده، بېرته

وغوښتل شو. تره کي اول د افغانستان د حکومت پرخلاف په امريکې کې مرکه وکړه، خو له خپلو خبرو نه زر واوښت او د محمد اکبر پرواني او بېنوا په شفاعت وبښل شو او بېرته کابل ته راغی. له هغه وروسته تره کي د ثور ترکودتا پورې کومه رسمي دنده نه ده لرلې.

بيا نو تره کي د کمونستي اثرونو په لوستلو لذګر واچوه او د ايران د تودې ګوند اثرونه يې ډېر لوستل او لکه چې دمخه ويل شوي، په کال 1951 کې يې د ک.ج.ب ايجنټي منلې وه، خو د خپلې واکمنۍ په وخت کې يې شوروي لوريانو يا ک.ج.ب چارواکيو ته سر ټيټ کړی نه دی او په مسکو کې يې په کال 1978 کې له بريژينف سره هم ټينګ چلند کړی دی. ک.ج.ب هم تر هغه وخته، چې له امين سره مخالف شوی نه و، له تره کي نه سر وټکاوه. په کال 1974 کې، چې د خلق او پرچم ډلګي سره سخت مخالف وو او تره کي او کارمل په يوه بل باندې سخت تورونه لګول، دواړو ته د ک.ج.ب هدايت دا و، چې د يوه بل پر ضد له تورونو لګولو او تخريب نه ډډه وکړي او که نه "ارتجاعي قوتونه" به له هغو نه په ګټې اوچتولو سره په افغانستان کې د "دموکراتيک غورځنګ" شنډ کړي(68).

تره کي لا دمخه په 1957 کې د "بنګ مساپري" په نامه يو ناول خپور کړی و. ددغه ناول مرکزي ټکی د مارکسستي فکر له مخې دا ښودل شوي و، چې په افغانستان کې بزګران او خواريکښان د فيوډالو، مذهبيانو او حکومتيانو له خوا زبېښل کېږي. دی په اصل کې يو جذمي او په کمونستي ايډيالوجۍ باندې ټينګ ولاړ يو ساده ټوکمار او غوريالی شخص و. په کال 1968 کې، چې زه له انګلستان نه وطن ته ستون شوم، د تره کي د يوې پوښتنې ځواب کې مې وويل، چې ما د يوه ځېرنيز تيسس په ليکلو سره د لندن پوهنتون ته د ماسټر اف ايم.فل (MPhil) شهادتنامه ترلاسه

کړې. هغه سمدلاسه وويل، چې "هر هغه اثر چې د امپرياليستي اثار و پر بنسټ ليکل شوی وي، موږ ته د منلو وړ نه دی." د حيرانۍ ځای دی، چې ددغسې ذهنيت لرلو سره سره تره کی په کال 1965 کې په دې برياليالی شو، چې په افغان عنعنوي او ديني ټولنې کې تعليم کړي ځوانان د افغانستان خلق ډموکراتيک ګوند په نامه په دغسې تنظيم کې پر ځان ټول کړي، چې په اصل کې کمونستي و. دا د هغه ډېر غټ برياليتوب و، چې ډېر خلک يې حيران کړي وو. د تره کي بل غټ بری هغه و، چې د ثور کودتا نه وروسته هغه وخت چې عامه ذهنيت د هغه او د هغه د ملګرو پر ضد وتورېد، تره کي د افغانستان د هر قوم ډلو ډلو مشرانو ته په ارګ کې په ساده او عامه ژبه وېناوې کولې، چې "هغوی چې د نادر غداره کورنۍ له واک نه غورزولې، د دوی بچيان او ورونه دي او دوی دغه کار په واقع کې د دوی د ښېګڼو لپاره کړی دی." تره کی بيا هېڅکله دغسې ونه ځلېد، که څه هم د خلقي کودتايي نظام اعلی واکمن و.

اووم څپرکی

د حفيظ الله امين سل او درې ورځې واکمني

امين د خپلې واکمنۍ په دوره کې که څه هم لنډه وه، ډېر کارونه وکړل. د غه وخت دی پنځوس کلن او په ځان تکړه و. لومړی او مهم کار يې په ګوند او حکومت کې د خپل مقام نور هم

ټینګول او د خلکو د روغ نیتی جلبولو په لور کوښښ کول و. ددې لپاره یې په وطن او دبا ندې له نورو حکومتونو سره تغییرونه راوستل او د حکومت لوری یې یو څه واړوه، خو حکومت د پخوا په شان یو ګوندي او په اصل کې زورواک و.

نوی حکومت، نوی چلند

امین د تره کي د وخت کابینه، چې د وزیرانو شورا نومېدله، وساتله او د ګوښه کړل شویو وزیرانو او د اګسا د سروال پرځای یې خپل ټینګ پلویان پکې دننه کړل. فقیر محمد فقیر د کورنیو چارو وزیر، انجنیر محمد ظریف د مخابراتو وزیر او صاحبجان صحرایي د سرحداتو وزیر په توګه. خپل وراره او زوم اسدالله امین یې د اګسا پرځای د کام)د کارګرو د استخباراتي مؤسسې(سروال په توګه وټاکه. په کابینه کې اته تنه وزیران پښتانه، پېنځه تنه تاجک، یو ازبک)عبدالحکیم شرعي جوزجانی(د عهدلیې وزیر او لوی څارنوال، یو هزاره)عبدالکریم میثاق د مالیې وزیر(او یو قزلباش)محمد اسماعیل دانش د کانو او صنایعو وزیر(وو. پوځي او پولیسي چارې زیاتره د پښتنو په لاس وې او ټینګ پلوي یې محمد یعقوب دپوځ لوی درستیز و. داسې هم امین د ګوند حاکمو ځانګو یانې پولټبورو)سیاسي دفتر(او مرکزي کمېټې تشیاوې په خپلو پلویانو سره ډکې کړې او د پولټبورو شمېر یې د دوو تنو په اضافه کولو سره اتو تنو ته ورساوه او په مرکزي کمېټه کې یې څوارلس تنه پوره او علی البدل یا منتظر نوي غړي ځای کړل⁾[1]⁽، خو په ګوند کې د تره کي په وژل کېدلو او د سروري او نورو) له مزدور یار نه پرته چې بندي شوي و(په لادرک کېدلو سره کړکېچ پیدا شو، چې د نارامۍ او د ګوند د کمزوري کېدلو سبب شو. په دننني او باندني سیاستونو کې په عمومي ډول دغسې حرکت شروع او بدلون راوستل

شو، چې د هغه دوره یې د تره کي له دورې نه په څرګند ډول بېله کړه.
د نوي حکومت اصلي محور امین او دویم کس شاه ولي د صدراعظم مرستیال او د باندنیو چارو وزیر و. امین د حکومت د لوري په اړولو سره له غیر معمولي حال سره مخ شو، په دې چې دوی ټولو د حکومت په چلولو کې مخینه او تجربه نه لرله، په اداري چارو کې یې پخواني تجربه لرونکي ماموران هم ګوښه کړي وو او چارې یې په مشورې سره هم نه اجرا کولې، که څه هم په رسمي او ګوندي خپرونو کې په پرله پسې ډول ویل کېدل، چې حکومت او ګوند د ډله ییزې مشرۍ د اصل له مخې چارې ترسره کوي. په ګوندي او حکومتي مخکښانو کې د اعتماد کمی هم و. د زیري په ژبه "حفیظ الله امین... زیرى، میثاق او پنجشیرى خپل پخواني مخالفان بلل، چې د پلویانو له خوا... د کنجکیانو نوم پرې ایښودل شوی وو.[2]" "کنجکیان" په دې مانا، چې څه وخت چې په غونډو کې کومه موضوع تر بحث لاندې نیول کېدله، دوی به د کوټې په کنج کې سره پس پسکې کولې، نه دا چې په موضوع باندې ازاد بحث وکړي، یا کولی وشي. له بلې خوا کنجکیانو د امین پلویان "سره خلقیان" ګڼل، یاني هغوی چې په "انقلابي ډول" یا غوڅه توګه عمل کوي[3]. د تره کي پلویان خو د "اصولي خلقیانو" په نامه د حاکمې ګوندي ډلې پرضد شول، خو دوی نه کوم مخکښ لاره او نه پېژندل کېدل. دوی په ګوند کې دننه ورانی کاوه او د ریشخورو د فرقې پاڅون د دوی کار و، چې زر به یې بیان وشي. پردې سربېره په کابل کې د نوي حکومت پر ضد د ک.ج.ب چارواکیو ورانی کاوه، دوی ځینې ګوندیان هڅول، چې شوروي اتحاد ته لاړ شي، ځکه چې دلته یې د دوی په فکر، ژوند په خطر کې دی. صولت شاه او ایګور کاتکوف ددغه کار لپاره ګومارل شوي وو. صولت شاه چې د تاجکستان تاجک و، د پښتو متلونو په څېړنه کې

د ډاکټرۍ شهادتنامه ترلاسه کړې وه او کاتکوف د شوروي سفارت دويم سکرتر و. لومړني عبدالکريم ميثاق ته ويلي و، چې څنګه چې دلته يې ژوند په خطر کې د، شوروي اتحاد به ور ته سياسي پناه ورکړي. ميثاق نه يوازې هغه ته د رد ځواب ور کړی و، امين يې هم پرې خبر کړی و. وزيري وايي، چې کاتکوف ده ته هم دغسې بلنه ور کړې وه. امين وزيري ته ويلي وو، چې کاتکوف داود پنجشيري ته د همدغه مقصد لپاره ويزه هم اخيستې وه. صولت شاه او کاتکوف بيا په 24 ساعتونو کې له افغانستان نه وايستل شول[4]. خو دغه خبر په رسمي ډول خپور نه شو، يوازې د ستګير پنجشيري په همدغسې هڅونې سره مسکو ته لاړ او د امين د واکمنۍ په اخر کې وطن ته ستون شو او په هغې ميلمستيا کې يې ګډون وکړ، چې له ده نه پرته نور ټول مسموم شول او دی مشکوک وګڼل شو.

له دغو ستونځو سره سره امين همدا، چې د ګوند عمومي منشي او د انقلابي شورا سروال شو، په زغرده په کار لاس پورې کړ. د پخوا په شان يې د لومړي وزير او د ملي دفاع چارې هم ترسره کولې، د امنيتي څانګو او چارو سروالان ټول د امين ټينګ پلويان وو. په دغه حال کې د دولت او حکومت سروال حفيظ الله امين، چې دننه او دباندې هر ډول سياست پرمخ بيوه او هر ډول چلند کاوه، په خپل فکر او نوښت کاوه. امين د دوشنبې په ماښام)26 سنبله، 1358_17 سپتمبر، 1979(په تلويزيوني وينا کې وويل، چې کوم هغه کسان چې بې موجبه بندي شوي دي، آزاد به شي او له دې وروسته به هيڅ څوک له لاسوند نه پرته بندي نه شي. نور به فردي حکومت نه وي او حکومت به خلکو ته مسؤليت ولري او د قانون له مخې به چلېږي. ده دا هم وويل، چې د اساسي قانون د جوړولو لپاره به يو خاص کميسيون وټاکل شي او په وطن کې به "قانونيت، مصؤنيت

او عدالت" وي[5].

د بندیانو موضوع سمدلاسه مهمه وه، په دې اړه حکومت دوه کارونه وکړل: یو یې د نومبر په 16مه د له مینځه وړل شویو بندیانو لستونه د کورنیو چارو وزارت په دېوالونو وځړول، د دوی ټول شمېر دولس زره ښودل شوی و، خو د غه شمېر یقیني نه و او لستونه هم زر ټول شول. د مؤلف فرهنګ په وینا "خانواده های اشخاص زندانی و مفقود بوزارت داخله سرازیر شده بعضی نام وابستگان شان را در فهرست مشاهده کرده فریاد و فغان و لعنت و دشنام وداد ند و برخی دیگر که نام شخص مطلوب را در فهرست نیافتند، در شک و تردید جانکاه باقی ماندند. اما هنگامیکه سر و صدای اعتراض عامه اوج گرفته نزدیک بود به قیام عمومی منجر شود، فهرست ها از دیوارها برچیده شد."[6] دغه لستونه دقیق او سم هم نه وو، "بعدها معلوم شد که فهرست چنان ناشیانه ترتیب شده بود که یک تعداد اشخاص که نام های شان در ان درج بود، از محبس بیرون شدند و کسانیکه نام شان تثبیت نشده بود از بین رفته بودند."[7] دا له دې امله و، چې خلقي ماموران په دفتري چارو نه پوهېدل او په هغه سربېره څنګه چې د اګسا چارواکیو بندیان بې له لیکلي تحقیق او محاکمې نه هم له مېنځه وړل، په دفترونو کې یې هویتونه لیکل شوي نه وو.

په هر حال، دد غو لستونو له ځړولو نه مقصد دا و، چې دغه وژنې د اګسا چارواکیو کړي او کام به څوک له لاسوندونو پرته نه بندي کوي.

دویمه دا چې حکومت له وعدې سره سم په کابل کې 850 تنه بندیان جوپه په جوپه ازاد کړل او پاتې 2700 یې د جنورۍ په لومړۍ ورځ د ګوند دشپاړسمې کالیزې په ویاړ خوشې کول، خو په هغه وخت کې نسکور شوی و[8]. حکومت په همدغه لړ کې د کشتمند، عبدالقادر او رفیع اعدام د اوږدو مودو په بند سره تبدیل کړ.

د امین په وخت کې اساسي موضوع د اساسي قانون د کمیسیون جوړول و. د اساسي قانون لرل اول پولټبورو او وروسته انقلابي شورا ومنل، تر دغه وخته پورې د فرمانونو له لارې حاکمیت چلول کېده نه د کوم اساسي قانون پر بنسټ، چې د حکومت واک او د خلکو حقونه ټاکل شوي او د زورواکۍ مخه نیول شوې وي، یا لږ تر لږه زورواکي محدوده شوې وي، نو په خلقي دوره کې تر دغه وخته پورې د چارواکیو د زورواکۍ غټ علت د اساسي قانون نه شته والی و او چې اوس امین غوښتل حکومت یې د قانون له مخې حکومت وکړي. همغه و، چې ددغه کمیسیون د جوړولو لپاره د اکتوبر په سر کې له ټول هېواد نه پنځوس تنه غړي وټاکل شول، چې هغه ځینې حکومتي وزیران، غیر ګوندي پوهان، ځینې نظامي افسران، قومي لویان او روحانیان وو[9]. د کمیسیون لومړۍ غونډه په خپله امین پرانېستله او کار یې په اوو کمېټو ووېشل شو او ډول ډول نظرونه او وړاندیزونه پکې واورېدل شول. د قانون جوړولو کار پای ته رسېدلی و، چې شورویانو په افغانستان ودانګل او په پرچمي رجیم کې هغه د افغانستان د موقتي اساسي قانون په شکل وایستل شو، خو عمل پرې ونه شو.

داسې هم امین د سپتمبر په اخره کې په دې پیل وکړ، چې د کودتا نه دمخه حکومتونو په شان هېواد ته د پلان له مخې انکشاف ورکړي. ددغه مقصد لپاره یې د خپل مرستیال شاه ولي په سروالۍ او د عامه روغتیا، مالیې، کانو او صنایعو، د پلان جوړولو او سوداګرۍ وزیرانو په غړیتوب یو لوی اقتصادي کمیسیون جوړ کړ. په دې اړه دمخه هم یو کمیسیون جوړ شوی و، خو هغه غېر فعال و. نوي کمیسیون په ټینګه کار پیل وکړ او دغسې پېنځه کلن اقتصادي پلان یې وایست، چې د نوي لمریز کال په شروع (مارچ 1980) کې به یې پلي کېدل شروع شي[10].

د اکتوبر په پای کې امین انقلابي شورا ته د اقتصادي اجتماعي انکشاف لپاره لس کلن پلان وړاندې کړ، چې د هغه له مخې د پېنځه کلن انکشافي پلان په هدفونو باندې له سره نظر اچول شوی و. ددغه تجویز له مخې شوروي اتحاد د خپلو پورونو د تادیې وخت بېرته غورزولی او سوشلستي هېوادونو د پلان د 66 سلنې پیسو مرستې منلې وې[10]. د پلان ځانګړتیاوې مشخصې نه وې، خو که هغه په دغومره مرستو سره پلی شوی وای، په افغانستان کې به د شوروي اتحاد نفوذ لا ډېر شوی وای، خو ځنګه چې نورو حکومتونو نه غوښتل د امین له حکومت سره مرسته وکړي، هغه هم دغومره ډېره مرسته حکومت ته بله لاره هم نه وه پاتې. امین په دې باور و، چې د شوروي اتحاد مرستو ته "حد نه شته]او هغه[پوره زموږ په توان پورې اړه لري، چې جذب یې کړو او کار ترېنه واخلو.[11]" د امین دغه باور پر ځای نه و. شوروي اتحاد ته ګرانه وه، چې له افغانستان سره دغومره ډېره مرسته وکړي، که څه هم تر دغه وخته یې له خلقي حکومت سره ډېر قراردادو نه لاسلیک کړي وو. شوروي اتحاد لا د افغانستان د ګاز بیه، چې له 1968نه وروسته یې له شبرغان نه واردوه، له بین المللي نرخ نه لږه ورکوله. پر هغه سربېره د ګاز د اندازې میټر په شوروي اتحاد کې نصب شوي او د شوروي ماهرانو تر څارنې لاندې و. افغان حکومت د هغومره متر مکعب غاز اندازه منله، چې شوروي ماهرانو ورکوله[12]. په دې ډول افغانستان په خپل یوه غټ صادراتي قلم باندې تاوان کاوه.

د خلقي حکومت درې وزیرانو د عبدالکریم میثاق په ګډون په یوه ګډ لیک کې له شوروي اتحاد نه وغوښتل، چې د ګاز په بیه باندې له سره نظر وکړي. د شوروي حکومت ځواب معلوم نه دی، خو دا معلومه ده چې امین د شوروي له یرغل نه لږ دمخه خپل یوه لوړ پوړي چارواکي ته ویلي

و، چې د شوروي حکومت ورنه غوښتي و، چې افغانستان دې د تیلو بیه درې کرته زیاته ورکړي. امین په ځواب کې ویلي و، چې موږ د ضعیف اقتصاد له امله دغه زیاتوالی منلی نه شو او که مجبور شو، زموږ خلک به له بایسکیلونو کار واخلي[13].

امین پوهېده، چې که حکومت یې د ضعیف اقتصاد له امله سقوط ونه کړي، لږ تر لږه له سختو ستونځو سره به مخ شي. افغانستان د ثور له کودتا نه وروسته نه دا چې په اقتصادي لحاظ انکشاف ونه کړی، له بحران سره مخامخ و. هغه وړې فابریکې، چې پخوا په کار شوې وې، په تېره د کابل په صنعتي پارک کې تړل شوې وې. د تولیدي مؤسسو خاوندانو او پانګه ورو خپلې شتمنۍ په خطر کې لیدلې او چې کولی یې شول، دباندې تلل. سوداګري هم سخته زیانمنه شوې وه او انتقالات په لویو لارو کې خوندي نه وو. باندي سیلانیان، چې افغانستان ته په راتګ سره یې د وطن عواید ډېرول، له کودتا نه وروسته نه راتلل. په سیلانیانو پورې اړوند صنعت لکه د انتیک څیزونو هټۍ او هوټلونه هم تړل شوي وو. عمومي وزګارتیا ډېره شوې وه او وار په وار ډېرېده. زراعتي محصولات، چې د ملي اقتصاد مهمه برخه ده، د ځمکو وېش سره کم شوی و، په داسې حال کې چې کرنه له کودتا نه دمخه تر یوه حده پورې په خاص ډول په هلمند کې ماشیني شوې وه او افغانستان د اصلاح شویو تخمونو او کیمیاوي سرې په استعمال سره د کرنې د محصولاتو له درکه تر ډېره حده پورې پر ځان بسیا شوی و. عمر ساپی وایي، چې "د ثور د پاڅون وروسته هم پروګرام داو، چې نو موړې پروژې تکمیل شي او لا انکشاف ورته ورکړل شي، خو حالات داډول راغلل چې هرڅه دکاغذ پر مخ پاتې شول."[14] دی "د زرګونو اقتصادي ستونزو" له ډلې نه دا هم وایي، چې د کودتا په لومړي کال "د افغانستان

د دفاع وزارت بودجه د عقرب په میاشت کې خلاصه شوه.[15]" په دغه کال کې د پاڅونونو له امله نظامي عملیات او لګښتونه بیخي زیات شوي وو، عجیبه ده چې په ټولو هغو اثارو کې چې د خلقي نظام په اړه لیکل شوي دي، د افغانستان د اقتصادي او مالي وضع په اړه لږ څه په کې ویل شوي دي. هغه ټول د سیاسي او امنیتي وضع په اړه دي.

د اکتوبر په دریمه حکومت د هېواد ټول خلک څه باندې پېنځلس نیم ملیون و ښودل، چې شمېر نه یې د جون د 15مې او جولای پېنځمې پورې شوې وه. د هغې ناارامي له امله، چې په هېواد کې خوره وه، دغه شمېرنه ناشونې وه، خو د مرکزي سرشمېرنې مؤسسې د ملګرو ملتونو د مؤسسې هغه نمونې، چې دمخه یې تنظیم کړې وې، اساس وګرځولې او دغه شمېرنه یې په تخمیني ډول وړاندې کړه[15 الف].

اساسي موضوع د امنیت وه، چې د امین په واکمنۍ کې هم خرابه وه، خو نه هغومره چې مخالفانو په تېره پرچمیانو او وروسته شورویانو ویل او د شوروي یرغل یې د کړاولو دلیل ښودل شوی. د امین په وخت کې یواځینۍ غټه ناارامي د ریشخورو د فرقې وه، چې د اکتوبر په 14مه د جمعې په ورځ پېښه شوه او ډزې یې په بله ورځ په کابل پوهنتون کې هم اورېدل کېدلې. ناارامي په اصل کې د تره کي پلوو او زر غوني افسرانو کار و، خو په اړه یې دقیق معلومات نشته او هغه زر وځپل شوه. حکومت د هغه پړه په دوو "خاینو جنرالانو" واچوله او د افغان ملت ګوند مؤسس غلام محمد فرهاد یې مشر و ښودل شو. په ځپلو کې یې له جنګي الوتکو، زړو ټانکونو او نورو قوتونو نه کار واخیستل شو، نه د څلورمې زغروري قوې له ټانکونو نه، چې له هغو نه شاید د وطنجار له امله کار نه وي اخیستل شوی[16]. ددغه نابریالي پاڅون په کړاولو کې

"دومره ډېرې وسلې په څو ډېپوګانو کې د هوايي بمباریٔ په ذریعه له منځه لاړې، چې ارزښت یې ملیونو ملیونو افغانیو ته رسېږي. ویل شوي، چې په دغو ډیپوګانو کې ډېرې زړې ډول ډول وسلې هم وې، چې ځینې یې حتی د امیر عبدالرحمن د وختو هم وي. پاڅون د توپچي د غونډ له خوا پیل شوی و.[17]" حکومت زر وروسته دا هم څرګنده کړه، چې "یو شمېر انقلاب ضد او خلق ضد عناصرو د غلام محمد فرهاد په مشریٔ غوښتل په ښار کې ناارامي راولي، خو دوی له اسنادو سره ونیول شول.[18]" له فرهاد سره د سپین غر په نامه یو متقاعد جنرال هم ملګری و ښودل شو، خو فرهاد له خپل زوی سره تر دې یوه اونۍ دمخه بندي شوی و. پر دې سربېره د یوه بندي په وینا "د هغه عمر د غومره زیات و، چې په مشکله یې خبرې اورېدلای او درک کولای شوې.[19]" ویل کېده، چې فرهاد ځکه ددغه پاڅون مشر وښودل شو، چې شورویانو ته وښودل شي چې دوی د نېشنلستانو مخالف دي.

په هر حال، په دغه کار سره افغان ملتیان هم ناراضه شول. دغه پاڅون که څه هم زر وځپل شو، پایلې یې ژورې وې. یو دا چې څنګه چې دا پېښه پوځي پاڅون و، پوځ یې لا هم ضعیف کړ، په تېره چې په هغه کې ډېر سرتېري او افسران تلف شول. بله دا چې لکه چې دمخه ویل شوي، په ارګ کې د تره کي په وژل کېدلو سره او بیا په دغه ناکام پاڅون سره په خلقي ګوند کې یو بل درز راغی او ګوند تر پخوا لا ضعیف شو. له دې وروسته حاکمې خلقي ډلې، چې تر دغه وخته یې تره کي په غټو لقبونو ستایه، د تره کي په بد ویلو پیل وکړ. په یوې ګوندي لیکنې کې ویل شوي و، چې "تره کي د ثور په ستر او نه ماتېدونکي او په شانه تلونکي انقلاب کې هېڅ رول نه لاره. دغه افتخارات په دې ده ته ورکړل شول، چې دی یو سپین ږیری او د حزب مؤسس و، مګر ده خپل قدر و نه پېژنده او غوښتل یې چې د یوه خارجي قدرت

په مرستې سره نور له مېنځه يوسي او له ببرکيانو سره اتيلاف او حاکميت وکړي.[20]" په مقابل کې پرچميانو او "يو شمېر خلقيانو" امين پر ضد شپې ليکونه خپرول. د يو شمېر آستخباراتي موټرو په واسطه د کابل ښار په مختلفو برخو کې تيتيدلې او د شب نامو په متن کې په صراحت سره د امين د سقوط مطالب ليکل کېدل او خلکو ته د يوه نوي او سالم حکومت د راتګ غږونه پکې ښکاره کېدل.[21]" نبي عظيمي هم وايي، چې "عده ای را عقيده بران بود که برخی از این شب نامه ها در سفارت شوروی ترتيب و از طريق اعضای سفارت مخفيانه از طرف شب پخش ميشدند." دی دا هم وايي، چې "در شب نامه ها به ضرورت وحدت و همبستگی حزب خلق و پرچم بخاطر از بين بردن امين تائيد ميگرديد.[22]"

حکومت د تره کي پلوو خلقيانو او پرچميانو په وړاندې کې غوڅ عمل کاوه، په لنډ ډول حکومت يو شمېر پېژندل شوي تره کي پلوه او زر غوني خلقيان بندي کړل. د شېرزاد خلقي په وينا، د ننګرهار په محبس کې د هغو شمېر يو پنځوس او د هاشم وطنوال خلقي په وينا په کابل کې د هغو شمېر تر ديرشو نه ډېر وو[23]. له کارمليانو سره خو د اميندپانو اړيکې له اول نه تر خه وو، دغو شپې ليکونو هغه نور هم ترخه کړل. امين په دې هم پوهېده، چې کارمل که څه هم پراري دی، دده اصلي ژوندی سرسخت رقيب دی، خو دا به ده ته معلومه نه وه، چې شورويانو هغه او ملګرو ته يې ډاډ ور کړی، چې په واک به يې ور سوي. د امريکې د څو استخباراتي څانګو په يوه ياد ښت کې د سپتمبر په 27مه ويل شوي و، چې "مور دغسې راپورونه ترلاسه کړي وو چې شورويانو د خلق دموکراتيک د پرچم د مخالفې ډلې لويان، چې په اروپا کې پراري دي، هڅولي دي چې ډاډه اوسي چې شورويان به يې په واک راولي او که داسې ونه شول، شوريان به په نظامي کودتا لاس پورې

کړي.[24]" د همدغې ډاډېنې له امله و، چې پرچمیان بیا هم کرار نه، بلکې په حېرانوونکي ډول فعال وو. په دغه حال کې حکومت په پرچمیانو باندې د دویم ځل لپاره سخته ونیوله. لومړی ځل یې وروسته له هغه پرې سخته نیولې وه، چې لویان یې د کودتا په تور نیولي وو. اوس د حکومت پروګرام دا شو، چې پرچمیان له حکومتي ادارو نه وباسي، تنظیم یې له منځه یوسي او له ټول ملک نه یې کمبله ټوله کړي.

په کابل کې یې پېژندل شوي پرچمي ماموران یو په بل پسې نیول او بندي کول. غېر حکومتي پرچمیان یې هم، چې ګوتو ورتلل نیول او بندي کول. سره له دې هم ډېر پرچمیان پټ شول. دوی د مقابلې توان نه لاره، خو پروپاګنډ یې ډېر کاوه. امین یې د سي آی اي "ایجنټ" ګاڼه او ویل یې چې له دوی نه یو نیم زر تنه بندي شوي دي. واقعیت دا دی، چې ټول هغه پرچمیان چې د شوروي د یرغل په سبا له زندان نه خوشې شول، شپږ سوه تنه وو. له دوی نه ډېر له منځه وړل شوي هم نه دي. په هغو "دولس زره" اعدام شویو کې پرچمیان د ګوتو په شمار وو. دوی د تره کي پلوو خلقیانو په اندازه کړل شوي هم نه دي. داسې ښکاري، چې خلقي حکومت د شوروي مشاورانو له امله په پرچمیانو نور څه نه کول، یا کولی نه شول. هر څه چې و د غو پې ښو ګوندي کړکېچ او دا چې امین تر فشار لاندې و چې باید ډېر کار وکړي، په هغه یې بد اثر کړی و. د ساپي په وینا "امین د ګوند د تشتت او د خپلو مخالفینو د بهرني شیطاني نقشونو په نتیجه کې ناراحت و... د پخوا وختونو په تناسب زهیر معلومېده.[25]" ساپی امین د شوروي له یرغل نه لږ څه دمخه په کابل کې لیدلی و.

د ریشخورو له پاڅون نه غیر د امین په واکمنۍ کې بل غټ پاڅون لیدل شوی نه دی، البته هېواد ناارام و، خو امنیتي وضع مخ په ښه کېدو

وه. د بېلګې په ډول د امین د واکمنۍ په سر کې په پکتیا کې یواځې خوست او ګردیز د حکومت تر کنټرول لاندې وو او سیمې او قومونه یې له حکومتي کنټرول نه ازاد وو، خو وروسته ټوله پکتیا ارامه شوه[26]. د ګردیز، احمدزی رود، سید کرم، احمد خېلو او میرزکي خلکو او مشرانو لا په عاجل ډول د کابل د خلکو هغه تنګسیا له مېنځه یووړه، چې په سره ژمي کې د سونګ لرګیو د لږ والي له لامله پېښه شوې وه. د هغه وخت د پکتیا والي محمد عمر ساپي د امین په مخامخ غوښتنې سره دغه خلک وهڅول، چې د لرګیو رسول اسان کړي[27]، هغه همدغسې وکړل. دغه وخت چې په کابل کې سخته ګراني وه) اوړه من په پېنځه اتیا، سکاره من په پېنځه نوي او لرګي من په دېرش افغانۍ وو(حکومت له پکتیا والو نه لرګي په بیه رانیول او کابل ته یې په چټکه رسول. د اکتوبر په دېرشمه له لرګیو نه نزدې شپېته ډکې لارۍ په کابل کې د ننداري په ډول وګرځول شوې، په داسې حال کې چې په سرو جنډو پوښل شوې او ډولچیانو ډهلونه دربول[27]، خو څنګه چې دغه کار په نظامي قوت تر سره شو، اوازه شوه چې په پکتیا او غزني کې لوی نظامي عملیات و شول. په پکتیا کې بیا د امین د واکمنۍ تر پایه پورې امنیتي وضع خرابه نه وه. د ساپي په وینا "زه د پکتیا د والي په حیث اکثره د ولایت په دولتي موټر کې کابل ته تلم راتلم، پر ته له دې چې زره پوش او یا نور جدي امنیتي تدابیر د ځان دپاره ونیسم.[29]" زه هم د پوهنتون له څو استادانو سره له کابل نه د ننګرهار پوهنتون ته د درس ورکولو لپاره په اونۍ کې یو ځل د شوروي تر یرغل پورې تلم، بې له دې چې د بد امنیتي کومه نښه مې لیدلې وي، د وطن د نورو سیمو وضع هم لږ و ډېر همدغسې وه، یواځې د بدخشان، د پنجشیر سر درې د مخالفانو په لاس وې، خو مخالفان په هېڅ سیمې کې له حکومتي

وسله والو ځواکونو سره مخامخ کېدلی نه شول. د لغمان د الیشنګ په ولسوالۍ کې مخالفان د اکتوبر له 30مې نه دمخه د درې له سر نه تر صبرآباد، ګنجاوڼ او شکرمان پورې رسېدلي وو، خو له حکومتي ځواکونو سره بې له مقابلې نه په شا شول(30). خو له ترین کوټ نه پرته ارزګان د حکومت په ولکه کې نه وو. امین د نومبر په 24مه په یوې مطبوعاتي مرکې کې وویل، چې "په ټول افغانستان کې ارامي ده او ددغو پرخلاف ویناوې ټولې د بین المللي امپریالزم او ارتجاع اختراعات دي.(31)"

***

له شوروي اتحاد سره اړیکې

د ثور له کودتا نه وروسته افغان_شوروي اړیکې د خاصې دوستۍ په شکل شوول کېدلې، خو په هغو کې کړکېچ هم ډېر او ټینګ و. د غو اړیکو څو مرحلې لرلې: له کودتا نه د امین تر لومړي وزیر کېدو پورې، بیا د تره کي تر وژل کېدلو پورې او وروسته د امین د واکمنۍ په بهیر کې.

د شوروي اتحاد حکومت په اصل کې د ثور له کودتا سره جوړ نه و، په دغه غټ دلیل، چې افغانستان د سوشلستي انقلاب لپاره تیار نه و. لا مهمه دا ده، چې کودتا په اساسي ډول د خلقیانو او په خاص ډول د امین کار و، نه د پرچمیانو. خو څنګه چې په افغانستان کې مسکو پلوه د خلق دموکراتیک ګوند د لومړي ځل لپاره دولتي واک ترلاسه کړ، شوروي حکومت ته بله لاره نه وه، خو دا چې د ټینګښت لپاره یې مالي او تخنیکي مرستې او وسلې ورکړې او په دې لار کې لګښتونه وکړي او تاوانونه وګالي. شوروي اتحاد د کودتا په اولو ورځو کې له خلقي حکومت نه دوه امتیازونه ترلاسه کړل: یو دا چې لکه چې دمخه ویل شوي په حکومت کې یې پرچمیانو ته له خلقیانو سره برابر مقامونه وګټل. بله دا چې

پوزانوف له تره کي نه دغه وعده ترلاسه کړه، چې "افغانستان به د مارکسزم_لینینزم په پیروي د سوشلزم د ودانولو په لور روان وي او سوشلستي کامپ پورې به اړه ولري." تره کي دا هم وویل، چې په دغې کرښې باندې به په احتیاط سره تګ وشي او ګوند به ددغو رښتینو موخو په اړه خلک وروسته خبر کړي. افغانستان به په خپل باندني سیاست کې د ناپېیلو هېوادونو په لار روان وي، خو لومړۍ درجه همکاري به یې له شوروي اتحاد سره وي(32).

پرچمیانو ته د دغه امتیاز ګټل سمدلاسه مهم و. شوروي اتحاد پرچمي لویان په خاص ډول کارمل خپل منونکي ایجنټان ګڼل او په حکومت کې یې د هغو شته والی مهم ګاڼه. پوزانوف ددې لپاره، چې پرچمیانو ته اتبآر ورکړل شي، حتی له تره کي او امین نه زیات له کارمل سره په رسمي ډول لیدل. هغه لا خپل حکومت ته ویلي وو، چې د "ثور انقلاب" د هغه د نوښت زېږنده دی. شورویانو دغه کارونه په دې هم کول، چې امین په نوي نظام کې د سرسړی نه وي، خو هغه په واقع کې و او د پرچمیانو په اړه د هغه نظر د شوروي لویانو د سیاست پرخلاف و، چې په پای کې یو شمېر پرچمي لویان د کارمل په ګډون، لکه چې دمخه ویل شوي، دباندې پراري شول او یو څو نور یې په څرخي پله زندان کې بندي شول. د شوروي حکومت ددغو انکشافونو په اړه په رسمي ډول څه ونه کړل، خو بریژنیف د همدغه کال په دسمبر کې د کریملن په ماڼۍ کې له افغان پلاوي سره د "اختلاف" مسئله پورته کړه. دغه "اختلاف" مشخص نه شو، خو هغه په غالب احتمال د پرچمیانو په اړه و، چې خلقي حکومت ځپلی و او په هغه سربېره په حکومت کې دولتي واک په زیاتېدونکي ډول د امین لاس ته ورته. بریژنیف بیا د هرات د پاڅون په وخت کې له تره کي نه، چې د یوې شپې لپاره په پټه مسکو ته تللی و، وغوښتل چې "امین د ملي دفاع

د وزارت څخه ګوښه کړي.[33]" خو ددغه دستور نتيجه په کابل کې سرچپه شوه. په دې ډول، چې امين اول د هېواد لومړی وزير او وروسته د جولای په 27مه د ملي دفاع وزير هم شو. بيا نو د شوروي حکومت په ظاهر کې له امين سره دوستي کوله، خو په واقع کې يې د مرستو او دوستۍ په نامه د هغه د حکومت تخريب کاوه.

د شوروي اتحاد د کمونست ګوند پولټبورو يا سياسي دفتر، چې په واقع کې تر نورو ټولو لوړه واکمنه څانګه وه، د هرات له پاڅون نه وروسته د افغانستان په اړه يو لوړ کميسيون رامېنځ ته کړ، چې د ک.ج.ب سروال يوري اندروپوف، د باندنيو چارو وزير اندري ګروميکو، د ملي دفاع وزير ديمتري اوستينوف او د مرکزي کمېټې بين الملي څانګې آمر بوريس پانوماريف نه جوړ و. له وروستي نه پرته، چې د پولټبورو نه رايه ورکوونکي غړي و، نور ټول د هغه پوره غړي وو. د کميسيون وظيفه دا وه، چې د افغانستان په اړه "وړانديزونه وکړي او عملونه همغاړي کړي.[34]" په واقع کې د کميسيون وظيفه د افغانستان په اړه د شوروي اتحاد حکومت سياست غوره کول و. د همدغه کميسيون په سپارښتنه و، چې د شوروي اتحاد دوه نظامي کميسيونونه افغانستان ته واستول او د امين د حکومت د نسکورولو په مقصد په افغانستان باندې وسله وال تېری وشو. څنګه چې بريژنيف له 1977 څخه وروسته د فعال کارتوان له لاسه ورکړی و، د غه کميسيون په اسانۍ سره د خپلو پرېکړو په اړه د هغه موافقت حاصلولی شو، نو دا يو ډېر مهم کميسيون و.

د شوروي اتحاد د حکومت دننه په افغانستان کې د تخريب او نفوذ خپرولو وسيلې ملکي او نظامي مشاوران او واړه نظامي ډلګي وو، چې شمېر يې وار په وار ډېر ېده. په د غه لړ کې د سروري ډله وه، چې ک.ج.ب والو د امين پر ضد

لمسوله او په دې اړه دمخه بحث شوی دی. د امین په واکمن کېدلو سره دوی ته (له مزدور یار پرته چې په کور کې تر څارنې لاندې نیول شوي و) افغانستان کې ځای نه و. دوی د سپټمبر په خونړۍ ورځ چېرته په لوګر کې پټ شول. د سروري په وینا "با برکناری ما سر نوشت ما معلوم بود باین جهت خود را باو [امین] تسلیم نکرده هر سه ماه از شهر جانب لوگر رفتیم، شب را در دامنه یک کوه سپر بردیم. هوا خیلی سرد بود، من و گلابزوی به هیزم جمع کردن رفتیم. وقتی باز گشتیم وطنجار به شدت میگریست و اشک میریخت و میگفت: سر نوشت زن و فرزندم چه خواهد شد؟ ما با و گفتیم وقتی تاب و توان این روزها را ندا شتی [باید] مبارزه نمیکردی. چند روز بعد بصورت مخفی به شهر بر گشتیم." بیا دوی د شوروي سفارت د دریم سکرتر والیري ساموتن هستوګنځي ته ورغلل، چې سفارت ته نژدې پروت و. ګلابزوی ته دغه ځای معلوم و، چې هلته یې له 1973 نه تر 1975 پورې په غونډو کې ګډون کړی و. "هغوی بیا د ایوانوف په دستور او د پوزانوف په مشوره د (زینت) د خاص واحد تهکاوۍ ته په پټه ولېږدول شول، قوارې یې ورته واړولې، برېتونه یې وروخرېيل او د هغه واحد نظامي یونیفرم یې ور واغوستل." خو د شورویانو له خوا هغوی ته پناه ورکول لکه د امین له حکومت سره دښمني کول و. "نو د ک.ج.ب ځانګې ته هدایت شوی و، چې د هغو له شته والي نه انکار و کړي او پراخ کارونه و کړي، چې دغه حقیقت پټ و ساتل شي، چې دوی په دغې هستوګنځي کې دي.[35]" د هغو د پیدا کولو په اړه د حکومت پلټنو او پوښتنو نتیجه ورنکړه. حکومت له شورویانو سره د هغو د شته والي په اړه لاسوندونه هم نه لرل، که څه هم پوهېده چې هغوی یې پټ کړي دي. سروري او ګلابزوی به د پرچمیانو په شان د ک.ج.ب چارواکو ته په ټینګه ویل، چې

امین د سي.ای.ای ایجنټ دی او دغو چارواکو دغه
راپورونه اندروپوف، بریژنیف او د پولټبیورو
نورو غړو ته رسول[36]. خو د ک.ج.ب لپاره په
کابل کې د هغو پټه ساتنه غټ مشکل و، نو یې د
سپتمبر په 19مه هغوی تاشکند ته ولېږدول، په
دې ډول چې وطنجار او ګلابزوی یې چې شکلونه یې
یو څه بدل کړي او د زینت نظامي واحد یونیفورم
یې ور اغوستی وو، له شوروي پوځیانو سره یو ځای
د بګرام له هوايي ډګر نه په الوتکه کې تاشکند
ته ورسول، خو د سروي انتقال له دې امله چې پنځ
و او له ورا یه پېژندل کېده، ګران و. هغه په
یوه سرپټي او مهر شوي لوی ظرف کې چې د شپږو
ساعتو لپاره یې اکسیجن لاره، تاشکند ته ورسول
شو. دغه بریالی انتقال په خپله اندروپوف
وستایه او چارواکیو ته یې انعامونه ورکړل.
ک.ج.ب سره له دې هم په سروري او ملګرو یې
اعتبار نه کاوه. د یوې میاشتې لپاره یې په
تاشکند کې په دغسې کور کې و ساتل، چې د غږ
ثبتولو په آلو مجهز و. وروسته له دې، چې د
هغو د خبرو فیتې واورېدل شوې او شورویانو ته
د اعتماد وړ وګرځېدل، بیا په بلغاریې کې کوم
پټ ځای ته ولېږدول شول[37]. په دې ډول د شوروي
امپراتورۍ یوې برخې ته د هغو په انتقال سره د
شوروي حکومت په دې قادر شو، چې وروسته یې له
پراري پرچمیانو سره متحد کړي او په افغانستان
باندې په نظامي یرغل کې ترېنه کار واخلي. دوی
ټول پوهېدل، چې د خپل وطن افغانستان په مقابل
کې د شوروي حکومت له خوا د دوی استعمال له
وطن سره د نه بښنې وړ غټ خیانت دی. سره له
دې دوی په خپله خوښه او اراده ورته تسلیم شول
او په دې ډول یې خپل افغانیت او انسانیت د تل
لپاره داغي او نیمګړي کړ.

په افغانستان کې په خلقي دوره کې شوروي
چارواکي سمدلاسه ډېر شول، دوی افغانستان ته په
اسانه راتللی شول. دوی ک.ج.ب والو په ګډون د

سفارت چارواکي یا دیپلوماتان، مشاوران، متخصصان او ورې نظامي ډلې وې. مشاورانو یې د خلقي ګوندي او حکومتي نظام په جوړښت کې ونډه لرلې. دوی په واقع کې د افغانستان د سیاست یوه برخه شوي وو، خو په دوی کې هم ډېرو یې د خپل حکومت د سیاست له مخې عمل کړی او کارملیان یې د حکومت په برابر کې لمسولي او په دې ډول یې له حکومت سره د دوستۍ او مرستې په نامه ورانی کړی او د امنیت ټینګولو په برخه کې یې د حکومت ستونځې ډېرې کړې وې، خو ټولو مشاورانو په افغانستان کې د خپل حکومت لار نه ده نیولې، زیاتره غټانو یې د خلقیانو په پلوی په ملکي او پوځي چارو کې چارې ترسره کړي او لکه چې وروسته به ولیدل شي، د شوروي حکومت دوی په بېلو پلمو شوروي اتحاد ته بېرته غوښتلي دي او ددې پرخلاف د پرچمي پلو مشاورانو راپورنه او فکرونه یې د اعتماد وړ ګڼلي او حتی پرې عمل کړی دی.

ډېر شوروي مشاوران د خپل مسلک وړ نه وو، په خپله امین هم د هغو په اړه شکایت کاوه "موږ ستاسو مشاورانو ته په افغانستان کې ډېر قدرت ور کړی، موږ هغو ته ډېره سخته سزا ورکوو چې ستاسو د ملګرو مشوره نه مني. له دېنه ښکاري، چې ستاسو ټول مشاوران په کافي اندازه لیاقت نه لري."[38] سره له دې هم څنګه چې خلقي لویانو د ثور له کودتا نه وروسته په افغانستان کې د یوه نوي شوروي ډول نظام په پښو درولو پیل وکړ. دغو "ناوړو" شوروي مشاورانو ته اړ شول او هغو ته یې تر افغانانو نه زیات اهمیت ور کړ. که د موروزوف د غه وینا سمه وي، هغو له شورویانو نه وغوښتل چې "موږ قدرت ترلاسه کړی، خو په دې نه پوهېږو چې څه ورسره وکړو. مهرباني وکړئ زموږ وسله والو پوځونو، د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند او زموږ د هر وزارت لپاره هغومره مشاوران

راوا ستوئ چې کولی شي. مور ته وښيي چې مور دولت څنګه تنظيم کړو او مور به په هغه څه عمل وکړو، چې مور ته ويل کېږي.[39]" د افغان پوځ لپاره د لومړي ځل لپاره پاچا امان الله بانډني ماهران استخدام کړي وو، چې هغه ترکان وو، خو د پاچا امان الله دولتي نظام ملي او افغاني وو، چې هغه د امير شېر علي او امير عبدالرحمن د نظامونو په دوام وو. د پوځ لپاره شوروي مشاوران د لومړي ځل لپاره صدراعظم محمد داود استخدام کړل. دوی ځکه استخدام شول، چې د شوروي حکومت د افغان پوځ د عصري کولو او په نويو وسلو د هغو د سمبالولو لپاره افغانستان ته د وسلو او پېسو کريډټونه منلي وو، خو د غو مشاورانو د حکومت په تنظيم کې هېڅ رول نه لاره او حکومتي نظام د پخوا په شان اسلامي او ملي بڼه لرله.
په دې کې غټ شک دی، چې مورزوف به د خلقي لويانو د غه غوښتنه په دقيق ډول بيان کړې وي، خو دا به سمه وي چې هغوی به په خپل وطن کې د شوروي ډوله نظام د جوړولو لپاره د هغوی مشاوران غوښتي وي. دلته بايد وويل شي، چې په افغانستان کې د دولتي نظام جوړولو عنعنه د روسانو تر هغې نه ډېره پخوانۍ ده. روسانو د نهمې پېړۍ تر نيمايي پورې بې دينه او بې دولت په دغه وخت کې د سکنديانو وو، وانګانو ته بلنه ورکړه، چې د دوی لپاره د نووګراد په ښار کې دولتي نظام جوړ کړي[40].
په هر حال، د ثور له کودتا نه دمخه افغانستان هم د ډېرو مجربو مسلکي کدرونو خاوند شوی و، خو خلقي لويانو هغوی د "نور چشمان" او "ضد انقلاب" په نامه رد کړل او له حد نه زيات ته ډډه يې په شوروي ماهرانو وکړه. دوی په خپلې د غې پاليسۍ سره په خپل نظام کې شوروي مشاورانو ته د نفوذ او توطيه کولو لپاره موقع په لاس ورکړه، چې تخريبي اثر يې په

خاص ډول د امین په واکمنۍ کې ثابت شو. د ایډیالوجۍ په جال کې ګېر شوي خلقي لویان دېته ځیر نه شول، چې د شوروي حکومت د خلقي ایډیالوجۍ په نامه چې هرڅه کول، په اصل کې یې د خپل ملت لپاره کول. حکومتي سیاستونه او چلندونه په نهایت کې ملي وي، نه ایډیالوجیکي او هېڅ ملي حکومت په خپل ملک کې باندنیو ته په هر نامه، چې وي، واک نه ورکوي. البته د امین په واکمنۍ کې افغان چارواکي موظف شوي وو، چې له شوروي مشاورانو نه یواځې مشوره ترلاسه کړي. په دغه وخت کې دوی ته د خپل حکومت له خوا هم دستور ورکړل شوی و، چې د مصلحت لپاره په ظاهر کې د حکومت رښتیني مشاوران وي او هغه پرځان مشکوک نه کړي.

په خلقي دوره کې د شوروي مشاورانو شمېر په یقین سره معلوم نه دی، د 1979 په مارچ کې د کوسیګین په وینا د 550 تنو په شاوخوا کې وو[41]. د مؤلف براډشیر په وینا د کودتا په اولو درېیو میاشتو کې د شوروي د نظامي مشاورانو شمېر درې واره ډېر شو او اوه سوو ته ورسېد، چې ځینو یې د ملي دفاع وزارت چارو په ترسره کولو مرستې کولې او د 650 ملکي مشاورانو څخه، چې تر کودتا دمخه په افغانستان کې وو، ډېر یې له اطراف نه کابل ته راغلل، چې د وزارتونو په تنظیمولو کې برخه واخلي. د تره کي او امین په وخت کې د دوی شمېر وار په وار دومره ډېر شو، چې د شوروي سفارت مجبور شو په نوي څلور پوړې ودانۍ کې اپارتمانونه ورته جوړ کړي[42]. د امریکې استخباراتو په حواله د ثور د کودتا په وخت کې اټکل 350 نظامي مشاوران د افغانستان په پوځ کې وو. د 1979 په اولو کې د هغو شمېر د 750 او 1000 ترمېنځ ډېر شو، چې په هغو کې لږ تر لږه پېنځه جنرالان وو. د همدغه کال د سپتمبر تر پای پورې یې شمېر دوه نیم زرو ته ورسېد. په یوه بل راپور کې د دوی شمېر

د درې زرو او درې نیم زرو ترمېنځ شودل شوی. ملکي مشاوران له هغو نه بېل وو، چې د 1978 په پای کې اټکل دوه زره تنه وو[43]. د 1979 کال په پای کې په کابل کې ویل کېدل، چې په افغانستان کې ټول ټال پېنځه نیم زره مشاوران په ملکي او نظامي ساحو کې کار کوي[44].

د شوروي مشاورانو غټه ستونځه دا وه، چې د خپل حکومت په دستور د خپلو مسلکي کارونو تر څنګه سیاسي فعالیت هم وکړي، نو دوی پخوا له دې چې افغانستان ته تللي وي، په مسکو کې د مرکزي کمېټې د باندنیو اړیکو په څانګه کې "د افغانستان د وضع د تحلیل په جریان کې به دوی ته ویل کېدل، چې په افغانستان کې باید د پرچمیانو په ګټه کار وکړي او خلقیان به د شورویانو د مخالفینو په څېر ورپېژندل کېدل."[45] خو دغه هدایت به دوی په افغانستان کې ستونځمن کول. پرچمیان په ګوند او حکومت کې د 1978 کال له اګست نه وروسته رټل شوي او خلقیان په پوځ، حکومت او ګوند کې واقعیت وو او واقع لیدونکیو مشاورانو هغه له نظر نه غورزولی نه شو. "نو ځکه یو شمېر مشاورینو د شوروي د مشرتابه د لارښودنې پرعکس خپل دریځ ته بدلون ورکاوه او د پرچمیانو پرځای یې د خلقیانو څخه ملاتړ کاوه." په دې ډول شوروي مشاوران دوه ډلې شوي وو: "د افغانستان په اردو کې د شوروي مشاورینو غوښ اکثریت د مرکزي کمېټې او د ګوند په اپارات کې د شوروي یو شمېر مشاوران د خلقیانو ملاتړي وو، خو په اګسا کې شوروي مشاوران او په کابل کې د شوروي سفارت کارکوونکي او د زیاتو وزارتونو مشاوران په بشپړه توګه د پرچم ملاتړي وو."[46] امین د شوروي مشاورانو په جلبولو کې غټ اثر لاره، هغه لومړنۍ ډله مشاوران، چې د نیکولای سایمونینکو په مشرۍ له کودتا نه درې اونۍ وروسته کابل ته

ورسېده، تر خپل اثر لاندې راوستل او د "خلقي ګوندګي ملاتړ يې کړل." (47)

امين سايمونينکو ته په لسو مادو کې دغسې يو يادښت وسپاره، چې په هغه کې يې خلقيان د شوروي حکومت رښتيني ملګري او پرچميان د افغانستان د پخوانيو حکومتونو ملګري ښودل شوي وو. امين ته به په دغه وخت کې معلومه نه وه، چې پرچمي لويانو له شوروي اتحاد سره خاص علايق لرل او شوروي حکومت پرچميان تر خلقيانو نه غوره بلل. سايمونينکو بيا امين ته په ځوابي يادښت کې، چې د ک.ج.ب له خوا تهيه شوی و، په دغه ډول ليکچر ورکړ: "لينن په ډېرو موقع ګانو کې په ټينګه ويلي و، چې انقلاب هغه وخت مهم کېدلی شي چې په دې پوه شي خپل ځان څنګه وساتي.... دغه رسالت يواځې هغه وخت ترسره کېدلی شي، چې د افغانستان خلق دموکراتيک ګوند د يوه موټي شوي او سره تړل شوي سياسي مؤسسې په څېر عمل وکړي او په يوه عزم او يوه واحد هدف سره ټينګ شوې وي." (48) د امين يو بل کوشښ هم د هغه په زړه نتيجه ورنکړه، چې مطلب يې په مسکو کې د بريژنيف په مخالفې ډلې باندې اثر کول و. د زلمي خروټي په وينا په مسکو کې د "بريژنيف ضد ګروپ په اصل کې د بريژنيف له خوا د هغه تېر ايستلو لپاره جوړ شوی و." (49)

ک.ج.ب) د دولتي مصؤنيت کمېټه (يوه عادي حکومتي څانګه نه وه، په واقع کې هغه د شوروي اتحاد اصلي حکومت و، چې په افغانستان کې يې لکه چې دمخه يادونه شوې، د لينن له وخت راهيسې جاسوسان لرل. هغه وخت د "چيکا" په نامه يادېدله. په خلقي حکومت کې ک.ج.ب په افغانستان کې په دوو برخو سره وېشلی شوې وه، يوه يې د هستوګنځي) Residency (په مستعار نامه يادېده، چې د شوروي سفارت دننه يې کار کاوه. بله يې د "استازو") Representative (په نامه يادېده، چې چارواکيو يې د خلقي حکومت په بېلو

څانګو په تېره په امنيتي څانګو کې مشاوري کوله. په دوی دواړو سربېره په سلګونو نور استخباراتي کارکوونکي وو، چې هويت يې خلقي حکومت ته هم معلوم نه وو. په دوی کې افغانان هم وو. د 1978 له ژمي نه وروسته د ک.ج.ب خاصو واحدونو دننه په افغانستان کې د اسلامپالو په مقابل کې هم عمليات کول[50]. په خلقي دوره کې ک.ج.ب د خپلو امرانو جنرال ايوانوف او اوساد چي او داسې هم د اګسا د سر مشاور کرنيل بوګدانوف له لارې ډېر اثر کړی دی. د امين حکومت هم په اصل کې د ک.ج.ب والو په نوښت، راپورونو او حتی کړو سره نسکور شوي دي. داسې هم د ک.ج.ب د هغو خلقي پلو د مشاورانو مخه نيوله، چې د خلقي حکومت د ټينګښت او د خپل حکومت د احتمالي نظامي يرغل د بېځايه شودلو لپاره کوښښ کاوه. غټ او مهم مثال يې د وسله وال پوځ سرمشاور جنرال واسيلي زاپلاتين دی، چې د شوروي د لوی نظامي هيئت مشر جنرال پاونوفسکي په شان په دې نظر و، چې حکومت په ستونځو بريالی کېدلی شي او شوروي اتحاد ته شايي ور سره مرسته وکړي، خو څنګه چې هغه يو مهم شخص و او په نظامي چارو سربېره په سياسي چارو هم ښه پوهېده او د خلقي حکومت ټينګلاته و، د خپل حکومت د سياست په برابر کې خنډ کېدلی شو.

زاپلاتين بيا د اندروپوف په دستور دشوروي يرغل په درشل کې مسکو ته په بېړه په خاصه الوتکه کې وغوښتل شو، چې کورنۍ يې ور ته کوم ډول خاص ضرورت لري. داسې هم جنرال ديمتکوف، چې د جنرال ګاريلوف پر ځای په کابل کې د ملي دفاع وزارت مشاور شو، زر بېرته مسکو ته وغوښتل شو چې د خلقيانو لوری يې نيولی و[51]. په دې ډول ک.ج.ب له افغانستان نه د خپلو مشاورانو د سر هغه کسان وايستل، چې د واقعيتونو او خپل فکر له مخې يې په نورو اثر

او د يرغل پرخلاف استدلال کولی شو.
لکه چې دمخه و يل شوي د کابل ک.ج.ب د سپتمبر په اوله ورځ مسکو ته د افغانستان د وضع په اړه يو يادښت استولی او ورا نديزو نه کړي و. د همدغه يادښت له مخې و، چې بريژنيف په مسکو کې تره کی د امين پر ضد عمل ته وهڅوه، چې د هغه نتيجه د تره کي مرګ او د امين سروالي شوه. په دغې پېښې سره بيا دغسې نوي کړکېچونه پيدا شول، چې پای يې د امين وژنه او د خلقي حکومت نسکوريدل شول. لومړی غټ کړکېچ له دېنه راولاړ شو، چې په داسې حال کې چې له تره کي سره د شوروي درې جنرالان او سفير پوزانوف وو، بيا هم په امين باندې ډزې وشوې، خو هغه له مرګ نه بچ شو او تره کي څه باندې درې اونۍ ورو سته له مېنځه يووړل شو. د هغې ورځې له پېښې نه زر وروسته پوزانوف او هغو درې جنرالانو له امين سره د ملي دفاع وزارت په مانۍ کې لنډه ليد نه وکړه او د هما غه ماښام په اوو نيمو بجو يې د دوه نيمو ګړيو لپاره بيا ور سره وليدل. د خبرو موضوع تره کی و. امين د هغې ورځې خونړۍ پېښې ورته بيان کړې او ويې ويل، چې "زه پوره باور لرم چې دوی غوښتل ما ووژني. تر سلو نه ډېرې ډزې په ما وشوې او تاسې په خپله پوهېږئ، چې تره کي څه غوښتل. زه پوهېدم، چې ز ما د ژوند په اړه ناوړی پلان جوړ شوی و او څه وخت، چې ما تره کي له هاوانا نه د ستنېدو په وخت کې په هوايي ډګر کې وليد، زه هغه ته تيار وم. نن تره کي غوښتل ما ووژني. د هغه پلان دا نه و، چې د شوروي ملګرو په شته والي کې دغه کار وکړي، خو د هغه به له ياده وتلي وي، چې خپل امر فسخ کړي او خپل ساتونکي پرې خبر کړي."[52]
امين دا هم وويل، چې پوځ او ګوند په دغو پېښو سره لړزېدلی دی او تره کی بايد په خپله خوښه د ناورغۍ په دليل د مرکزي کمېټې په پلينوم کې له عمومي منشي توب نه ځان ګوښه کړي او يوازې

د انقلابي شورا سروال پاتې شي. په بله ورځ)ستمبر 15مه(دغو شورويانو بيا د شوروي د ګوند د مرکزي کمېټې په هدايت له امين سره د غرمې په يوولسو بجو وليدل. د هغو په وينا "موږ د عمومي منشي توب له مقام نه د تره کي د تجويز شوي ګوښه کولو پر ضد وغږېدلو، چې په انقلاب باندې به ناوړې اغېزه وکړي." خو امين په ځواب کې څرګنده کړه، چې "د تره کي ګوښه کېدل به ګوندي اتحاد له مېنځه يو نه سي، د هغه پرعکس پياوړی به يې کړي. که تره کي خپل مقامونه وساتل، دغه دوه مخيزتوب به پاتې وي او بيا به د نويو شخړو خطر وي."[53] امين په عين حال کې کوښښ کاوه، چې د شوروي خوا خوښه وساتي. ويې ويل، چې "د انقلاب د برخليک په اړه د شوروي ملګرو په اندېښنې ښه پوهېږي." دا يې هم وويل، چې "د شوروي اتحاد د کمونست ګوند د مرکزي کمېټې پولټبورو او په خاص ډول د ملګري بريژنيف، ملګري پانوماريف، د شوروي سفير او شوروي ملګرو سپارښتنې او نظرونه د افغان د خلق دموکراتيک ګوند او هېواد لپاره مهم دي. د امين په فکر تره کي په هغو عمل ونه کړ او دی به هغوی قادر کړي، چې له افغانستان سره خپل سياسي ملاتړ پراخ کړي او د دواړو هېوادونو د وسله والو پوځونو ترمېنځ همکاري لا پياوړې کړي. سره له دې هم شوروي اتحاد د سپتمبر په 15مه د تره کي د ګوښه کولو په سر امين ته اخطار ورکړ، چې "دغه کار به هم د ګوند او هم د هېواد لپاره ناوړې پايلې ولري." په اصل کې شوروي مشران په امين ډاډه نه وو، دستور يې ورکړ، چې "موږ بايد له امين نه وغواړو او خپل نظر ور ته څرګند کړو، چې که تره کي له خپلو مقامونو نه ګوښه کېږي، ضرورت به نه وي چې پر ضد يې ځپونکي کارونه وشي يا کوم ډول محاکمې ته کش شي." خو "موږ بايد له امين سره تماسونه

ولـــرو، ددې لـپـــاره چـــې د هغـــه د سياســـي نظـــر او ارادې پــــه هکلــــه نــــور معلــــوات ولــــرو." د دوی بــــل هدايت دا و، چې لـه دې وروسته د وسلو په رسولو کــې کــمی راوســـتل شـــي او هغـــه بـــه يـــواځې پـرزې او هغه وسلې وي، چې د ياغيانو د ځپـلو لـپاره ضرور وي[54]، خو امين سره لـه دې هـم لـکـه چـې دمخـه ويـل شوي، تـره کی گوښه کړ او ځان يې د هغه مقام تـه ورسوه.

دوه ورځـــــې وروســــــته)17 ســـــپتمبر(جنــــــرال پـاولـوفســـکي، جنـــرال ايـوانـــوف او جنـــرال گوريلـــوف لـه امين سره د هغه په دفتر کې ولـيدل او د خپل حکومـــت لـــه خـــوا يـــې د هغـــه د واکمـــن کېـــدو پـــه مناســـبت مبـــارکي ورکـــړه، خـــو مبـــارکي تـــوده او صـــميمي نـــه وه. امـــين هـــم کومـــه خاصـــه ډاډېنـــه ورنـکړه، خو دغه وعده يې ورکړه، چـې "هغـه بـه لـه خپـلو شوروي ملگرو سره لـه نزدې نه کار وکړي او دغســـې گامونـــه بـــه واخيســـتل شـــي، چـــې ځرگنـــدې نيمگړتيـــاوې ســـمې شـــي او د خپـــل کـــار طريقـــې او طرزونـه بـه ښه کړي."[55]

پـه عـين حال کـې امـين هيـلـه ښکاره کړه، چې شـــوروي ملگـــري بـــه د مـــارکســـزم_لـيننـــزم پـــه روحيـــې ســـره پـــه اقتـصادي او نظـامي ډگرو نـو کې او داســـې هم د امنيت په ټينگو لـو کې لـه افغانستان سره مرسته او همکاري وکړي. پوزانوف هم په همدغه ورځ امين تـه مـبارکي وويـلـه، هغه بـيا په سفارت کې د خپل مشر ديپلوماتان سره ټول کړل او ورتـه يې کړه، چې "موږ لـه يـوه پېښ شـوي واقعيـت سـره مخ يو. امين پـه واک رسېدلی دی، تـره کی ونـه شو کـولی چې واک تـه د امين د رسېدلو مخـه ونيـسي. واقعيت دا دی، چې تـره کی ضعيف او لټ و، هغه د خپل قول پـه انـدازه ښه نـه و. د هغه پرعکس امين هـر وخـت لـه مـوږ نـه مشـوره اخيسـتلې ده. امـين پـياوړی دی او موږ بـايـد لـه هغه سره کار وکړو او ملاتړ يـې وکـړو."[56] د پوزانـوف د همدغـه فکـر لـه مخې بـه و، چې بريژنيف د خپل گونـد پـه پولټبورو

کې د سپتمبر په شلمه د لومړي ځل لپاره د امین په اړه له احتیاط نه ډک ښه نظر ښکاره کړ: "موږ باید داسې وګڼو چې د افغان_شوروي په اړیکو کې به کوم ډول غټ تغییر رانه شي او داسې ښکاري، چې هغه به د پخوا په شان دوام وکړي. امین به د روانې وضع او د هغو ستونځو له امله، چې د افغان حکومت به د اوږدې مودې لپاره ورسره مخامخ وي، په هماغه لور کش شي. افغانستان په دوام لرونکي ډول علاقمن دی، چې له شوروي اتحاد نه نظامي، اقتصادي او نور ډول مرستې او ممکن حتی په ډېر مقدار ترلاسه کړي. داسې ښکاري، چې امین به لږ تر لږه په ظاهري ډول دې ته دوام ورکړي، چې په هغو سپارښتنو عمل وکړي، چې موږ دمخه (تره کي) ته ورکړې وې، خو (زموږ) دنده به ستونزناکه او حساسه وي."

لس ورځې وروسته بریژنیف له امین او حکومت سره یې د همکارۍ لارونیوله او د اکتوبر په لومړۍ یې خپلې پولټبورو ته ځرګنده کړه، چې "امین یو څو ویناوې کړي او له هغو نه معلومېږي، چې د انقلاب د پراخولو او له شوروي اتحاد او نورو سوشلستي هېوادونو سره د همکارۍ د پیاوړي کولو په لور روان دی. شاوخوا یې یو شمېر [دغسې] صادق کسان او رښتیني انقلابیان راټول دي، چې د مارکسزم_لیننزم په اصولو باندې ټینګ ولاړ دي او د شوروي اتحاد په لور د ښو میلان لري او زده کړه یې زموږ په هېواد کې کړې ده." بریژنیف په عین حال کې په دې فکر هم و، چې "موږ به په ځیر سره د امین د فعالیتونو څارنې ته دوام ورکړو او وګورو چې هغه خپلې وعدې تر سره کوي لکه څنګه چې پې ښې غواړي پرې عمل وکړي."[57] څلور ورځې وروسته بریژنیف په ډاډینې سره وویل، چې "موږ وینو چې امین اوس هغه څه کوي کوم چې ما تره کي ته ویلي و." له دغې ځرګندونې نه د بریژنیف مقصد دا و، چې هغه تره کي ته د اساسي قانون له مخې د حکومت کولو

سپارښتنه کړې وه. هغه دا هم وویل، چې "وضع په هېواد کې ښه شوې، خو په ځینو ولایتونو کې له هغو یاغیانو سره مقابله کېږي، چې له پاکستان نه په نېغ یا په نا نېغ ډول او له ایران، امریکې او چین نه په نېغه مرسته ترلاسه کوي."[58]

خو د اکتوبر په شپږمه د دواړو حکومتونو ترمېنځ اوبه خړې شوې، په دغه ورځ د باندنیو چارو وزیر شاه ولي د کمونستي حکومتونو د سفیرانو په مخ کې، چې یې خپل دفتر ته غوښتي وو، له پوزانوف نه شکایت وکړ، چې د افغانستان په چارو کې لاسوهنه کوي. د پوزانوف پرځای وسیلي سفرچخوک غوښتل شوی و، چې د شوروي مهم دیپلومات و. د ک.ج.ب په راپورونو کې نه دي ویل شوي، چې شاه ولي په کومو ټکو پوزانوف تورن کړ. په دغو راپورونو کې د غومره ویل شوي، چې شاه ولي په ارګ کې یواځې د خونړۍ پېښې قصه وکړه، چې په امین باندې د پوزانوف له ډاډینې سره سره او په داسې حال کې، چې هغه له تره کي سره ناست و، ډزې وشوې[59]. خو د سفرنچوک په روایت شاه ولي وروسته له هغه، چې هغه "ځلور کسیزه ډله" په دې تورنه کړه، چې په وار وار یې د خپل صدراعظم د وژلو کوښښ کړی، له یوه مانا لرونکي ځنډ نه وروسته وویل، چې "له توطیه ګرو سره د افغانستان د دوست هېواد سفیر ا.م.پوزانوف له خوا مرسته شوې." دا یې هم وویل، چې "پوزانوف له تره کي سره مرسته وکړه، چې صدراعظم په تلک کې ګیر کړي." د شاه ولي بل تور دا و، چې د شوروي سفارت هغې "ځلور کسیزې ډلې" ته پناه ورکړې او سفرنچوک دغه تورونه په ټینګه رد کړل او شاه ولي یې وپوښته، چې "دی ددې درک کوي چې تورونه به یې له شوروي اتحاد سره د افغانستان په اړیکو باندې په نه جبران کونکي ډول ناوړې اغېزې وکړي."[60] سره له دې

هم شاه ولي د افغانستان په چارو کې د لاسوهنې له لامله د اخطار په ډول له شوروي حکومت نه په رسمي ډول وغوښتل، چې پوزانوف بېرته وغواړي او پرځای يې بل سفير واستوي[61]. پوزانوف، چې په 1972 کې کابل ته د سفير په توګه راغلی و او د شوروي يو ډېر مهم سفير پېژندل شوی و، د نومبر په نولسمه له افغانستان څخه ووت.

پوزانوف د تره کي له مرګ نه وروسته د يوې بلې دندې په ترسره کولو کې هم پاتې راغی او هغه دا چې امين وهڅوي، چې کارمل خپل صدراعظم کړي. د زلمي خروټي په روايت ماما يې امين يوه ورځ ورته وويل، چې پوزانوف په دفتر کې يې ترڅنګه کېناست او ورنه يې وغوښتل، چې کارمل د خپل صدراعظم په توګه وټاکي، خو هغه سمدلاسه په مخ په څپېړه ووهه[62].

دغه څه ما دمخه په لږ توپير سره د يوې بلې سرچينې له مخې په خپل کتاب کې هم راوړي. راوي دا هم ويلي و، چې په هغه سربېره امين په پښتو کې مارکس، لينن او بريژنيف ته سپکې سپورې هم ويلې[63]. د امين يو وزير هم وايي، چې امين پوزانوف په څپېړه وهلی، خو نه غواړي چې نوم يې واخيستل شي. د ک.ج.ب يو راپور هم شايد د همدغې پېښې په اړه وي، چې پکې ويل شوي چې امين د اکتوبر په ديارلسمه د پوزانوف په اړه "د نه ليکلو ژبه استعمال کړې وه."[64]

د پوزانوف قضيه د هغه تر وتلو پورې اوږده او د امين له پاره په پای کې ټاکونکې شوه، چې زر به يې بيان وشي. دلته به دغومره وويل، چې شاه ولي د افغانستان د باندنيو چارو د وزير په توګه د پوزانوف د نامطلوب کس د ښودلو له پاره د ديپلوماسی مقررو پرخلاف د نورو سفيرانو په مخ کې يوه ننداره جوړه کړه او د امين غبرګون، خو په واقع کې د سليم عقل پرخلاف و. د سفير پوزانوف سپکاوی د هغه د سيالانو په مخ کې او د هغه مخ په څپېړه وهنه داسې وه، چې

لکه په خپله شوروي اتحاد سپک شوی او په ځپېړه و هل شوی وي. د کور به حکومت له خوا د باندنیو دیپلوماتانو و هل ناوړې پایلې لري. امین باید لېر تر لېره په بشپړ غوښتنې سره د هغه تسکین کړی وای.
شوروي اتحاد د پوزانوف وهل کېدل په رسمي ډول یاد نه کړل، خو له هغه وروسته یې د امین او د هغه د حکومت په برابر کې خپل سیاست په اساسي ډول په پټه واړوه. په افغانستان باندې د هغه نظامي یرغل تر زیاتې اندازې دد غې پېښې له امله و، چې په بل اثر کې به په هغه پوره رڼا وا چوم. په نامه د افغان_ شوروي جنګ دلته به د شوروي اتحاد په هغه غبرګون وغږېږم، چې د شاه ولي د خبرو په اړه یې وښود. درې ورځې وروسته له هغې پېښې)اکتوبر نهمه(پوزانوف، پاولوفسکي، ګوریلوف او بوګدانوف)د ایوانوف پر ځای(له امین سره د ماښام په شپږو بجو د هغه په دفتر کې ولیدل. ددې لپاره "چې د شاه ولي په وینا اعتراض وکړي او د هغې تردید وغواړي." شوروي خوا د شاه ولي روایت نه منه، ادعا یې کوله چې پوزانوف د سپتمبر په 14مه د تره کي له دفتر نه له امین سره په ټلیفون کې د ترجمان له لارې هیڅ خبرې نه دي کړي، خو امین د شاه ولي په وینا ټینګ ودرېد او د دوی ترمېنځ یو اوږد او غېر عادي بحث پیل شو، چې له هغه نه د امین شخصیت په داسې حال کې، چې د شوروي اتحاد د څلورو بېلو حکومتي څانګو له استازو سره په یواځې ځان غږېده، معلومېږي. هغه هم د هغې لیکنې له مخې، چې د شوروي استازي بوګدانوف له خوا تهیه شوې او هغه په اصل کې د امین مخالف و.
په هر حال، دغو استازو ویل چې دی "باید په دې پوه شي چې د شاه ولي وینا وې چې حقیقت یې اړولی، نه یواځې د هغو وروري اړیکو نقض کوي، چې زموږ د ګوندونو او هېوادونو ترمنځ موجود

دي، بلکې هغه به په حتمي ډول زموږ د دښمنانو له خوا وکارول شي، چې د افغان انقلاب داعیه له خطر سره مخامخ کړي او له هغو نه به زموږ د دښمنانو له خوا د افغان_ شوروي د اړیکو د بې اعتباره کولو لپاره کار واخیستل شي." نو "موږ ټینګار کوو، چې د افغان کوم صلاحیت لرونکی استازي د سوشلستي هېوادونو سفیرانو ته د پېښو رښتینی بیان وکړي او هغه ناسمه انتباه سمه کړي، چې د شاه ولي له وینا څخه به ارومرو پیدا شوې وي."(66) امین په ځواب کې وویل، چې دی به د پروتوکول پروا ونه کړي او له شوروي ملګرو سره به لکه یو ملګري وغږېږي او هیله کوي، چې شوروي ملګري به هم همدغسې وکړي.

"...تاسې شکایت کوئ او اندېښنه ښکاره کوئ، خو هغه دمخه ویل کېدلی شول. موږ له هغه وخت نه تراوسه ډېر غږېدلي یو، خو تاسې دمخه ددغو موضوع ګانو په اړه هېڅ نه دي ویلي. هغه څه چې د شاه ولي له خوا د سوشلستي هېوادونو سفیرانو ته وویل شول، ددې لپاره وو یل شول چې هغه د افغانستان خلق دموکراتیک ګوند د مرکزي کمېټې پولټبورو ته په څرګند ډول ویل شوي و، خو زموږ] شوروي[ملګرو موږ ته هېڅ ونه ویل او حتی تاسې اوس درې ځلور ورځې وروسته له هغه راغلي یئ، چې شاه ولي غږېدلی دی. دا د افسوس ځای دی. زموږ شوروي ملګرو باید موږ ته ویلي وای، چې څه ووایو او څنګه عمل وکړو."(66)

وروسته له هغه، چې د غه شورویان په هماغه ډول بیا وغږېدل، امین کړه چې "زه یقین لرم چې خبره دغسې نه ده. د تره کي له خوا تلیفون وشو، پوزانوف د ترجمان په وسیله وویل، چې امین تره کي ته راتلی شي او دا چې په امین باندې به ډزې ونه شي." لکه چې دمخه ویل شوي، د ک.ج.ب پخوانی چارواکی موروزوف هم د امین په ملاتړ وایي، چې "د تره کي ټینګار ته په تسلیمېدو سره هغه موافقه وکړه، خو له پوزانوف

نه یې د خپل مصؤنیت ضمانت وغوښته. وروستي په تلفون کې دغه ضمانت امین ته ورکړ.(67)"

د ک.ج.ب په راپور کې دا هم راغلي، چې امین وویل، چې "په دفتر کې له ما سره افغان ملګري وو، چې زما خبرې یې اورېدلې. البته اوس ممکنه ده له هغه نه انکار وشي. زه اماده یم چې د شوروي ملګرو خاطر وساتم. موږ تل حاضر یو د دیپلوماسۍ او بین المللي اړیکو په اړه د شوروي ملګرو مشورې ومنو." امین دا هم وویل، چې په دغې موضوع چې هغوی غواړي ما ووژني، ما ملګري ایوانوف او بوګدانوف خبر کړل او که دغه موضوع د هغو ملګرو له یاده وتلې وي، چې له تره کي سره ناست وو، د ترجمان به په یاد وي، ځکه چې زه له هغه سره وغږېدم. دغه شخص به ډ.پ اوربکوف په نامه د پوزانوف ترجمان وي. امین بیا هغو شورویانو ته وویل، چې زه په خپل روایت ټینګ ولاړ یم او "شاه ولي د هېڅ ځیز ګرم نه دی." که زموږ ګوندي پلینوم ته زما وینا رښتیا نه وي "بیا نو ټوله ملامتي په ما راځي، ځکه چې دغه ټولې پېښې ما د خپلو درکونو له مخې روانې کړي، خو که زما قسمت وي، چې مړ شم زه به په ځرګند وجدان سره مړ شم، ځکه چې هر څه ما د خپلو درکونو پر بنسټ وکړل." امین بیا هغوی ته د نه باور کولو وړاندیز وکړ. په دې ډول، چې "که زما د شوروي ملګرو خوښه وي، زه به د افغانستان خلق دموکراتیک ګوند د مرکزي کمېټې پلینوم راغواړم او د عمومي منشي له مقام نه به ځان ګوښه کړم او پرې به ږدم، چې یو بل څوک غوره شي." داسې ښکاري، چې امین غوښتل دغو شورویانو ته لیکچر ورکړي او تر تاثیر لاندې یې راولي. زیاتره به خپله غږېده او هغو ته یې د خبرو کولو لږه موقع ورکوله او څه وخت، چې هغو ټینګار وکړ، چې پېښې باید هغسې ووېل شي، چې پېښې شوې وي، امین وویل چې

"زه باید خپل ملګري راوبولم او ورته ووایم، چې هر هغه څه چې دوی اورېدلي، هغه نه و چې په رښتیا پېښ شوي وو. البته زه د خپلو شوروي ملګرو درناوی کوم. زه حاضر یم دغه کار وکړم، خو ایا هغه به سم کار وي؟ آیا دا به سمه وي، چې هغه وړې خبرونې بېرته وغواړم، چې په ګوند او پوځ کې ویل شوي په نامه د تره کي له خوا د حفیظ الله امین پر ژوند باندې عمل کول او د نابریالي توب؟ په دغو خبرونو کې واقعیتونه په هماغه ډول بیان شوي. هغه به د عمومي منشي په حیث ما او ټول ګوند ته زیان ورسوي." امین د خبرو په دوام کې دا هم وویل، چې "که تاسې غواړئ موږ به په دغه اړه نورو ته بل هېڅ څیز ونه وایو، موږ پوهېږو چې شوروي لویان اندېښمن شوي دي، موږ په دې کې هېڅ ستونځه نه وینو، که څه هم دغه قصه خورا مهمه ده. تېروتنې او ناسم پوهاوی به شوی وي. زه په دې باور لرم، چې زما درکونه سم دي، خو زه په عین حال کې د خپلو شوروي ملګرو د درکونو درناوی کوم. زما په نظر که تاسې غواړئ تاسې کولی شئ، خپل نظر په څرګند ډول بیان کړئ او د هغو څلورو وزیرانو وطنجار، ګلابزوی، مزدوریار او سروري په اړه زموږ ویناوې رد کړئ."

امین د شوروي استازو ددغې وینا په ځواب، چې د شاه ولي له وینا نه به د افغان_شوروي د دوستۍ دښمنان استفاده وکړي، وویل چې "مه وېرېږئ! پرېږدئ، چې له واشنګټن نه خلک را شي او په خپله ووینې، چې زموږ دوستي زیانمنه کولی نه شي. زموږ دښمنان خپه دي او دوی هېڅ هیله نه لري. زه تاسو ته وعده درکوم، چې موږ د کمونزم په لور درومو. د افغان او شوروي خلکو د دوستۍ او وروري او د دواړو هېوادونو د کمونستي ګوندونو په اړه باید هېڅ اندېښنه نه وي." امین دا هم وویل، چې که د افغان خوا د شاه ولي موضوع بېرته واخلي، په ګوند او هېواد

باندې به ناوړه اغېزه وکړي. "دوی به ووايي، چې د هغې تکذيب د شورويانو په فشار شوی دی... که په دې اړه څه پوښتنې وي، تاسې ووايئ، امين وپوښتئ، هغه به هر څه درته ووايي، تر هغه ځايه چې په موږ پورې اړه لري، موږ به رسنيو ته په خپلو خبرو ټينګ ودرېږو، خو که موږ بېرته اخيستل پيل کړل، ډېرې خبرې به بيا ترېنه راووځي. په ګوند کې به هغوی ووايي، چې زه څه ډول قوماندان وم، چې هغوی مې وغولول او په هغه سربېره زه به له خپلو عقيدو نه وانه وړم او زما شوروي ملګري به دا ونه غواړي، چې زه له هغه څه نه تېر شم، چې پرې عقيده لرم. دا به د کمونست لار نه وي، خو که ضرور شوه، زه حاضر يم تسليم شم او د خپلو عقيدو پر ضد عمل وکړم، خو دا به په دې مانا وي، چې زه له خپل وجدان نه تېر شوی يم. ددې لپاره، چې زه له خپلو عقيدو نه واوړم، بايد له مېنځه لاړ شم." په پای کې امين وويل، چې "... حاضری دی هغه څه وکړي چې شوروي ملګري يې غواړي که څه هم هغه به د هغه د غوښتنو پرخلاف وي، خو ښه به دا وي چې شوروي ملګري د هغه امين، له نظر څخه خبر وي او د هغو پر بنسټ خپلې پريکړې وکړي." [68] دغو خبرو نږدې دوه ساعته وخت ونيوه. په ياد دې وي، چې که هغه په خپله افغانانو ثبتې کړي وای، محتويات او د بيان طرز به يې متفاوت وای، خو دلته هم ليدل کېږي چې امين هم په خپل او هم د شاه ولي په روايتونو ټينګ ودرېد او مقابلې خوا ته يې نه کوم امتيازونه او نه د هغې خوښ ساتلو لپاره غوږې خبرې وکړي. البته شورويانو ته يې د ښو اړيکو لرلو وعده ورکړه او په دې خامې طمع هم کړل، چې افغانستان د کمونزم په لور روانېږي. ددغې مباحثې غټه پايله شايد دا وي، چې تره کي په همدغه ورځ له مېنځه يووړل شو، بې له دې چې په دې اړه شورويانو ته څه ويل شوي وي. شورويان له دغو خبرو نه ناراضه

ووتل. دغه ناراضي توب د بوګدانوف په هغه راپور کې ځرګند دی، چې یې خپل مرکز ته مخابره کړه او پکې وویل، چې "حفیظ الله امین ددغو خبرو په بهیر کې بې پروا او پارونکی و. ځینې وخت یې خپل غضب په سختۍ سره کنټرول کولی شو. د شوروي استازو په څبرو کې به ولوېد او چانس یې ورته نه ورکاوه، چې خپل نظر په ارام ډول بیان کړي. په عین حال کې دغسې شېبې هم وې، چې ښکارېده خپل فکرونه راټولوي او د غه انتباه یې ورکوله، چې نه غواړي]له شوروي اتحاد سره[خپل اړیکي خراب کړي.[69]" امین هم درک کړې وه، چې شوروي لویان یې په خبرو سره ناراضه شوي او د شوروي دغو استازو له امین سره په بلې لیدنې کې د اکتوبر په دیارلسمه ویلي وو، چې شوروي مشران نه غواړي د غه موضوع په همدغه حال پاتې وي[70].

له بلې خوا امین د خپلو نژدې ملګرو په مخ کې پوزانوف په مشخص ډول "دروغجن" وباله، په دې ډول چې "زه پوهېږم چې دا ممکنه او ضرور وه چې د هغې تنظیم شوې توطیې ځینو اړخونو ته تفصیل ور کړم، چې زما په ژوند شوې وه، بې له دې چې زموږ د دوستۍ په خاطر چې زموږ لوی هدف دی، د شوروي اتحاد حیثیت زیانمن شي، خو څه وخت چې سفیر پوزانوف ما ته په نېغه دروغ وویل او کوښښ یې کاوه، چې ما قانع کړي، چې د خپل ترجمان له لارې یې نه وم غوښتی... په هغه وخت کې چې دی له تره کي او جنرالانو پاولوفسکي، ګوریلوف او ایوانوف سره ناست و، بیا نو زه نه شم کولای، چې د هغه په اړه د هرڅه له ویلو نه ډډه وکړم. زه نه غواړم ورسره وینم او وغږېږم. ګرانه ده، چې پوه شم دغه دروغجن او بې تدبیره څنګه د اوږدې مودې لپاره سفیر پاتې وی، ماته ښه نه ښکاري، چې د شوروي سفیر... کوښښ کوي چې د سپتمبر څوارلسمې پېښې په بل ډول وښیي او بیا له مانه و غواړي، چې زه دغه دروغ تایید کړم. زه به هېڅکله دغسې ونکړم.[71]"

له هغه وروسته و، چې د ک.ج.ب پروپاګنډې ماشین په خاص ډول د امین پر ضد چالان شو. دغه ماشین دغسې ویل پیل کړل، چې په افغانستان کې شوروي پلوه افغانان ځپل کېږي، له پاکستان او امریکې سره د شوروي اتحاد په تاوان اړیکې ښه کېږي، په حکومتي هڅونې سره شوروي ضد تبلیغونه کېږي او له اسلامي بنسټ پالو سره د ائتلاف خبرې هم کېږي. د شوروي اتحاد حکومت سره له دې هم خپلو چارواکیو ته هدایت ورکړ، چې له امین او چارواکیو سره یې د پخوا په شان چلند وکړي او متوجه اوسي، چې امین او نور د شوروي په سیاست شکمن نه شي. د هغو د غولولو په مقصد شورویانو د امین ټولو هغو غوښتنو ته مثبت ځواب ورکاوه، چې یې د افغانستان ته د ډول ډول مرستو لپاره کولې، خو د دسمبر 12نه وروسته، چې د شوروي ګوندي پولټبورو په افغانستان باندې د یرغل پرېکړه وکړه. کوښښ دا شو، چې شخص امین په کوم ډول سره له مېنځه یووړل شي او که دغه کار ونه شو، بیا دې په افغانستان باندې وسله وال یرغل وشي. دغه ټولې موضوع ګانې ما په یوه بل اثر کې ځېړلې په نامه د افغان_شوروي جګړه. اوس به دلته په پاتې پاڼو کې له پاکستان او امریکې سره د امین د واکمنۍ په بهیر کې اړیکې تر بحث لاندې ونیول شي او دغه اثر به ختم شي.

له امریکې سره اړیکې

د امریکې متحدو دولتونو حکومت په کال 1934 کې افغانستان په رسمي ډول وپېژنده، خو په کال 1943 کې یې د دویم نړیوال جنګ په بهیر کې ورسره اړیکې ټینګ کړل او په کابل کې یې خپل سفیر هستوګن کړ. امریکا د پاچا امان الله په وخت کې د هغه خاص استازي محمد ولي وړاندیز نه منلی، چې د دواړو هېوادونو د اړیکو د ټینګولو لپاره واشنګټن ته په سفر تللی و. امریکې هغه وخت له افغانستان سره علاقه نه ښودله او افغانستان یې د برتانوي هند تر نفوذ لاندې

هېواد ګاڼه، که څه هم افغانستان په کال 1919 کې پوره خپلواک هېواد شوی و. څنګه چې امریکا یو لوی شتمن او پرمختللی هېواد و او افغانستان د شوروي اتحاد او برتانوي هند ترمېنځ پروت و، افغان چارواکیو کوښښ کاوه د امریکې علاقه افغانستان ته راواړوي او په انکشافي پروجو کې یې برخه واخلي، چې د هلمند ناوې د زراعتي انکشاف پروجه یې یوه څرګنده بېلګه ده، خو د شلمې پېړۍ په پنځوسمې لسیزې کې د دواړو هېوادونو باندني سیاستونه په بېلا بېلو لارو روان شول. په دغه وخت کې امریکې د ولسمشر ایزنهاور په دوره کې د شوروي اتحاد شاوخوا دفاعي نظامي تړونونه رامېنځ ته کړل او نوی هسک شوی پاکستان په دوو دغسې پکتونو کې ګډ شو او په دې ډول یې له امریکې سره خاص اړیکې پیدا کړل، په داسې حال کې چې افغانستان له شوروي اتحاد سره د چم ګاونډیتوب او د خپل جغرافیوي موقعیت او اقتصادي حال له امله د مثبت ناپېیلتوب سیاست غوره کړ. مطلب دا و، چې افغانستان به د شوروي اتحاد په مشرۍ او د سوشلستي کامپ او د امریکې په سروالۍ له لویدیځ کامپ سره د ناپېیلو هېوادونو د غړي په توګه دوستي کوي، خو امریکې د پښتونستان په کشاله کې د پاکستان خواونیوله او ددغه متحد په خاطر حتی ددې خنډ شوه، چې افغانستان د امریکې له وسله جوړونکیو فابریکو نه وسلې په بیه واخلي او خپل پوځ پرې پیاوړی او عصري کړي، خو امریکې په نورو برخو کې له افغانستان سره خپلې دوستۍ ته دوام ورکړ او یو څه مرستې یې هم ورسره وکړې، په تېره د پوهنې په ډګر کې [72].

دا هغه وخت و، چې د شوروي اتحاد سروال نکیتا خروشچف د سوله ییز ګډ ژوند په نامه د ستالین د دورې پرخلاف یو نوی نړیوال سیاست غوره کړ او د هغه له مخې یې د درېیمې نړۍ له

پرمختیایي هېوادونو سره د سولې او همکارۍ
چلند پیل کړ. ددغه نوي سیاست په رڼا کې د
صدراعظم محمد داود په وخت کې د افغان_ شوروي
په اړیکو کې څرګند انکشاف راغی. په کال 1956
کې خروشچف او صدراعظم مارشال بولګانین
افغانستان ته د رسمي سفر په بهیر کې د پوځ د
عصري کولو او د پرمختیایي پروجو د عملي کولو
لپاره کریدتونه او مرستې ومنلې، چې حجم یې د
وخت په تیر بدو سره وار په وار ډېر بده. شوروي
چارواکیو دغه مرستې بې غرضه ښودلې، خو له هغو
نه د خروشچف اصلي مقصد دا و، چې افغان حکومت
به امریکې ته اجازه ورنکړي، چې هلته نظامي
هډې جوړې کړي، چې په هغه حال کې به شوروي
اتحاد مجبور نه وي، په منځنۍ اسیا کې متقابل
ترتیبات ونیسي او که مجبور شو، بیا به دومره
ډېر لګښتونه وکړي، چې له افغانستان سره د
شوروي ټولې مرستې به "د سمندر د یوه څاڅکي"
په اندازه وي[73]. په هر حال، د شوروي ددغو
مرستو او له افغانستان سره د شوروي اتحاد د
ښو اړیکو پایله په افغانستان کې د کمونستي
حرکت ټوکېدل او د ثور کودتا شوه، چې دمخه یې
بیان شوی دی.
د ثور په کودتا سره امریکا په افغانستان کې
څو ګامه وروسته پاتې شوه او د هغې پرخلاف
شوروي اتحاد په افغانستان کې تر هر بل وخت نه
ډېر ښکېل شو. سره له دې هم د خلقي حکومت او
امریکې ترمېنځ اړیکې پر ځای، خو ساړه وو، خو
دغه ساړه اړیکي هم د 1979کال د فبرورۍ په
څوارلسمه ناڅاپه خراب پړ شول. په دغه ورځ په
کابل کې د امریکې سفیر اډولف ډبس (Adolf Dubs)،
چې د معمول په شان په موټر کې د سفارت په لور
روان و، د څلورو کسانو له خوا ونیول شو د
کابل هوټل په یوې کوټې کې بندي شو. دغه
تښتونکي ستمي ډلې ته منسوب و ښودل شول، چې د
سفیر د ازادولو په بدل کې یې له حکومت نه د

خپل مشر بهرالدین باحث ازادول غوښتل. په داسې حال کې، چې هغه کلونه دمخه د بدخشان په درواز کې د اله ګولې په تور بندي شوی او 1978 کال په اوړي کې علي آباد روغتون ته د علاج لپاره بستري شوی او له هغه ځایه د ملګرو په مرسته تښتېدلی او بیا نیول شوی او له مېنځه وړل شوی و.[74]

اوس پوښتنه دا ده، چې د غه ډبس تښتونکي ولې ددغې یوه کس ازادول وغواړي، چې پوهېدل هغه دمخه له مېنځه وړل شوی و؟ دغه پوښتنه په دې هم پر ځای ده، چې دغه انسان تښتوونکي د ک.ج.ب په راپورونو کې ماوستان ښودل شوي، نه ستمیان.

په هر حال، د میتروخین په روایت "امین د ک.ج.ب د مشاورو په مشوره افغان ضربتي ډلې ته، چې په کلاشنکوفونو سمباله وه او د شوروي او مرمي ضد کرتۍ یې په ځان وې، د ډزو امر وکړ. د لنډې مودې په ډزو کې، چې وشوې د بس او دوه انسان وژونکي ووژل شول، دریم یې ونیول شو او څلورم یې وتښتېد. ک.ج.ب بیا ددې لپاره، چې تر هغو په اغېزناک ډول ممکن وي، په پټولو لاس پورې کړ، چې په دغو عملیاتو کې خپله ونډه او د ډبس په وژنه کې خپل مسؤلیت پټ کړي. د امریکې امنیتي ماهران، چې هوټل ته ورغلي وو، پرې نه ښودل شول چې له هغې کوټې نه د ګولیو پوچاقي ترلاسه کړي. دغه ګوریلایان په درې توپنګچو سمبال وو، کلاشنکوف ته ورته یو ټوپک چې اصل یې معلوم نه و، په کوټې کې واچول شو، چې وښيي هغو په هغه سره سفیر وژلی دی. امریکایانو ته ددې لپاره چې له هغو دوو ژوندیو ګوریلایانو نه پوښتنې کولی ونه شي، وویل شول چې څلور واړه یې په ډزو کې وژل شوي دي. په واقع کې نیول شوي ګوریلایي له تښتونې نه وروسته په هغه شپه کې ووژل شو، لکه هسې چې هغه بندي ووژل شو، چې په غلطه یې ادعا شوې وه، چې تښتېدلی دی. ددې لپاره چې امریکایانو

ته وښودل شي څلور جسدونه پوره شول، په افغان ورځپاڼو کې د درېیو اصلي ماوستانو او یوه جعلي ماوست عکسونه خپاره شول. د او ساد چې په غوښتنه چې په کابل کې د ک.ج.ب آمر و، امین او وزیرانو یې د خواخوږۍ د څرګندونې په وخت کې امریکایانو ته وویل، چې دوی یې واځې په خپل نوښت عمل کړی او شوروي مشاوران پکې دخیل نه وو."[75]

حقیقت چې هر څه و، په اصل کې په تښتوونکو باندې ډزې کول د سلیم عقل مخالف کار و، هغوی محاصره وو او تښتېدلی نه شول. غوره لار له هغو سره د خبرو وه، نه د ډزو چې په هغه حال کې د یرغمل ژوند هم په خطر کې کېده، لکه چې همداسې وشول. ک.ج.ب ممکن همدغه څه غوښتل، ددې لپاره چې د سفیر په وژل کېدلو سره له امریکې سره د افغان حکومت اړیکې خراب شي، نو ځکه د امریکایانو دغه وړاندیز و نه منل شو، چې له تښتوونکیو سره دې خبرې وشي. په دې اړه د امریکې یوه دیپلوماتد خپل حکومت اندېښنه په دې ډول ښکاره کړه، چې "کوم څه چې د سفیر ډېس د تښتولو په قضیه کې موږ ناارام کړو، هغه ددغې کشالې په حل کولو کې د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د پوره همکارۍ یا حتی د مشورې نه شته والی و." دغه نه همکاري شاه ولي هم تایید کړې، په دې ډول چې "ځینې پېښې وشوې، چې د افغانستان دموکراتیک جمهوریت نه غوښتل. د افغانستان دموکراتیک جمهوریت خپل نهایي کوښښ وکړ، چې ثابته کړي د غه پېښې د هغه له کنټرول نه وتلې وې."[76] په دغې پېښې سره د ملي ستم ډله د لومړي ځل لپاره په ملي او بین المللي سطح کې وپېژندل شوه او له امریکې سره د افغانستان اړیکې خړ پړ شول... د امریکې حکومت له کابل نه خپل دیپلوماتان وابستل او وروسته ولسمشر جمي کارتر د امریکې د کانګرس د غه لایحه قانوني کړه، چې پکې ویل شوي و، چې

تر هغو چې خلقي حکومت بښنه ونه غواړي او د سفير ډبس په مرګ کې خپل مسؤليت ونه مني، ورسره به مرسته ونه شي[77]. د امريکې حکومت د ثور تر کودتا پورې د افغانستان د اقتصادي او ټولنيزو چارو د پرمختيا لپاره هر کال شل مليون ډالرو وړيا ورکول، په ټوليز ډول په دغې پېښې سره خلقي حکومت له امريکې نه ليرې او په شوروي اتحاد نور هم متکي شو.

د ډبس له مرګ نه وروسته د امريکې سفارت او خلقي حکومت ترمېنځ ليدنه کتنه تر اخري حده پورې لږه شوه، خو ترمنځ يې د خبرو ور خلاص و. د امريکې سفارت د لږو غړو لپاره د افغانستان د جاري وضع او په تېره دشوروي اتحاد د چلند په اړه د معلوماتو ټولول او له افغانستان سره د باندنيو ديپلوماتانو او حکومتونو د سياستونو اندازه نيول، د دوی مهمه وظيفه شوه او دا د هغه سفارت چارج دافر بروس امستونز مسؤليت شو. امستونز په خاص ډول له سفرنچوک او د ختيځ جرمني له سفير هرمن شوای سا سره ډېر ليدل. هرمن هم د سفرنچوک په لار په ټينګه روان و او دواړو په ديپلوماتيکي کړيو کې دغسې فکر پيدا کړی و، چې د سفرنچوک فکر په هر ډول چې وي، عملي شي حتی که په کودتا سره هم د امين ليرې کول او پرځای يې د کارمل راوستل وي.

امستونز لا د جون په مياشت کې سفرنچوک ته په ډاګه کړې وه، چې "د افغانستان په اړه د امريکې سياست له پخوا نه دا و، چې په سيمه کې ثبات خوندي وي. موږ غواړو، چې افغانستان له خپلو ګاونډيو سره په سوله کې وي، نه يواځې له شوروي اتحاد بلکې له ايران، پاکستان او چين سره هم." د هغه په راپور کې دا هم راغلي، چې "ما سفرنچوک ته وويل، چې د سيمې د ثبات د خوندي ساتلو په اړه د امريکې سياست له مخې موږ هيله لرو، چې افغانستان به زموږ دوو هېوادونو ترمېنځ د مقابلې ډګر نه وي."

سفرنچوک موافقه وښودله، خو سره له دې هم امستونز د اخطار په ډول ور ته څرګنده کړه، چې "که شوروي اتحاد افغانستان ته خپل پوځ واستوي، دا به د امریکې او شوروي اړیکې ډېر پېچلې او زیانمن کړي.[78]" خو دا او دغسې نور اخطارونه، چې یو وخت بل وخت شورویانو ته ور کول کېدل، موثر ثابت نه شول. افغانستان د شوروي اتحاد چم ګاونډی او تر ټینګ نفوذ لاندې هېواد و او په لږ وخت کې یې نظامي یرغل پرې کولی شو. د سپټمبر د پېښو په وخت کې، چې د افغانستان په چارو کې د شوروي اتحاد قوي لاس ښکاره شو، د امریکې د سي.ای.ای سروال ترنر د خپل حکومت ملي امنیت شورا ته څرګنده کړه، چې شوروي اتحاد شاید په افغانستان کې اوس تر هر بل وخت نه ډېره غټه مداخله وکړي.[79]" د سپینې ماڼۍ د ملي امنیت سروال بریژنسکي هم له سپټمبر نه تر دسمبر پورې ټینګار کاوه، چې په افغانستان کې دې د شوروي اتحاد د دخیل کېدلو په اړه خپرونې پراخې شي، خو د باندنیو چارو وزارت په دې اړه چندان علاقه نه ښودله. سره له دې هم یوه ویاند یې د سپټمبر په نولسمه څرګنده کړه، چې "د افغانستان په دننیو چارو کې امریکا د هرې مداخلې مخالف ده." نورو مامورانو یې هم "په وار وار شوروي حکومت ته د هغو خطرونو یادونه کوله، چې په افغانستان کې به جنګ د نورو له نېغ دخیل کېدلو نه راولاړ شي.[80]" خو لکه چې وروسته به ولیدل شي، د نومبر له اولو نه وروسته د ایران د نوي حکومت له خوا د امریکایي مامورانو برمته کول نور هر څه تر سیوري لاندې ونیول. غېر له هغه هم امریکایي چارواکي په دې فکر وو، چې له باندې نه د افغانستان په چارو کې لاسوهنه به شوروي حکومت مداخلې ته وهڅوي او حتی په حقه به یې کړي، نو یې دغه هڅه پیل کړه چې د سیمې هېوادونه په دغه نظر کړي، چې "د ورځې موضوع د

شوروي د لويې غوښتنې شنډول وي، نه له پخوانيو سيمه ييزو دښمنيو نه ګټه اوچتول." په عين حال کې د امريکې حکومت په دې فکر شو، چې په سيمې کې به "د امريکې غټ نظامي شتون مناسب وي، چې پاکستان او د خليج سيمې لپاره ملاتړ وښودل شي."[81] ددې مانا دا کېده، چې د شوروي حکومت په افغانستان کې د عمل آزادي لري او د امريکې حکومت به يې پر ضد عمل ونه کړي. د همدغه فکر له مخې به و، چې په افغانستان باندې د شوروي د يرغل په وخت کې د امريکې نظامي قوه د ديګوګارسيا په ټاپو کې ځای پر ځای شوه.

امين له خپل سروال کېدو نه وروسته په دغه کوښښ پيل وکړ، چې په داسې حال کې چې افغانستان له شوروي اتحاد سره خاص اړيکې لري، له نورو هېوادونو سره هم بايد اړيکې ولري. ده غوښتل له ټولو هېوادونو سره انډوليز سياست پرمخ بوځي. مؤلف براډ شير وايي، چې امين غوښتل په باندني ډګر کې د موسی شفيق او محمد داود په لار روان شي، چې مانا يې "غېر کمونستي ګاونډي ته مخ اړول و، ددې لپاره چې د شوروي نفوذ لږ او متوازن کړي."[82] له "غېر کمونستي" هېواد نه مطلب پاکستان دی، چې وروسته به پرې بحث وشي.

د باندنيو چارو وزير شاه ولي، چې د ملګرو ملتونو په عمومي اسامبلې کې د ګډون لپاره د سپتمبر په 27مه نيويارک ته لاړ، هلته يې په يوې خاصې ناستې کې د امريکې د باندنيو چارو مرستيال وزير "نيوسم ته ډاډ ورکړ، چې د هغه حکومت خپلواک دی، د بل حکومت يا ګوند تر نفوذ لاندې نه دی." هغه دا هم وويل، چې "افغانستان د ناپېيلي غورځنګ رښتينی غړی دی او غواړي خپل سياست پرمخ بوځي." نيوسم هم وويل، چې غواړي د دواړو هېوادونو ترمېنځ د پوهاوي او مخابرې لار خلاصه وي او خوښ دی، چې امين په همدغه ورځ زموږ چارج دافر خپل حضور ته بللی او هيله

کوي، چې دا به د دواړو هېوادو نو په اړیکو ښه اغېزه وکړي[83]. د امستونز په وینا امین هغه ورځ "ټول سحرا او ملګرتوب" و او د امریکې له حکومت سره د ښو اړیکو په پلوي وغږېد[84]. له هغه وروسته امریکې له افغانستان سره یو څو وړې مرستې هم وکړې: آریانا هوايي شرکت ته یې یوه مسافر وړونکې الوتکه ورسوله، د څو اطرافي ښوونځیو او روغتیایي مرکزونو د جوړولو د لګښتونو د بېرته تادیه کولو موده یې اوږده کړه او په کابل کې یې د عاجل ضرورت د رفع لپاره د دوه سوو ټنو د غنمو د نقل ترتیب ونیول شو. وروسته د امریکې حکومت له دهلي نه د خپل سفارت نایب سفیر آرچر بلد کابل ته په څرګند ډول ددې لپاره ولېږه، چې د امستونز پر ځای، چې په رخصتۍ تللی و، کار وکړي خو د هغه د سفر اصلي مقصد له امین سره خبرې کول و.

امین له بلد سره د اکتوبر په 27مه یو ځل ولیدل، دوام یې یو ساعت و. امین له امریکې سره د اړیکو ښه کېدل او له افغانستان سره د امریکې مرسته وغوښتله، خو بلد "ورته وویل چې تر هغو چې د ډېس په وژنه کې د خپل رول په اړه موږ قانع نه کړي، دوی د هغو هیله کولی نه شي." بلد ددغې ناستې په اړه وروسته وویل، چې "زه یو څه وهڅول شوم، چې د وخت په تېرېدلو سره به موږ سره جوړ شو چې که موږ د ډېس یاد له ذهن نه وباسو. هغه]امین[ټینګ ایډیالوګ نه و. ما ته دغسې یو کس معلوم شو، چې په سخت حال کې دی، ټینګ دی او کوښښ یې کاوه چې ژوندی پاتې شي.[84 الف]" امین چې هرڅه بلد ته ویلي دي، د هغه له اشارو څخه معلومېده، چې له مسکو نه وېرېده. بلد ته یې ویلي و، چې "دی فکر نه کوي تر ډېرې مودې ژوندی وي.[85]" خو په دغه حال کې هم دی د افغانستان په خپلواکۍ تر دې حده ټینګ ولاړ و، چې بلد ته یې ویلي وو، چې "که په خپله

بریژنیف ورنه وغواړي چې د افغانستان د خپلواکۍ پر ضد کوم عمل وکړي.... دی به په دې کې ټکنی نه شي، چې خپل ژوند ددغسې غوښتنې پرخلاف قربان کړي.[86]" خو د امین له کوښښونو سره سره د امریکې حکومت له ځای نه ونه ښورېد. د باندنیو چارو وزیر سایرس وانس لا وویل، چې "موږ چې ډېر وکړو له افغانانو سره به په دغه جاري دیالوګ کې د لېږو لانجمنو اړیکو امکانات ولټوو او موږ په دې هم باور نه لرو، چې د غه محدود مقصد به پرځای پاتې وي.[87]" لکه چې دمخه وویل شول، د امریکې حکومت خلقي حکومت څه، چې په خپله افغانستان یې هم د شوروي تر نفوذ لاندې هېواد او په خپله امین "کمونست" او زوروواک واکمن ګاڼه، نو یې نه غوښتل د شوروي له منګولو نه یې وژغوري او په اړه یې کوم عمل وکړي.

په دغه وخت کې د امریکې ټینګه توجه ایران ته وه. هلته د روح الله خمیني په سروالۍ د ایران نوی حکومت، چې د 1979 په جنورۍ کې یې د محمد رضا شاه پهلوي پاچایي نسکوره کړې وه، د همدغه کال په نومبر کې د امریکې د سفارت 66 تنه ماموران برمته کړي و. د کارتر حکومت، چې په دې اړه هر څه وکړل، خپل چارواکي یې خلاصولی و نه شول. د غه کوښښونه د ولسمشر ریګن په وخت کې د 1981 کال په جنوري کې بریالي شول او برمته شوي امریکایان ازاد شول، نو کابل ته د امستونز په بېرته راتګ سره د شوروي اتحاد تر یرغل پورې د امین او امریکایي چارواکیو ترمېنځ د یادونې وړ لیدنه کتنه نه ده شوې، خو امین د نومبر په شلمه له مولفې ریډیه ستیورت سره په کابل کې په یوې مرکې کې وویل، چې غواړي د امریکې نوی سفیر کابل ته راشي. امین د نومبر په شلمه د لاس انجلس ټایمز او واشنګټن پوسټ خبریالانو ته په یوې مرکې کې دا هم وویل، چې "موږ غواړو د امریکې متحده دولتونه ددغې

سیمې چارې په واقع لېدونکي توګه تر کتنې لاندې ونیسي او پر هغه برسېره له مورږ سره دوستي وکړي. [87 الف]

امستونز د نومبر په شلمه واشنګټن ته په یوه دیارلس مخیز تیلګرام کې د افغانستان د راتلونکي په اړه د څو احتمالي پېښو وړاندوینه وکړه، خو د شوروي د احتمالي یرغل په اړه یې کې څه نه و ویل شوي. د امریکې د باندنیو چارو وزارت هم ځان له زحمت ورنکړ، چې په منځنۍ اسیا کې د شوروي د پوځونو او وسلو په حرکتونو باندې په کابل کې خپل سفارت خبر کړي[88]. په دغه حال کې د امین لپاره دوه لارې پاتې وې: یوه دا چې شوروي لویان قانع کړي، چې د افغانستان په اداره کولو کې دې تر ټولو وړ شخص دی او بله دا چې له پاکستان سره خپل اړیکي ښه کړي.

***

له پاکستان سره اړیکي

هغومره چې افغانستان له پاکستان سره ډېر اړخیز اړیکي لري، په نړۍ کې به یې بل دوه هېوادونه شاید سره و نه لري. یو دا چې د اصلي افغانستان یانې له اباسین نه تر هلمند پورې د کوېټې په ګډون غټه برخه په اوسني پاکستان کې نیول شوې، بله دا چې د ډیورنډ کرښې په دواړو خواوو کې په عمده ډول پښتانه قومونه پراته دي او دوی له لرغوني مهال نه وروسته په دغې مېنې کې اوسېدلي، خو دوی په رسمي ډول د ډیورنډ په کرښې سره بېل شوي، چې په 1893 کې د برتانوي هند حکومت له خوا د افغانستان امیر عبدالرحمن باندې تحمیل شوې وه.

په پاکستان کې د اصلي افغانستان د غټې برخې نیول کېدل و، چې د افغانستان اړیکي یې له هماغه اول سر نه ورسره ترخه کړل، یانې له 1947 نه وروسته، چې د هند لویه وچه په هند او

پاکستان وویشل شوه او پاکستان د یوه بېل هېواد په توګه سر پورته کړ. په ملګرو ملتونو کې افغانستان یوازینی هېواد و، چې دد غې موضوع په سر یې د هغه د غړیتوب په وخت کې منفي رایه ورکړه. د ثور تر کودتا پورې د افغانستان او پاکستان اړیکې دد غې کشالې یانې د پښتونستان په سر سره ترخه وو.

د ثور کودتا، چې په افغانستان کې یې شوروي پلوه حکومت په واک کړ، د پاکستان واکمن جنرال ضیاءالحق یې اندېښمن کړ. دی هم یو کال دمخه په 1977کې په نظامي کودتا سره واکمن شوی و. په دغه وخت کې د سوشلستي هېوادونو د کامپ د سروال په توګه د شوروي اتحاد وزن او حیثیت تر هر بل وخت نه لوړ شوی و. د ثور له کودتا نه دمخه د محمد داود د ولسمشرۍ په اخر وخت کې د افغانستان او پاکستان د اړیکو د ښه کېدلو په لور د لومړي ځل لپاره اساسي ګامونه اخیستل شوي وو[89]. ضیاءالحق "...له محمد داود سره د اړیکو د ښه کېدلو د موافقې په لهمېنځه تللو او د پښتونستان او بلوڅو د کشالو په اړه د افغان تبلیغونو له سر نه نیولو اندېښمن کړی و. ضیاء پرېکړه وکړه، چې کابل ته لاړ شي او له لویانو سره یې وغږېږي." خو هغو د خبرو موضوع ځنډوله. هغه ټینګار وکړ او د سپتمبر په نهمه یې تره کي او امین په پغمان کې ولیدل. "ضیاء وړاندیز وکړ، چې په هرې موضوع به وغږېږي، چې افغانستان یې غواړي، تخنیکي مرستې ورکړي او متیقن کړي، چې د تزائزیت لارې اسانې کړي. تره کي په ځواب کې له خپل عامه ملاتړ نه زیات او د مشخصو موضوع ګانو په اړه په مجمل ډول وغږېده. ضیاء اریان دریان ستون شو او د 1979 په مې کې یې افغانستان د شوروي تر لاس لاندې هېواد وبالـه او وویل، چې افغانستان نور نو حایل هېواد نه دی.[90]" له بلې خوا کابل د پښتونستان داعیه ټینګه ونیوله، نه یوازې په خبرو، په عمل سره

هم، چې زر به یې بیان وشي، په داسې حال کې چې د افغانستان پخوانیو حکومتونو ادعا کوله، چې پښتانه او بلوڅ دې ازادي ولري، چې د خوداراديت د اصل له مخې خپل سیاسي برخلیک په خپله وټاکي. امین د امو او اباسین ترمېنځ د افغانانو په یووالي ودرېد، تره کي او امین په دې ډول لوی افغانستان غوښته.

تره کي د دغه مسئله له بریژنیف سره هم یاده کړې او ورته ویلي و، چې افغانستان باید د هند تر سمندر پورې ورسېږي. پاکستان د هغه په نظر یو بېګانه وجود و او ویل یې چې "موږ باید د پاکستان پښتانه او بلوڅان د امپریلستانو په لاسونو کې پرې نه ږدو. اوس دغه امکان برابر شوی دی، ددغو قومونو ترمېنځ د ژغورنې جګړه شروع کړو او د پښتنو او بلوڅو سیمې په افغانستان کې ورګډې کړو."(91) امین لا د **1978** په اګست کې پوزانوف او ګوریلوف ته څرګنده کړې وه، چې "د افغانستان سیمه باید د عمان د خلیج او د هند سمندر غاړو ته ورسېږي. موږ غواړو سمندر په خپلو سترګو ووینو." ده هم د تره کي په شان عمل غوښته او په بلې ناستې کې یې هغو ته ویل، چې "زموږ دنده دا ده چې خپل پوځي افسران او سرتېري او ټول افغانان د ډیورنډ د کرښې په لور چې موږ یې نه پېژنو او د اباسین په لور وهڅوو چې باید زموږ پوله شي. زموږ لپاره حتمي ده، چې د هند سمندر ته لار ولرو."(92) امین امریکایي لیکوال هري سن ته هم په همدغه ډول غږېدلی و، چې "تاریخ موږ ته دغه سپېڅلی رسالت راکوي. موږ نه شو کولی چې له خیبر نه اخوا خپل ځپل شوي پښتانه ورونه ترک کړو. پاکستان وایي، چې د پښتنو او بلوڅو نومونه مه اخلئ. خو موږ دا څنګه منلی شو.؟" په داسې حال چې امین ادعا کوله، چې پاکستان او امریکا "افراطي" مسلمانان زموږ پر ضد یاغیګری

ته هڅوي، په ډاډه زړه وويل، چې "پښتانه او بلوڅان به په پاکستان کې زموږ د رجیم په دفاع کې جګ شي." امین د ثور "انقلاب" هم د پښتونستان له مسئلې سره تړلی وښود، په دې ډول چې "هېڅ څوک انکار کولی نه شي چې د افغان انقلاب او د پښتونستان موضوع سره تړلي دي."[93]

د پاکستان لوړ پوړ چارواکي د تره کي او امین له دغو وینااوو نه خبر نه وو، خو د هغو د نورو سیاستونو او څرګندونو نه په داسې حال کې چې د شوروي اتحاد حکومت یې ملاتړ ګاڼه، په اندېښنه کې وو. اغا شاهي د پاکستان د باندنیو چارو وزارت سکرتر د 1979 کال په اکتوبر کې په واشنګټن کې د امریکې مامورانو ته د افغانستان له خوا له نظامي خطر نه غبږ بدلی و، په دې ډول چې "د حایل دولت په توګه د افغانستان تاریخي رول له منځه تللی او پاکستان تیار نه دی او نظامي وسلې نه لري، چې له نظامي خطر سره مقابله وکړي." خو د هغه غټه اندېښنه دا وه، چې د افغانستان له خوا به د پښتنو او بلوڅو له لارې د پاکستان پرضد فعالیتونه وشي او څه وخت، چې حکومت ټینګ او پیاوړی شي، بیا به "له خپل نوي نظامي ظرفیت نه د پاکستان پر ضد کار واخلي" هغه "دغه رجیم د پښتون شوونیزم او ایډیولوجیکي لېوالتیا یو مخلوط وګاڼه، چې د پاکستان ګټو ته یې له دواړو خواوو ته خطر پېښ کړی دی." د اغا شاهي په نظر کابل څوان پښتانه او بلوڅ او هغوی، چې مارکسستي میلونه لري، د پاکستان پر ضد فعالیتونو لپاره هڅولي دي. د هغه په نظر " د پاکستان د خلکو عقلاني تخریب لا دمخه د بري نښې ښوولي او ډېرو پاکستانیانو خپل دریځونه د افغانستان په لور اړولي دي." ده دا هم څرګنده کړه، چې دغه میل د ثور له کودتا نه وروسته پیل شوی او د افغانستان حکومت غواړي "دغسې موقع خلق کړي، چې دوی بیا

د پښتون نېشنلزم د اتلانو په شان ښکاره شي."

له هغه نه وروسته امریکایي چارواکي دغې نتیجې ته ورسېدل، چې پاکستانیان "تر پخواني رجیم نه ډېر د امین د یوه کس له واکمنۍ نه ناراحته دي." ددغو پاکستانیو اندېښنه به رښتینې وه، خو دوی غوښتل په دغې وېناوو سره له امریکې نه د لویو وسلو او ډاډینې ترلاسه کولو لپاره لار هواره کړي. د امریکې چارواکیو دغې ډاډینه هم ورکړه: "د پاکستان پرضد د افغان د تېري په مقابل کې د 1959 تړون زموږ په نظر د اعتبار وړ دی."[94] په دغه وخت کې له څلور لکه افغان کډوالو نه برسېره د اسلامي تنظیمونو لویان هم په پېښور کې وو او افغانستان په خپل وار له پاکستان نه اندېښمن و، چې پاکستان به هغوی د افغانستان پر ضد ولمسوي او د وسلو مرسته به ور سره وکړي. دواړو خواوو ته ښه موقع برابره وه، چې د خپلمنځي کشالو د هوارولو په اړه سره وغږېږي.

د دواړو هېوادونو مشران له یوه بل نه په اندېښنه کې وو. دغه اندېښنه په دې هم ټینګه وه، چې د دواړو حکومتونه کودتایي وو او وېرېدل، چې یو به د بل له مخالفانو سره ډول ډول مرستې وکړي، چې په هغو سره به لږ تر لږه د دوی په هېوادونو کې امنیت په خطر کې شي.

په سپتمبر کې، چې ضیاءالحق او نور محمد تره کي د ناپېیلو هېوادونو د سرانو په کنفرانس کې د ګډون لپاره د کیوبا مرکز هوانا ته لاړل، دوه ځله یې سره په ځانګړي ډول ولیدل. لومړی ځل د ضیاءالحق او دویم ځل د تره کي په هستوګنځي کې. دوی په هغو مسئلو سره وغږېدل، چې د دواړو هېوادونو اړیکې یې سره خراب کړي وو. ددې لپاره لا "...د ضیاءالحق له خولې څخه د بي. بي. سي له لارې څرګندونې و شوې، چې دی غواړي د کیوبا د مشر فیدل کاسترو په مینځګړتوب د افغان مشرتابه له پلاوي سره د خپلمنځي

اختلافاتو د لیرې کولو په هکله خبرې اترې وکړي." د افغانستان د اطلاعاتو او کولتور وزیر خیال محمد کټوازی، چې په دویمې غونډې کې حاضر و، د دواړو اندېښنې په دې ډول څرګندې کړي: "کله چې تره کي ضیاء ته پوښتنې وړاندې کړې، چې ولې په افغانستان کې لاسوهنې کوي او ولې زموږ پر ضد زموږ مخالفینو ته روزنه او وسلې ورکوي؟ ضیاء په ځواب کې ورته وویل، چې په دې کې شک نشته، چې موږ دا کار کوو او دا ځکه چې موږ د تاسې له اړخه دوه تشویشونه لرو: یو دا چې تاسې پښتانه یاست او اوروم‌رو به د پښتونستان مسئله رامېنځ ته کوئ او بل موږ له دېنه وېره لرو، چې تاسې به شوروي پلوه انقلاب یو وخت پاکستان ته هم راصادر کړئ." د تره کي ددغې وینا په برابر کې، چې د افغانستان پخواني مشران هم پښتانه وو، ضیاءالحق وویل چې "د هغوی پښتو ژبه نه وه زده او د پاکستان له پښتنو سره تفاهم ستونزمن و او کلونه کلونه موږ په عمل کې د هغوی له خوا کوم مشکل نه دی لیدلی.[95]" له بلې خوا د ثور له کودتا نه وروسته پاکستان د افغان کډوالو او د درې افغان اسلامي تنظیمونو له لارې هم د افغانستان حکومت ته امنیتي ستونځې پیدا کولی شوې، چې په اړه یې لږ دمخه غږېدلی یم، خو پاکستان له یوه بل اړخ نه هم له کابل نه په اندېښنه کې و. د کټوازي په وینا کوم شی چې "ضیاء ته د تشویش وړ و، هغه په پاکستان کې د خلک دموکراتیک ګوند جوړښت و، چې د نور محمد تره کي تر مشرۍ لاندې یې مبارزه کوله. ضیاء الحق [تره کي ته] دا خبره په ډاګه کړه، چې دغه ګوند چې تاسې په پښتنو او بلوڅو کې نوی جوړ کړی دی، اوس ورځ په ورځ زموږ له کنټرول څخه وځي." د کندهار والي صاحبجان صحرایي، د پېښور قونسل رحیم سالارزی او د کوټې قونسل په پېښور، کوټې، پښین او نورو سیمو کې په پېسو، خپرونو او

هڅو نو سره دد غه ګو ند په پیاوړتیا کې غټ رول لوبولی دی. د کټوازي په نظر په اصل کې د همدغه ګوند له امله و، چې ضیاء "سولې ته نږدې شو او د مذاکرو غوښتنه یې پیل کړه." کټوازی دا هم وايي، چې "په پاکستان کې د خلک دموکراتیک ګو ند دو مره چټکه وده و کړه، چې هېڅ فکر یې نه کېده. برسېره پر دې د خلق جریده په ځلورو ژبو... هره هفته د پاکستان... په کلیو او بانډو کې وېشل کېدله. همدارنګه د افغانستان په ختیځ کې د شمشاد د غره په سر باندې د تلویزیون په یوه سټېشن باندې کار روان و، چې خپرونې یې په پاکستان کې پښتنو ته په نظر کې نیول شوې وې."

په دویمې غونډې کې ضیاءالحق او تره کي د لاندې موضوع ګانو په اړه په دې ډول موافقه وکړه، چې د هغو په اړه مقدماتي کارونه به د دواړو خواوو چارواکي سرته ر سوي او بیا به دوی په کابل کې هغه په رسمي ډول لاسلیک کوي:

1_ پاکستان به ټول افغان مهاجران او د حکومت مخالفان، چې پاکستان ته راواوښتي دي، د هغو له مشرانو او وسلو سره د افغانستان حکومت ته سپاري.

2_ د افغانستان حکومت به ضمانت کوي، چې د هغو ژوند به خوندي وي او غچ به تربېنه نه اخیستل کېږي.

3_ د افغانستان حکومت به په پاکستان کې خپل د خلق دموکراتیک ګوند ړنګوي.

4_ د افغانستان حکومت به د شمشاد غره باندې د تلویزیون جوړولو کار بندوي.

5_ افغانستان به د خلق جریده نور نو پاکستان ته نه رسوي. (96)

کټوازی دا هم وايي، چې د ضیاء او تره کي ترمېنځ د خبرو بله موضوع د پښتونستان وه، خو په اړه یې بحث ځکه اوږد نه شو چې تره کي وویل

چې دا "داسې یوه مسئله ده، چې یو دولتي مشر نه شي کولی د ولسونو له ارادې پرته اقدام وکړي." بیا دوی سره ومنله، چې "په اوسنیو خبرو اترو کې دا موضوع له اجندا وایستله شي. اوس دې په نوي کړکېچ یوې پریکړې ته ورسېږي." د دوی ترمېنځ د بحث بله موضوع پاکستان ته د "سره انقلاب" صادرول او له شوروي اتحاد سره د افغانستان د دولت دریځ و. په نتیجه کې "ضیاء په دې ډاډمن شو، چې افغان دولت یو مستقل [دولت دی] او د [بل] چا تر اغېزې لاندې فعالیت نه کوي. دد غې ډاډینې له امله ضیاءالحق "ومنله چې پاکستان ته په دې هکله هم کوم خطر نه شته."

امین هم وروسته له هغه، چې د تره کي پرځای د ګوند او حکومت سروال شو، له پاکستان سره د اړیکو د ښه کولو غږ پورته کړ. د توجه وړ ده، چې امین د دولت د رییس په توګه په خپلې لومړنۍ وینا کې له شوروي اتحاد سره د افغانستان د دوستۍ دوام په لنډو او سړو کلمو کې یاد کړ، په دې ډول چې "په هېواد کې هر باخبر فرد د هغې اهمیت په ښه ډول درک کولی شي." د پاکستان په اړه یې وویل، چې علاقمن دی له هغه سره ناپوهاوی له مېنځه یوسي. هیله یې ښکاره کړه، چې ضیاءالحق او اغا شاهي، چې د هغه د باندنیو چارو وزیر په شان کار کاوه، چې څومره ژر کېږي، کابل ته راشي. په عین حال کې هغه دا هم وویل، چې علاقمن دی د ایران له مسؤلو کسانو سره هم همدغسې لیدنې کتنې وکړي(97).

پاکستان بیا د ریشخورو فرقې له پاڅون نه وروسته، چې هېواد د ارامۍ په لور روان شو او نور وسله وال مخالفان حکومت ته خطر کېدلی نه شو، په دې اړه د افغانستان پلاوی منلو ته تیاری ونښود. امین بیا په کومې نېټې کې خپل د

بااندنیو چارو مرستیال شاه محمد دوست پاکستان ته د یوه پلاوي په مشرۍ ولېږه. په پاکستان کې د هغه تودهرکلی وشو، خو د خبرو تفصیل یې معلوم نه دی. د کټوازي په وینا پاکستان "په ټولو هغو وعدو چې په هاوانا کې یې له تره کي سره کړې وې، پابند پاتې شوی و." پاکستان ومنله، چې څه وخت چې د موافقت لیک وروستی لیکنه پوره شوه، اغا شاهي به کابل ته لاړ شي. شاه محمد دوست له پاکستاني چارواکیو سره د خپلو خبرو راپور کټ مټ حکومت ته ورکړ "او دا یې څرګنده کړه، چې پاکستاني مشرانو دوی ته دا لوز ور کړ، چې نور به د پاکستان له خوا په افغانستان کې یو ډز هم ونه شي." څنګه چې له شاه محمد دوست سره نور افغان ډیپلوماتان هم وو، خبرې یې له هغو نه پټولی نه شوې، نو هغه نه شو کولی حکومت ته ناسم راپور ورکړي، که څه هم دی د خلقي حکومت مخالف و.

د کټوازي په وینا "شاه محمد دوست یو نامتو پرچمی، د شورویانو نږدې دوست او خواخوږی، د کار مل شخصي ملګری او پښتوانی هم صنفي و. نو موږی د بهرنیو چارو په وزارت کې یو پخوانی او باتجربه ډیپلومات و.... خو د خپل مهارت له مخې یې د امین په پوست کې ځان ننوېستلی و." خو له خلقي حکومت سره د هغه مخالفت او د هغه پرخلاف د پرچم ګوندګي او شوروي اتحاد ته د هغه وفا د غومره ټینګه وه، چې په کابل کې یې ک.ج.ب چارواکیو ته په دغه ډول څرګنده کړه، چې د کټوازي په وینا "که د اغا شاهي له راتګ څخه مخکې حفیظ الله امین... نسکور نه شي... د سولې په شرایطو کې به د امین وهل ستونزمن کار وي."

له بلې خوا داسې پېښه شوه، چې پاکستان هم کابل ته د خپل استازي په لېږلو کې بېړه ونه ښودله. اغا شاهي منلې وه، چې پښتوا له دې چې له ضیاءالحق سره د عربستان او ایران په سفر کې ملګرتوب وکړي، د دسمبر په 22مه به کابل ته

ځان ورسوي، خو د هغه په وينا د پاکستان نظامي قوې د راپور له مخې په دغه ورځ د کابل هوايي ډګر د ډېرې واورې له امله بند و. شاه ولي سره له دې هم د هغه د هرکلي لپاره ځان میدان ته رسولی و او چې اغا شاهي له نه راتګ نه خبر شو، په ټلیفون کې یې ورنه په ټینګه وغوښتل، چې په بله ورځ ځان کابل ته ورسوي، خو څنګه چې هغه له ضیاء سره په سفر روان و، وعده ورکړه چې د دسمبر په 29مه به کابل ته ورسېږي، خو شورویانو په هغه وخت کې کابل په پوځ سره نیولی، د امین حکومت یې نسکور کړی او په خپله امین یې وژلی(98) او په دې ډول یې د افغان_شوروي جنګ شروع کړی و، چې څه باندې نهه کاله یې دوام وکړ او د دغه ټولې موضوع ګانې مې په یوه بل اثر کې په نامه د افغان _شوروي جنګ بیان کړی دي.

دا به ساده ګي وي، چې فکر وشي چې کابل ته د اغا شاهي په راتګ او د پاکستان او افغانستان ترمېنځ د موافقې په کېدلو سره به شورویان په افغانستان باندې د یرغل وړلو له فکر نه اوښتي وای. شوروي واکمنو د دسمبر په دولسمه په افغانستان باندې د یرغل پرېکړه کړې وه او پاکستان ددغه یرغل په برابر کې له افغانستان سره مرسته کولی نه شوه او دا د افغانستان او پاکستان د چارواکیو ترمېنځ د خبرو او موافقې موضوع هم نه وه، خو شوروي اتحاد ته د شاه محمد دوست خدمت او له افغانستان او افغانانو سره د هغه خیانت به شورویان هڅولي وي، چې د یرغل نیټه رادمخه کړي. شورویان پوهېدل، چې افغانستان په اصل کې له پاکستان سره د اختلاف له امله د شوروي اتحاد په لور کوږ شوی و او اوس به یې دغه دوستي له پاکستان سره نږدې او له شوروي اتحاد لیرې کړي، چې په هغه حال کې به افغانستان نور نو د دوی تر نفوذ لاندې هېواد نه وي.

یادښتونه

د ثور کودتا

1. شاه زمان وریځ ستانیزی، سهل انگاری محمد داود خان و کودتای 7 ثور، ناشر کتابفروشی فضل، پشاور، 1378، 30ز
2. عبدالقدوس غوربندی، نگاهی به تاریخ حزب دموکراتیک خلق افغانستان، ناشر مولف، سوید، 1379، 59.
3. ستانیزی، اثر یاد شده، 30
4. عطا محمد شیرزی، چشم دید واقعات و حوادث چند دهه اخیر، تاسیس حزب دموکراتیک خلق و تجاوز شوروی بافغانستان، ناشر مولف، کولن، المان، 2001، 56.
5. اثر بالا، 57
6. غوربندی، اثر یاد شده، 54
7. شیرزی، اثر یاد شده، 57
8. اثر بالا، 58
9. غوربندی، اثر یاد شده، 54
10. اثر بالا
11. دستگیر پنجشیری، ظهور و زوال حزب دموکراتیک خلق افغانستان، بخش دوم، کتابفروشی فضل، 1999/1378، پشاور، 59
12. غوربندي، اثر یاد شده، 55
13. پورته اثر، 58
14. محمد حسن کاکړ، ببرک کارمل، خپل یا پردی؟ خپلواک یا بلواک؟ د رښا او دفاع کتاب، د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز، پېښور، 1999/1377، 146_181.
15. جنرال عمرزی، شب های کابل، ناشر سبا کتابخانه، پشاور، 1374، 3
16. پنجشیری، اثر یاد شده، 57
17. کاکړ، افغانستان، د شوروي یرغل او د افغانانو ځواب، خپرونکی د کلیفورنیا پوهنتون، برکلي، 1995، 310.
18. شاه محمود حصین، مثلث بی عیب در نوشته اردو و سیاست، ناشر و جای چاپ نامعلوم، 1380، 46_48

19. ستانیزی، اثر یاد شده، 32
20. ستانیزی، 35
21. د افغانستان د خلکو د دموکراتیک گوند لنډ تاریخ، د افغانستان کالنی، 1358 کابل، 33، 570
22. غوث الدین فایق، رازی را که نمی خواستم افشا گردد، کتابفروشی فضل، پشاور، 1379، 174.
23. پاینده محمد کوشاني، بآور میکنی یا نه؟ مجله آئینه افغانستان، جدی 1368/جنوري 1990، 160_161
24. فایق، اثر یاد شده، 163_164
25. محمد نبی عظیمی، اردو و سیاست. در سه دهه اخیر افغانستان، جلد اول، مرکز نشراتی میوند، چاپ سوم، 1378، 133
26. نقل قول در کرباس پوشهای برهنه پا، از محمد حسن شرق، 162، عظیمی، ج 1، 133
27. لیون پولاده او لیلا پولاده، د افغانستان سلطنت او د امریکې متحده دولتونه، 1928_1973، د افغانستان مطالعو لپاره د امریکې مرکز، د نبراسکا پوهنتون، لنکن، نبراسکا، 1995، 151
28. عظیمي، اثر یاد شده، 134
29. محمد نذیر کبیر سراج، رویدادهای نیمه اخیر سده بیست در افغانستان، چاپ آریانا پلورنځی فرانکفورت، 1997، 109.
30. فرهنگ، اثر یاد شده، 49
31. کوشاني، مقاله یاد شده، 62
32. سراج، اثر یاد شده، 112
33. سراج، 112
34. سراج، 108، عظیمي، 132
35. عظیمی، 137
36. سراج، 113
37. عظیمی، 140
38. انتونی هایمن، افغانستان د شوروي تر لاس لاندې، خپرندوی میکمیلن، لندن، 1984، 76.
39. سراج، اثر یاد شده، 111
40. فضل الرحمن تاجیار، مدافعه ارگ جمهوری افغانستان بمقابل هجوم یاغیان خلقی و پرچمی توسط قطعه گارد در جریان کودتای هفت ثور 1357، افغان_جرمن انلاین، 26 دسمبر 2008، 6
41. تاجیار، نوشته بالا، 9
42. پنجشیری، اثر یاد شده، ج 2، 95_96

43. پنجشیری، 43
44. عبدالحق مجددی، افغانستان از امیر کبیر تا رهبر کبیر، انجمن معارف، پشاور، 1378، 597_598
45. مجددی، 598
46. سراج، 114
47. عظیمی، 143. عاصم اکرم، نگاهی به شخصیت، نظریات و سیاست های سردار محمد داود، انتشارات میزان، 1380، جای طبع الیکزاندریه، ورجنیا، امریکا، 326
48. امین الله دریځ، افغانستان در قرن بیستم، انجمن نشراتی دانش، پشاور، 2001/1379، 612. ستانیزی، اثر یاد شده، 71
49. واسیلي میتروخین، ک.ج.ب په افغانستان کې، له روسي نه انګرېزي ته ترجمه او مقدمه د کرستلین او سنترمان او اوډو ستاډ، خپرونکی د پو هانو لپاره د وډرو ولسن بین المللي مرکز، واشنګټن، 2002، 25
50. ج.م.کورنینکو، افغان کوښښ، د نظامي لاسوهنې او د پر شا تګ حېرانتیاوې، د جنوبي اسیا او منځني ختیځ مطالعو جورنال، ژمی 1994، 2.
51. میتروخین، یاد شوی اثر، 25، اقبال وزیري، د ثور پاځون د کې.جي.بي دسیسې او شوروي یرغل، دپښتونخوا د پوهنې دیره، پېښور، 2007/1386، 95
52. ستانیزی، یاد شوی اثر، 49
53. ستانیزی، 70
54. ج.م.را برټس، د نړی تاریخ، پنګون خپرو نه، لندن، 1992، 693.
55. لینن، کینې تلونکی کمونزم، د ماشومانو ناروغي، مترقي خپرونکي مؤسسه، مسکو، انګریزي چاپ، 1977، 96.
55ب: مارشال پو، د نړی په تاریخ د روسیې مقام، د پرنستن پوهنتون خپرونه، پرنستن، 2003، 7. نیکولاس رای سانوفسکي، د روسیې تاریخ، خپرونه د اکسفورډ پوهنتون، 1977، نیویارک، 512.
56. کالنی، یاد شوی اثر، 667.

***

دویم څپرکی

د افغانستان لومړنی ایډیالوجیکي حکومت

1. د افغانستان خلق دموکراتیک ګوند د تاسیس بیان د هغه د دوو غړو په اثرونو کې شوی دی: صالح محمد زیري، د نیمې پېړۍ خاطرې، د لیکونکي چاپ، پېښور،

2005، 89. میر صاحب کاروال، درس های تلخ و عبرت انگیز افغانستان، بنگاه انتشارات و مطبعه میوند، 1384، کابل، 16_20
2. د تره کي د قول نقل، میتروخین، ک.ج.ب په افغاسنتان کې، یاد شوی اثر، 22
3. په افغانستان باندې د شوروي یرغل په اړه سندونه، د وډروولسن مرکز خپرونه، واشنگټن ډي سي، 2004، 148. دغه سندونه، چې زیاتره یې د افغانستان په اړه د شوروي اتحاد د کمونستي گوند د پولټبورو پریکړې او د هغې د مهمو غړو ویناوې پکې ثبت شوي دي، د همدغه مرکز د 1996 کال په بولټېن کې هم په عین ترتیب خپاره شوي دي. په وروستی کې د اوډ وستاد یوه لویه مقدماتي لیکنه هم نیول شوې، په نامه د الف]افغانستان[وضع په اړه، په افغانستان کې د شوروي مداخلې په اړه نوي روسي شواهد. دلته زما یادښتونه له سندونو څخه دي. عبدالعلي نور احراري، یو شمېر دغه سندونه د افغانستان د اتحاد شوري تر عنوان لاندې په فارسي اړولي او چاپ کړي دي. د هرات دولتي مطبعه، 2204/1983.
4. د کارمل د وینا نقل، پورتنی اثر، 149
5. د محمود بریالي وینا، میتروخین په افغانستان کې، یاد شوی اثر، 32
6. رچرد پایپس، د کمونزم لنډ تاریخ، ایډن فیلډ اونکلسن خپرونه، لندن، 2001. لایمن سارجن، اوسنی سیاسي ایډیالوجي گانې، درسي خپرونه، شیکاگو، 1987.
7. میتروخین، یاد شوی اثر، 19، 22_24.
8. پاسنی اثر، 23
9. کاکړ، رښا او دفاع، یاد شوی اثر، 160
10. الیکزاندر موروزوف، په کابل کې زموږ سړی، نیو ټایمز، 38، 1991، 39. موروزوف له 1975 نه تر 1979 پورې په کابل کې د ک.ج.ب مرستیال و. کوزیچلکین، په کابل کې کودتاگانې او وژنې، ټایم، نومبر 22، 1982، 33
11. میتروخین، ک.ج.ب په افغانستان کې، یاد شوی اثر، 16_22
12. زیری، یاد شو اثر، 482
13. مارشال پو، یاد شوی اثر، 77
14. وزیري، 75
15. وزیري، 96
16. وزیري، 96

17. زيرى، 372_374
18. اليكزاندر ياكوليف، په روسيې کې يوه پېړۍ تشدد، انګريزي ژباړونکی انتوني آ ستين، ديل پوهنتون خپرونه، نيوهي ون، لندن، 2002، 21.
19. ميتروخين، ک.ج.ب په افغانستان کې، 41
20. ياکوليف، ياد شوى اثر، 91
21. کالنى، 50_56
22. زيرى، 410
23. کالنى، 1364
24. کالنى، 612
25. ګل زرک زدران، د تاريخ له خاطرو نه، درسونه عبرتونه، لومړى ټوک، د مؤلف خپرونه؟ پېښور؟، 1367، 581_586.
26. ميتروخين، ياد شوى اثر، 26
27. وزيري، 95
28. وزيري، 98
29. وزيري، 97
29الف: سليګ هري سن او کوردوويز، له افغانستان نه دباندې، هري سن، 280، د اکسفورډ پوهنتون خپرونه، نيويارک، 1995، 28
30. ستانيزى، 22
31. کاکړ، رښا او دفاع، 151
32. کاکړ، افغانستان، د شوروي يرغل، ياد شوى اثر، 64
33. غوربندى، 50_53
34. وزيري، 57
35. وزيري، 58
36. زيرى، 363
37. د کارمل د وينا نقل، د شوروي اتحاد سندونه، ياد شوى اثر، 134
38. ياد شوى اثر، 135
39. وزيري، 97
40. عظيمي، 156
41. عظيمي، 157
42. وزيري، 99
43. کالنى، 1285
44. ميتروخين، ک.ج.ب په افغانستان کې، 33
45. ش.ن. حق شناس، د سايس و جنايات روس در افغانستان، جمعيت اسلامى افغانستان، تهران، 1363، 386

***

دریم څپرکی

سور بېرغ او درې وروستي فرمانونه

1. زیری، زمین و آب به دهقانان، دغه لیکنه د پرچم د رجیم په کومې خپرونې کې راوتلې وه، په کال 1363 کې چې پوره درک یې له ما سره نه شته. 156 مخ
2. کالنی، 417
3. فضل رحیم مومند په نقل د زیري، 393_397
4. کاکړ، په افغانستان کې حکومت او ټولنه، د امیر عبدالرحمن واکمني، د تکساس پوهنتون، 1979، 81، 75
5. زیری، 399
6. زیری، 397
7. زیری، 397
8. زیری، 398
9. زیری، 399
10. زیری، 402
11. کالنی، 742_747
12. د قول نقل، زیری، 401
13. د قول نقل، زیری، 401
14. زیری، 407
15. زیری، 425
16. زیری، 407
17. زیری، 406
18. زیری، 398_409
19. زیری، 407
20. زیری، 407
21. زیری، 407
22. زیری، 402_411
23. زیری، مقاله یاد شده زمین و آب به دهقانان، 157.

***

څلورم څپرکی

بندي توب او جزا

1. کاکړ، د افغانستان ټولنه او حکومت، یاد شوی اثر، 38_40
2. میتروخین، ک.ج.ب په افغانستان کې، 37
3. زیری، 410
4. ن.حسینی، خاطرات زندان پلچرخی، شورای ثقافتی جهاد افغانستان، پشاور؟ 1988/1367، 1
5. احمد شاه روشن، بیست ماه در زندان پلچرخی، شخصی

خپرونه، پېښور، 1363، 7
6. کاکړ، د افغانستان ټولنه او حکومت، یاد شوی اثر، 37
7. سلطان علي کشتمند، یادداشت های سیاسی و رویدادهای تاریخی، جلد اول و 2، ناشر مؤلف 1381/2002، 419.
7الف: محمد عثمان هاشمي، فرار از کام مرگ، چاپ شخصی، استین، تکساس، 1999
8. عزیز احمد عزیزی، افغان ها که دو ابر قدرت را بزانو در اورد، دارالنشر افغانستان، چ 1، پشاور، 1378، 102
9. فرهنگ، ج 2، 96
10. فرهنگ، 2، 72_75. د فرهنګ دغه لیکنه د رحمت الله غرزي له کتابګوټي نه نقل شوې په نامه د خاطراتی از زندان پلچرخی. رحمت الله د وکیل محمد اسماعیل نورستاني وراره و.
11. ډورن سورو، پای ته نه رسېدونکی انقلاب، د کولمبیا پوهنتون خپرونه، نیویارک، 2005، 54
12. پورتنی اثر، 54
13. محمد حسن کاکړ، د پاچا امان الله واکمنۍ ته یوه نوې کتنه، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، پېښور، 2005/1384.
14. مجددی، از امیر کبیر تا رهبر کبیر، اثر یاد شده، 604
15. فرهنګ، 2. 75
16. کاکړ، د افغانستان سیاسي او دیپلوماتیکي تاریخ، 1901_1963، برل، نیدرلیند، 2006، 96_105
17. زیری، 426
18. اسدالله نوابی، سرگذشت زندان، په افغانستان کې د سره استعمار د مظالمو څرک، شخصي چاپ، پېښور؟، 1361
19. روشن احمد شاه، یاد شوی اثر، 60
20. حسینی، خاطرات زندان پلچرخی، اثر یاد شده، 41_42
21. حسینی، 50
22. حسینی، 41_45_46
23. محمد هاشم زماني، زنداني خاطرات، شخصي چاپ، چاپ ځی؟، 1379/2000
24. روشن احمد شاه، 74
25. پورتنی اثر، 61
26. هاشمی، فرار از کام مرگ، اثر یاد شده، 211
26الف: سیدا گل غریبیار، د څرخي پله له زندانه د راکـــي

تر غرونو، ګڼ هېواد نشراتي مؤسسه، چاپ ځی؟، 1380، 16
27. روشن احمد شاه، 23
28. حسيني، 71
29. روشن احمد شاه، 36
30. حسيني، 71
31. پاسنی اثر، 159
32. کاکړ، افغانستان د شوروي يرغل او د افغانانو ځواب، ياد شوی اثر، 72
33. روشن احمد شاه، 9
34. پورتنی اثر، 10
34الف: روشن احمد شاه، 10
34ب: پورتنی اثر، 12. حسيني، 5
34ج: روشن احمد شاه، 12
35. روشن احمد شاه، 12
36. پورتنی اثر، 45
37. پورتنی اثر، 47
38. پورتنی اثر، 48
39. هاشمي، 222
40. روشن احمد شاه، 25
41. پورتنی اثر، 54_55
42. پورتنی اثر، 27
43. پورتنی اثر، 28
44. پورتنی اثر، 28
45. پورتنی اثر، 36
46. غريبيار، 24
47. غريبيار، 20
48. غريبيار، 20
49. غريبيار، 28
50. هاشمي، 231
51. هاشمي، 231
52. هاشمي، 232
53. حسيني، 35
54. حسيني، 35
55. هاشمي، 256
56. حسيني، 77
57. حسيني، 74_86
58. حسيني، 100
59. حسيني، 267
60. روشن احمد شاه، 78

61. هاشمي، 76
62. حسيني، 131
62الف: هاشمی، 270. روشن احمد شاه، 78
63. زيری، 422_446
63الف: روشن احمد شاه، 82
64. حسيني، 80
65. روشن احمد شاه، 81
66. غريبيار، 22
67. ميتروخين، ک.ج.ب په افغانستان کې، 36
68. زيری، 382

***

پېنځم څپرکی

د خلکو پاڅونونه

1. کاکړ، د افغانستان ټولنه او حکومت، ياد شوی اثر، 139
2. کاکړ، د څرخي پله يادښتونه
3. سيد شريف يوسفي، قيام ګلګون کفنان 24 حوت هرات قهرمان، خپرونکی او چاپ ځی؟، دويم چاپ، 16. کاکړ، د څرخي پله يادښتونه.
4. مير علم ساپی، د هرات د اولسمې فرقې د حق پاڅون، خورونکی، چاپ ځی او نېټه؟، 43_48. محمد علم ساپی د کونړ اوسېدونکی او د هرات په فرقه کې ډګروال او د پاڅون په وخت کې د خپلو ملګرو افسرانو له خوا د پاڅون مشر غوره شو. دی د هرات فرقې د لارښودنې په سطح کې د پاڅون په اړه دغسې مهم معلومات ورکوي، چې په نورو اثرونو کې نه ليدل کېږي. له ارواښاد محمد يوسف لغماني نه مننه کوم، چې دغه مهم اثر يې ماته راکړی و. محمد يوسف لغمانی په هرات کې د فرقې سرطبيب و.
5. مير علم ساپی، 22_23
6. ساپی، 32
7. ساپی، 26
8. ساپی، 45
9. يوسفي، ياد شوی اثر، 24_28. د هرات پاڅون په اړه نور کتابګوټی دا دی: قيام 24 حوت هرات، شورای ثقافتی جهاد افغانستان، پشاور، 1363/1984. محمد يعقوب شاه قاضي زاده، هرات، 24 حوت و 25 هزار شهيد، پشاور؟ سال و ناشر طبع؟ سيد محمد خير خواه، خاطره بياد بود قيام شهدای 24حوت هرات، جمعيت اسلامی، 1365، چاپ پنګوسن، احمد شاه فرزان، قيام هرات.

انتشارات فرید، مشهد، 1995/1374.

10. قیام 24 حوت هرات، 20
11. پورتنی اثر، 21
12. میر علم ساپی، 80
13. سید شریف یوسفي، قیام گلگون کفنان، 33
14. قیام 24 حوت هرات، 27، 33
15. سید شریف یوسفي، 77. قیام 24 حوت هرات، 37
16. یوسفی، قیام گلگون کفنان، 82_83
17. ساپی، 45
18. ساپی، 46
19. یوسفی، 99. قیام 24 حوت هرات، 44. احمد شاه فرزان، قیام هرات، اثر یاد شده، 98.

19الف: کاکړ، د څرخي پله یادښتونه.

20. قیام 24 حوت هرات، 44
21. ساپی، 70
22. ساپی، 56
23. میر احمد اکسیر، رښتینی جګړن، شهید جګړن شمشیر خان درویش، د مؤلف چاپ، کاناډا، نېټه؟، 218. د لیکونکي له درنې کورنۍ نه مننه کوم، چې د غه اثر یې له کاناډا نه ماته استولی دی.
24. ساپی، 54
25. قیام 24 حوت هرات، 49
26. وزیري، 103
27. په افغانستان باندې د شوروي د یرغل په اړه سندونه، 145_146. ددغو تلیفوني خبرو ترجمه د شوروي د نظامي سر مشاور جنرال گوریلوف او باتساتوف کوله. ددغو خبرو ټول متن چې په انګرېزي کې د جنوبي اسیا او منځني ختیځ د مطالعو په جورنلا) اولسم ټوک دویم لمبر) 1994 ژمي ګڼه (کې خپور شوی، په کال 1995 کې زما په کتاب کې د لومړي ځل لپاره نیول شوی و، په نامه د افغانستان د شوروي یرغل، یاد شوی اثر، 321_326
28. وزیري، 105
29. په افغانستان باندې د شوروي یرغل په اړه سندونه، 137
30. پاسنی اثر، 150
31. پاسنی اثر، 151
32. قیام 24 حوت هرات، 49
33. ساپی، 58
34. ساپی، 51

35. ساپی، 49
36. یوسفي، قیام گلگون کفنان هرات، 109_110 او 111
37. وزیري، 104
38. ساپی، 74
39. ساپی، 66
40. عبدالعلي نور احراري، یاد شوی اثر، 31
41. سید شریف یوسفي، 133. قیام 24 حوت هرات، 79
42. نظیف الله نهضت، د پردیو فتنې او تېری، چاپ د دانش خپرندویې ټولنې، پېښور، 1384، 84
43. په افغانستان باندې د شوروي د یرغل په اړه سندونه، 143
44. کالنی، 1364
45. سید شریف یوسفي، 128. قیام 24 حوت هرات، 50
46. نهضت، یاد شوی اثر، 75
47. ساپی، 83
48. احمد شاه فرزان، یاد شوی اثر، 24
49. عظیمی، 191
50. شیر زمان طایزی، د ثور انقلاب، خپرونکی: د پېښور پوهنتون، پېښور، 1986، 107. کاکړ، څرخي پله یادښتونه.
51. دلاور سهری، جهاد در کنرها، اتحادیه نویسندگان افغانستان ازاد، پشاور، 1989، 3
52. اثر بالا، 3
53. اثر بالا، 4
54. دلاو سهری، 5
55. دلاور سهری، 6
56. دلاور سهری، 11. قیام اسمار، شورای ثقافتی جهاد افغانستان، پشاور، 1985/1364، 17
57. دلاور سهری، 16
58. دلاور سهری، 13
59. اثر بالا، 33
60. اثر بالا، 30
61. انتونی هایمن، افغانستان د شوروي تر لاس لاندې، یاد شوی اثر، 127
62. قیام اسمار، اثر یاد شده، 112
63. قیام اسمار، 24
64. قیام اسمار، 25
65. قیام اسمار، 29
66. قیام اسمار، 30

67. قیام اسمار، 31_32
68. قیام اسمار، 31_32
69. قیام اسما، 34
70. قیام اسما، 39
71. قیام اسما، 37_38
72. دلاور سهری، جهاد در کنرها، اثر یاد شده، 22
73. اثر فوق، 23
74. وزیري، 109
75. کاکړ، څرخي پله یاددښتونه
76. کاکړ، د افغانستان ټولنه او حکومت، یاد شوی اثر، 158_160
77. محمد صدیق فرهنګ، 2، 86
78. فرهنګ، 2، 90
79. فرهنګ، 2، 91. شیر زمان طایزی، یاد شوی اثر، 110. عظیمي 191
80. انتوني هایمن، یاد شو اثر، 152
81. کاکړ، جورنال، لومړی ټوک، 1979_1982، 6
82. د قول نقل، عظیمی، 194
83. حق شناس، یاد شوی اثر، 394

❋❋❋

شپږم څپرکی

د تره کي_امین دښمني، د اندروپوف شیطاني

1. زیری، 414
2. زیری، 384
3. وزیري، 94
4. وزیري، 96

4الف: میتروخین، ک.ج.ب په افغانستان کې، یاد شوی اثر، 386

5. پورتنی اثر، 393
6. وزیري، 91_93
7. زیری، 392
8. وزیري، 106
9. وزیري، 107
10. د افغانستان د جنګ په اړه د بین المللي تاریخ په لور، 1979_1989 د ودرووولسن مرکز، واشنګټن، د امریکې سندونه، د کرسیتن او سترمان او میرسي مینټین تدوین، اپریل، 2002. د سندونو دغه ډېره پښه ټولګه د مخونو شمېرن ه لري، هغه دلته ما په نښه کړې دي. 184

11. وزیري، 108. کاکړ، افغانستان د شوروي یرغل د افغانانو ځواب، یاد شوی اث، 36
12. میتروخین، ک.ج.ب په افغانستان کې، 48
13. ګریګوري فایز، لوی قمار، په افغانستان کې د شوروي جنګ، هارپر کالنز خپرونه، نیویارک، 2009، 38
14. عبدالقادر، شخصي پوهاوی. دی په هالېنډ کې اوس یو لوی طبي ډاکټر دی. زه او دی په کال 1983 کې د څرخي پله زندان په اول بلاک کې په یوه کوټه کې وو، چې زموږ د کوټې نور ملګري یې د اعدام لپاره یووړل او د 1983 په دسمبر کې په دغه شپه د اټکل درې نیم سوو په نښه شوي بندیان له ټولو بلاکونو څخه د اعدام لپاره وړل شوي وو، چې د چمتلې په دښته کې د خاد جلادانو له مېنځه یووړل. د څرخي پله زندان کې د اعدام دغه عملیات تر ټولو ستر و. دغه غمناکه شپه په موږ دواړو ډېره ګرانه او ترخه تېره شوه.
15. وزیري، 107
16. هنري براډشیر، افغانستان او شوروي اتحاد، د ډیوک پوهنتون خپرونه، درهم، 1985، 106
17. زلمی خروټی، شخصي پوهاوی، لندن، 2007. زلمی خروټی حفیظ الله امین خوریه او موټروان و.
18. خیال محمد کټوازی، زما سترګو لیدلی حال. له کټوازي نه منځنه کوم، چې زما لیدکل شویو پوښتنو ته یې ځوابونه راکړي دي.
19. واسیلي میتروخین او کرستفر اندرو، نړۍ زموږ په لور روانه وه، ک.ج.ب او د دریمې نړۍ لپاره جنګ، خپرونکی: بېسک بوکس، نیویارک، 2005، 386.
20. ریمونډګارتوف، دیتانت او تقابل، بروکنګز انستیټوشن، واشنګټن، 1994، 901
21. براډشیر، یاد شوی اثر، 102
22. براډشیر، 103_104. ګارتوف، 102
23. سلیک هري سن، له افغانستان نه دباندې، یاد شوی اثر، 38
24. ګارتوف، 903
25. سلیک هري سن، 38
26. ګارتوف، دیتانتاو تقابل، یاد شوی اثر، 905. براډشیر، 152
27. براډشیر، 108
28. ګروهی از دانشمندان انستیتوت تاریخ نظامی فدراسیون روسیه، جنګ در افغانستان. ترجمه از روسی بفارسی از عزیز اریانفر، مرکز نشراتی میوند، پشاور، 1999،

238. له ښاغلي عزيز اريانفر نه مننه کوم، چې دغه اثر او خپلې يو څو نورې ګڼورې ترجمې يې ماته راکړې دي.
29. ګارتوف، ديتانت او تقابل، ياد شوی اثر، 902
30. براډشير، 104
31. کټوازی، زما سترګو ليدلی حال
32. ميتروخين، ک.ج.ب په افغانستان کې، 49
32الف: ميتروخين، 50
33. پورتنی اثر، 50
34. وزيري، 113
35. راجا انور، د افغانستان تراجيدي، ترجمه له اردو نه د خالد حسن، ورسو خپرونه، لندن، 1988، 197
36. راجا انور، 168. هري سن، له افغانستان نه دباندې، ياد شوی اثر، 40
37. راجا انور، 166
38. راجا انور، 166
39. وزيري، 116
40. وزيري، فايفر ليکي، چې "ځينو مشاورو لا دمخه په مسکو ټينګار کاوه، چې موضوع په خپل لاس کې ونيسي. دوی د افغانستان د ستونځو د هوارولو لپاره چاره سنجولې وه، چې هغه د امين وژل و. د ک.ج.ب زينت تر سپتمبر پورې يو پلان ايستلی و، چې په هغه سره لومړی وزير]امين[وتښتوي او شوروي اتحاد ته يې يوسي، چې هلته ممکن ووژل شي، خو ددغه عمل د اجرا امر ونه شو." فايفر، لوی قمار، ياد شوی اثر، 43
41. عمر ساپی، ياد شوی اثر، 164
42. عمر ساپی، 164، عظيمي، 198. کاکړ، افغانستان، د شوروي اتحاد يرغل، 38
43. ميتروخين، ک.ج.ب په افغانستان کې، 51
44. پورتنی اثر، 51
45. وزيري، 117
46. ميتروخين، ک.ج.ب په افغانستان کې، 52
47. پاسنی اثر، 52
48. پاسنی اثر، 52
49. وزيري، 117
50. ميتروخين، 52_53
51. وزيري، 118
52. وزيري، 118
53. کټوازی، زما سترګو ليدل حال
54. موروزوف، ياده شوې ليکنه، نيو ټايمز، 41، 1991، 33

55. په افغانستان باندې د شوروي د يرغل په اړه سندونه، 154
56. مورزوف، ياده شوې ليکنه، نيو ټايمز، 41، 1991، 32
57. وزيري، 119
58. وزيري، 119
59. ميتروخين، ک.ج.ب په افغانستان کې، 60
60. له ياد نه وتلی، په متن کې نشته
61. موروزوف، په کابل کې زموږ سړی، نيو ټايمز، 41، 1991، 34
62. وزيري، 119_120
63. ميتروخين، 63
36الف: وزيري، 122
64. زيری، 421
65. عظيمي، 202. فرهنګ، 2، 103
66. راجا انور، ياد شوی اثر، 180
67. ميتروخين او اندرو، نړی زموږ په لور روانه وه، ياد شو اثر، 397
68. پورتنی اثر، 387

***

اووم څپرکی

د امين سل او درې ورځې واکمني

1. ميل، 194
2. زيری، 410، 419
3. زيری، 374، 410، 438
4. وزيري، 127
5. کاکړ، سياسي جورنال
6. فرهنګ، 2، 105. براډشير، 120. کاکړ، سياسي جورنال
7. فرهنګ 2، 105
8. کاکړ، افغانستان، د شوروي يرغل د افغانانو ځواب، ياد شوی اثر، 72
9. مېل، 193. ارنلد د قانون د کميسيون د غړو شمېر 95 تنه شودلی دی. انتوني ارنلد، د افغانستان دوه ګوندي کمونزم، ستينفورد پوهنتون خپرونه، 1983، 94. فرهنګ 2، 106
10. ميل، 193
10الف: ميل، 195
11. براډشير، 118
12. کاکړ (1995)، 41
13. پورتنی اثر، 41

14. عمر ساپی، د ثور نظامي پاڅون، یاد شوی اثر، 185
15. پورتنی اثر، 160
15الف: براډ شیر، 120
16. پورتنی اثر، 120
17. کاکړ، سیاسي جورنال، 1، 103
18. پورتنی لیکنه، 1، 34
19. د قول نقل، زیری، 434
20. کاکړ، جورنال، 1، 42
21. عمر ساپی، 217
22. عظیمي، 208
23. زیری، 420، 435
24. د افغانستان د جنګ په اړه د بین المللي تاریخ په لور، یاد شوي سندونه، 193 مخ شا.
25. عمر ساپی، 213. زیری، 421
26. عمر ساپی، شخصي مفاهمه، دسمبر 13، 2007. نجیب احمدزی، شخصي مفاهمه، دسمبر 15، 2007.
27. عثمان عمر ساپی، د ثور نظامي پاڅون، یاد شوی اثر، 214
28. کاکړ، سیاسي جورنال، 1، 48
29. عثمان عمر ساپی، 213
30. کاکړ، سیاسي جورنال، 1، 44
31. پورتنی جورنال، 87
32. په افغانستان باندې د شوروي اتحاد د یرغل په اړه سندونه، یاد شوی اثر، 133
33. وزیري، 106
34. میتروخین او اندرو، نړۍ زموږ په لور روانه وه، یاد شوی اثر، 392. هري سن، له افغانستان نه دباندې، یاد شوی اثر، 45
34الف: د قول نقل، شاه محمود حصین، مثلث بی عیب، یاد شوی اثر، 107
35. میتروخین، ک.ج.ب په افغانستان کې، 75
36. میتروخین او اندرو، نړۍ زموږ په لور روانه وه، 395
37. پورتنی اثر، 396
38. میتروخین، ک.ج.ب په افغانستان کې، 44
39. موروزوف، یاده شوې لیکنه، 38، 1991، 39
40. کاکړ)1995، 217
41. په افغانستان باندې د شوروي د یرغل په اړه سندونه، 139
42. براډشر، 90

43. د افغانستان د جنګ په اړه د بین المللي تاریخ په لور یاد شوی سندونه، 90_151_155
44. کاکړ، جورنال، 1، 106
45. وزیري، 138
46. وزیري، 139
47. موروزوف، یاده شوې لیکنه، 38، 1991، 39
48. پورتنۍ لیکنه، 39
49. زلمی خروټی، شخصي پوهاوی، لندن، جولای 2007
50. پیلامه د کرسټین او سټرمان او وسټاډ په ک.ج.ب په افغانستان کې، 2
51. وزیري، 139، 141، 143
52. میتروخین، ک.ج.ب په افغانستان کې، 62
53. میتروخین، ک.ج.ب په افغانستان کې، 65
54. په افغانستان باندې د شوروي د یرغل په اړه سندونه، 155
55. میتروخین، ک.ج.ب په افغانستان کې، 66
56. موروزوف، یاده شوې لیکنه، 41، 1991، 34
57. د شوروي د یرغل په اړه سندونه، 156
58. د شوروي د یرغل په اړه سندونه، 157
59. میتروخین، ک.ج.ب په افغانستان کې، 67
60. هري سن، له افغانستان نه دباندې، 41
61. براډشر، 117
62. زلمی خروټی، شخصي پوهاوی، لندن، جولای 27، 2007
63. کاکړ)1995، 39
64. میتروخین، ک.ج.ب په افغانستان کې، 70
65. د پوزانوف له یادښت نه، چې د هغه د ترجمان اوریکوف په قلم کښل شوی دی. میتروخین ک.ج.ب په افغانستان کې، 71
66. میتروخین، ک.ج.ب په افغانستان کې، 67
67. موروزوف، یاده شوې لیکنه، نیو ټایمز، 41، 1991، 34
68. میتروخین، ک.ج.ب په افغاسنتان کې، 67_70
69. میتروخین او اندرو، نړۍ زموږ په لور روانه وه، یاد شوی اثر، 396
70. میتروخین، ک.ج.ب په افغانستان کې، 74
71. پورتنی اثر، 70
72. د موضوع تفصیل د لیون اولیلا پولادوه په ذکر شوي اثر کې موندل کېدلی شي.
73. جوسف نوکي او رابرټ ډانلډسن، له دویم نړېوال جنګ نه وروسته د اتحاد شوروي باندنۍ سیاست، پرګه مان

پرس، نیویارک، 1988، 158.
74. فرهنګ 2، 68. کاکړ)1995، 56
75. میتروخین او اندرو، نړۍ زموږ په لور روانه وه، یاد شوی اثر، 390
76. د افغانستان د جنګ په اړه د بین المللي تاریخ په لور، یاد شوي سندونه، 169
77. کاکړ)1995(، 56
78. د افغانستان د جنګ په اړه د بین المللي تاریخ په لور، یاد شوي سندونه، 54
79. پورتني سندونه، د امریکې د ملي مصؤنیت لپاره یادښت، 135
80. ریموندګارتوف، دیتانت او تقابل، بروکنګ انستیتوت، واشنګټن، 1994، 949
81. د افغانستان د جنګ په اړه د بین الملي تاریخ په لور سندونه
82. براډشر، 122
83. د افغانستان د جنګ په اړه د بین المللي تاریخ په لور، سندونه، 97)172
84. تاماس همند، د افغانستان دپاسه سور بېرغ، وسټرن پرس، بولډر، 1984، 87
84الف: د قول نقل، هري سن، له افغانستان نه دباندې، یاد شوی اثر، 43
85. تاماس همند، د افغانستان دپاسه سور بېرغ، 88
86. براډ شر، 118. کاکړ)1995(، 42
87. د قول نقل، همند، د افغانستان دپاسه سور بېرغ، 87
87الف: د قول نقل، هري سن، له افغانستان نه دباندې، 43
88. همند، د افغانستان دپاسه سور بېرغ، 88
89. ددغې موضوع پوره تفصیل په دغه اثر کې شوی، صمد غوث د افغانستان سقوط، واشنګټن، 1988
90. براډ شر، 86
91. میتروخین، ک.ج.ب په افغانستان کې، 112
92. پورتنی اثر، 113
93. د قول نقل، هري سن، له افغانسان نه دباندې، 29
94. د افغانستان د جنګ په اړه د بین المللي تاریخ په لور، یاد شوي سندونه، 193_194
95. کټوازی، سیاسي یادښت،
96. کټوازی، سیاسي یادښت، وزیري، 156. نهضت هم د تره کي او ضیاء الحق د سره شوو موافقو ټکي په خپل کې راوړي، خو روایت یې د کټوازي له متن نه ډېر توپیر

لري. دی ليکي، چې "د افغانستا لوري د پېنځو کلونو لپاره د پښتونستان د مسئلې په اړه د پاکستان پر ضد خپلو تبليغاتو ته د پای ټکی کېږدي." په داسې حال کې چې د کټوازي په روايت لکه چې دمخه ويل شوي، په دغې موضوع باندې هېڅ بحث نه دی شوی. نهضت، چې که څه هم په کيوبا کې د افغانستان سفير و، د ضياءالحق او تره کي په غونډو کې ګډون نه درلود، خو کټوازي ګډون درلود. نهضت، د پردېو فتنې او تېري، ياد شوی اثر، 89_91. د نهضت دغه ليکنه هم سمه نه ده، چې وايي په کابل کې به اغا شاهي "د دوستۍ او همکارۍ تړون لاسليک کوي."

97. براډ شر، 122

98. هري سن، له افغانستان نه دباندې، ياد شوی اثر، 44

پایلیک

له بده مرغه دغه اثر له اوله نه تر پایه پورې د وژلو، ځپلو او توطیو داستان دی. د ثور کودتا د افغانستان د لومړي جمهوریت سروال محمد داود په وژل کېدلو سره سرته ورسېدله او د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د سروال حفیظ الله امین په وژل کېدلو سره ختمه شوه. په بهیر کې یې درې صدراعظمان هر یو موسی شفیق، نور احمد اعتمادي او نور محمد تره کی او د لومړي جمهوریت یو شمېر وزیران له منځه یووړل شول. پر دوی سربېره هم د پخواني رجیم او هم د دموکراتیک جمهوریت ډېر پوځي افسران او ملکي چارواکي له منځه لاړل. ټول مرګونه په محبسونو، پاڅونونو او نورو پېښو کې شاید د پنځوس زرو په شاوخوا کې وو. دغومره ډېر انساني مرګونه هغه هم د شلو میاشتو په بهیر او په یوې پېنځلس نیم ملیوني ټولنې کې د یوې ډېرې ناسالمې فضا حکایه کوي. دغه ناسالمه فضا څنګه په افغانستان باندې راخوره شوه؟

دغه فضا د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت له امله وه، چې د ثور په خونړۍ کودتا سره واک ته رسېدلی او په اساس کې غېر قانوني او غېر مشروع و. اول خو هغه د افغانستان د لوی پوځ د یوې ډېرې وړې برخې محصول و او ټول پوځ او ولس پکې ونډه نه لرله. دویمه دا چې د پوځ دغې وړې برخې په وچ زور یانې په کودتا سره دولتي قدرت ترلاسه کړ او برحال قانوني نظام یې نسکور کړ. دریېمه دا چې دغه غېر قانوني دموکراتیک جمهوریت د افغانستان خلق دموکراتیک ګوند ته منحصر کړل شو، چې هغه په مارکسزم_لیننزم

باندې ولاړ و، په داسې حال کې چې مارکسزم د لویدیځې اروپا او لیننزم د روسیې د تاریخ او کلتور محصول و، چې هغه دواړه افغان ولس ته بېګانه وو. څلورمه دا چې دغه دموکراتیک جمهوریت او دغه دموکراتیک ګوند د قانون په نشته والي کې ددغسې ګوندیانو له خوا چلول کېده، چې د ټولنې او دولت په اړه نور فکرونه یې بېخي ناسم او مردود ګڼل او معتقدان یې د انقلاب ضد په نامه ټکول، نو د دوی په نړۍ لید او دولتي نظآم کې د نورو ګوندونو پلویانو ته ځای نه وو، په داسې حال کې چې د افغانستان په عنعنه یېزې او دیني ټولنې کې د نورو فکرونو له مخې جوړ شوي ګوندونه ډېر او یو شمېر یې په ګډه کار کولو ته حاضر وو.

په دې ډول دغو ګوندیانو د خپلې ټولنې د قوتونو او د سیاسي ګوندونو په مخالفت حکومت کول پیل کړل او د خپل ولس سیاسي عنعنې ته شا کړه، چې افغانان د هغې له مخې په جرګو، مرکو او ګډ کار او حشر سره چارې ترسره کوي.

هو، دوی مشاوران لرل، خو هغوی بېګانه او له شوروي اتحاد نه وو، نه له افغانستان نه. د غو مشاورانو د مشورو په ورکولو کې د لیننزم په بنه د خپل حکومت خاص نظرونه پرمخ بېول او ځینو یې لا د خلقي نظام په مخالفت ورانی هم کاوه. سره له دې هم که د افغان دموکراتیک جمهوریت چارواکي په دولتي چارو کې د تجربو، پراخ نظر او زغم خاوندان وای، چارې به یې په مسؤلیت سره د پایلو په نظر کې نیولو سره ترسره کولای، خو دوی دغسې کسان نه وو. د هغه پرخلاف دوی چې په هره سطح کې وو، زور وا کي او دکتاتوري کوله، نو د دوی ددغه کودتایي، ایډیالوجیکي او یو ګوندي دموکراتیک جمهوریت ځانګړتیا زوروا کي وه، چې پایلې یې نه یوازې ولس او نورو ګوندونو ته، بلکې په خپله د دوی نظام او ګوند ته هم ګرانې تمامې شوې. دا په

دغسې حال کې چې خلقیانو ته دغسې حکومت په لاس ورغلی و، چې د مسلکي کدرونو او منظم وسله وال پوځ او څارندوی خاوند و او څلور سوه میلیونه ډالر په بانک کې موجود وو او په خپله هم د یوه لوی ګوند غړي وو.

په حکومتي ضد پاڅونونو کې د زرګونو افغانانو د وژل کېدلو له امله و، چې په ولس کې دښمني ګانې لا زیاتې شوې او ملي پېوستون سخته صدمه ولیدله. له دې سره جوخت د خلقیانو او نورو سیاسي ګوندیانو، ملتپالو، اخوانپالو، ماوستانو او نورو ترمېنځ موجود اختلافونه په نه پخلا کېدونکې دښمنۍ بدل شول او په نتیجه کې افغان سیاست تر دې حده افراطي شو، چې په ایتلاف سره د حکومت کولو فکر له مغزونو نه ووت.

په دغه حال کې کړکېچ د غومره زیات شو، چې رسمي ګوند هم پرې لتاړ شو. هغه و، چې د دموکراتیک ګوند د پرچم ډلې مشر ببرک کارمل د حفیظ الله امین له مخالفو خلقیانو اسدالله سروي، سید محمد ګلابزوی او اسلم وطنجار سره په مسکو کې د ک.ج.ب په دستور یو موټی شو او بیا ټول د شوروي اتحاد له یرغلګر پوځ سره ملګري شول او په دې ډول قدرت ته د بیا رسېدلو په لار کې یې خپل وطن لا وران کړ. په نتیجه کې د امین په سروالۍ نه یوازې خلقي حکومت نسکور شو، ټول هغه څه چې حکومت د فرمانونو له لارې ترسره کړي او پرې ویاړېده، لکه د ځمکو وېش، ښځو ته خدمت، سواد زده کړه او داسې نور هم لکه هېڅ داسې شول. اوس په ټول ملک کې د خلقي حکومت کوم مثبت میراث نه لیدل کېږي، کوم څه چې اورېدل کېږي، د هغه ترخه یادونه دي.

د ځينو اثرونو پېژندنه

د تاريخ ليکونکو سرچينې بايد د باور وړ وي او دوى ددې توان ولري، چې په هغو کې واقعيت له غير واقعيت نه بېل کړي او له خپلو سرچينو څخه په صلاحيت کار واخلي. په اوله درجه سرچينې لومړنى ناچاپ شوې دفتري يا ارشيفي پاڼې دي، خو په افغانستان کې تراوسه هم دغسې يو منځى نشته، چې دغسې پاڼې د څېړونکو لپاره پکې خوندي وي. دا چې افغان تاريخ دقيق نه دى او ادبي او جورنلستيک رنګ يې قوي دى، په اصل کې د ارشيفي منځي د نه شته والي له لامله دى. په افغانستان کې د قانوني پاچايي په وخت کې يو ارشيفي مرکز پرانيستل شو، خو په هغه کې تراوسه پورې يوازې خطي او داسې نور اثار خوندي دي، نه رسمي دفتري پاڼې او سندونه. په افغانانو کې د غه رواج ضعيف دى، چې د پېښو په وخت کې ليکنې وکړي، خو په دې وروستيو وختونو کې د سرطان او ثور د کودتاګانو او نورو پېښو په اړه ډېر اثرونه خپاره شوي دي، چې د هغو له ډېرو نه په دغه اثر کې کار اخيستل شوى دى.

ما د خلقي حکومت په وخت کې د بالاحصار غونډ له پاځون نه وروسته تر خپل بندي کېدلو پورې) 1982 (پېښې ثبتولې، چې هغه زر مخونو ته رسېږي. له هغو نه مې په کال 1995 کې په خپل يوه انګريزي اثر کې) افغانستان، د شوروي يرغل او د افغانانو ځواب(او دا دى اوس په دغه اثر کې استفاده کړې ده. دغه جورنال د شفاهي معلوماتو او رسمي خپرونو پر بنسټ تهيه شوى دى. په هغه سربېره پېنځه کاله بندي توب موقع

په لاس راکړه، چې د څرخي پله محبس کې له باخبرو بندیانو نه د خلقي او پرچمي رجیمونو په اړه معلومات ترلاسه کړم.

زما د معلوماتو بله سرچینه ښاغلی خیال محمد کټوازی او ښاغلی محمد اقبال وزیري دي. کټوازی تر کودتا نه دمخه د یو شمېر خلقي افسرانو رابطه ګوندي غړی او تر کودتا وروسته د اطلاعاتو او کولتور وزیر شو. هم تره کي او هم امین ته منلی و او په مسکو کې د افغان رسمي هیئت غړی او له تره کي سره د هاوانا د سفر ملګری و. نو دی چې په اصل کې جورنلست او شاعر دی، د خلقي دورې په اړه د مهمو او ډېرو معلوماتو خاوند دی. هغه ته مې په هالېنډ کې د خلقي دورې په اړه پوښتنې واستولې او هغه په ورین تندي ټولو پوښتنو ته لیکلي ځوابونه واستول، چې په دې وسیله ترېنه مننه کوم. له ښاغلي وزیري نه مې هم د خلقي دورې په اړه ډېر معلومات ترلاسه کړي دي، چې د ګوند پخوانی غړی و، تر کودتا دمخه په پولي تخنیک کې استاد او په خلقي دوره کې د ملي دفاع وزارت کې د سیاسي چارو آمر او تر کودتا دمخه ډېرو خلقي افسرانو سره د ګوند رابطه غړی و.

ده په 2007 م کال کې) د ثور پاڅون، د ک.ج.ب دسیسې او شوروي یرغل(په نامه یو کتاب هم خپور کړی، چې له هغه نه مې دلته پوره کار اخیستلی دی. څنګه چې په هغه باندې مې یوه لیکنه کړې، د هغه په اړه دلته نه غږېږم. دغومره وایم، چې دا د خلقي دورې په اړه یو دقیق او مهم اثر دی. د کټوازي او وزیري معلوماتو زما دغه لیکنه ښه شتمنه کړې ده، خو هسې مې چې له خپل جورنال نه واقعیت ته په درناوي سره په انتقادي ډول استفاده کړې، د دوی له لیکنو نه مې هم په دغه ډول استفاده کړې ده.

زما بله سرچینه په 1370 مخونو کې د خلقي

حکومت د افغانستان کالنۍ ده. په دغې کالنۍ کې د خلقي لویانو، وینا وې، رسمي سندونه، فرمانونه، حکومتي اجراات، د ګوند تاریخ او نور معلومات خپاره شوي دي. د افغانستان په بلې کالنۍ کې دغومره ډېر معلومات نه لیدل کېږي، نو دا د خلقي حکومت ښه فرهنګي میراث دی، چې څېړونکیو ته یې پرې ایښی دی.

د خلقي دورې په هکله د ښاغلي صالح محمد زیري اثر هم یوه مهمه سرچینه ده، د نیمې پېړۍ خاطرې په نامه په اته نیم سوو مخونو کې دا یو پڼ اثر دی، خو ټول اثر یې د مهمو پېښو په اړه نه دی. دا په اصل کې د هغه د ژوند د خاطرو ټولګه ده، هغه هم په دې ډول چې کلونه کلونه وروسته یې په لندن کې خپلې خپلې ژوند پېښې، لیدنې کتنې او تجربې د خپل یاد له مخې لیکلي نه د سندونو او لیکل شویو معلوماتو پر بنا، خو څنګه چې ده په خلقي دوره کې د کرنې او اوبو لګولو د وزیر او په پرچمي دوره کې د مشاور په توګه کار کاوه او د ګوند یو پخوانی او مهم غړی و، د رسمي او غیر رسمي ژوند قیصې یې ډېرې پکې بیان کړي او په اړه یې دغسې سپین او زړور ګړېدلی، چې شاید بل وخت دغسې سپین او زړه ور نه وي ګړېدلی. دی د ګوند او حکومت په سیاستونو او چلندونو انتقادي هم دی. خپلو چلندونو ته یې هم د انتقاد ګوته نیولې ده. دغه اثر له دغې ډډې نه هم مهم دي، چې په هغه کې دغسې موضوع ګانې او ټکي موندل کېدلی شي، چې په نورو اثرونو کې نه لیدل کېږي، نو ویل کېدلی شي چې دغه اثر د خلقي دورې په اړه د معلوماتو بزغلی دی، خو باید دا په نظر کې ونیول شي چې دی د غلام دستګیر پنجشیري او عبدالکریم میثاق په شان د امین په نظرونو، چلندونو او سیاستونو هم انتقادي و، چې له دې لامله د کټوازي په وینا صاحبجان صحرایي په دوی باندې د "کنجکیانو" نوم ایښی و، چې هغه بیا د

دوی په مخالفو خلقیانو کې عام شو.
د خلقي دورې په اړه نور چاپي اثرونه)درس های تلخ و عبرت انگیز افغانستان(د میر صاحب کاروال)میوند چاپ، کابل، 2005(، غمیزه څرنګه منځ ته راغله؟ د عبدالرشید جلیلي)دانش خپرندویه ټولنه پېښور، 2008(، د پردیو فتنې، د نظیف الله نهضت او د ثور نظامي پاځون او د خلقي ګوندیانو هیڅلې د محمد عثمان عمر ساپي دي. دوی ټول د خلق دموکراتیک ګوند ته منسوب خلقیان او حکومتي چارواکي وو او خپل اثرونه یې د یاد له مخې لیکلي، نه د سندونو پر بنسټ.
د کاروال درس های تلخ د نړۍ وال دویم جنګ نه د حامد کرزي دورې پورې د سیاسي او ګوندي پېښو بیان دی. خلقي برخه یې غټه او دده د خپلو لیدنو کتنو محصول ده. زیاتره روایتونه یې خپل او د نورو او د حفیظ الله امین پر مخالفت دي. دی تر ډېره حده پر امین انتقادي دی، چې حتی د ثور په کودتا کې یې هم د هغه په رول سترګې پټې کړې. کاروال زړغوني خلقي و، سره له دې هم په هغه کې ډېر معلومات شته، چې باید په احتیاط ترې نه کار واخیستل شي، خو ما ته ډېر وروسته په لاس راغی او له ښاغلي اکبر کرګر نه مننه کوم، چې له لندن نه یې رالاستولی دی.
د ښاغلي جلیلي غمیزه څرنګه منځ ته راغله؟ د کاروال د اثر پرخلاف د خلقي حکومت په پلوی او د پرچمي رژیم په مخالفت د پېښو بیان دی، خو دده اثر روایتونه هم شخصي رنګ لري. څنګه چې لیکوال یې په خلقي دوره کې اول د پوهنتون رییس او بیا د کرنې او وروسته د پوهنې وزیر او د امین نږدې ملګری و، محتویات یې مهم او د استفادې وړ کېدلی شي، خو چې په احتیاط ترې نه کار واخیستل شي. د دغه اثر هم ما ته وروسته په لاس راغی او د هغه له استونکي ښاغلي سید حسن نه په دې وسیله مننه کوم. د ښاغلي عثمان ساپي د ثور نظامي پاځون یو پڼ کتاب دی، زیاتره

پېښې یې د خلقي دورې په اړه د لیکوال د خپلو معلوماتو، لیدنو کتنو او تجربو محصول دي. له ښاغلي ساپي نه هم په دغه وسیله مننه کوم، چې خپل دغه اثر یې له جرمني نه راستولی دی او په خپل اثر کې مې ترې نه کار اخیستی دی. د ښاغلي نهضت اثر هم د هغه د خپلو کتنو او تجربو محصول دی، دا هم یو ارزښتناک اثر دی او ګڼ شمېر معلومات لري، چې باید په احتیاط سره ترې نه استفاده وشي. له ښاغلي شاه محمود پغماني نه مننه کوم، چې دغه اثر یې له جرمني نه راستولی دی.

په دغه اثر کې د غوث الدین فایق، محمد نبي عظیمي، محمد نذیر کبیر سراج، محمد حسن شرق او عاصم اکرم له اثرونو نه هم استفاده شوې ده، چې د هغو په اړه مې په خپل بل اثر کې لیدکتل کړي په نامه "د سرطان کودتا، د افغانستان د اوږدې بې ثباتۍ پیلامه". په دغه اثر کې مې له ډېرو نورو اثرونو نه هم په فارسي او پښتو کې کار اخیستی، چې نه غواړم د هر یوه په اړه وغږېږم. دغومره وایم، چې د ن.حسیني خاطرات زندان پلچرخي، د محمد عثمان هاشمي فرار از کام مرګ، د اسدالله نوابی سرګذشت زندان، د امین الله دریځ، افغانستان در قرن بیستم، د روشن احمد شاه، بیست ماه در زندان پلچرخی، د میر محمد صدیق فرهنګ، افغانستان در پنج قرن اخیر)دویم ټوک(او د سیداکل غریب یار له څرخي پله نه د راکي تر غروبه پورې زه په دې قادر کړی یم، چې د خلقي حکومت په وخت کې په زندانونو کې د بندیانو په اړه اوږده لیکنه وکړم.

دغه برخه ماته ځکه مهمه ښکاري، چې په افغانستان کې د امیر عبدالرحمن له وخت راهیسې ډېر افغانان په زندانونو کې اچول شوي، خو په اړه یې تراوسه هم کومه منسجمه لیکنه نه لیدل کېږي، په داسې حال کې چې دغسې تاریخ له بندي او بې وزلو انسانانو سره د حکومت او د هغه د

عمالو چلندونه په ډاګه کوي او د حکومت او حکومتیانو اصلي څېره روښانه کوي. په همدې ډول د میر علم ساپي د هرات د اولسمې فرقې د حق پاڅون، د سید شریف یوسفي قیام ګلګون کفنان 24 حوت هرات قهرمان، د شورای ثقافتی جهاد افغانستان قیام 24 حوت هرات او د یو څو نورو لیکوالو کتابګوټو زه په دې قادر کړم، چې د هرات پاڅون په اوږد ډول بیان کړم. دا د هرات پاڅون و، چې خلقي حکومت کې یې تغیرونه راوستل او شوروي اتحاد یې د افغانستان په چارو کې په اساسي ډول دخیل کړ.

د خلقي دورې په اړه په انګرېزي ژبه کې ډېرې لیکنې راوتلي دي، چې تر ټولو مهمې یې د افغانستان په اړه د شوروي اتحاد هغه رسمي او ګوندي خپرونې دي، چې امریکایانو ترلاسه کړي او په انګرېزي کې خپرې کړي دي. د شوروي اتحاد ټوټه کېدلو په واشنګټن کې د پوهانو لپاره د ودرو ولسن بین المللي مرکز په دې قادر کړ، چې دغه کار وکړي. دغه مرکز په افغانستان باندې د شوروي یرغل سندونه په کال 2001 کې په یوې مجموعې کې خپاره کړي دي. ډېر مهم یې تر دغه سرلیک لاندې راوړي:)شوروي اتحاد او افغانستان، 1978_1989(د روسیې او ختیځ جرمني له ارشیفونو څخه سندونه، خو د افغانستان په اړه د شوروي اتحاد ټول سندونه په دغې خپرونې کې نه لیدل کېږي. په دغو سندونو کې ډېر مهم یې د شوروي اتحاد د کمونست ګوند د سیاسي بیورو یا سیاسي دفتر هغه پریکړې دي، چې د افغانستان په اړه یې کړي دي. دغه سیاسي دفتر یو عادي نوم ښکاري، خو هغه په واقع کې د شوروي اتحاد تر ټولو لوړ مقام و. په دغو سندونو کې له تره کي سره د شوروي اتحاد د خبرو متنونه هم خپاره شوي دي. دد غو سندونو او لیکنو یو څو یې د اول ځل لپاره په کال 1994 کې د سهیلي اسیا او منځني ختیځ مطالعو جورنال

مجلې کې خپاره شوي و، چې ما په خپل هغه انګرېزي کتاب کې چې په کال 1995 کې خپور شو، ترېنه استفاده کړې وه. په دغو سندونو کې د کو سيګين او تره کي تليفوني مرکه هم خپره شوې ده.
په هر حال، د شوروي اتحاد دغه ارشيفي سندونه او پاڼې، چې امريکايانو ترلاسه کړي، پوره او جامعې نه دي. يو دا چې شوروليانو د افغانستان په اړه موضوع ګانو کې انتخاب کړي او بله دا چې د غه پاڼې هم ټولې ترلاسه شوي نه دي، خو دغه انتخابي سندونه که څه هم انتخابي او لږ دي، زيات ارزښت لري. اوس د هغو له مخې ياڼې د شوروي لويانو د خپلو پرېکړو له مخې، د افغانستان او شوروي اتحاد د اړيکو تاريخ له احساساتي او خيالي شکل نه ژغورل کېدلی شي.
ددغو سندونو متنونه د "افغانستان و اتحاد شوروي" په نامه کتاب کې موندل کېدلی شي، چې ښاغلي عبدالعلي نور احراري په فارسي اړولي او په کال 2005/1383 کې د هرات په دولتي مطبعه کې چاپ کړي دي.
د شوروي اتحاد او په خاص ډول د ک.ج.ب د راپورونو پر بنسټ د واسيلي ميتروخين په قلم "ک.ج.ب په افغانستان کې" ډېر مهم اثر دی، خو دا د ميتروخين د ډېرو پاڼو د يوې وړې برخې محصول دی، چې د لسو کلونو په بهير کې يې د ک.ج.ب له مرکزي ارشيف نه په مسکو کې په پټه او د مرګ د خطر په منلو سره نقل کړی دی، خو دا د افغانستان په اړه د ک.ج.ب د ټولو راپورونو او ليکنو ټولګه نه ده. "... د ټولو سندونو يوه وړه برخه]يې[ده." چې د ميتروخين په وينا "په بيړه يې وليکه او په نتيجه کې ځينې يادښتونه، چې مې وليکل، ددې لپاره چې زما له بيان سره يوځای وي، جذباتي رنګ لري چې لږ څه نامتوازن بيان ترېنه جوړ شوی دی." خو دغه لاسوهنه لږه او غير مهمه ده. ميتروخين

وايي، چې ما هغه د شوروي عمالو "د جرمي نيتونو، تورونو او كړو" د رد لپاره كړي. په اصل كې د غه احساس و، چې ميتروخين يې وهڅوه چې د سندونو ټولولو ته په پټه لاس پورې كړي. د ک.ج.ب ه غو دو سيو د ه غه احسا سونه و پاروله، چې د افغانستان په اړه وو.

دی په 1956 كې د ک.ج.ب په ارشيف كې وګومارل شو، چې ګوندي او حكومتي څانګو ته د هغو د غوښتنو له مخې سندونه وسپاري، خو په 1968 كې د پراګ پاڅون د ځپلو دوسيو دی له ک.ج.ب نه زړه تورن كړ او په دې فكر كړ، چې شوروي اتحاد نه اصلاح كېدونكی دی. د بلې لسيزې په اولو كلونو كې يې پرېكړه وكړه، چې د ک.ج.ب د باندنيو عملياتو په اړه ځانله بېل يو بيان ولري. ددغې پروجې پرمخ بيول په كال 1972 كې ورته اسان شو، چې له مسكو نه ياسي نيوو (Yasenevo) ته تبديل شو، چې د ښار په سهيل لويديځ كې پروت دی. هلته د سندونو د ټولو لو او اندكس جوړو لو په پرو سه كې د غه فكر ورته پيدا شو، چې په باندنيو ملكونو كې د ک.ج.ب د عمل ياتو په اړه ځانله يو ار شيف و لري. ددې لپاره يې په خپل ر سمي ار شيف كې سندونه په ميرزا يي ډول نقلول او بيا په خپل اطرا في مي نه كې تنظيمول او له سره ليكل. ميتروخين د افغانستان په اړه دغه ليكنه وروسته له هغه وكړه، چې په كال 1984 كې متقاعد شو. په 1986_1987 كې يې له سره وليكله او اصلي ياد ښتونه يې له مېنځه يووړل، خو دی وا يي چې دغه ليكنه "يواځې د شوروي د ک.ج.ب د اطلاعاتو پر بنسټ تهيه شوې" او له بلې هېڅ سرچينې نه پ كې كار اخيستل شوی نه دی. د ه غه ټولې دغ سې غوره شوې پاڼې د نړۍ د نورو هېوادو نو په اړه وې، چې ټولې يې په شپږ، لويو بكسونو كې د برتانيې د استخباراتو په مرسته د 1992 كال

نومبر کې انګلستان ته ور سولی شوې، چې هلته میتروخین ته پناه ورکړل شوې وه.

د انګلستان حکومت د کیمبرج پوهنتون د تاریخ پروفیسر کرستوفر اندریو وروپېژنده، چې له دغو پاڼو نه نړېوال د کتابونو په بڼه استفاده وکړي، ځکه چې د غه پاڼې د نړۍ د ډېرو هېوادونو په تېره د دریېمې نړۍ هېوادونو په اړه وي، چې شوروي اتحاد تر لویدیځې نړۍ نه زیات ورته اهمیت ورکاوه. د پروفیسر اندریو د څېړنو او دواړو د ګډ زیار او کار نتیجه په څوارلسو سوو مخونو کې دوه کتابونه شول، چې یو یې "توره او سپر" د میتروخین ارشیف او د ک.ج.ب پټ تاریخ (1999) او بل یې نړۍ زموږ په لور روانه وه، ک.ج ب او د دریمې نړۍ لپاره جګړه (2005) نومېږي. میتروخین او اندریو د دواړو کتابونو مؤلفان دي، له د غو کتابونو نه دمخه نړېوال په خپلو هېوادونو کې د ک.ج.ب له دغومره پراخو فعالیتونو نه خبر نه وو. میتروخین وایي، چې په دغو پاڼو کې "ما ترمیمونه، زیاتونې، پریکونې او د موادو له سره تنظیمول هېڅ نه دي کړي" ددې لپاره چې د ک.ج.ب "... دروا غ بربنډ، جرمونه لوڅ او حقیقت بېرته پرځای شي."

خو دا به معجزه وي، چې د ک.ج.ب له رپوټونو څخه د شپږو بکسونو په حجم د میتروخین د غوره شویو پاڼو محتویات هغه وي، چې په اصلي پاڼو کې وو، خو په دې کې هېڅ شک نه شته چې که دی د انسان په اړه د لوړ احساس او په شخصي لحاظ د ټینګ همت خاوند نه وای، د غه خطرناک کار ته به یې هېڅ لاس نه وای اچولی.

د افغانستان په اړه د میتروخین لیکنه په 2002 کال کې په واشنګټن کې د پوهانو لپاره د ودروولسن د بین المللي مرکز له خوا په 176 مخونو کې د ځلوېښتمې خپرونې په نامه د خاصو

علاقمنو لپاره خپره شوې، نه د معمولي کتاب په بڼه د عامه لوستونکیو لپاره. په همدغه کال کې، چې په دغه مرکز کې د افغانستان په اړه یو سیمینار جوړ شوی و، دغه خپرونه له نورو خپرونو سره ماته هم راکړل شوه. دغه لیکنه ښاغلي رحمت آریا پښتو کړې او دانش خپرندویې ټولنې په 2008م کال کې خپره کړې ده. د دانش خپرندویې ټولنې تراوسه پورې په پښتو او فارسي کې اول په پېښور او وروسته په کابل کې د غومره ډېر اثرونه خپاره کړي، چې بلې شخصي افغان خپرندويې ټولنې دغومره ډېر اثرونه چاپ او خپاره کړي نه دي. د دغه غټ فرهنگي خدمت د هغې د سروال ښاغلي اسدالله دانش د نوښت، زیار، علاقمنۍ او تنظیم نتیجه ده. د خوشۍ ځای دی، چې ښاغلی دانش او داسې هم زرین انځور د افغان کلتوري ودې ټولنې سروال د قدر وړ فرهنگي خدمتونه کړي دي. د ښاغلي انځور او ملگرو ټولنې یې تراوسه 116 کتابونه خپاره کړي، چې نږدې یې ټول په پښتو کې دي. په دې ډول د غو ښاغلیو او د هغو د ملگرو په کوښښ سره پښو اوس ښه شتمنه شوې ده. د دوی او داسې هم د پښتنو لیکوالو، پوهانو، ژباړونکیو او نورو خپرندویو ټولنو ددغسې خدمتونو له برکته اوس څوک نشي ویلی، چې پښتو خواره ژبه ده، که څه هم د پښتو شعري ژبه له پخوا نه شتمنه وه. د دوی ټولو په زیار سره اوس په پښتنو کې د پښتو په اړه یو غټ غورځنگ لیدل کېږي، چې یوه نښه یې د هېواد په هر ولایت کې د ادبي او فرهنگي ټولنو منظمې خپرونې دي.

ښاغلی رحمت آریا د افغانستان په اړه د میتروخین لیکنه په پښتو اړولې، په نامه د) ک.ج.ب په افغانستان کې(. چا چې ترجمې کړي دي، پوهېږي چې په پښتو کې د کتاب ژباړه ډېر دقت غواړي. ددغسې لیکنې پښتو ژباړه، چې هغه هم ترجمه وي او اصلي لیکنه یې د خاصو چارواکیو لپاره وي، لکه دغه لیکنه چې ده لا خاص دقت

غواړي. زه د ښاغلي آريا د غه خدمت ته د قدر په سترګه ګورم، خو په عين حال کې رښتين توب ته د در ناوي له امله غواړم د ژباړې په ځينو هغو برخو چې بايد هغسې نه واى، لکه چې دى، رڼا واچوم. دې لپاره چې په بل چاپ کې هغه په نظر کې ونيول شي.
ددغه اثر له نامه نه د هغه د پيلامه ليکونکيو او چاپ ته چمتو کوونکي نومو نه حذف شوي دي. ژباړونکي د حذف حق نه لري، خو چې حذف کوي بايد يادونه يې وکړي. پيلامه ليکونکيو او شايد له روسي ژبې نه انګرېزي کوونکيو کرستين او سترمان او اوډ وستاډ ددغه اثر په ښه کولو، د ناڅرګندو نومونو په څرګندولو او په لمنليک کې د شرح په ورکولو سره دغه اثر نور هم ګټور کړى دى. دواړه يې په دغسې موضوع ګانو کې متخصصان وو، يو يې د ودروولسن په مؤسسه کې د ساړه جنګ د تاريخ په بين المللي پروجه کې د مدير او دويم يې د لندن پوهنتون د اقتصاد په پوهنځي کې د استاد په توګه. په دغې پوهنځي کې سياسي تيوري او فکرونه هم تدريسېږي، چې ليکچرونو ته يې زه هم څه وخت، چې په لندن پوهنتون کې مې زده کړه کوله، ورتللم. بلله دا چې د ژباړې په متن کې په لسو مخونو کې د ښاغلي بروس رچرډ ليکنه هم نيول شوې، چې لکه هغه د متن يوه برخه وي. بېخبره لوستونکي به ارومرو دغسې فکر کوي.
ډېره مهمه دا ده چې د متن ځينې خاصې اصطلاح ګانې په دغسې کلمو اړول شوي، چې د متن له اصلي مفهوم نه توپير لري، لکه شفري يا مستعار نومونه چې په جاسوس ترجمه شوي دى، په داسې حال کې چې هر شفري نوم د جاسوس په مانا نه دى او يواځې ځينې شفري نومونه د ايجنټ يا جاسوس مانا وي.
د بېلګې په ډول حفيظ الله امين د "کاظم" په شفري نوم (مخ 26)، محمود بريالى د "شير" په

مستعار نوم (مخ 32) او دستګیر پنجشیري د "رچرډ" په شفري نوم یاد شوی دی (41مخ). په دوی کې هیڅ یو د ایجنټ په نامه یاد شوی نه دی، خو د دستګیر په هکله د غومره و یل شوي، چې د کابل ک.ج.ب والو "... د رچرډ اطلاعاتو ته ډیر ارزښت ورکاوه." (42مخ) په ژباړې کې دغه دري واړه نوموني په "جاسوس" ترجمه شوي دي. (64_77_95مخونه). دېته توجه نه ده شوې، چې ک.ج.ب والو شوروي چارواکي او اداري هم په شفري نومونو یاد کړي، لکه مرکز (Center)، په مسکو کې د ک.ج.ب د اداري لپاره، هستوګنځی (Residency)، په کابل کې د ک.ج.ب څانګې لپاره، استازي (Representatives) له افغان حکومت سره د شوروي مشاورانو لپاره، دسنین (Desnin) د اکسا سر مشاور بوګدانوف لپاره او داسې نور... که ژباړونکی دد غو شفري نومونو مانا ګانو ته ملتفت نه وو، د امین په اړه یې باید لږ تر لږه ویلي وای، چې دا څنګه کېدلی شي چې هغه چې د کارملیانو د پروپاګنډ له مخې د سي.ای.ای ایجنټ و، ک.ج.ب ته هم جاسوسي وکړي، یا ک.ج.ب دغسې "جاسوس" استخدام کړي. حقیقت دا دی، چې امین د شوروي اتحاد په هیڅ هغه سند او رسمي راپور کې چې ما لوستلي، د ک.ج.ب ایجنټ په نامه یاد شوی نه دی. حقیقت ته ژمن کسان هم نشي منلی، چې امین به د ک.ج.ب جاسوس وي. په واقع کې هغه یو وطنپال او په خپلواک افغانستان هغه هم لوی افغانستان معتقد افغان و، چې غوښتل یې په خپله په خپلواک ډول پرې واکمني وچلوي. امریکایي چارواکیو هم دغه اوازه رد کړې، چې امین د دوی سړی و. دغه بې بنسټه اوازه د کارملیانو کار و لکه چې په میوندوال غوندې یو لوی ملي شخص یې هم د غه تور لګولی وو. د میتروخین د لیکنې له مخې دا کارمل، تره کی او یو شمېر نور ګوندیان وو، چې

د ک.ج.ب ایجنټان شوي وو. شوروي اتحاد له خپل هسکېدلو نه راهیسې په افغانستان کې ایجنټان لرلي، خو میتروخین د هغو نومونه، نه دي ورکړي. د ایجنټ کلمه تر جاسوس نه زیات د عامل، استازي او ګومارلي په مانا کارول کېږي، خو د میتروخین د متن افغان ایجنټانو د ک.ج.ب چارواکیو ته د افغانستان په اړه اطلاعات ورکول یانې جاسوسي یې ورته کوله.

لامهمه دا ده، چې ژباړه دقیقه نه ده، پښتو یې ګرانه او غېر معیاري ده او ناعام شوې کلمې پکې لیدل کېږي، لکه "اکر و کر" د حالت، "پالیان" د وفادار او ول د "و" او "وو" لپاره.

په 183 مخ کې امپریلزم په پانګه والي اړول شوی، په داسې حال کې چې هغه سره بېل مفهومونه دي. داسې هم د ساواک پرځای موساد کارول شوی)63مخ(، په داسې حال کې چې ساواک د ایران او موساد د اسرایل د استخباراتي ادارو نومونه دي.

د ژباړې د نادقیق توب په اړه بس یوه بېلګه وړاندې کوم:

انګریزي متن:

The failure to remove Amin sorely hurt the pride of the Kremlin elders and the KGB. They feared an unexpected turn of events. The character of Amin did not fit into the usual mould of a leader of a friendly country. P 82

پښتو ژباړه:

"د امین د کمبلې په راټولولو کې ناکامي د کریملن او د ک.ج.ب د مشرانو ویاړلي مخونه سخت ورتپي کړل. هغو ی د پېښو له ناڅاپي اوښتنګ څخه کلکه وېره درلوده، هغوی ته د یوه دود یز دوست هېواد د مشرتابه په سیاسي انځور کې د امین کرکټر نه ځایېده.")182مخ(

دقیقه ژباړه:

"د امین د لیرې کولو ناکامي د کریملن لویانو او ک.ج.ب غرور سخت ټپي کړ. دوی د پېښو له نه فکر کېدونکي او ښتون څخه وېر بدل. د امین کرکټر د یوه دوست هېواد د مشر په معمولي قالب کې نه ځایېده."

په پای کې ښاغلي آریا ددغه مهم اثر په پښتو کولو سره لوی خدمت کړی، خو ښه به دا وي چې په راتلونکي کې د هر مهم نوي اثر او ژباړې له خپرېدلو نه دمخه د کوم صاحب نظر، نظر وغوښتل شي.

پای